

Afghan Salar Library

# ځنګل

(څلور سوه حکایتونه)

ژباړن: اسدالله غضنفر

بسم الله الرحمن الرحیم


د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: ځنګل (څلور سوه حکایتونه)

ژباړن: اسدالله غضنفر

ډیزاین: ثناءالله څواب

خپرندوی: مازیګر کتاب پلورځی

د چاپ وار: لومړی

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړ: (۹۱)

چاپکال: ۱۴۰۴ لمریز



د کتاب حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي



ادرس: مازیګر کتاب پلورځی / مینه یار مارکېټ/ کوټه سنګي / کابل

۰۷۸۲۴۲۴۵۶۶



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## سریزه

ځنګل چې د مختلفو بوټو او ګیو ونو ټولګه ده، د رازونو، د پناه، د خطر، له ژوندي طبیعت سره د پیوستون، له ځان سره د خلوت او په ځان کې د سفر کولو ځای دی.

په ماشومتوب کې زموږ کور د ځنګلونو په خوا کې و او په زړېبودن کې نصیب یو ځل بیا د ځنګلونو څنګلوری کړم. د ځنګل په اړه زما د روحي تجربې خلاصه همدا وه چې پاس مې ولیکله او دا تجربه خاصه نه ده، عامه ده. په اسطورو او نکلونو کې د ځنګل بیا بیا حضور د دې څرګندوی دی چې دغه ځای د بشر په ذهن کې د تاریخ تر پیل ډېر پخوا، له ابتدا لا ځاله کړې وه. ما چې د دغو حکایتونو ټولګې ته نوم غوره کاوه، تر بلې هرې کلمې ځنګل اول رایاد شو. لکه څنګه چې ځنګل د ښار او ټولنې له شوره پناه راکولای شي، حکایتونه هم ذهن ته پناه او ارام ورکوي. لکه په ځنګل کې چې خطر احساسوو، په ګنو حکایتونو کې هم د لاشعوري وېرو سیوري وینو چې د ځان په پېژندلو کې مو پکارېږي. د روحیاتو د عالمانو په نظر د خپلو پټو وېرو او بې نومو دردونو د پېژندلو په برکت، له هغو سره چلند او په هغو باندې کنټرول اسانېږي. البته، ګڼ حکایتونه د ذهن د پټو وېرو په باره کې نه، بلکې د ژوند د اشنا حقیقتونو په باره کې دي چې موږ ورسره بلد یوو خو حکایت فرصت



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راکوي چې بیا یې را په یاد کړو، بیا غور وربانديې وکړو او د ژوند په سفر کې ویده پاتې نه شو.

زموږ په پخواني ادب کې، په ولسي روایاتو او په مذهبي کتابونو کې حکایتونو یوازې د خوند نه بلکې د حکمت د خپرولو او د ژوند د ژورو تجربو د لېږدولو کار تر اکثرو نورو ژانرونو په ښه ډول تر سره کړی دی. خو په اوسني او پخواني تمدن کې توپیر او د دواړو تمدنونو په مسایلو او مشکلاتو کې توپیر د دې غوښتنه کوي چې د نوي ژوند نوي حکایتونه ولرو. په دې ټولګه کې اکثره حکایتونه یا اوسني دي یا د اوسني ژوند مسایلو ته په پام سره انتخاب شوي دي.

ما د ژباړل شویو حکایتونو د یو بل کتاب (د زړو هیندارو کور) په سریزه کې لیکلي وو چې تر ژباړې انتخاب رانه ډېر وخت اخیستی دی. دلته مې هم ډېر وخت انتخاب ته ورکړ. د زړو هیندارو د کور او ځنګل په منځ کې توپیر په دې کې وینم چې دا ځل د حکایتونو طنزي مالګه زیاته ده، فولکلور پکې لږ دی او اوسني موضوعات پکې ډېر دي. د فورم په لحاظ یې یو توپیر دا دی چې په هغه کتاب کې څو لنډې کیسې هم وې او په ځنګل کې لنډې کیسې نشته.

حکایت له آره د لږو کلمو ژانر دی چې اکثره یې یوه اخلاقي نتیجه لري یا روحاني معنا پکې نغښتې وي او یا د ژوند یوه تجربه راسره شریکوي. ځینې حکایتونه له تاریخه را اخیستل شوي دي او ځینې نور د بشر د اوږدو تجربو، د ارزوګانو او د ګروموتو تمثیلي او تخییلي بیان بللای شو. ځینې یې دومره واضح وي چې د کم عمر کسان هم معنا ورنه اخلي او ځینې نور یې تفسیر او توضیح غواړي. یو شمېر یې په جدي او یو شمېر نور یې په طنزي سبک لیکل شوي دي. یو نیم حکایت د شعر په شان سندریز کیفیت لري او ګڼ نور د ښوونکي غوندې د حساب کتاب په ژبه غږېږي. یوه برخه حکایتونه لکه د پېریو په زړه کې ویدې اسطورې د ناآشنا جهان پیغامونه لري او یوه بله برخه یې د نننۍ ورځپاڼې د رپورټ غوندې د نژدې


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چاپېریال اوسنی خبرې کوي. لکه په یوه طبیعي ځنګل کې چې د ونو، غنو، بوټو رنګارنګي وینو، دلته هم عجیبه تنوع لیدلای شو.

د ځنګل د حکایتونو ژباړه مې ټکي په ټکی نه ده کړې. که په یوه حکایت کې توضیح پکار وه، توضیحي جمله مې زیاته کړې ده او که د یوې خبرې کمول راته مناسب ښکاره شوي دي، هغه مې کمه کړې ده. زه په ژباړه او د متن په تغییر کې دومره زړه ور ځکه وم چې په انګلیسي کې هم د اکثرو حکایتونو مختلفې بڼې موجودې وې او لیکوالو د خپل ذوق په حکم کمی و زیاتی پکې راوستی و. ما د ځینو حکایتونو په نومونو، د کرکټرونو په نومونو او یو نیم بل مورد کې هم چې راته ښه ښکاره شوی، هلته تغییر راوستی دی.

د دې ټولګې یو نیم حکایت (لکه: حوره په ۲۷۸ مخ کې او اختلاف په ۲۷۲ مخ کې) ما خپله لیکلی دی خو له خپل بللو سره یې ډېره دلچسپي ځکه نه لرم چې په حکایتونو کې مشترکات ببخي زیات وي او د یوه حکایت ځینې اجزا په لږ تغییر ممکن بل چېرته هم پیدا کړئ. په دې سربېره څو نور حکایتونه مې هم ترجمه کړي نه بلکې له نورو اورېدلي وو.

په شلمه پېړۍ کې چې په هېواد کې نویو فکرونو او نویو ادبیاتو ته مخه واوښته، تر ډېره حده له وګړیو وغوښتل شول چې د ټولنې خدمت ته ملا وتړي. دا اړینه غوښتنه وه خو زما په ګومان موږ په هغې باندې په دې ډول تاکید وکړ چې د وګړي خپلو غوښتنو ته مو توجه لږه شوه او ادب چې باید لوستونکو ته یې پناه ورکړې وای، د لیکونکو په پناه ځای بدل شو، یعنې لیکونکي ورسره د ټولنې غمخواره، د هېواد مینان او د حق د لارې مبارزان معرفي شول چې لوستونکي باید په درنه سترګه ورته وګوري او که لیکونکي خبرې بې ځایه هم پېچلې یا بې خونده لیکلې وي، دا د لوستونکي ګناه ده چې د هغه لیکنه سمه نه لولي او له اغېزه یې محروم پاتې دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په داسې ټولنه کې چې پر له پسې جګړو او بدمرغيو وګړي لکه د وچکالۍ د وختونو نيالګي نهايت کمزوري کړي دي، له وګړي د فرشته جوړېدو توقع لرل او په هغه باندې د ګڼو اجتماعي مسوليتونو بار اچول خو په مقابل کې د هغه د حمايت لپاره څه نه کول، د ګټې کار نه دی او ټولنه او وګړي دواړه ژوبلوي، څکه که وګړي ساه وانخلي، په ټولنه کې به برکت څوک اچوي؟ کاشکې زموږ اوسني ادبيات خپل لا لوی مقصد ته يو څه ډېر پام واړوي او وګړي يو څه زيات ونازوي. ما د دغو حکايتونو ژباړه د همدې فکرونو او ارزوګانو په رڼا کې پيل کړه.

د دې ژباړې پيل د ۱۴۰۳ کال په پسرلي کې وشو او د ۱۴۰۴ پسرلي ته يې کار پای ته ورسېد. په دې کابو يو کلنه موده کې مې ډېر ځله له دغه تصوره خوند اخيستی دی چې د حکايتونو لوستل يو نهيلی زلمی يا نهيلې پېغله له نهيلي راباسي، د يوې خوابدې مېرمن په شونډو موسکا خپروي، د يو پرېشان پلار پرېشاني کموي او يو بې پروا ځوان د ژوند په اړه فکر کولو ته وربولي. همدا خوندور تصور خپل اجر ګڼم او دعا کوم چې لوستونکی هم بې برخې پاتې نه شي.

د کب ۲۸ مه، ۱۴۰۳ المريز هجري کال



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ليکلړ


لقمان او د غنمو وږي............١٤
جګړه..............١٤
کار او ډودی.............١٤
د خپلو پښو پيدا کول.............١٥
اووه کوزې طلاوې.............١٥
سم خواب.............١٧
نفس.............١٨
عقل او انسان.............١٩
رخه ګر.............١٩
هوايي معلومات.............٢٠
انځورګره.............٢٠
د ژوند راز.............٢١
بار.............٢٢
ختک.............٢٣
واعظ او مهتر.............٢٣
د مرګ ليست.............٢٤
په بله جامه کې.............٢٥
د بوډۍ مذهب.............٢٥
علت.............٢٦
مار او کاغی.............٢٦
د خدايي دعوه.............٢٧
د عقيدې غلا.............٢٧
سوی او کيشپ.............٢٧
که څه هم.............٢٩
د حاکم مېلمه.............٣٠
دوه ملګري.............٣١
نوی نوم.............٣٢
له ناسمه ورهاخوا.............٣٣
په حمام کې.............٣٤
هوښيار کليوال.............٣٤
لنډه يې کړه.............٣٥
حراميان.............٣٦
اميد.............٣٦
شيطان.............٣٨
دروغجن.............٣٨
بې تمې سړی.............٣٩
نتيجه.............٤١
د تېروتنې.............٤٢
دوې کورنۍ.............٤٢
خر په ختو کې.............٤٣
په ټولګي کې غلا.............٤٥
د خيال پسرلی.............٤٧




https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**ځنګل** (څلور سوه حکایتونه)


خیال پلو ........................ ۴۷
جولیوس سزار ........................ ۴۸
زده کړه ........................ ۵۰
د محبت لاره ........................ ۵۱
تنګ نظره ........................ ۵۲
تیره، پان او تاک ........................ ۵۳
د دیکتاتور لویوالی ........................ ۵۶
کبر او تواضع ........................ ۵۷
بې اختیاره ........................ ۵۷
تر ټولو خوږه خبره ........................ ۵۸
په اسمانونو کې ........................ ۵۹
څروی ........................ ۶۰
اعدام که احسان؟ ........................ ۶۰
عکسونه ........................ ۶۱
وېره او درناوی ........................ ۶۲
ژوند کولو ته نه وزګارېدل ........................ ۶۲
بهلول په هدیره کې ........................ ۶۳
ډالی ........................ ۶۳
تمه ........................ ۶۳
پنځه ښارګوټي ........................ ۶۴
د جنت مېوه ........................ ۶۵
خپله شبېه ........................ ۶۶
بوډا سوداګر ........................ ۶۷
غلی، ولاړ هلک ........................ ۶۸
محبت ........................ ۶۹
ازموینه ........................ ۶۹
د خوشالۍ راز ........................ ۷۰
د بیزګانو نیول ........................ ۷۰
د درناوي ځښتن ........................ ۷۱
د کیشپانو پاکول ........................ ۷۲
د ژوبڼ اوښان ........................ ۷۳
تر ټولو سوړ ژمی ........................ ۷۴
ګوربت او توپان ........................ ۷۴
ګیلاس ........................ ۷۵
د فابریکې ........................ ۷۶
طبیعت ........................ ۷۷
خبرې وزرې کوي ........................ ۷۷
د راجا خوب ........................ ۷۹
د بخت مرغه ........................ ۸۵
د هنر شهکار ........................ ۸۷
خزانه ........................ ۸۹
حکیم او شهزاده ........................ ۹۲
ابنِ سیرین ........................ ۹۳
روحیه ........................ ۹۴





https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه پېښه ........................ ۹۵
اصل او کم اصل ........................ ۹۵
له خره سره بحث ........................ ۹۷
ابلیس ........................ ۹۸
دعا ........................ ۹۹
شل په شله ........................ ۹۹
کوهی ........................ ۱۰۰
مکتوب ........................ ۱۰۰
د مامون په دربار کې ........................ ۱۰۱
هغه ........................ ۱۰۱
ډېر چټک ........................ ۱۰۳
له افسوس نه کولو وروسته ........................ ۱۰۴
حوصله مه بایله ........................ ۱۰۴
انصاف ........................ ۱۰۵
حقیقت ........................ ۱۰۶
لاره ........................ ۱۰۶
اویسِ قَرَني ........................ ۱۰۷
د خضر د لیدلو کیسه ........................ ۱۰۸
د منې ونه ........................ ۱۱۰
عادت ........................ ۱۱۰
ښایي ........................ ۱۱۱
همدا اوس ........................ ۱۱۱
ډینګ او ګیدړه ........................ ۱۱۲
چرګ او ګیدړه ........................ ۱۱۳
غل او مرشد ........................ ۱۱٤
شیرم نمبر قانون ........................ ۱۱۵
درې غله ........................ ۱۱٦
لوبه ........................ ۱۲۰
د انګورو ورښکی ........................ ۱۲۱
اوښ او شغال ........................ ۱۲۳
تجربه ........................ ۱۲٤
د بیزو په شان ........................ ۱۲۵
غومبسه، تارکښ او کوځر ........................ ۱۲٦
موږ ........................ ۱۳٤
د لوی سړي ځایناستی ........................ ۱۳۵
غوړه مالي ........................ ۱۳۷
څړه ........................ ۱۳۷
د سوی او زمري کیسه ........................ ۱۳۸
د ښه ژوند دوه لوی درسونه ........................ ۱٤۰
ښه او ساده ........................ ۱٤۲
جُحا او د پاچا خر ........................ ۱٤۲
د فطرت اواز ........................ ۱٤۳
سپوږمی او سپوږمی ته اشاره ........................ ۱٤٤
د سین د اوبو په شان ........................ ۱٤۵



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**خنگل** (څلور سوه حکایتونه)


د سپین ساري استادي سوال ..... ۱٤٥
د افریقایانو متل.................... ۱٤٥
په ځان باور.......................... ۱٤٦
اسره.................................. ۱٤٧
داسې هم وي.......................... ۱٤٧
تمرکز ................................ ۱٤٧
سپېڅلې پانې......................... ۱٤٨
واعظ ................................ ۱٤٩
حساب................................ ۱٤٩
د خیر له ځایه خدای خبر دی ... ۱٥٠
پسې ورشو که ورنشو؟............ ۱٥۱
د نظرونو توپیر...................... ۱٥۱
د انتقام یو بل نوم.................. ۱٥٢
مرستندوی .......................... ۱٥٢
زه او شیطان........................ ۱٥٣
د پلار نصیحت ..................... ۱٥٣
غرختونکی .......................... ۱٥٤
خرهار................................ ۱٥٥
دردونه .............................. ۱٥٥
د بودا خواب ........................ ۱٥٦
خواشینی............................ ۱٥٦
فرصت................................ ۱٥٧
پلونه ........................... ۱٥٧
څراغ............................ ۱٥٨
هغه چې عیب یې پټ نه و ...... ۱٥٩
چلند............................ ۱٦٠
جبران .......................... ۱٦٠
ناخبره سړی ..................... ۱٦۱
د پارک ماشومه ................ ۱٦٢
وروستی انتخاب ............... ۱٦٣
مشر مانو او کارکوونکی ......... ۱٦٤
د دوو ملګرو کیسه .............. ۱٦٤
دوه وروڼه ........................ ۱٦٥
غرقېدونکی سړی ................ ۱٦٦
حریص ............................ ۱٦٦
د مساوات او برابرۍ کیسه ......... ۱٦٧
د سیمې تر ټولو شتمن سړی...... ۱٦٨
د کاګویا او فوجي غره افسانه ...... ۱٦٩
قهرېدلی پاچا.................... ۱٧۱
هغه بل شی...................... ۱٧۱
د جشن کیسه.................... ۱٧٢
د منډو اتل ...................... ۱٧٣
مار............................... ۱٧٤
د عسکرو ډوډی ................. ۱٧٥




https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ښکاري او طالبان.................. ۱۷۵
د شيخ بدل .......................... ۱۷۹
بدل شوی پاچا ...................... ۱۸۰
د بيربل تشبيه ........................ ۱۸۰
بزګر او ګاونډی ...................... ۱۸۱
د بيربل په زړه پورې.............. ۱۸۲
د لېوه انعام.............................. ۱۸۲
ريښې مضبوطې پکار دي........ ۱۸۳
زمری او هوښياره ګيدړه .......... ۱۸۳
مېږی او کوتره ....................... ۱۸٤
پاچا او سوالګر ....................... ۱۸٤
تور تکی.................................. ۱۸۶
مور ........................................ ۱۸۷
د سهوې پېټی ......................... ۱۸۷
حرص .................................... ۱۸۸
کور او شخصيت ..................... ۱۸۹
قضاوت.................................... ۱۹۰
له پلار سره ډوډۍ ................... ۱۹۰
د نورو د هڅو قدردان ............ ۱۹۱
اوزه او ګيدړه ......................... ۱۹۳
غلا شوی آس ......................... ۱۹٤
لاو تزه .................................... ۱۹۵
الحمدلله ............................... ۱۹۶
د مېلمه پېژندل ....................... ۱۹۷
د ليست په سر کې .................. ۱۹۷
پيغام ...................................... ۱۹۸
دعا ......................................... ۱۹۹
د هنر ښبتن ............................ ۲۰۰
نالوستلی ليک ......................... ۲۰۱
بې فکره ياران ......................... ۲۰۲
د شتمن کېډلو دوران .............. ۲۰۲
له لامبو وروسته لغته .............. ۲۰۲
ادېسن ..................................... ۲۰۵
پام، پام، پام .......................... ۲۰۶
درې وروڼه............................. ۲۰۷
کونګ..................................... ۲۰۹
زمری او انسان......................... ۲۱۲
دوه زړې ................................ ۲۱۲
د څاڅکي ځای ....................... ۲۱۳
د کنجوس مړينه ..................... ۲۱٤
د حيواناتو غونډه.................... ۲۱۵
د تېرې پېټه ارزو .................... ۲۱۵
د جاپان بهترين چای .............. ۲۱۶
بودا او بدمعاش ...................... ۲۱۶



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

باغي مرید ........................ ۲۱۷
سپي او دوا ........................ ۲۱۷
د پیروس پاچا اپیروس.................. ۲۱۸
بزرګ او غل .......................... ۲۱۸
سقراط په بازار کې ................. ۲۱۹
چرګ او چینچي ..................... ۲۱۹
خزانه ................................. ۲۲۰
پوهېدل ................................ ۲۲۰
اجر ..................................... ۲۲۱
د پلرني کسب زده کړه ............ ۲۲۱
بېله ارزو، بېل حقیقت............. ۲۲۲
انجام .................................. ۲۲۳
جبر او اختیار ....................... ۲۲۳
بېړی ................................... ۲۲٤
په تنګ شوی سالک ............. ۲۲٤
په اسمانونو کې خبرې ......... ۲۲٤
څوابونه .............................. ۲۲۵
ارام ذهن .............................. ۲۲٦
د فکر قدرت ......................... ۲۲٦
ذهن او................................ ۲۲۸
فیل او پشه .......................... ۲۲۸
راما او کریشنا ..................... ۲۳۰
دوی به ستا په باره کې ........... ۲۳۰
تعادل ................................. ۲۳۱
د دانشمندانو شکایت ............... ۲۳۱
چرچرګ ............................... ۲۳۳
رڼا او تیاره............................ ۲۳۳
ډاډ...................................... ۲۳٤
د بل ملامتول ......................... ۲۳۵
د بدن تر ټولو مهم غړی ......... ۲۳٦
په زړه کې ............................ ۲۳۷
د موټر خښول ........................ ۲۳۷
غوراوي .............................. ۲۳۸
سخي................................... ۲۳۹
د نړۍ تر ټولو نېکمرغه مارغه .... ۲۳۹
سرېتوب .............................. ۲٤۰
د ملګرو لرلو اهمیت ............... ۲٤۱
فطرت ................................ ۲٤٤
د څان ارزول .......................... ۲٤۵
پسې رسېدل ......................... ۲٤٦
ورکه اوزه ............................. ۲٤٦
عقیده................................... ۲٤۷
د مشکل څای........................ ۲٤۸
د بېوزلو د یوې خدمتګارې ...... ۲٤۹



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اجوره ........................ ۲۴۹
سیوری ........................ ۲۵۰
د محبت زور ........................ ۲۵۱
تر وفاته پورې ........................ ۲۵۲
د (هو) مخ ........................ ۲۵۳
مړه ډیوه ........................ ۲۵٤
په یو بل ګران ........................ ۲۵٤
وفا ........................ ۲۵۵
چې ارزو پر تا زورروره شي ........ ۲۵٦
لوی حقیقت ........................ ۲۵٦
پښه او لکۍ ........................ ۲۵۷
له نیمګړیو حالتونو ورهاخوا ..... ۲۵۷
ریونن ........................ ۲۵۹
درد او غم ........................ ۲٦۰
تونل ........................ ۲٦۰
سبق ........................ ۲٦۱
په پوښتنه پسې پوښتنه ........... ۲٦۲
مرسته که نه مرسته؟ ............ ۲٦۲
لېوه خویه پاچا ........................ ۲٦۳
پخه خبره ........................ ۲٦۳
بدګوماني ........................ ۲٦٤
بې شمېره چونګښې ............ ۲٦۵
شبکور ........................ ۲٦٦
نتیجه ........................ ۲٦٦
د تشویش او خپګان دلیل ........ ۲٦۷
سیالي ........................ ۲٦۸
خوشالي ........................ ۲٦۹
پاچا او وزیر یې ........................ ۲۷۰
تېروتنه ........................ ۲۷۱
اختلاف ........................ ۲۷۲
سفر ........................ ۲۷۳
د عقیدې بیه ........................ ۲۷۳
سمه لار ........................ ۲۷٤
کارغه او اسمان ........................ ۲۷۵
خوب ........................ ۲۷۵
ترياکي ........................ ۲۷۵
دوه کوچني موږکان ........................ ۲۷٦
په هانوی کې سارایي موږکان ..... ۲۷٦
د خوشالی ........................ ۲۷۷
کب نیونکی ........................ ۲۷۷
حوره ........................ ۲۷۸
د شر دایره ........................ ۲۸۲
څلورغونډۍ ........................ ۲۸۳
سپوږمی نه غلا کېږي ............ ۲۸٤




https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وېره ........................ ۲۸۵
فطرت نه بدلېږي .................... ۲۸۵
د ګاونډي دېګ ..................... ۲۸۶
د پاچاهي ارزومن ................... ۲۸۷
زېړغوايي ........................ ۲۸۹
مزل او منزل....................... ۲۹۲
دا یو زه ولې؟ ..................... ۲۹۲
د لوی حقیقت احساسول ....... ۲۹٤
د خپل ذهن منونکې ............ ۲۹٤
د ګیدړې نصیحت ............... ۲۹٤
تیرې او د تیرو کمان ............ ۲۹۵
هل من مزید ...................... ۲۹۵
ناشکره انسان ..................... ۲۹٦
د عبدالله خبره .................... ۲۹۸
یوازینی بایللې دعوه ............ ۳۰۰
د سرکار کچرې .................. ۳۰۰
خام کار ........................... ۳۰۱
ازادي ............................ ۳۰۲
تفاوت ........................... ۳۰۲
دوه کنجوسان ..................... ۳۰۳
د شیخ ابوسعید یوه کیسه ......... ۳۰۳
کمی ............................. ۳۰٤
روحي زخمونه ..................۳۰٤
نصیب ..............................۳۰۵
پنځه حکیمان ....................۳۰٦
ناوخته نه دی ......................۳۰۸
په پرون کې ایسار ...................۳۰۹
سخته لار .............................۳۱۰
کاشکې................................۳۱۰
د اوبو..................................۳۱۱
کمر او څپه............................۳۱۱
له وطنه وتل ..........................۳۱۳
د پروس د پاچا حکایت ..........۳۱٤
د څان غوندې اوسېدل ............۳۱٤
قاضي او کیشپ .....................۳۱۵
موږک .................................۳۱٦
اوښان..................................۳۱۸
بې زړه سوي، بې خواخوږي .....۳۱۹
د سفر ملګري .......................۳۲۰
د بودا راهب وروستی پیغام .......۳۲۱
د محبت څواب .......................۳۲۲
نجومي ..................................۳۲۲
د بودی چرګان .......................۳۲٤
ژوند او مرګ .........................۳۲٤



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

تشه بېړۍ ........................ ۳۲۶
دوې ........................ ۳۲۷
شاعر او خلیفه ........................ ۳۲۸
خوندیتوب ........................ ۳۲۹
مرغۍ ........................ ۳۲۹
پیاوړی ........................ ۳۳۰
توپیر ........................ ۳۳۰
سویان ........................ ۳۳۱
یوه ډکه کراچۍ بادام ........................ ۳۳۲
پلار، زوی او نیکه ........................ ۳۳۳
د مرګ د مخنیوي علم ........................ ۳۳۳
پتنګان ........................ ۳۳٤
ته له ملګرو پېژندل کېږې ........................ ۳۳۶
اغېز ........................ ۳۳۷
د حاصل د ټولولو وخت ........................ ۳۳۷
لومړی اصل ........................ ۳۳۸
اختیار ........................ ۳۳۹
د سعادت راز ........................ ۳٤۰
منې ........................ ۳٤۰
لولو ........................ ۳٤۱
معنویت ........................ ۳٤۱
پوهېدل او عملي کول ........................ ۳٤۲
لومړنی سبق ........................ ۳٤۲
سین او سپوږمۍ ........................ ۳٤۳
هوښیار نوکر ........................ ۳٤٤
شاعر او عاشق ........................ ۳٤٤
زندان ........................ ۳٤٤
مړ بودا ........................ ۳٤۵
د جراح ازموینه ........................ ۳٤۵
کلیسا او کشیش ........................ ۳٤۶
له وسوسو سره په جګړه کې ........................ ۳٤۶
زنداني ........................ ۳٤۷
پردي بوټونه ........................ ۳٤۷
لویه بلا ........................ ۳٤۸
پېژندنه ........................ ۳٤۸
اندېښنه ........................ ۳٤۹
وظیفه ........................ ۳٤۹
کورنۍ ........................ ۳۵۰
غشي ........................ ۳۵۰
د چا لپاره وعظ؟ ........................ ۳۵۱
ارزښت ........................ ۳۵۱
درناوی ........................ ۳۵۲
د قناعت دعا ........................ ۳۵۲
د حقیقت ټاټوبی ........................ ۳۵۳



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## لقمان او د غنمو وږي

لقمانِ حکیم وایي، د غنمو په کرونده کې مې پام شول چې ځینې وږي لکه کبرجن نېغ ولاړ وو او ځینو نورو د حیاناکو بنیادمانو غوندې غاړه ټیټه نیولې وه. چې نژدې ورغلم او لاس مې وروړ، رامعلومه شوه چې نېغ درېدلي وږي له دانو تش او دا نور ډک وو. په زړه کې راتېره شوه: په ټولنه کې هم هغه کسان چې په سر کې یو څه لري، مات او حیاناک وي خو د تشو سرونو والا له کبره اسمان ته ګوري.

## جګړه

یوه هوښیار سړي ته چا سپکې سپورې ویلې، ده اورېدلې خو ځواب یې نه ورکاوه. وروسته یو بل چا پوښتنه ورنه وکړه چې ولې دې بې ځوابه پرېښود؟ هوښیار ورته وویل: په داسې جګړه کې به هېڅ وخت ګډون ونکړم چې تر بایللو یې ګټل بدتره وي.

## کار او ډوډۍ

چیني مرشد (هی اکوجو) به ان په اتیا کلنۍ کې له خپلو مریدانو سره کار کاوه، د بڼ په خدمت به بوخت و، مځکه یې پاکوله او د ونو د وچو څانګو په غوڅولو کې یې برخه اخیسته. مریدان یې ورته خواشیني وو چې دی په تېر عمر دومره سخت کار کوي خو په دې پوهېدل چې که د کار نه کولو ورته ووایي، نه یې مني، نو د ده د کار وسایل یې پټ کړل. مرشد په هغه ورځ ډوډۍ ونه خوړه، په سبا یې هم څکه ونه کړه. مریدانو فکر وکړ چې د وسایلو ورکې خپه کړی دی او ډوډۍ ته یې زړه نه کېږي نو وسایل یې راوړل. مرشد ته چې وسایل په ګوتو ورغلل، ډوډۍ یې وخوړه او کار یې شروع کړ. په هغه ماښام یې مریدانو ته وویل: هغه ورځ چې ډوډۍ پکې خورې، کار هم پکې کوه!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د خپلو پښو پیدا کول

نهه کسه پوډریان چېرته تللي وو. چې راستنېدل ورباندې ناوخته شول، د یوې ونې لاندې یې شپه وکړه. سهار چې راپاڅېدل، چیغې سورې یې وې. یوه لاروي پوښتنه ورنه وکړه: خیریت دی، ستونزه څه ده؟
دوی وویل: د شپې مو پښې سره تاوراتاو شوې دي، اوس سره بېلېږي نه، نه پوهېږو کومه پښه د چا ده.
لاروي، چې موچي و، له بکسه ستن را وایسته، دوی ته وویل: غم مه کوئ، دا اسانه کار دی، زه به یې درته بېلې کړم.
موچي د هر یوه په پونده ستن چوخ کړه. چې پښې به درد وکړ، ټوله به شوه او موچي به وویل: دا یې ستا پښه... په دې ډول یې پوډریان قانع کړل چې پښې یې سره جدا شوي او هر یوه ته خپلې پښې رسېدلي دي.

## اووه کوزې طلاوې

د پاچا نایي د یوې ونې لاندې چې پېرى پکې و، تېرېده. په نایي باندې اواز وشو: «غواړې چې اووه کوزې سره زر ولرې؟» ده شاوخوا وکتل، هېڅوک یې ونه لیدل خو تمه ورپیدا شوه، په لوړ اواز یې وویل: ولې نه!
هغه اواز بیا راغی: «نو همدا اوس کور ته لاړ شه، هلته به یې ومومې.»
نایي کور ته په منډه ځان ورساوه. لکه څنګه چې ورته ویل شوي وو، هلته د سرو زرو اووه کوزې ورته ایښې وې. نورې ټولې ډکې خو دا یوه پوره ډکه نه وه. نایي له ځان سره وویل چې کاشکې دا اوومه هم پوره ډکه وای! نایي دغه نیمګړتیا په شدت سره احساس کړه او داسې یې وګڼله چې که ډکه نه شي، خوشاله به نه شي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**څنګل** (څلور سوه حکایتونه)

نايي په خپل کور کې ټول جواهر وپلورل او د هغو په ځای يې د طلا سکې راونيولې، اوومې کوزې ته يې واچولې. خو د هغې ډکول اسانه نه وو. ده د کور لګښتونه کم کړل او ان د ډوډۍ په خوړلو کې يې کمی راوست چې پيسې وسپموي خو کوزه چېرته ډکېدله.

نايي يوه ورځ پاچا ته عرض وکړ چې تنخواه يې ورزياته کړي. پاچا يې تنخواه دوه برابره کړه. ده په دغو پيسو هم طلاوې اخيستلې او کوزې ته يې اچولې چې ګوندې اخر ډکه شي. نايي ان ګدايي ته ملا وتړله مګر کوزه لکه د ارواوړي بنيادم خوله تل وازه وه، نورې او نورې طلاوې يې غوښتې.

د پاچا ورپام شول چې نايي يې لکه ناروغ بنيادم ورځ په ورځ خوارېږي او پرېشان وي. يوه ورځ يې پوښتنه ورنه وکړه: دا تا ته څه در پېښه ده چې ورځ په ورځ ژوبلېږې؟ تر دې خو هاغه وخت ښه وې چې تنخواه دې د اوس نيمه وه. اووه کوزې سره زر خو به درسره نه وي چې داسې ناکراره يې؟

نايي حيران، حيران وروکتل، ورته ويې ويل: اعليحضرته، تاسې ته چا وويل؟

پاچا وخندل، ويې ويل: علامې دې ټولې د داسې چا دي چې پېري د سرو زرو اووه کوزې ورکړې وي. پېري ما ته هم يو وخت د دغو کوزو خبره وکړه. ما ورنه وپوښتل چې دا طلاوې خرڅولای شم او که به يوازې راسره پرتې وي؟ ده زما له پوښتنې وروسته چوڼ قدرې ونکړ، غايب شو. هغه طلاوې د دې لپاره نه دي چې وبې لګوې او پکار دې راشي. بس يوازې د زېرمه کولو وسواس پيدا کوي. ورشه، همدا اوس، اوس يې پېري ته ورکړه، بېرته به دې خوشاله ژوند په نصيب شي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## سم ځواب

استادې اووه کلنې ماشومې الينا ته رياضي ښودله. ورته ويې ويل: که زه تا ته يوه مڼه درکړم، يوه بله مڼه درکړم او يوه بله مڼه هم درکړم، نو څو مڼې به لرې؟ ماشومې څو ثانيې وروسته په ډاډ سره ځواب ورکړ: څلور مڼې.
استادې فکر وکړ چې شايد پوښتنه يې سمه نه وي اورېدلې، نو تکرار يې کړه: ګوره الينا جانې، ډېره اسانه پوښتنه ده، يو ځل بيا درته وايم. که زه يوه مڼه تا ته درکړم، بيا يوه بله مڼه درکړم او بيا يوه بله مڼه هم درکړم، ته به څو مڼې لرې؟ الينا دا ځل په ګوتو حساب وکړ او په اخر کې يې وويل: څلور مڼې.
استادې فکر وکړ چې د دې انګور خوښېږي، نو پوښتنه يې بدله وکړه: که زه يوه دانه انګور تا ته درکړم، بيا بله درکړم او بيا بله در کړم، نو څو دانې انګور به لرې؟ الينا ګوتې وشمېرلې او ځواب يې ورکړ: درې دانې. استادې ورته افرين، افرين، افرين وويل او د مڼو پوښتنه يې يو ځل بيا ورنه کړه: که زه يوه مڼه درکړم، بيا بله درکړم او بيا بله مڼه هم درکړم، نو څو مڼې به لرې؟ الينا وويل: څلور مڼې.
استادې ورته وويل: نه الينا ګلې، دا هم درې مڼې کېږي.
الينا ورته وويل: «يوه مڼه خو په بکس کې هم لرم.»
که يو څوک زموږ پوښتنې ته داسې ځواب ورکوي چې زموږ له توقع سره سم نه وي، داسې مه ګڼئ چې د هغه ځواب به خامخا غلط وي. دلته کېداى شي داسې څه وي چې زموږ ورپام نه وي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## نفس

پاچا د قدم وهلو لپاره ښار ته ووت. یو ګدا یې ولید. ورتاو شو چې مرسته ورسره وکړي. ګدا ورته وویل: زه دې مرسته بې شرطه نه منم! پاچا حیران شو چې سوالګر او شرطونه؟ سوالګر ټینګار وکړ: هو، زه بې شرطه خیرات نه غواړم! پاچا په غوسه ورته وویل: شرط دې څه دی! سوالګر وویل: کچکول به راډکوې!

پاچا چې قهرېدلی و، وزیر ته وویل: سمدستي قصر ته لاړ شه، له خزانې ښه ډېر غمي راوړه چې دغه ورېسترګی بل ځل چا ته شرطونه کې نه ږدي.

وزیر له دومره غمیو سره راغی چې ممکن د کچکول دوه برابره به وو، خو پاچا او وزیر په تعجب سره ولیدل چې ټول په کچکول کې ورک شول. پاچا وزیر بیا واستاوه. وزیر دا ځل لا لویه پنډه راوړه او دا ځل هم ټول غمي او جواهر په کچکول کې ورک شول.

پاچا چې ځان سپک شوی احساس کړی و، خپله ټوله خزانه په کوچني کچکول کې تشه کړه خو کچکول هماغسې خالي پاتې شو.

پاچا له سوالګره پوښتنه وکړه: تا څه چل کړی دی؟

سوالګر وویل: صاحبه نور چل نشته، صرف دومره ده چې کچکول مې د انسان له نفسه جوړ کړی دی او ما دا درښودل چې که د نفس چاره ونه کړې، ټول عمر به سرګردان یې خو خزانه به لا درته ډکه شوې نه ښکاري، نو په ځان رحم وکړه او د خدای په مخلوق هم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## عقل او انسان

انسان چې پیدا شو، ارباب النواعو سره وویل چې دغه موجود خورا بې تجربې دی، اوس که عقل ورکړو، ورانی به وکړي، بهتره ده، عقل یې چېرته پټ کړو چې ژر یې ونه مومي. یوه رب النوع وویل چې د غره په سر به یې کېږدو خو نورو وویل، غره ته به ژر وخېژي او پیدا به یې کړي. یوه بل د اوبو تل وښود، د هغه هم مخالفت وشو، ځکه وویل شول چې انسان به لامبو او د غوټو وهلو چل په لنډه موده کې زده کړي. یو رب النوع چې ډېر هوښیار و، نورو ته وویل: عقل به د انسان په منځ کې پټ کړو. دی به ډېره موده یو ځای، بل ځای پسې وګرځي او خورا وروسته به دې ته متوجه شي چې په خپل ځان کې لټون پیل کړي. تر هغه وخته به یې تجربه زیاته شوې او له عقله به ډېره غلطه استفاده نه کوي.

## رخه ګر

په ښار کې دوه رخه ګر اوسېدل. د دوی په هیچا باندې ښه ورځ نه وه پیرزو او په حسد کولو دومره مشهور شول چې یوه ورځ پاچا ته چا وویل چې دوی د جزا لایق دي. پاچا قاضي راوغوښت. قاضي وویل، دوی زه هم پېژنم، ډېر بدنیتي کسان دي خو تر هغو چې یې چا ته صدمه نه وي رسولې او صرف خپل زړونه خوري، په قانون کې ورته جزا نه شو ټاکلی.

پاچا فکر وکړ چې د جزا لاره باید ورته جوړه کړي. بله ورځ یې دواړه دربار ته وروبلل، ورته ویې ویل: زه غواړم تاسې دواړو ته ښه سوغات درکړم خو څومره چې لومړي کس ته ورکوم، دویم ته به یې دوه برابره بخښم. اوس نو ووایاست چې څه غواړئ؟

دوی هر یوه بل ته ویل چې اول ته ووایه خو چېرته سره جوړېدل؟ اخر دا یوه وویل، صاحب زما یوه سترګه وباسه.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## هوايي معلومات

اکبر پاچا به سختې پوښتنې کولې. یوه ورځ یې پوښتنه دومره سخته وه چې ټول درباریان یې خواب ته حیران شول او د ځواب نه ورکولو په وجه په ټولو سرونه وځړېدل. دغه وخت بېربل دربار ته راغی او چې ټول یې غلي ولیدل، پوه شو چې بیا به په پوښتنه کې بند شوي وي، نو پاچا ته یې وویل: صاحب که سخته پوښتنه وي، له ما یې هم کولای شئ، ګوندې ځواب ورته ولرم. پاچا وویل: پوښتنه دا ده چې په دې ښار کې به څومره کارغان وي؟

بېربل سمدستي ورته ووویل: پنځوس زره پنځسه سوه نهه اتیا!

اکبر وویل: که کم و زیات وو؟

بېربل وویل: یو نیم که کم وي، هغه به خامخا د خپلوانو کره تللی وي او که زیات وي، خامخا به مېلمه راغلی وي.

اکبر وویل: ته په خپل شمېر پوره باوري یې؟

بېربل وویل: بېخي باوري یم، که پکې شک کوئ، د شمېرلو امر یې وکړئ!!

## انځورګره

په ښار کې یوه لویه انځورګره وه چې د خپلو ښو هنري آثارو او ډېرې پوهې په وجه یې درناوی کېده. یوه ورځ یو شتمن له خپل سپي سره ورته راغی، ورته ویې ویل: زما او زما د سپي انځور وباسه!

انځورګرې ومنله او له یوې اونۍ سخت کاره وروسته یې انځور بشپړ کړ. په بله ورځ چې شتمن له خپل سپي سره راغی، انځورګرې ایستلی انځور ور ښکاره کړ. ده یو نظر ولید، بیا یې خپل سپي ته وکتل، بیا یې ویل: تا خو دومره بې خونده شی



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ايستلی چې ان زما سپی هم اهميت نه ورکوي. هر چا به دې ستاينې کولې، زه څکه درته راغلم خو دا کار دې دوه توته اررښت نه لري.

انځورګرې ورته وويل: زه به نن ورباندې نور کار وکړم او خپلې تېروتنې به سمې کړم. ته سبا له خپل سپي سره يو ځل بيا راشه، په ډاډ درته وايم چې سبا ته به انځور، هم ستا خوښ شي، هم د سپي.

سبا ته چې سړی ځنګه له سپي سره راغی، سپی يې د انځور په بوېولو او څټلو بوخت شو. سړي له دې احساسه خوند واخيست چې د سپي يې نقاشي خوښه شوې ده. ده د انځورګرې پيسې ورکړې او انځور يې په خوشالۍ ورسره يوووړ.

انځورګرې يوه شاګرده لرله. هغې استادې ته وويل: پرون خو سپي انځور ته بېخي کتل نه او نه يې ژبه ورباندې تېروله، عجبه وه.

انځورګرې وويل: تېره شپه مې د انځور په لاندنۍ څنډه باندې يو څه غوښه وموښله، سپي د هغې د بوی په وجه ژبه را ايستلې وه.

## د ژوند راز

و نه و يو وخت يوه ځوان د ژوند د راز د موندلو تکل وکړ. له بېخي ډېرو کسانو يې پوښتنې وکړې خو څه يې ونه موندل. البته په دې پوه شو چې يوازې نه دی او ډېر نور کسان هم شته چې د ژوند د راز د موندلو ارمانجن دي. دغه شي يو څه ارام کړ. په دې منځ کې يې يوه اوازه واورېده چې په پلاني ځای کې يو مرشد د ژوند له رازه خبر دی. دی او د ژوند د راز د موندلو څو نور شوقيان په مرشد پسې ورغلل او پوښتنه يې ورنه وکړه چې دا اوازه رښتيا ده؟

هغه سر وخوځاوه، مانا هو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوی ورته خواست وکړ چې موږ ته يې هم راوښيه خو هغه سر وخوځاوه، مانا نه.
دوی ورته وويل: اخر ولې مو بې ځوابه پرېږدئ؟
مرشد ورته وويل: که درته ووايم، بيا به يې راز والی ختم شي.
خو سالکان پاتې شول او د ده مريدي يې پيل کړه. د مرشد د خدمت په وخت يې دا خبره تر غوږ شوه چې هغه دغه راز په يوه کوچني کاغذ ليکلی او چېرته يې په کور کې غلی ساتلی دی.
کله چې سپين ږيری مرشد وفات شو، دوی ورباندې شانداره مقبره جوړه کړه او بيا يې په هغه کاغذ پسې د مرشد کور تالاشي کړ. د تالاشي په نتيجه کې يو کوچنی کاغذ وموندل شو چې ورباندې ليکلي وو:
«ما د ژوند راز په دنيا کې پرېښود، لکه د خلکو په زړونو کې د مسافر مېلمه پاتې خاطره، په زمان او مکان او ګومان کې ورکه. هر څوک چې راز رابرسېره کړي، د لټون دليل ورپاتې نه شي. لټون مه دروئ. که هغه څه ومومئ چې لټه يې کوئ، لټون به بس کړئ او له ارزښتناکو تجربو او ملاقاتونو به بې برخې پاتې شئ.»

## بار

يو ځوان بوډا مرشد ته ورغی، ورته ويې ويل: ژوند يو بار دی، د اوږو يو دروند بار چې په مځکه پورې مې مېخوي.
بوډا مرشد په مينه ناکه موسکا ورته وويل: بچيه، ژوند لکه ښکه وبوله، بار يې مه ګڼه.
ځوان وويل: استاده احترام دې په خپل ځای خو دلته تېروتی يې، ځکه زه عملاً وينم چې ژوند يو دروند بار دی او ورځ په ورځ مې له پښو غورځوي، که څه مشوره راکولای شې، مهرباني!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوډا چې هماغسې موسل، ورته وویل: دا مور یوو چې بارونه ورو کنه نو ژوند لکه بنیکه...
ځوان یې خبره ورغوڅه وکړه، ویې ویل: خو...
او مخکې تر دې چې نوره خبره وکړي، بوډا وویل: دا یو (خو) دې په یوازې ځان یو ټن وزن لري.

## څټک

یو چا مېخونه اخیستي وو چې په دېوال یې ټک وهي خو څټک یې نه درلود. ګاونډی ورياد شو چې څټک لري او ذهن یې دې خبرې مشغول کړ چې ورنه ویې غواړي که څنګه؟ پرون یې راسره ډېر لنډ سلام علیک وکړ، لکه اروا چې یې شکه وه چې سبا به یې څټک ته احتیاج یم. عجب بدبخته سړی دی. څټک خو نه د ماتېدو دی، نه د خوړلو دی، نه حتا د زړېدلو دی، بس بخل او رخه ده چې له انسانه عقل اخلي... ده له ځان سره همدا خبرې کولې او د ګاونډي کور ته ور روان شو، دروازه یې وټکوله. هغه چې څنګه ور پرانیست، ده تر سلام له مخه په قهرجنه غاړه ورته وویل: تا په یو څټک ځان ورک کړی دی، سړی سبا ته هم ګوري، ستا غوندې بې عقل مې ولاکه په ټول ژوند کې لیدلی وي.

## واعظ او مهتر

واعظ یوه لوی تالار ته لاړ چې وعظ وکړي. دی د وعظ کولو ډېر شوقي و، خو هلته په ټول تالار کې ایکې یو سړی ناست و. ده ناست سړي ته وویل: خلک خو نشته، څنګه، خبرې وکړم؟ هغه ورته وویل: صاحب زه نالوستی، ناخبره بنیادم یم، د اسونو مهتر یم، په نور څه نه پوهېږم خو دومره ده چې په طویله کې که صرف یو آس هم پاتې وي، ورته یې نه پرېږدم، نوره دې خوښه.
واعظ وویل: چې داسې ده نو توکل په خدای، تقریر به شروع کړم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

واعظ پوره دوه ساعته وینا وکړه او چې خبرې یې ختمې شوې، هغه سړي ته یې
وویل: څه پکې وایې؟

هغه ورته وویل: زه یو مهتر یم، په څه نه پوهېږم، خو دومره ده چې که ټول آسان له طویلې وتلي وي او صرف یو پاتې وي نو صرف د یوه آس خواړه ورباندې خورم، نه د ټولو.

## د مرګ لیست

په ځنګل کې اوازه خپره شوه چې یږ د مرګ لیست برابر کړی دی. ټول وارخطا وو. خدای، خدای یې کول چې په لیست کې یې نوم نه وي. هوسۍ سل زړونه یو کړل، د یږ په خوا ورتاو شوه، په رېږدېدلي اواز یې پوښتنه وکړه: زما نوم د مرګ په لیست کې شته؟ یږ ځواب ورکړ: هو، په لیست کې دې نوم شته.

هوسۍ چې سترګې یې له وارخطایي رډې، رډې راوتلې وې، په شا، شا لاړه او په ونو، بوټو کې له سترګو غایبه شوه. څو ورځې وروسته یې نورو ژویو مړی ولید.

په ځنګل کې وېره نوره هم زیاته شوه. ټول پریشانه وو. سرکوزي له ځان سره وویل چې په دومره پریشانۍ کې خو ژوند راته ډېر سخته دی، جرات به وکړم، له یږه به وپوښتم، ګوندې نوم مې نه وي. نو یږ ته ورغی، ویې پوښت: زما نوم په لیست کې شته؟ یږ سر وخوځاوه، ویې ویل:هو، ستا نوم هم شته!

سرکوزي له وېرې منډه واخیسته او څو ورځې پس یې زړه وچاودېد.

نور نو هیچا له وېرې پوښتنه نه شوای کولی. هر څوک په یوه سوړه ننوتل. په ځنګل کې داسې خاموشي خپره شوه لکه دلته چې بېخي ژوندی ساری نه وي. په دې منځ کې خره ته په زړه کې ورتېر شول چې راځه دا ځل ته خپل بخت وازمویه. یږ ته ورغی، ورته ویې ویل: زما نوم په لیست کې شته؟ یږ ورته وویل: هو، ستا نوم هم شته. خره ورته وویل: ویه یې نه باسې! یږ ورته وویل: ولې نه، دا خو اسانه کار دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## په بله جامه کې

حقيقت لکه د زوکړې د شپې ماشوم، لوڅ او بربنډ کلي ته لاړ. کليوال يې لوڅ حالت ووېرول، وقهرول، ورټ يې ورنه وشو او له کلي يې وشاړه.
حقيقت نهيلی او غمجن بيابان ته مخه کړه. هلته يې نه د خوړولو څه وموندل، نه کومه سرپناه په نظر ورغله. يوازې او تنها روان و، شاوخوا يې سترګې غړولې چې ګوندي څوک وموري او له مرګه يې وژغوري. ده داسې وخت چې نور نو مرګيحاله و، يوه کوټنۍ وليده، ورتاو شو. د تمثيل کوټنۍ وه. تمثيل يې پالنه وکړه، ډودۍ يې ورکړه، خپلې جامې يې ورکړې او چې په پښو ودرېده، بېرته يې کلي ته رخصت کړ. کليوالو چې د تمثيل په جامو کې وليد، ويې مانه او ويې نازاوه.
تمثيل د حکايت يا مثال يا تشبيه په جامه کې د خبرو غير مستقيم انداز ته وايي.

## د بوډۍ مذهب

يوه د ډېر عمر مېرمن چې د مذهبونو په اړه يې ډېر فکر کاوه، دې نتيجې ته ورسېده چې ټول مذهبونه په غلطه لار روان دي او يوه نوې لاره پکار ده. دې د نوي مذهب بنياد کېښود. يوه ورځ يوه خبريال پوښتنه ورنه وکړه: خلک درپسې وايي چې ستا په عقيده يوازې ته او ستا خدمتګاره ماري به جنت ته ځئ، دا خبره رښتيا ده؟
دې ورته ويل: ولا د ماري په برخه کې پوره ډاډه نه يم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## علت

تازه واده شوې ښځې نیت وکړ چې د وريي پښې پخې کړي. دې اول پښې دوه ځايه کړې بیا يې دیګ ته واچولې. مېړه يې ورته وویل، داسې دې ولې وکړل؟ ښځې ورته وویل، نه پوهېږم، مور به مې داسې کول. مېړه يې بله ورځ له خپلې خواښې پوښتنه وکړه چې د وريي پښې ولې دوې ټوټې کوئ؟ هغې ورته وویل چې زما مور به داسې کول. د زوم د خواښې مور ژوندۍ وه. له هغې يې هم پوښتنه وکړه. هغې ورته وویل، زما دیګ وړوکی و.

## مار او کاغۍ

د غره په لمن کې يوه زړه ونه وه. د ونې په بره څانګه د کاغۍ ځاله وه. په همدې ونه کې د مار سوړه هم وه. کاغۍ چې به هګۍ واچولې، مار به ورغی، وبه يې خوړلې.

کاغۍ نه پوهېده چې څه وکړي. يوه کارغه ته ورغله، د مار شکایت يې ورته وکړ.

کارغه ورته وویل، نو غواړې څه وکړې؟

کاغۍ ورته وویل:غواړم يوه شپه ویښه پاتې شم، چې څنګه مار خوب یوسي، پسې ورشم، حمله ورباندې وکړم او دواړه سترګې يې وباسم، ګوندې په دې ډول يې له شره بې غمه شم.

کارغه ورته وویل: په حمله کې درته خامخا خطر شته، خطري کار مه کوه، راځه بل څه وکړه، د یوې ښځې قیمتي ګېڼه وتښتوه او چې ونې ته راغلې، د مار په سوړه کې يې واچوه، خلک چې په خپلې ګېڼې پسې راشي، دی به ووژني، ته به له خطره بچه يې.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د خدايي دعوه

يو چا د خدايي دعوه وکړه. سړي محتسبانو ونيو او خليفه ته يې لاس تړلی راوست. خليفه د دې لپاره چې د خپلې ګناه لوی والي ته يې متوجه کړي، ورته وويل: تېر کال يو چا د پېغمبري دعوه کړې وه، سمدستي مې اعدام کړ.
ده ورته وويل: عجب کار دې کړی، هغه ما نه و رالېږلی!

## د عقيدې غلا

غله په لاره کې يوه کڅوړه پيدا کړه. په کڅوړه کې سره زر او يو کاغذ و. په کاغذ ليکلي وو چې اې خدايه، خپلې طلاوې مې په تا سپارلي دي، چې ورکې يې نه کړې.
غله د کڅوړې څښتن وموند او د سرو زرو کڅوړه يې سلامته ورکړه.
ملګرو يې ورته وويل: عجب سړی يې، ټول عمر غل وې او اوس چې مفته خزانه په ګوتو درغله، بېرته دې خپل څښتن ته وسپارله.
غله ورته وويل: زه د مالونو غل يم، د عقيدو غل نه يم. که مې دا کڅوړه نه وای ورکړې، د څښتن عقيده يې خرابېده، او دا بيا ډېره بې انصافي وه.

## سوی او کيشپ

دا کيسه ډېرو خکو اورېدلې ده چې د سوی او کيشپ تر منځ د ځغاستې سيالي وه. سوی چې په منډه کې تر کيشپ ډېر تېز و، د سيالی په منځ کې يې شاته کتلي او پام شوي وو چې کيشپ بې اندازې وروسته پاتې دی، نو د يوې ونې لاندې يې استراحت کړی، خوب وړی و. دی لا په خواږه خوب ويده و چې کيشپ وروستي ځای ته رسېدلی و.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دې کیسې مطلب خو دا و چې که څوک یو کار ورو هم کوي خو چې پکې منظم وي، تر هغه چا به يې نتيجه ښه وي چې چټک وي او منظم نه وي.

دا چې له دې سيالۍ وروسته څه پېښ شول، په دې باره کې ډېرو لږو خلکو ته معلومات شته. سوی چې په خپله چټکه منډه ډېر نازېده، هغې ماتې ډېر وځوراوه او کيشپ ته يې د بلې سيالۍ بلنه وکړه. بل ځل نو سوی يوه شېبه هم غفلت ونه کړ، په منځ کې ونه درېد او دا خام فکر ور پيدا نشو چې زه چې تېز يم نو زه به سيالي خامخا ګټم.

په دويمه سيالي کې طبعا سوی وګټله او دا خو معلومه ده چې څوک په خپل کار کې هم چټک وي، هم منظم،هغه به ميدان له هغه چا وړي چې منظم وي خو چټک نه وي.

کيشپ له ماتې وروسته په دې فکر کې شو چې څنګه کولای شي د ځغاستې په يوه بله سيالي کې سوی ته ماته ورکړي. متل دی وايي، غر که لوړ هم دی، په سر يې لاره شته. اخر يې يوه لار راوايسته، او سوی ته يې وويل چې راځه يو ځل بيا د منډې سيالي کوو، مګر د غره تر لمنې پورې نه، بلکې دا ځل يوې بلې خوا ته منډې وهو.

سوی ورسره په خوشالي ومنله. سيالي پيل شوه. سوی د هرکله غوندې تر کيشپ ډېر وړاندې لاړ خو په لاره کې يو سين مخې ته ورغی. د ځغاستې د سيالۍ وروستی سر له سينه پورې څو سوه متره وړاندې و. سوی حيران پاتې شو چې اوس به څه کوي؟ څکه ده خو لامبو نه ده زده. ده لا د پورې وتلو چاره سنجوله چې کيشپ راورسېد. هغه چې لامبو زده ده، له سينده بې زحمته واوښت او سيالي يې وګټله.

سوی په دې ماته فکر وکړ او دې نتيجې ته ورسېد چې که د ژوند په سيالي کې يو څوک کمزوری درته ښکاري، د دې معنا دا نه ده چې ته به خامخا ورنه مخکې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کېږي. هغه چې کمزوری دی، د سيالي د وړلو لپاره نورې لارې سنجوي او نور ميدانونه انتخابوي.
د سوی او کيشپ سيالي همدلته پای ته ونه رسېده، بلکې ادامه يې ومونده. دوی سره ملګري شول او د يوې بلې سيالی بندوبست يې وکړ خو دا ځل له يو بل سره په رقابت کې نه بلکې د يوه ټيم په بڼه. داسې چې کيشپ د سوی په اوږو کښناست، د سين تر غاړې دواړه ژر ورسېدل. له سينه د پورې وتلو په وخت سوی د کيشپ په ملا ناست و او د سين په بله غاړه کې کيشپ يو ځل بيا د سوی اوږو ته وخوت او د سترګو په رپ کې وروستي ځای ته ورسېدل.
دا ښه خبره ده چې کمالونه ولرئ خو ډېره ګټه هغه وخت کوئ چې خپل کمالونه سره شريک کړئ او ګروپي کار وکړئ. هغه څوک چې په خپل کمال غره دی او د ګډ کار اړتيا نه ويني، د ژوند په سيالي کې يې پرمختګ سخته دی، ځکه د ژوند لارې پېچلې دي او يوازې هغوی پکې په اسانه مقصد ته رسېږي چې د ګډ کار په اهميت پوهېږي.

## که څه هم

په مکسيکو کې خلکو په يوې مجسمې باندې د (که څه هم) نوم ايښی دی. دغه مجسمه چې چا جوړوله، ښی لاس يې غوڅ شو خو په چپ لاس يې کار جاري وساته او مجسمه يې بشپړه کړه. خلکو مجسمه د خپل جوړوونکي په وياړ (که څه هم) ونوموله، مانا هغه سړی که څه هم نيمګړی شو، که څه هم کار ورته ډېر، ډېر سخته شو خو خپل هوډ يې سر ته ورساوه.
(له لاسه وتلی جنت) د انګريزي ادب مشهور شهکار دی. د دغه شهکار ليکونکی، جان ميلتن که څه هم د کتاب د ليکلو په وخت نابينا شو خو اراده يې کمزورې نه شوه. له نابينايي وروسته يې د ليکلو چاره لوڼو ته وسپارله. ده به شعرونه


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ویل او هغوی به لیکل. د دنیا د تاریخ یو تر ګردو ستر موسیقار، بیتهوون، که څه هم په غوږو کوڼ شو خو د موسیقي د شهکارونو برابرولو ته یې ادامه ورکړه. د جهان د ویاړونو د تاریخ په هره پاڼه کې لولئ چې که څه هم ستونزې وې، که څه هم ډېرې ستونزې وې خو د همت خاوندانو لوی کارونه وکړل.

## د حاکم مېلمه

یو مسافر سپین ږیری د شپې تېرولو لپاره د ښار د حاکم کور ته ورغی. د ډوډۍ په وخت چې دسترخوان اوار شو او غوری کېښودل شو، په غوري کې دوې کباب شوې زرکې وې. مسافر د زرکو په لیدو وخندل. حاکم ورته وویل: څنګه خندا درغله؟

ده وویل: په ځوانۍ کې غل وم. یو ځل مې په صحرا کې یو لاروی را ایسار کړ، توره مې له تېکې راوایسته چې ویې وژنم. ده د خپلو پیسو کڅوړه زما پښو ته واچوله، ویې ویل: ټولې پیسې رانه واخله خو وژنه مې مه! خو ما یې د وژلو تکل کړی و، توره مې پسې جګه کړه. ده د وژلو په شېبه کې دوو زرکو ته چې هلته په تېره ناستې وې، وکتل، ویې ویل: تاسې شاهدانې یاست چې په ناحقه مې وژني!
اوس چې مې دوې زرکې ولیدې، د هغه وژل شوي کس هغه بې عقله خبره رایاده شوه چې زرکې یې شاهدانې نیولې.
حاکم وویل، زرکو خو دا دی شاهدي وویله چې ناحقه خون دې کړی دی، اوس به دې زندان ته ولېږم او سبا سهار به اعدام شې!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# دوه ملګري

یو وخت په یوه لرې بانډه کې دوه ډېر خواږه ملګري سره یو ځای اوسېدل. دوی په یو بل دومره مهربان وو چې ډېرو خلکو د دوو ورونو ګومان وربانډې کاوه، حال دا چې خبرې يې یو شان نه وې، خو خویونه یې سره ډېر ورته وو، البته د دا یوه ملګري ژبه سوری وه، خبره به یې په خوله کې نه تکیه کېده او هغه بل د ډېر ګرانښت په وجه دا خبره هم نه ورته کوله چې رازداره اوسه!

بالاخره دا یوه ملګري واده وکړ او هغه بل چې خبره به یې په خوله کې نه تکیه کېده، څړه پاتې شو. واده والا ملګری یو ماسپښین څړه ته راغی او یوه بنده کځوړه یې ورکړه، ورته ویې ویل: زه او مېرمن مې چېرته په سفر ځو، نن شپه به په کور نه یوو، دا زموږ د سرو زرو سیکې دي، درسره ویې ساته. څړه ملګري کځوړه واخیسته، په خپل کور کې یې کېښوده.

په هغه ماښام چې څړه او د بانډې نورو ځوانانو ګپ شپ لګاوه، څړه د نورو شپو په خلاف، ژر پاڅېد. انډیوالانو ورته وویل: نن ولې دومره ژر ځې؟ ده ورته د تلو اصلي وجه بیان وکړه چې ملګري یې په یوه کځوړه کې د سرو زرو سیکې ورکړې او د هغو په خاطر غواړي ځان وختي کور ته ورسوي.

څړه چې سهار له خوبه راپاڅېد، که ګوري کځوړه نشته. سخت خوابدی شو، له ډېره غمه یې نه د سهار چایو ته لاس وروړ او نه یې د غرمې ډوډۍ وخوړه. مازدیګر ناوخته د کور دروازه ووډبېده. ملګری یې و چې له ښاره راستون شوی او خپله کځوړه یې غوښته. ده چې ژبه یې له ډېرې وارخطايي بنده، بنده کېده، د کځوړې د ورکېدو خبره ورته وکړه. ملګري یې ورته وویل: فکر مه خرابوه، په هغې کې سره نه وو، د وسپنې ټوټې وې. زه پوهېدم چې ته راز نه شې ساتلی نو د سرو زرو سیکې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مې په خپل کور کې پرېښودلې او تا ته مې د هغو په کڅوړه کې د وسپنو توټې درکړې چې که په سرو زرو پسې غله راځي ستا په کور کې به يې غواړي.
څه د دې خبرې په اورېدو د ارام ساه وايسته او هغه بل ملګري ورته وويل: وبخښه که په زحمت شوې خو دا ښه تجربه وه، نور به ان شاالله رازونه له ځان سره ساتې.
څه دوه کاله پس واده وکړ، د اولاد څښتن شو، کلونه واوښتل، د لمسو څښتن شو خو بيا يې هېڅ وخت، نه لوی او نه کوچنی راز، له خولې ووت.

## نوی نوم

سيروارام چې له بيربل سره په يوه کوڅه کې اوسېده، تريو ترينګلی بنيادم و، د کوڅې ماشومان به يې حق نا حقه سپکول او دا يې لويه ارزو وه چې خلک يې معمولي سړی ونه ګڼي.
دی يوه ورځ بيربل ته راغی، ورته ويې ويل: زما پلرونه نيکونه د سانسکريت عالمان وو او خلکو به هر يو له احترامه پنډت جي باله. زه نه شتمن يم، نه د شتمنۍ شوق راسره دی، همدا ساده ژوند مې خوښ دی خو يو خواهش لرم چې خلک ما هم پنډت جي وبولي. په دې شي کې ستا مرسته غواړم.
بيربل ورته وويل: دا ارزو به دې پوره شي. بس دومره وکړه چې کله په کوڅه کې ماشومانو پنډت جي بللې، ته ورته غوسه کېږه، يا نصيحت ورته کوه، منع کوه يې!
ده وويل: زه پوه نه شوم. ما چې لويان پنډت جي نه بولي، ماشومان به مې ولې بولي او بيا زه دوی ولې منع کړم؟
بيربل ورته وويل: ته دا زما خبره مه هېروه، نور هر څه په ما!
سيروارام چې کور ته ستون شو، بيربل کوڅې ته ووت، څينو شوخو ماشومانو ته يې وويل چې سيروارام د پنډت جي په نوم غوسه کېږي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له دې وروسته چې به سیروارام په کوڅه کې تېرېده، ماشومانو به اواز وروکړ: پنډت جي! او دی به ورته غوسه شو، یا به یې په نرمه نصیحت ورته وکړ چې په دې نوم مې مه بولئ.

چې دوه، درې میاشتې تېرېدې، د کوڅې لویانو هم د خپلو ټوکو او غیبتونو په مجلسونو کې پنډت جي کړ او لږ وروسته ځینو کسانو جرات وکړ چې مخامخ یې پنډت جي وبولي.

سیروارام ورو ورو په ټول ښار کې، مخامخ او پسې شا، پنډت جي شو او نور نو په نوي نوم کې نه ماشومانو او نه نورو ته د تحقیرولو خوند پاتې و.

## له ناسمه ورهاخوا

مرشد سلماني ته ناست و، ویښته یې کمول. دغه وخت یو مرید راغی ویې ویل: زه له کتابه دا معنا اخلم، خو پلانی یې نه راسره منې، ایا زما معنا سمه نه ده؟ مرشد وویل: سمه ده.

دی لاړ او هغه بل ته یې وویل چې مرشد زما خبره سمه وبلله. هغه بل راغی، مرشد ته یې وویل: نو ایا دا زما معنا سمه نه ده؟ مرشد وویل: سمه ده.

سلماني چې هغه هم یو راهب و، مرشد ته وویل: یا باید د هغه اول کس خبره سمه وي یا د دویم، داسې خو نه کېږي چې د دواړو دې سمه وي. مرشد ورته وویل، ته هم سم وایې.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## په حمام کې

ملا نصرالدين چې حمام ته ولاړ، حماميانو يې خدمت ونکړ او په څه سترګه يې ورته ونه کتل. ده د راوتلو په وخت نوکرانو ته، د يوې روپۍ په ځای چې د حمام کولو بيه وه، پنځه روپۍ کېښودې. هغوی يو بل ته حيران، حيران وکتل او د ملا له وتلو وروسته يې په خپلو کې سره وويل چې دا که يې دوی خدمت کړی وای، څومره به يې نازولي وو!

بله جمعه چې ملا بيا حمام ته لاړ، نوکرانو ورسره پوره سړيتوب وکړ خو ملا د راوتلو په وخت پر مېز يوازې يوه روپۍ کېښوده. يوه حمامي ورته وويل: تېره اونۍ دې په نه خدمت پنځه روپۍ راکړې او دا ځل دې زموږ له دومره منډو رامنډو سره په ايله کې يوه روپۍ راته کېښوده. ملا ورته وويل: دا د هغه تېرې اونۍ د حمام پيسې دي، د نن د حمام پيسې مې تېره جمعه پېشکي درکړې وې چې له خلکو سره سړيتوب زده کړئ.

## هوښيار کليوال

يو چا به خپل کور ته هره ورځ په دوو کوزو کې اوبه راوړې. دا يوه کوزه يې چې په ښي لاس کې نيوله، سورۍ وه او چې له کوهي به تر کوره وړل کېده، نيمې اوبه به ورنه په لاره کې تويې شوې وې. دا کوزه په دې ځورېده چې اوبه سمې نه شي رسولی نو يوه ورځ يې خپل څښتن ته وويل: ډېر وبخښه چې له ما پوره ګټه نه شې اخيستلی، بس قسمت دی نو، څوک د کار وي او څوک نه وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

څښتن يې ورته وويل: زه خو له تا پوره ګټه اخلم، ته خو د کوهي او کور تر منځ د لارې ښې خوا ته وګوره چې تکه شنه ده! دلته دغه د ګندنې، د نعنا، د دنيا بوټي ته اوبو ې، ته تر هيڅ کمه نه يې!

يو حکيم چې دغه حکايت واورېد، ويې ويل: يو هوښيار آمر په دې پوهېږي چې له خپل هر ماموره، که هغه تکړه وي يا نه وي، څنګه کار واخلي او کوم کار واخلي!

## لنډه يې کړه!

مرشد د سين د غاړې په شګو ناست و، مراقبه يې کوله. يو زلمی راغی، ورته ويې ويل: حقيقت را زده کوې؟ مرشد په شګو باندې يوه کرښه وايسته او له زلمي يې وغوښتل چې لنډه يې کړي. زلمي د لاس په ورغوي نيمه کرښه پاکه کړه. مرشد ورته وويل: ونه شوه، اوس لاړ شه، يو کال پس راشه!

زلمی کال پس راغی او مرشد يو ځل بيا په شګو باندې کرښه وايسته، ورنه ويې غوښتل چې لنډه يې کړي. زلمي دا ځل په نيمه کرښه باندې څنګل کېښود، پټه يې کړه. مرشد سر وخوځاوه، ورته ويې ويل: ونه شوه، بل کال دا وخت بيا راشه!

بل کال چې زلمی راغی، مرشد بيا هم په شګو باندې کرښه وايستله او د لنډولو يې ورته وويل. دا ځل زلمي وويل: زه يې په لنډولو پوه نه شوم، تاسې يې رازده کړئ.

مرشد د هغې څنګ ته اوږده کرښه وايستله، ورته ويې ويل: اوس لنډه شوه!

استاد چې شاګردانو ته دغه حکايت واوراوه، زياته يې کړه: که په ژوند کې برى غواړئ، په بل چا کار مه لرئ، د بل د پرمختګ لارې مه غوځوئ، له ځانه د نورو د لنډولو بياتي مه جوړوئ، بلکې خپل مزل کوئ، په خپله لاره کې پرمختګ وکړئ او د هيچا په مخ کې مه خنډ کېږئ!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# حرامیان

زوی چې له شرمه یې مخ سور اوښتی و، پلار ته وویل: د واده وخت مې دی.
پلار ورته وویل، څوک دې خوښه کړې ده؟
ده ځواب ورکړ: د کوڅې په پای کې چې یې کور دی، د هغه حاجي مشره لور.
پلار ورته وویل، په هغې پسې مه ګرځه، هغه دې خور ده.
زوی ورته وویل: نو په هغه بله کوڅه کې چې یو زېړ دوه منزله کور دی، هلته یوه نجلۍ ده... پلار یې خبره ورغوڅه کړه، ویې ویل: پوه شوم، څوک ښیې، هغې پسې هم مه ګرځه، خور دې ده.
زوی یې نور غلی شو. وروسته یې مور ته د پلار خبره وکړه. مور یې ورته وویل، چورت مه خرابوه، له هرې یوې سره چې دې زړه غواړي واده کولای شې، ځکه ستا پلار بل څوک دی.

## امید

په کتنځي کې ډاکتر درې سپین ږیري ناروغان یو ځای وروبلل او ورته ویې ویل: ستاسې معاینې مې ولوستې، یو هم تر میاشت، دوې ډېر عمر نه شئ کولای، ښه ده چې خپلې ارزوګانې پوره کړئ او ارمان مو په زړه کې پاتې نه شي.
دوی چې راووتل، په خپلو کې یې سره وویل چې څه باید وکړو. یوه سپین ږیري وویل چې زه سوداګر یم، ټول عمر مې په کاروبار کې تېر کړی او تفریح مې نه ده کړې. غواړم پاتې ورځې په مزو چړچړو او سیاحت تېرې کړم. بل وویل، زه هم شتمن یم خو ټول عمر مې په پیسو ګټلو کې تېر شو، غواړم پاتې وخت له خپلوانو او دوستانو سره په مجلسونو تېر کړم. درېیم سپین ږیري وویل: زه تر مرګ له مخه پښې نه غځوم، زه ډاکتر بدلوم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# نور نو بدرنګی نه و

په یوه هلک باندې خپل سپی ډېر ګران و. سپي هم ورسره مینه کوله. دوی له یو بل سره په لوبو نه ستړي کېدل. خو یوه ورځ سپي څه ورانی وکړ او د هلک مور وپلار ورته وقهرېدل. هلک د مور و پلار د خوشالولو لپاره مجبور شو چې سپی وشړي.
کلونه تېر شول. هلک ورو ورو سپی هېر کړ. خو لکه په روح کې یې چې یوه تشه وي، په زړه کې یې تل یو کمی احساساوه. کله چې زلمی شو، د کمي احساس لټون ته اړ ایست، پوهېدو نه چې څه یې ورک دي، خو په یوه ورکه پسې لالهاند و. په دې منځ کې یوه ورځ د ځنګل تر څنډو لاړ او بې له دې چې فکر یې کړی وي، منتظر کېناست. لږ وروسته دوه ځلنده سترګې د ځنګل په تیارو کې وپېرکېدې.
زلمی ورته ځیر شو. ورو ورو یو اوږد اوربوز د ونو په منځ کې ولیدل شو.
او بالاخره د ځنګل له منځه یو حیوان راووت: وچ کلک، ډنګر، ټپي، ټپي، په خاورو ختېو لړلی، ویښته یې له اغزیو ډک او د خیرو په وجه غوټه،غوټه. په سخته پېژندل کېده چې دی به یو وخت سپی و.
زلمي اواز ورباندې وکړ. بدرنګی سپی ودرېد. لکه بدګومانه چې وي. زلمي احساس کړه چې په روح کې یې له خپل پخواني ملګري سره خوږې خاطرې یو ځل بیا راژوندۍ کېږي. حیوان ته یې وویل: غواړم پوه شم، د سرګردانۍ دا دومره وختونه څنګه درباندې تېر شول؟
سپي د حال په ژبه ځواب ورکړ: غمجن، یوازې، ترخه، په وېره کې.
زلمي ورته وویل: د حال په ژبه دې پوه شوم، دردېدلی یې.
د هغه له خبرو سره د سپي په چلند کې نرمي راغله، یو څه ارام شو. لږ وروسته زلمي ته ورنژدې شو، ورسره جوخت ودرېد.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او چې سپي يې ونازاوه، داسې يې احساس کړه لکه په روح کې يې چې هغه تنده ډکيږي، لکه يو تپ چې رغيږي، لکه يوه څړيکه چې کراريږي.

سپي يې کور ته ورسره يووړ. ويې وينځه، تود يې کړ او چې محبت يې وربانديې راغی، بيا نو بدرنګی نه و.

## شيطان

يو شيطان صفته سړي بل چا ته وويل چې پلاني دې ډېر زيات غيبت کاوه!

هغه ورته وويل: يو چا زما په لور غشی خطا کړ خو ما ته را ونه رسېد، په لاره کې ولوېد. تا غشی له خاورو راپورته کړ، په لينديۍ کې دې کېښود او زه دې په زړه ورباندې وويشتم.

## دروغجن

د يو خياط دا پوخ عادت و چې دروغ ووايي او نور تېر باسي. که به قصابي ته روان و، شاګرد ته به يې ويل، جومات ته ځم، که به جنازې ته روان و، ويل به يې، دلته د يو چا واده دی، هغه ته روان يم. يوه ورځ چې په څه کار پسې له دوکانه راوت، شاګرد ته يې د شاتو بوتل وروښود، ويې ويل: دا ډېر بد زهر دي، ګوره، ګوره چې نه يې خپله وخورې، نه يې کوم بل مسلمان ته ورکړې چې خونکار به شو.

شاګرد چې د خياط دروغو ډېر په تنګ کړی و، د هغه له تلو وروسته د يوه مشتري کميس نانوای ته يووړ، په ډوډۍ يې بدل کړ، ډوډۍ يې ژر ژر له شاتو سره وخوړه او په دوکان کې اوږد وغځېد. خياط چې راغی او دی يې په دوکان کې غځېدلی مې نه و، يوه غل کميس پټ کړ، چې پام مې شو، نو ستا د قهر له وېرې او ډېر خپګانه مې زهر وخوړل. ما ويل ګوندې ژر ومرم خو دا دی لا ژوندی يم!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# بې تمې سړی

ډېره زمانه پخوا په کابل کې دوه کسان په لويو مصيبتونو واوښتل، شتمني يې له ګوتو ووته او بېوزلي لکه بلا ترې چاپېره شوه. دوی که هر څو هڅه وکړه چې د بدمرغی له کړی راووځي، خو ونه شوه. لوږې او غم له پښو وغورځول.

يوه ورځ دا يوه بل ته وويل: زه او ته دلته نور د هيلې هېڅ رڼا نه وينو، راځه له کابله ووځو، خلك وايي چې سلطان محمود ډېر سخي سړی دی، غزني ته به لاړ شو، ګوندې ويې وينو او مرسته راسره وکړي.

دواړه غزني ته روان شول. په لاره کې يو بل سړی ورسره يو ځای شو چې ډېر ارام ښکارېده. هغه له دوی دواړو پوښتنه وکړه: چېرته ځئ، د سفر مقصد مو څه دی؟

دوی وويل: لاس مو ډېر تنګ دی، نصيب راسره ناخواني وکړه، د سلطان ليدو ته ځو، شايد مرسته راسره وکړي.

هغه ورته وويل: زما لاس هم تنګ دی خو له سلطان يا بل بنده څه نه غواړم، که پوره وه، که سپوره، ګوزاره به کوم او خپلې لاس و پښې به خوځوم.

دوی درې سره چې غزني ته ورسېدل، په يوه خرابه کې يې واړول. شپې به يې هورې کولې. يو ماخوستن سلطان، چې د دوو درباريانو په ملګرتيا د سپوږمۍ د شپې د ننداري لپاره له مانۍ راوتلی او د خرابې په خوا کې تېرېده، د دوی اواز واورېد. ورتاو شو. له دوی يې وپوښتل چې څوک دي؟

له کابله راغليو دوو کسانو ورته وويل چې: بېوزلي ځپلي يوو، غم او لوږې دلته رارسولي يوو.

سلطان وپوښتل: څه غواړئ؟

دوی ورته وويل: که ووايو ګټه به يې څه وي؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**ځنګل** (څلور سوه حکایتونه)

سلطان وویل: انسانان باید له یو بل سره مرسته وکړي. خپله غوښتنه واضح کړئ، شاید کومک درسره وکړای شم.

لومړي سړي وویل: زه یو وخت شتمن وم، خو هر څه مې له ګوتو ووتل. اوس که لس زره دیناره ولرم، بېرته په پښو دربېږم او کابل ته ستنېږم.

دویم سړي وویل: ما تر ګلاب ښایسته او تر سپوږمۍ نوراني مېرمن لرله چې خدای واخیسته. دلته په دې تمه راغلی یم چې که سلطان د حرم له ګڼو وینځو یوه ماته راکړي. که داسې وشي، کابل ته ځم او د نورو ستونزو پروا به بیا نه لرم.

سلطان دریم کس ته مخ واړاوه، هغه وویل: زه له بنده ګانو څه نه غواړم، ما ته د خدای رحمت کافي دی.

سلطان ځان ور ونه پېژاند، د دوی خبرې یې واورېدې او لاړ. په سبا یې دربار ته وغوښتل، ورته ویې ویل چې خپلې غوښتنې تکرار کړي.

هغو دوو کسانو خپلې غوښتنې یو ځل بیا تکرار کړې او دریم سړي وویل: له بنده غوښتنه ترخه ده خو د بنده ورکړه خوږه ده. ستا هستي دې خدای نوره هم زیاته لري، مګر زه درنه څه نه غواړم.

سلطان ورته ټینګ شو چې یوه ډالۍ واخلي، خو هغه انکاري و. وروسته بیا سلطان لومړي کس ته په دوو کڅوړو کې دینار ورکړل او دویم کس ته یې د حرم یوه ښځه وسپارله. درې واړه یې خپلو سیمو ته رخصت کړل.

په لاره کې هغه څوک چې د دینارو درنې کڅوړې ورسره وې، سترې شو، کڅوړې یې دریم ملګري ته چې څه ورسره نه وو، ورکړې.

له بلې خوا یوه بدنیتي درباري سلطان ته وویل چې: پاچایان د الله د خزانو ساتونکي دي او څوک چې د دوی ډالۍ ردوي، په کبرجنو او باغیانو کې حسابیږي، سر یې د غوڅولو دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سلطان یو وسلوال ورواستاوه چې په آس باندې چټک ورشي، دغه درېیم سړی چې له سلطانه یې هېڅ وانه خیستل، ووژني.
وسلوال د امر په عملي کولو پسې ووت او دوه ساعته وروسته یې د مقتول سر سلطان ته راوړ. خو د مقتول سر د هغه سړي نه و چې سلطان یې د وژلو امر کړی و، بلکې د کځوړو د ښتن و.
سلطان دا ځل بل څوک واستول چې د سلطان له درباره تش لاس وتلی سړی ووژني خو په دې شېبه کې چې د سلطان وسله وال رارسېږي، د ښځې ښتن د حاجت لپاره یو څه شاته پاتېږي او ښځه له درېیم کس سره روانه وي، نو دا بل څوک هم درېیم کس نه بلکې د ښځې خاوند چې یوازې دی، وژني او سر یې سلطان ته وروړي.
سلطان چې بیا هم د بل چا سر ولید، په زړه کې ورتېر شول چې د درېیم کس ساتندوی الله دی نو دربار ته یې وروغوښت او ورته ویې ویل: یارانو ته دې څه وریښن شول؟ هغه ورته وویل: تا د ښځې او دینار په بدل کې له هغوی ژوند واخیست، هغوی چې د بنده ورکړې ته تمه کوي، نه خوشالېږي. په هر حال، اوس پکار ده چې د هغوی کورنۍ او یتیمان په میدان پاتې نشي، مرسته ورسره وکړئ.

## نتیجه

ملا نصرالدین به هره ورځ د خپل خره واښه کمول چې په نه خوړلو عادت شي.
چا ورته وویل: نتیجه یې څه شوه؟
ملا وویل، نژدې و چې عادت شي خو مړ شو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د تېروتنې ځای

ملا نصرالدين په يوه سند کې د قاضي امضا ته اړتيا لرله نو بوتل يې له خاورو ډک کړ او په سر يې يو څه عسل وڅڅول، قاضي ته يې د عسلو د ډک بوتل په نامه ورکړل. قاضي هم سمدستي سند ور لاسليک کړ. په بله ورځ چې قاضي د ملا په چل پوه شو، ملا ته يې حال واستاوه چې په سند کې يو څه تېروتنه ده، رايې وړه چې بيا يې درته امضا کړم. ملا راغلي سړي ته وويل چې قاضي صاحب ته زما سلام وايه او ورته ووايه چې کور دې ودان خو اشتباه په سند کې نه ده، په بوتل کې ده.

## دوې کورنۍ

دوې کورنۍ چې د يو بل په څنګ کې اوسېدلې، له يو بله يې ډېر تفاوت و. په دا يوې کې به تل تاوېلې- ما وېلې، بحثونه، جنجالونه وو او په دا بله کې به سکون او کراري وه. يوه ورځ د جنجالي کورنۍ مېرمن خپل مېړه ته وويل چې ورشه د ګاونډۍ کورنۍ د سکون او نېکمرغي راز معلوم کړه. مېړه يې د ګاونډي په کور کې د ځار لپاره چېرته پټ شو. ده وليدل چې د کور مېرمن ته د اوبو سطل ايښی دی او د کوټې غولی وينځي. په دې منځ کې په پخلنځي کې د کور کار ورياديږي او هلته ځي. دغه وخت يې مېړه کوټې ته پامه ننوځي، د اوبو سطل په لغته وهي، اوبه ټولې تويېږي.

شبه نيمه پس چې مېرمن له پخلنځي راستنېږي، مېړه ته وايي: وبخښه چې سطل مې څنډې ته کړی نه و.

مېړه يې ورته وايي: نه، ګناه زما وه چې لاندې مې نه کتل.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د جنجالي کورنۍ سړی خپل کور ته راغی او مېرمنې ته يې وويل: ګومان کوم د نېکمرغي په دليل يې پوه شوم، موږ هر يو کوښښ کوو چې ځان سپين ثابت کړو خو دوی هر يو ملامتي په خپله غاړه اخلي.

## خر په ختو کې

د يو چا خر په ختو کې بند و. ډېر کوښښ يې وکړ خو خر يې را ونه ايست. د يوه لاروي چې ورپام شول، ويې غوښتل مرسته ورسره وکړي، ورتاو شو، خر يې له لکۍ راکش کړ خو له بده مرغه د خره لکۍ غوڅه شوه. د خره څښتن چيغې سورې جوړې کړې چې د لکۍ تاوان راکړه. سړي منډه واخيسته. په يوه کوڅه کې يې څغستل او د خره څښتن ورپسې و. کوڅه په اخر سر کې بنده وه. سړی په يوه دېوال وخوت، د بل چا کور ته يې ځان واچاوه. د کور په حويلۍ کې امېدوارې ښځې لوښي وينځل، هغې چې پردی سړی په کور کې وليد، وارخطا شوه، ماشوم يې زيان کړ. د کور خاوند چې د مېرمن چيغې واورېدې، حويلۍ ته راووت او چې په کيسه پوه شو، په پردي سړي پسې يې منډه کړه. هغه ځان بام ته ورساوه. اوس نو د کور څښتن او د خره څښتن دواړه ورپسې وو او ده په پردو بامونو منډې وهلې. بله لاره يې ونه ليده، يو ځای يې له بامه کوڅې ته ټوپ کړل خو له بده مرغه هلته لاندې په يوه سپين ږيري ناروغ وخوت او هغه يې مړ کړ. دا د يوه حکيم جي د کور مخه وه. ناروغ د دېوال سيوري ته پروت و، د حکيم جي د راوتلو انتظار يې کاوه. د ناروغ زوی چې دا حال وليد، هغه هم په تښتېدونکي سړي پسې منډې کړې. سړي چې ډېرې تېزې منډې وهلې، د کوڅې په سر کې په يو بل سړي ورغی، هغه يې چپه کړ. د هغه چپه سترګه په يوه لرګي ولګېده او ړنده شوه. ړوند شوي هم پسې منډه واخيسته.
دی چې اوس يوه ډله مدعيان ورپسې وو او پوهېده چې خلاصون يې نشته، د ښار د قاضي کور ته بې پوښتنې، بې اجازې ننوت، چيغه يې کړه: قاضي صاحب پناه



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راکوه چې مدعیان راپسې دي، نه مې پرېږدي!. قاضي دغه وخت له یوې بې لارې ښځې سره ناست و او وارخطا شو چې راغلی سړی یې راز ونه وایي، نو ورته په قهر نه شو او په نرمه یې ورته وویل: هر څه به اسانه شي، غم مه کوه!

په شپه نیمه کې د سړي مدعیان راورسېدل، دروازه یې وټکوله. قاضي د راتلو اجازه ورکړه. لومړی شکایت د سترګې والا وکړ خو هغه یهود و. قاضي چې یې عرض واورېد، ورته ویې ویل: په مسلمان باندې د یهود دیت (خونبها) تر نیم زیات جایز نه دی نو دغه سړی باید ستا بله سترګه هم وباسي چې بیا په بدل کې ته د ده یوه سترګه وایستلی شې. یهود وویل، صاحب زه له خپل شکایته تېر یم.

قاضي د بې ځایه عرض کولو په ګناه پنځوس دیناره جریمه کړ او بیا د هغه چا نوبت شو چې ناروغ پلار یې وژل شوی و. ځوان چې ډېر په قهر و، ویې ویل: صاحب، زه خامخا خپل قصاص غواړم.

قاضي ورته وویل: یو ناروغ د یو روغ سړي نیم حسابېږي، یعنې که دوه ناروغان ووژل شي، په بدل کې به یې یو روغ سړی قصاص کېږي. اوس نو د عدالت غوښتنه دا ده چې د دغه سړي یعنې د مدعي علیه روغ پلار د هماغه دېوال په بیخ کې پرېوزي او ته وربانديې له بامه داسې راټوپ کړې چې نیم ژوند یې واخلې. ځوان خپل خبر په دې کې ولید چې له شکایته تېر شي خو قاضي ورته وویل، د بې ځایه شکایت په خاطر به دېرش دیناره جریمه تحویل کړې.

وروسته د هغه عارض نوبت شو چې ښځې یې ماشوم ضایع کړی و. قاضي ورته وویل: شرعي قصاص هغه وخت جایز دی چې د جبرانِ مافات لاره بنده وي، یعنې هغه رسېدلی تاوان جبیره کېدلی نه شي. ستا په قضیه کې د جبران لارې شته، داسې چې دغه مېرمن به طلاقه کړې، بیا به یې ستا مدعي علیه ځان ته په حلاله نکاح کړي چې څو پورې حمل واخلي او ستا جبران مافات وشي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سړي د قاضي د خبرې په اورېدو شورماشور جوړ کړ او هغه لا د خداى پاري چېغې وهلې چې د خره څښتن منډه واخيسته. قاضي پسې اواز وکړ چې ستا مشکل څه و، ولې لاړې؟ هغه د منډو په حال کې ځواب ورکړ: صاحب زه هسې راغلى وم، شکايت نه لرم.

## په ټولګي کې غلا

جان په يوه واده کې خپل پخوانى استاد کلارک وليد او ورته ويې ويل: «استاده زه دې وپېژندلم؟» استاد ورته وويل: «نه، را په ياد نه شوې.» جان ځان ورمعرفي کړ او استاد وويل: «ښه، ښه، ته نو په درېيم ټولګي کې زما شاګرد وې! ډېر کلونه تېر شوي دي. اوس په څه بوخت يې، څه کار؟ څه وظيفه؟» جان ورته وويل: «زه هم ښوونکى يم.» استاد پوښتنه ورنه وکړه: «ډېر ښه، خو دا راته ووايه چې ولې دې معلمي انتخاب کړه؟» جان ځواب ورکړ: «له تاسې مې الهام واخيست؟» استاد بله پوښتنه وکړه: «له ما دې څنګه الهام واخيست؟» جان وويل: «تاسې زما پر ژوند او شخصيت ژور اثر وکړ او دې نتيجې ته ورسېدم چې که زه هم معلم شم د ګڼو نجونو او هلکانو په ژوند او شخصيت به د مثبت اثر اچولو امکان ومومم.»

د استاد دلچسپي پيدا شوه، پوښتنه يې وکړه: «ما نو څه اثر درباندې کړى و؟» جان وويل: «يوه ورځ زموږ يوه ټولګېوال يو ښکلى جېبي ساعت راوړى و. زه په هغه شېبه کې احمق شوم او ساعت مې ورنه پټ کړ. هلک ستاسې په مخ کې ټولو ته وويل چې په ټولګي کې ساعت ورنه غلا شوى دى. تاسې وويل چې ساعت که هر چا په ټوکو ورنه وړى وي، بېرته دې يې ورکړي خو زه په زړه کې پوهېدم چې ساعت د ټوکو په نيت نه بلکې د غلا په نيت پټ شوى دى، نو خورا خجالت مې احساس کړ خو کار تر کار تېر و او دا راته ډېره سخته وه چې اوس يې بېرته ورکړم.

وروسته بيا استاده تاسې د ټولګي دروازه بنده کړه، ټول شاګردان مو راولاړ کړل، کتار مو ودرول او ومو ويل چې ټول به سترګې پټوئ او که هر چا نيم کښې کړې،



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مانا دا ده چې څه چل پکې شته. هلکانو سترګې ښه کلکې پټې کړې او تا له یو سره ټول تالاشي کړو. ساعت له ما سره پیدا شو خو څه دې راته ونه ویل او نه دې نور راباندې وپوهول او د دې لپاره چې نور پوه نه شي، تر ما وروسته دې هم تر اخره پورې ټول شاګردان وپلټل. چې تالاشي اخر ته ورسېده، هاله دې وویل: سترګې پرانیزئ، په خپلو ځایونو کښېنئ.»

جان زیاته کړه: «استاده په هغه ورځ تا زما حیثیت وساته، زما شخصیت دې وژغوره. تاسې هیچا ته ونه ویل چې ساعت چا پټ کړی و. حتا هغه هلک ته دې ونه ویل چې د خپل ساعت په موندلو ډېر خوشال و او نه دې حتا ما ته وویل.»

دغه وخت جان ته ژړا ورغله. استاد وویل: «عجبه پېښه وه خو دومره له جزیاتو سره مې یاده نه وه او په دې خو ښېخي پوهېدم نه چې ساعت تا پټ کړی و، ځکه د تالاشي په وخت کې ما خپلې سترګې هم پټې یا نیم پټې ساتلې وې. مقصد مې دا و چې غوک باید ونه پېژنم.»

## الوت

پاچا ته چا دوه ډېر ښکلي بازان سوغات راوړل. پاچا د ښکار د چارو نوکر ته وسپارل چې ویې روزي. میاشت پس یې له روزونکي د بازانو پوښتنه وکړه. هغه وویل: دا یو هېڅ عیب نلري، ډېر ښه الوزي خو دا بل چې د ونې په کومه څانګه ناست دی، له هغې هېڅ نه خوځي.

پاچا تعجب وکړ. د دربار کسانو ته یې وویل چې د دې شي علت معلوم کړي. هغوی یې په علت ونه پوهېدل او حیران شول چې پاچا ته به اوس څه ځواب ورکوي.

په دې منځ کې یوه سپین ږیري چې د باغ په خوا کې تېرېده، د دربار له کسانو د پرېشاني پوښتنه وکړه. هغوی په څانګه ناست باز ته ودراوه چې په مشکل یې پوه



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړي. سپين ږيري اره وغوښته او هغه څانګه يې غوڅه کړه چې باز وربانديې ناست و. باز والوت.
سپين ږيري وويل: د دې لپاره چې پوه شو چې الوتلی شو، کله کله بله هيڅ لاره نه وي، مګر دا چې هغه څانګه غوڅه شي چې وربانديې ناست يوو.

## د خيال پسرلی

يوه چيني حکيم يوه عمر خوړلې مېرمن وليده چې بهر په واورو کې يوازې ولاړه ده، ژاړي. حکيم ورته وويل: خيريت خو دی؟ ولې اوښکې تويوې؟
دې وويل: له خدايه ګيله منه يم چې ولې يې حافظه راکړې ده. که مې حافظه نه وای نو د ځواني پسرلی به مې په زړه نه وربېده او د حسرت په اور کې به نه سوځېدم.
حکيم غلی و، مخامخ پرتې صحرا ته يې په ځير ځير کتل او د ښځې سلګی وې. ښه شيبه وروسته چې هغې سلګی بس کړې، حکيم ته يې وويل: هلته څه وينې؟ په څه فکر کې تللی يې؟
حکيم ځواب ورکړ: په غاټولو پوښلې صحرا وينم! که خدای حافظه رابانديې نه وای لورولې، په ساړه ژمي کې به مې پسرلی سترګو ته نه شو درولای او ژوند به اسانه نه و.

## خيال پلو

دوی ډېر بې وسه وو او غريبي دومره ځپلي وو چې د خبرو حوصله هم ورسره نه وه. په کورکې به يې ډېری وخت خاموشي وه. يو ماخوستن مېړه چوپتيا ماته کړه، مېرمنې ته يې وويل:
که مثال سبا يو من وريجې راوړم چې پلو راپوخ کړې، څومره غوړي به ورته پکار وي؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ښځې وویل: دوه منه.

ده وویل: دومره غوړي یو من وریجو ته؟ ښځې زیات نه دي؟

ښځې وویل: چې خیال پلو پخوو نو بیا دې ښه غوړ وي.

## جولیوس سزار

د پاچا او پیاوړي واکمن لپاره د (قیصر) کلمه په اصل کې د خورا نامتو رومي واکمن سزار(سیزر) له نومه را اخیستل شوې ده. سزار شاوخوا دوه زره کاله پخوا اوسېده. دی تکړه سړی و، ښه لیکوال و، لوی سیاستوال و او لایق جنرال و. ده روم ته ډېرې سوبې وګټلې. د ده په ژوند کې ډېر څه شته چې زده کړه ورنه وشي. دلته د سزار د ژوند درې شېبو ته تم کېږو چې د هغه د تر ټولو لوی شوق یعنې د قدرت له لېوالتیا سره تعلق لري.

هسې وایي چې سزار، هغه وخت چې لا قیصر شوی نه و، له څو ملګرو سره د یوه کلي په خوا کې تېرېده. د کلي مشر له کابو پنځوسو کلیوالو سره سړک ته ور ووت چې سزار وګوري. سزار د خلکو زړونو ته د لار کولو او د خلکو په زړونو کې د وېرې اچولو، دواړو، په چل ښه پوهېده او شاید همدا وجه به وه چې د هغه لیدلو ته د کلیوالو سودا وه. د سزار ملګرو چې د کلي د مشر په څېره او حرکاتو کې رضایت او غرور ته پام شول، سزار ته وویل: دی د څو کلیوالو مشري دومره مغرور او له ژونده راضي کړی دی، عجبه ده! سزار ورته وویل: «تعجب مه کوئ، دی که له ژونده راضي ښکاري، حق لري. زه خو تر دې چې د روم په لوی ښار کې دویم کس یم، دا ښه ګڼم چې په یوه کوچني کلي کې اول کس واوسم!»

د قدرت خاوندان په تاریخ کې کم نه وو خو داسې کسان پکې خورا کم تېر شوي دي چې په سلګونو او زرګونو کلونو یې هم اغېز پاتې وي. سزار په همدغو لږو کسانو کې شمېرلی شو. د ده د اغېز یو مثال به راوړو: سزار د رومیانو جنتري چې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

قمري وه، شمسي ته واړوله او د منجمانو په مشوره يې د کال موده ۳۶۵ ورځې وټاکله چې ورسره موسمونو په جنتري کې ثابت وخت پيدا کړ. د اروپايانو د جنتري اوومه مياشت د ده له نومه را اخيستل شوې ده او جولای بلل کيږي.

يو ځل جوليوس سزار، چې د نورکله غوندې يې اشرافي جامې په ځان کې وې او اوږد ارغواني څادر يې پر ښي اوږه اچولی او د لنډو لستوڼو پر سپين کميس راتاو کړی و، د سمندر سفر کاوه. ناڅاپه تېز باد والوت، څپې لپونې شوې او د بېړۍ د ډوبېدو وېرې ماڼو وارخطا کړ. ماڼو چې له ژونده يې تمه شلېدلې وه، ربړرد واخيست، ځان يې نه شو تکيه کولای، ځای په ځای کېناست. خو سزار وارخطا نه شو. ده په ماڼو امر وکړ: «پاڅه، پارو ووهه، مه وېرېږه، په بېړۍ کې سزار ناست دی، نه ډوبېږي!»

د قدرت او برلاسۍ مينان معمولا د مرګ او ماتې تصور ته اجازه نه ورکوي چې ذهن ته يې لار ومومي. دوی دا منلې وي چې بېړۍ يې نه ډوبېږي مګر واقعيت خپل بېل حساب و کتاب لري. واقعيت د زورور د ګومان غلام نه وي. که څه هم سزار له توفانه بچ شو خو څو کاله وروسته چې شپږ پنځوس کلن و( په ۴۴ ميلادمخکې کال کې) او هغه ارزو يې پوره شوې وه چې په روم کې تر هر چا پیاوړی وي، د ځينو سناتورانو په لاس ووژل شو. سنا حکومت او واکدارانو ته د لارښودنو لپاره د روم د اشرافو او شتمنو دوديزه جرګه وه. سناتوران د سزار له ډېرېدونکي قدرته اندېښمن وو. د سزار بې حده قدرت د هغه سترګې پټې کړې او د هغه د رقيبانو سترګې پرانيستې وې. په هغو سناتورانو کې چې په سزار يې د چاکوګانو ګوزارونه کول، بروتوس هم شامل و. بروتوس د سزار دوست او ډېر باوري سړی و. سزار چې د ژوند په وروستيو شېبو کې بروتوس د خپلو قاتلانو په منځ کې وليد، اواز يې ورباندې وکړ:

يعنې: او بروتوسه ته هم! ?Et tu, Brute!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# زده کړه

یوه بزرګ ته د عمر په وروستي کال خاصو مریدانو وویل چې په ځواني کې دې استادان څوک وو؟ ده له شېبې نیمې فکره وروسته وویل، استادان مې زیات وو خو له دغو دریو مې چې اوس یې درښیم، ګومان کوم ډېر څه زده کړي دي.

اول کس یو غل و. یوه شپه ډېر ناوخته کور ته ورسېدم. ټول ویده وو او له ما سره کیلي نه وه. زما زړه نه غوښتل چې دروازه وټکوم او ویده په تکلیف شي. په فکر کې وم چې څه به کوم. دغه وخت یو سړی راپیدا شو، د مشکل پوښتنه یې رانه وکړه. ما د کیلي ورته وویل. ده وویل، غم مه کوه، ما ته د بندو دروازو د پرانیستلو چل راځي.

دروازه یې را پرانیستله او ما ورته ست وکړ چې راسره پاتې شه. دی کابو یوه میاشت زما په کور کې و. هره شپه په غلا پسې وت او چې رابه غی، ویل به یې کامیاب نه شوم. دی هره شپه ناکام راته خو وارخطا نه شو او مړاوی نه شو.

بل مې د سین په غاړه له یوه سپي لوی سبق زده کړ. دی تږی و. د سین غاړې ته به راغی او چې په اوبو کې به یې خپله څېره ولیده، د بل سپي ګومان به یې وربانده وکړ، له وېرې به تږی ستون شو. سپی څو ځله راغی، لاړ او بالاخره یې له ډېرې تندې سین ته ځان واچاوه چې ورسره سمدستي په اوبو کې د سپي تصویر پوپنا شو.

دریم استاد مې یوه ماشومه وه. دا بله کړې ډیوه په لاس کې جومات ته روانه وه. ما ورته وویل: بچې دا ډیوه چا بله کړې ده؟ دې وویل: ما. ما د دې لپاره چې د ژوند یو سبق وروښیم، پوښتنه ورنه وکړه: لمبه خو تر بلولو مخکې دلته نه وه، ته پوهېږې چې له کومه راغله؟ دا موسکۍ شوه، ډیوې ته یې پو کړل، خاموشه یې کړه، راته ویې ویل: پوهېږې چې دا لمبه چې تر اوسه دلته وه، چېرته لاړه؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دغه وخت زما ذهن ته راغلل چې د انسان په زړه کې هم کله کله ناڅاپه د يو څو شېبو لپاره يوه سپېڅلې رڼا بله شي خو پوه نه شي چې دا لمبه له کومه راغله او چېرته لاړه؟

## د محبت لاره

يو بزګر او ښکاري سره ګاونډي وو. ښکاري يو تازي درلود چې د ښکار ملګری يې و او ډېر ورباندې ګران و. بزګر بيا د ده له تازي په تنګ و څکه په پڼيو کې يې منډې وهلې، ورانی يې کاوه. بزګر څو ځله ښکاري ته په شکايت ورغی خو ښکاري يې شکايت ته غوږ ونه نيو. بالاخره بزګر د ګاونډي له لاسه قاضي ته عريضه وکړه. د دوی د سيمې قاضي ډېرهوښيار سړی و. بزګر ته يې وويل: زه کولای شم چې ستا ګاونډی جريمه کړم خو له تا سره به يې دښمني شي او چې ګاونډی دې درسره وران وي، دا تر دې ډېر لوی تاوان دی چې سپی يې په پټيو کې ورانی کوي. زه به يو څه درته ووايم، ته په هغه عمل وکړه، ان شاالله هم به دې ګاونډی په نژدې دوست بدل شي او هم به دې کښت ته تاوان نه رسېږي.

بزګر د قاضي له مشورې سره سم چې څنګه کور ته راغی، له خپلې غوجلې دوه وري راوايستل، د ګاونډي کور ته يې يووړل او دروازه يې ورټکوله. ښکاري چې په دروازه کې بزګر وليد، تر سلام له مخه يې ورته وويل، بيا لکه چې د تازي شکايت کوې!

بزګر وويل: شکايت نه بلکې منښې ته راغلی يم. اوس چې له بازاره راتلم او پټيو ته مې وکتل، هر څه سم وو، نو پوه شوم چې تازي دې ايسار کړی دی، کور دې ودان او دا وري مې ستا د ماشومانو لپاره راوړل چې سات به يې ورسره تېر وي.

د ښکاري تندی ورين شو، ويې ويل: زه خو تل کوښښ کوم چې ايسار يې کړم خو کله کله لکه پېری پټ وتلی وي، هېڅ پام مې نه شي، په هر حال، شکر چې بيا يې تاوان نه دی پېښ کړی، زه به خامخا کوښښ کوم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

له دې وروسته ښکاري خپل سپي ته کوټنۍ جوړه کړه او چې بل ځل له ښکاره راغی، دوه کبلي یې د بزګر لور او زوی ته راوړي وو.
بزګر او ښکاري سره خواږه دوستان شول. ماشومان یې وریو او کبلیو ته خوشاله وو او پتیو ته نوره صدمه نه رسېده.

## تنګ نظره

یو شتمن ځوان رستورانټ ته ننوت، شاوخوا یې سترګې وغړولې. له یوې تورپوستکې مېرمنې پرته نور ټول کسان سپین پوستکي وو. شتمن خپله بټوه راوایستله او په دخل باندې ناست کس ته یې په لوړ اواز وویل: «دلته چې څوک ډوډۍ ته راغلي دي، پرته له هغې تورې د نورو ټولو پیسې زه ورکوم.»
د دخل سړي پیسې واخیستلې او له تورې پرته د ټولو ډوډۍ وړیا شوه. متعصب شتمن تورې ته په دې تمه وکتل چې تندی به یې ګونځې وي او دی به خوند واخلي خو برعکس، هغه ورینې او خوشاله ښکارېده او چې په ده یې سترګې ولګېدې، له ځایه پاڅېده، مننه یې ترې وکړه.
شتمن له ډېره تاوه بیا د دخل خوا ته ورغی او اعلان یې وکړ چې له ډوډۍ وروسته که هر شی څښئ او هر څومره قیمته وي، پروا نه کوي، پرته له هغې تورې مېرمنې د ټولو پیسې زه ورکوم.
ناست کسان یو ځل بیا په طبعه کې شول او چې شتمن تورې ته وکتل، هغه لا زیاته خوشاله معلومېده او ده ته یې د مننې سر خوځاوه.
شتمن دخل والا ته ورنژدې شو، ویې ویل: «دا لېونۍ ده که څه بلا، زه د نورو پیسې ورکوم چې دا وسوځوم خو دا کم عقله په ځان نه پوهېږي.»
دخل والا ورته وویل: «دا د رستورانت مالکه ده، څکه مننې کوي.»
یوه تجربه کاره سړي چې دا کیسه واورېده، ویې ویل: «د تنګ نظرو کسانو عمل ډېر ځله د هغه چا په ګټه وي چې دوی یې خپل دښمنان ګڼي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# تیره، پان او تاک

د ويتنام د خلکو يوه ولسي کيسه

د هونګ وونګ د پاچاهي په زمانه کې د ويتنام د شمال په يوه لرې پرته غرنۍ سيمه کې د «کاوو» کورنۍ دوه ورونه اوسېدل. مشر ورور کاووتان نومېده او کشر ورور کاوولانګ. دوی په څېره کې ډېر سره ورته ول، لکه د ايکې يوې منې دوې نيمې خواوې. دواړه ښکلي، دواړه نېک خويه او دواړه د کار مېړني وو.

کشر ورور کاوولانګ په يوې نجلۍ مېين شو چې خوانفو نومېده او د لووو د کورنۍ وه. دا کورنۍ دوی ته په نژدې کلي کې اوسېده. خوانفو شپاړلس کلنه او ډېره ښکلې وه. نه يوازې ښکلې بلکې ډېره نېکه، مهربانه او درنه نجلۍ وه. ګېو څوانانو غوښتل چې واده ورسره وکړي خو داسې ښکارېده چې د يوه ارزومنه هم نه ده. البته، پټ په زړه کې يې کاوولانګ خوښ و.

يوه ورځ کاوولانګ چې له شرمه يې لاندې کتل، مور ته وويل چې که د واده کولو اجازه ورکړي. البته دا يې ورته ونه ويل چې څوک يې په زړه اوري.

مور يې، لکه څنګه چې د هغه وخت دود و، زوی ته وويل چې صبر وکړه، اول به دې مشر ورور ته واده وکړو، بيا به ستا غم کوو.

مشر ورور يې په خوانفو لاس کېښود. کاوولانګ ډېر خپه شو او د غم څپو لاندې کړ خو د ورور خاطر يې کاوه، هېڅ يې ونه ويل. کله چې مشر ورور يعني کاووتان له مور سره د نجلۍ غوښتلو ته ورغی، نجلۍ ومنله. دې په کاووتان باندې د کاووتانګ ګومان کړی و، څکه دغه دوه ورونه بيخي ډېر سره ورته وو او له بلې خوا دې کله هم کاووتانګ له ډېر نژدې نه و ليدلی او خبرې يې نه وې ورسره کړې. په دې ډول کاووتان او خوانفو واده سره وکړ. کاووتانګ تر وسه وسه هڅه کوله چې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خپل غم پټ وساتي او خوانفو چې په خپلې تېروتنې پوه شوې وه، د تقدير فيصلې ته غاړه کښېښوده او هڅه يې وکړه چې د نورکله غوندې ښه انسانه واوسي. دې به له ځان سره ويل: شکر چې مېړه مې په ښايست کې، په کار کې او په خوی کې خپل ورور ته ورته دی.

خوانفو ورو ورو د کور ټول کارونه له خوابښې زده کړل، نور به يې ډوډۍ پخېله پخوله، چای يې برابراوه، لوښي يې مينځل او جارو يې کوله.

دواړو ورونو به هره ورځ مېښې د څر او په کرونده کې د کار لپاره بهر ايستلې. مازديګر ناوخته چې به کار ختم شو، تان به يَوې کور ته راوړه او لږ وروسته به لانګ له مېښو سره راستنېده. له ماښامه وروسته چې به دوی ټول په کور کې سره يو ځای شول، خوږ مجلس به د ورځې ستړياوې ورباندې هېرې کړې.

يوه ورځ چې خوانفو ماښامنۍ برابره کړې وه، د ښښو د اواز له اورېدو سره سم وره ته ورغله چې د مېړه هرکلی وکړي. د تصادف له مخې په هغه ورځ کاوولانګ يَوې په اوږو راوړه او کاوتان له مېښو سره شاته راروان و. خوانفو فکر وکړ چې د نور کله غوندې يې مېړه کاووتان کور ته اول داخلېږي نو ورمنډه يې کړه او تر لاس يې ونيو. کاوولانګ پوه شو چې د ماښام په تياره کې يې د مېړه ګومان ورباندې کړی دی، نو ورو يې وويل: ورېنداري!

خوانفو په خپله تېروتنه پوه شوه، وشرمېده. کاووتان چې له شا ورته کتل، خپله لاړه يو څه کړه کړه او بيا وروسته خوابدی کور ته راننوت. ده حتا له ښځې سره ستړي مشي ونه کړې.

له دې ورځې وروسته په کور کې هغه پخوانۍ خوشالي نه وه. کاوولانګ داسې ګڼله چې د کور د خپګان سبب شوی دی نو دا فکر ورپيدا شو چې که له کوره لاړ شي، دا به يې د کورنۍ په حق کې ښه کړي وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ده همداسې وکړل. هېڅوک نه پوهېدل چې چېرته تللی او ولې تللی دی. دی پخپله هم نه پوهېده چې په کومه خوا ځي. دوبی تېر شو، منی راغی، ژمی شو او بیا پسرلی راغی خو دی لا په غرو رغو کې لالهانده و. له مختلفو سیندونو پورې وت، له ډېرو کلیو تېر شو او ډېرې باندې مخې ته ورغلې. بالاخره یو مازدیګر چې پښې یې بېخي بې سېکه شوې، راولوېد او سا یې حق ته وسپارله.
د کاوولانګ د پاکې مینې او فداکارۍ په خاطر، د هغه بې روحه بدن د سین په غاړه په یوه تیږه بدل شو او تیږه شوی بدن لکه په واورو کې چې یو شی پټ وي، د تکې سپینې چونې په ډبرین پوښ کې له سترګو نهام شو او د سین د اوبو نه غلی کېدونکی اواز داسې و، لکه د ده د پردېسي او ځوانیمرګي پرله پسې ویر چې کوي.
اما په کور کې د ورور راستنېدا ته د کاووتان ارزو ورځ په ورځ ډېرېده. دی په دې ځورېده چې د ورور د تلو مخه یې نه وه نیولې. بالاخره یې د سفر موزې په پښو کړې او په ورک ورور پسې یې د غرونو او ځنګلونو لټون پیل کړ. له ډېر زیات لټونه وروسته د سین د غاړې تکې سپینې تیږې ته ورسېد. نور نو له پښو ولوېد، راچپه شو او سا یې ورکړه. د ده بدن د ده د مینې او وفا په خاطر، د پان په ونه بدل شو چې ښه مېوه یې کوله.
خوانفو د مېړه له تلو وروسته ډېره موده د هغه د راتلو انتظار وکړ. دوه مني تېر شول خو د مېړه او لېوره درک یې ونه لګېده. بالاخره نهیلې شوه او له خواښې یې اجازه واخیسته چې په ورکو پسې ووځي.
خوانفو د لمر تر پلوشو او د باران تر څاڅکو لاندې ډېر مزلونه وکړل او په اخر کې نصیب هغه ځای ته وروسته چې د پان یوه ونه د سپینې تیږې په خوا کې راشنه وه. ستړې ستومانه خوانفو هم دلته نوره له پښو ولوېده، مړه شوه او د خپلې مینې او پاکۍ په خاطر په تاک بدله شوه چې د پان تر ونې تاو راتاو بره وخته. په دې ډول دا یو ځل بیا له مېړه سره یو ځای شوه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه سين چې د سپينې تيرې په خوا کې بهېږي، دغه غمجن داستان په خپله ژبه بيان کړ او کليوالو د داستان له اورېدو او پوهېدو وروسته د دغو دريو تنو په ياد يو کوچنی معبد ودان کړ.

څه موده پس هونگ وونگ پاچا دې سيمې ته پېښه وکړه او دلته يې دا داستان واورېد. دی چې د ورونو او خوانفو د مينې او اخلاص کيسې حيران کړی و، د پان يوه مېوه او د تاک يوه پاڼه راوشکوله، په خوله کې يې کېښوده او ويې ژووله. دغو دواړو يې په خوله کې عجب خوند پيدا کړ او چې ژوول شوې پاڼه او مېوه يې په سپينه تيږه واچوله، په تيږه باندې سور، ښکلی رنگ راڅرگند شو، هغه رنگ چې د تلپاته مينې ښووندوی و.

پاچا امر وکړ چې په ودونو کې دې هميشه له دې پاڼې او مېوې استفاده وشي او دغه دود تر ننه پورې ژوندی پاتې دی. خلک د پان د مېوې يوه دړه، د لېمو له يوې ټوټې سره د برختونکي تاک په پاڼه کې پېچي او ژووي يې.

## د ديکتاتور لويوالی

شوروي ديکتاتور برژنيف ته چا له جاپانه د دريشي ټوکر سوغات راوړ. جاپانی ټوکر يې بې حده خوښ شو، خپل خاص گنډونکي ته يې وويل چې له ټوکره پتلون او کورتی ورته جوړه کړي. گنډونکي وويل: «صاحب دا ټوکر خو ستاسې لپاره کم دی، پوره دريشي نه ورنه جوړيږي.»

څو ورځې وروسته چې برژنيف جاپان ته په سفر روان شو، ټوکر يې له ځانه سره يووړ، هورې يې يوه گنډونکي ته ورښکاره کړ، ورته ويې ويل: «د دې ټوکر دريشي غواړم. زما کسانو ته ووايه چې څومره کم دی، هغه به يې درته راوړي.»

گنډونکي چې د بريژنيف اندازه واخيسته، ورته ويې ويل: «صاحب، ټوکر نه کمېږي، کورتی او پتلون څه چې يو واسکټ هم درته جوړولای شم.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

برېژنيف په تعجب  وويل: «نو په ماسکو کې زما ګنډونکي ولې راته ويل چې کم دی؟»
جاپاني ګنډونکي وويل: «صاحب په ماسکو کې خلکو ته تر خپلې اندازې غټ ښکارئ!»

## کبر او تواضع

څېرۍ به هميشه فکر کاوه چې تر دروي (نی) پياوړې ده. دې به له ځان سره په غرور ويل: زه په باد کې هسکه غاړه، نېغه ولاړه يم خو د دروي ملا کوږه شي او له ويرې يې باد ته سر ټيټ نيولی وي. يوه ورځ چې هوا توپاني شوه او ډېر سخت باد ولګېده، څېرۍ يې له ريښو راوايسته او دروي وويل: هغوی چې کږېږي او کوپږي، هغوی نه ماتېږي.

## بې اختياره

يو چا ساحل ته نژدې بېړۍ چلوله چې سمندر ناڅاپه توپاني شو. ټپو بېړۍ ماته کړه او دی يې ساحل ته بېهوشه خطا کړ. چې څو ساعته وروسته يې سترګې وغړولې سمندر يې بالکل ارام وليد. ده وويل: څومره مکار او تېرايستونکی يې، خلک دې په اراموالي تېروځې او چې منځ ته يې کش کړې، بيا ناڅاپه توپاني شې.
سمندر له ده سره د خبرو لپاره ځان په يوه ښځه بدل کړ، ورته ويې ويل: زما ګناه نه ده، ګناه د بادونو ده، ناکراره مې کړي.
يو حکيم چې دا کيسه واورېده، ويې ويل: په هغه چا اعتبار مه کوئ چې اختيار يې د بل په لاسونو کې دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# تر ټولو خوږه خبره

څو کسه زاړه ډرېوران سره ناست وو، بنډار یې کاوه. دوی له یوه پخواني ډرېوره چې اوس ډېر سپینږیری و، پوښتنه وکړه: ستا په ژوند کې هغه خبره کومه وه چې اورېدو یې بېخي زیات خوشاله کړی یې؟

سپین ږیري وویل: شاوخوا شپېته کاله پخوا د ماهیپر له خوا کابل ته روان وم، سهار و، ټوله شپه مې مزل کړی و، بېخوبه وم، هغه شېبه مې ښه یاده ده چې لارۍ رانه ښي لاس ته د کندې په خوا لاړه. د کندې په غاړه په پیاده رو باندې یو سړی ولاړ و. هغه راته لاس خوځوي او چېغې وهي چې بریک شه، بریک شه! خو زه لکه په خوب کې چې څوک سین ته یا کندې ته لوېږي، بې اختیاره د کندې خوا ته او په ولاړ سړي مخامخ ور روان وم. ګومان کوم یو څه بېخوبي وه او بل مې موټر تازه زده کړی او لیسنس لا نه و اخیستی، نو وار پار رانه خطا و. د خدای فضل و، لارۍ ودرېده خو هغه سړي له وېرې کندې ته ټوپ کړي وو. څلور، پنځه متره به ژوره وه. له لارۍ راکوز شوم چې د سړي درک ولګوم. په کنده کې بې دمه، لکه مړی پروت و. چاره نه وه، ورکوز شوم. حرکت یې نه و. سترګې یې پټې وې. له زخمونو یې وینې بهېدلې. له جیبه مې دستمال راوایست چې د تندي وینه یې پاکه کړم. دغه وخت یې ناڅاپه سترګې رونې شوې، ویې ویل: ولاکه دې بې بندیخانې پرېږدم! خبره یې ډېره ښه راباندې ولګېده، شکرونه مې وایستل چې ژوندی دی. ما په ژوند کې تر دې خوږه خبره نه ده اورېدلې.

د مجلس ملګرو یې ورته وویل: نو بیا څه وشول؟

سپین ږیري وویل: عریضه یې راباندې وکړه، پوره یو کال بندي وم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## په اسمانونو کې

یوه سړي د بزرګي دعوه کوله او دا یې هم ویل چې په جفر و رمل و نجوم کې یې ساری نشته.

یوه ورځ یې ملانصرالدین ته وویل: شرمېږې نه، ځان ته ملا هم وایې، ټوله ورځ په ټوکو، مسخرو تېروې! ما ته خو وګوره چې ټوله شپه په افاق و انفس کې سفر کوم!

ملا ورته وویل: په دغو سفرونو کې دې کله داسې یو نرم، پوست غوندې شی په مخ لګېدلی؟

د بزرګي دعوه دار وویل: ولې نه، بالکل، داسې یو پوست غوندې شی مې څو ځله په مخ لګېدلی.

ملا ورته وویل: هغه زما د خره لکۍ وه.

## سنه

د یو کلیوال له ښاري سره اشنایي شوه. ښار ته چې به راغی، ډوډۍ یې د اشنا کره خوړه او که به یې په ښار کې شپه راغله، هم د اشنا په کور کې پاتې کېده.

ښاري اشنا یې نسوار کول او نسوار به یې خپله جوړول. کلیوال اشنا ورته یو وخت د ونې د کونډې یوه ډنډه جوړه کړې او ده ته راوړې وه چې د تنباکو پاڼې وریاندې ماتې کړي.

د ده په سوغات باندې که څه هم لس، پنځلس کاله تېر وو خو د دوی داسې مجلس به نه و چې کلیوال پکې ډنډه یاده نه کړي. مثلا ویل به یې: هغه د ډنډې په کال مې ورور ته واده کړی و... د ډنډې تر راوړلو څلور کاله مخکې مې پلار حج ته تللی و... د ډنډې د راوړلو په شپږم کال مې زوی پیدا شو... په ښاري اشنا یې دا


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خبره ښه نه لګېده. اخر يې يوه ورځ حوصله تنګه شوه، ډنډه يې له کوره راوايسته، کليوال اشنا ته يې ورکړه، ورته ويې ويل: دا ډنډه بېرته واخله خو د خدای په لحاظ سنه مه بدلوه، هماغه هجري سنه بس ده.

## څروی

يوه بزګر د مرغيو د وېرولو لپاره په کرونده کې څروی درولی و. يوه لاروي چې څروی وليد، ورته ويې ويل: دلته ځای په ځای ولاړ يې، زړه دې نه تنګېږي؟
څروي وويل: خامخا، کله کله خو تنګېږي، مګر ډېر نه. کله چې مرغان وينم چې له ما وېرېږي، خوند هم اخلم!
لاروي وويل: دا دې ربښتيا وويل، زه هم کله کله د نورو له وېرولو خوند اخلم، خوشالېږم.
څروي وويل: دا درسره نه منم!
لاروي وويل: زه خو څه دروغ نه وايم، ولې يې راسره نه منې؟
څاروي وويل: ځکه چې ستا سر له مغزو ډک دی او زما له بوسو. په وېرولو او ځورولو يوازې هغوی خوشالېږي چې په سرونو کې يې بوس وي.

## اعدام که احسان؟

په تېرو زمانو کې يو ظالم پاچا و. چې چا به مازې نيوکه ورباندې وکړه، بندي کاوه يې او يوه، نيم کس چې به ډېره تونده نيوکه کړې وه، اعدام ته يې برابراوه.
په يوه سړي باندې چې د خپلې توندې خبرې په ګناه د اعدام حکم وشو، قاضي ورته وويل: «که څه نصيحت کوې، نقلونه کوې، يا دې له چا سره څه معامله وي، نن شپه لا وخت لرې، کارونه دې ختم کړه چې سبا به په دار کېږې.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دغه سړي غلام چې په خپل بادار باندې د اعدام حکم واورېد، د شپې يې د بنديخانې دېوال سوری کړ، بادار يې له بنديخانې راوايست. دوی په شپه، شپه کې ځانونه بلې پاچاهي ته ورسول. چې سهار شو، غلام ورته وويل: باداره که مې دېوال نه وای سوری کړی، اوس به دې څه کول! بادار ورته وويل: بالکل! لږ وروسته چې دوی يوه جنازه وليده، غلام وويل: باداره که مې دېوال نه وای سوری کړی، اوس به دې څه حال و؟ له بادار سره چې خاص څواب نه و، ويې ويل: بالکل. دوه، درې ساعته وروسته دوی يو قاضي وليد چې په آس باندې سپور و. غلام وويل: باداره که مې دېوال نه وای سوری کړی، قاضي ظالم به اوس پاچا ته ستا د اعدام کيسه کوله! بادار دا ځل له قهره هېڅ ونه ويل. او دوه ساعته وروسته چې دوی د يوې هديرې څنګ ته تېرېدل، غلام وويل: باداره که مې دېوال نه وای سوری کړی، اوس به چېرته وې!

بادار ناڅاپه شا ته مخ واړاوه، ويې ويل: زه بېرته بنديخانې ته ځم!

غلام ورته وويل: دا څه کوې! ځان وژنې!

بادار چې د غلام پوښتنو ته يې ځواب نه ورکاوه، د خپلې سيمې او بنديخانې په خوا روان و. غلام ورپسې په حيرانۍ ګامونه اخيستل.

## عکسونه

راهب د خپلې طريقې د مشرانو کرامات بيانول. فيلسوف چې له خپل شاګرد سره د هغه په مجلس کې په يوه ګوښه کې ناست و، شاګرد ته دا کيسه وکړه:

يوې مور ته چا وويل: ماشوم دې ماشاءالله ښکلی دی. دې ورته وويل: دا لا څه کوې، که يې عسکونه وګورې، پرې مېين به شې.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## وېره او درناوی

د ظالم پاچا سپی چې ډېر ورباندې ګران و، مړ شو. له پاچا سره د غمشریکۍ لپاره بې شمېره خلک د ښار په لوی میدان کې راټول شول. پاچا خلکو ته په وینا کې وویل: زه نن غمجن یم خو چې ستاسې اخلاص او محبت ته ګورم، زړه مې ډاډه شي او یقین مې شي چې خلک د خپلو خدمتګارانو قدر کوي.

څو ورځې پس ظالم پاچا ووژل شو. جنازې ته یې څوک ورنغلل. یوه حکیم چې دا دواړه پېښې ولیدې، ویې ویل: که واکمن د وېرې او درناوي په توپیر پوهېدلای، په ملک کې به اکثره مشکلات ختم وو.

## ژوند کولو ته نه اوزګارېدل

دوه ملګري د بسونو په اډه کې سره مخامخ شول. یوه وویل، زه له تبلیغي ډلې سره په درې ورځني سفر ځم، غواړم روحاني تجربه وکړم. هغه بل وویل: زه هم په درې ورځني سفر روان یم. غواړم د غرونو لمنو ته ووځم، په پاکه، ازاده فضا کې د طبیعت په ننداره بوخت شم.

هغه یو چې د تبلیغ په مجلس کې ناست و، د غره لمن، پاکه هوا او د ګلونو سیل یې په ذهن کې ګرځېدل او هغه بل چې د طبیعت ننداري ته تللی و، په هغو درېو ورځو کې یې له تبلیغیانو سره د روحاني تجربې په اړه فکر کاوه.

موږ د نورو د ژوند په اړه فکر کول دومره بوخت وساتي چې خپل ژوند رانه هېر وي او پایله کې مو په زړېبودن کې پام شي چې ژوند لکه یو خوب راباندې تېر شو.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## بهلول په هدیره کې

یو ځا بهلول په هدیره کې ولید، پوښتنه یې ورنه وکړه: دلته څه کوې؟ بهلول وویل: له داسې خلکو سره دېره یم چې که ورنږدې یم، څوروي مې نه، که ترې لرې شم، غیبت مې نه کوي او که د غفلت په خوب ویده شم، د حال په ژبه مې بېدار ساتي.

## ډالۍ

مرشد ته یوه پخواني شاګرد خورا ښکلې چیني پیاله ورکړې وه. ده به په دې ښکلې پیاله کې له چای څښلو ډېر خوند اخیست او چې څوک مېلمانه به ورته راغلل، د پخواني شاګرد د دې لوی احسان کیسه به یې په مزه مزه ورته کوله.
ده دغه راز هر سهار د چایو تر څښلو له مخه پیاله څو ثانیې په لاس کې نیوله او په زړه کې یې ویل: دا پیاله پخوا لا ماته شوې ده.
یوه ورځ چې پیاله په الماری کې ایښې وه، د یوه بې احتیاطه مېلمه له لاسه ولوېده، ټوک، ټوک شوه. ناست کسان خواشیني شول خو مرشد ارام و، د پیالې ټوټو ته یې وکتل او په جارو پسې پاڅېد چې کوټه پاکه کړي.
نیمه خوشالي په دې کې ده چې څه نه لرو او نه لرل یې راته د منلو شي، نیمه نوره په دې کې ده چې څه بایلو او بایلل یې راته د منلو شي.

## تمه

یو ځا غوایی اخیستی و خو له غویو سره په چلند بلد نه و. ده له ښکرونو کشاوه چې کور ته یې بوځي او هغه په شا زورونه وهل چې د پخواني مالک کور ته ستون شي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

يوه تجربه کار سړي چې ورپام شول، ورته ويې ويل: ته له غويو سره نااشنا ښکارې، دا يې د بيولو طريقه نه ده.
ده پوښتنه ورنه وکړه: څه ورسره ورکړم؟
تجربه کار سړي د غوايي ښتن ته يو موټی تازه واښه ورکړل، ورته ويې ويل: ښکرونه يې پرېږده، واښه در سره ونيسه او ته په مخ روان شه. واښه مه دومره ورنژدې کوه چې ويې خوري او مه يې دومره ورنه لرې کوه چې تمه يې پرې شي. دی به د وښو په اسره په خپله خوښه ستا تر کوره درشي.
ده همداسې وکړل. غوايي د تازه وښو په اسره پخوانی ښتن هېر کړ او په نوي سړي پسې په خپله خوښه روان شو. نوي بادار چې خپل کور ته ورساوه، بې زحمته يې په غوجل ننويست او ور يې پسې پورې کړ.

## پنځه ښارګوټي

و نه و يو وخت پنځه کوچني ښارونه وو چې خلک يې کاختي سخت په تنګ کړي وو. البته په هر ښارګي کې د غنمو يوه وړه زېرمه موجوده وه چې خلکو استفاده ترې نه کوله.
په لومړي ښارګي کې هېڅوک نه پوهېدل چې غنم څه شی دي، څه ته پکارېږي او څنګه کرل کېږي.
په دويم ښارګي کې يوه کس غنم پېژندل، په کر يې پوهېده او دا يې زده وو چې د پټيو خدمت څنګه وکړي خو هم دی او هم د ښارګي نور اوسېدونکي لاس تر زنه ناست وو، هېڅ يې نه کول، لکه د چا له لاسونو او پښو چې دمه ختلې وي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په دریېم ښارګي کې هم یو چا غنم پېژندل او په دې پوهېده چې څنګه یې وکري، مګر هغه د غلا په فکر کې شو، د غنمو جوال ته یې لکه موږک پټه لاره وکړه او یوازې خپله ګېډه یې وچلوله.

په څلورم ښارګي کې هم یو چا غنم پېژندل او په کر یې پوهېده خو هغه یو شرط کېښود، ویې ویل، زه مو د لوږې چاره کوم، مګر زما باداري به منئ، زه به مو ټول عمر امیر یم او زما له امرونو به غاړه نه غړوئ. خلکو، چې لوږې ډېر په تنګ کړي وو، دغه شرط ومانه او دغه سړی سمدستي لاس په کار شو، غنم یې ورته وکرل.

په پنځم ښارګي کې هم یو چا غنم پېژندل او په کرلو یې پوهېده. هغه له نورو سره خپله پوهه شریکه کړه، ټولو ته یې د غنمو د کرلو او پاللو چل ور وښود. د دې ځای اوسېدونکي هم له لوږې بچ شول او هم یې ازادي او خوشالي په نصیب شوه.

## د جنت مېوه

یوې ښځې په یوه کتاب کې ولوستل چې که څوک د جنت مېوه پیدا کړي، د پوهې او حکمت غیبي خزانو ته به لار ومومي. د دې مېوې د ترلاسه کولو ارزو یې په زړه کې ځاله وکړه. یوه ملنګ ته چې صابر نومېده، ورغله، ورته ویې ویل: د جنت مېوه به څنګه پیدا کوم؟

ملنګ ورته وویل: ښه خو دا ده چې زما شاګرده شې او سبق ته کښېنې او که داسې نه کوې، نو بیا د ټولې دنیا سفر ته ملا وتړه، ستړیا مه پېژنه، اراده ټینګه لره او دنیا ټوله تر پښو لاندې کړه.

دا د ملنګ له ځایه را ووته، یوه عارف ته ورغله، بیا یوه حکیم ته ورغله، ورپسې یوه مجذوب ته غوږ شوه، وروسته یې له یوه عالمه د خپلې ورکې تپوس وکړ او دغسې له ګڼو نورو.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې ډېرش کاله لټون وکړ. اخر یوه باغ ته ورسېده. په باغ کې د جنت ونه ولاړه وه چې له څانګو یې د جنت ځلاندې مېوې ځوړندې وې او هغه صابر ملنګ هم هورې د ونې په خوا کې و.

دې ورته وویل: ولې دې په هغه اوله ورځ نه را ته ویل چې د جنت د مېوې پالنه ستا په غاړه ده؟

ملنګ ځواب ورکړ: که مې هغه وخت درته ویلي وای، زما خبره دې زړه ته نه لوېده. بله دا چې دا ونه په دېرش کاله کې صرف یو ځل مېوه نیسي.

## خپله شېبه

نامتو عارفه رابعه به هره ورځ بازار ته تله چې د حقیقت رڼا وویشي. دې په لاره کې له ډېرې مودې راهیسې یو سړی لیده چې د یوه جومات په وره کې ناست دی، زارۍ کوي، وایي: اې ربه، ور پرانېزه! اې ربه، اجازه راکړه چې درشم!

دغه څوک چې زارۍ یې کولې، بل څوک نه و، لوی بزرګ حسن بصري و. رابعې چې به د ده زارۍ ولیدې، موسکۍ به شوه او په خپله مخه به لاړه.

خو یوه ورځ چې د حسن په مخ د اوښکو رودونه روان وو او زارۍ یې کولې چې اې ربه ور راپرانیزه! اې ربه اجازه راکړه چې درشم! نو رابعه ورته ودرېده، ورته وې ویل: بس کړه، ډېر مه ساده کېږه، ور پرانیستی دی، ته دننه یې!

حسن رابعې ته وکتل او دغه دم یې د حقیقت رڼا ولیده، د هغې پښو ته پرېوت، وې ویل: ښه شوه چې راغلې کنه همداسې به په زاریو بوخت وم، ما خو په کلونو زارۍ کولې، ته ولې نه راتلې؟ زه پوهېدم چې دلته په دې لاره هره ورځ تېرېږې، نا به خامخا زما عذرونه، زما دعاګانې اورېدلې وي، نودا دومره وخت ولې؟

رابعې وویل: حقیقت یوازې په خاصه شېبه کې د ویلو وي. نن هغه شېبه راغلې وه، ځکه خو درته راغلم، ځکه خو درته ودرېدم. که مې پرون درته ویلي وای، شاید

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

غوسه شوی وای، شاید په قهر دې ویلي وای چې برې مې بړده! ما خپل عبادت ته پرېږده! دا حق پاچا لا نه لري چې د یو ه مسکین په لمانځه او عبادت کې خلل پېښ کړي. حتا مجرم او قاتل که په لمانځه ولاړ وي، پولیس ته اجازه نشته چې د لمانځه تر ختمېدو له مخه یې ونیسي.

رابعې زیاته کړه: ما به بل وخت هم همدا درته ویل چې حسنه، ساده کېږه مه، ور پرانیستی دی او ته دننه یې! خو ما باید تر هغو پورې چې د دې خبرې د کولو شېبه رارسېدله، صبر کړی وای.

## بوډا سوداګر

یو تاجر چې ټول عمر یې زحمت ایستلی او ډېرې پیسې یې ټولې کړې وې، په زړبودن کې وغوښتل خپل وطن ته ستون شي. انوشېروان پاچا ته چا په غوږ کې وڅڅول چې دغه سړي ستا په ملک کې، ستا د امنیت په سیوري کې ډېرې پیسې ټولې کړې دي، اوس چې دا هر څه خپل ملک ته وړي، ښه خبره نه ده، شتمني ترې ایساره کړه. انوشېروان همداسې وکړل. تاجر انوشېروان ته ورغی، ورته ویې ویل: که هغه څه راکړې چې ما ستا ملک ته راوړل، نو ستا له ملکه به هېڅ شی یو نه سم. پاچا وویل: دا خبره دې سمه ده، تا څه راوړي وو؟ بوډا سوداګر ورته وویل: ځواني.

پاچا یې د شتمني د ورکولو امر وکړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# غلی، ولاړ هلک

هسې وايي چې يو پلار له زويه لاسونه وينځلي وو او په دې نظر و چې له ده څه نه جوړېږي. زوی به يې هره ورځ يوې نژدې کليسا ته ته، په ساعتونو به د کليسا په حويلۍ کې يوې مرمرينې تيږې ته ځير و، هېڅ به يې نه ويل. يوه ورځ يو شهزاده د کليسا له څنګه تېرېده او هلک يې وليد چې سترګې يې په تيږه کې ښخې کړې دي، غلی ولاړ دی. شهزاده د هغه ځای له کسانو د هلک په باره کې پوښتنه وکړه. هغوی ورته وويل چې دی دا څلور مياشتې کېږي، دلته راځي، دې تيږې ته ځير وي او هېڅ نه وايي.

د شهزاده زړه ورته وسوځېد، ورغی، ورو يې ورته وويل: ځوانکيه، ټوله ورځ بېکاره اوسېدل او تيږې ته کتل درته هېڅ ګټه نه لري، يو کسب و کمال زده کړه، يو کار زده کړه، آينده به دې جوړه شي.

هلکي شهزاده ته نېغ وکتل او په هوډمن انداز يې ورته وويل: زه همدا اوس په کار بوخت يم!

شهزاده ورته نور څه ويل مناسب ونه بلل، په خپله مخه لاړ خو څو کاله پس خبر شو هغه هلکي له هغې مرمري تيږې د مريم بي بي ډېرې پرتمينه مجسمه جوړه کړې ده، داسې مجسمه چې تر ننه پورې د نړۍ د مجسمه جوړونې يو شهکار دی. هغه هلکی چې پلار ترې نهيلی و او شهزاده ترې تللی و، ميکل انجلو و، د بشر د تاريخ يو خورا نامتو هنرمن.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# محبت

لقمانِ حکیم وویل چې په کلونو کلونو مې ناروغانو ته دوا ورکړې او دا رامعلومه شوې ده چې د محبت تر دوا ښه درمل نشته.
یو چا ورته وویل: که هغه هم فایده ونه کړي، بیا؟
لقمان وویل: اندازه یې ورزیاته کړئ.

# ازموینه

ځلور کسه زده کوونکو چې سبا یې ازموینه لرله، شپه په ګپ شپ تېره کړه او سبا استاد ته په خاورو لړلي ورغلل، ویې ویل: صاحب تېر ماخوستن په صحرا کې موټر را خراب شو، ټوله شپه مو د هغه په ټېله کولو وېښه تېره کړې ده، بالکل ګنګس یوو، که زموږ ځلورو ازموینه وځنډوئ، دا به مو لوی احسان وي.
استاد ورته وویل: سبا ته یې وځنډوم، بل سبا ته او که لا بل سبا ته؟
دوی چې د استاد نرمي ولیده، ویې ویل: صاحب په درېیمه ورځ به امتحان ورکړو.
استاد ورسره ومنله.
په درېیمه ورځ چې راغلل، استاد له یو بله لرې کېنښول او له هر یوه یې د دغو دوو ډېرو ساده پوښتنو ځواب وغوښت:
لومړۍ پوښتنه: نوم دې څه دی؟ (دا سوال یوه نومره لري.)
دویمه پوښتنه: د موټر کوم ټایر پنچر شوی و؟ (دا سوال نهه نومرې لري.)
الف، د مخې ښی ټایر
ب، د مخې چپ ټایر
ج، د شا ښی ټایر
دال، د شا چپ ټایر



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د خوشالۍ راز

د روحي روغتیا په یوه سمینار کې دوه سوه کسانو ګډون کړی و. د ارواپوهنې او اخلاقو یوه استاد وینا ورته کوله، ویناوال د خپلو خبرو په منځ کې وویل: اوس به یوه تجربه وکړو. ما سهار له ځان سره دوه سوه پوکانۍ راوړې وې او په هره پوکانۍ مې د یوه ګډون وال نوم لیکلی دی. تاسې لطفا دې کوټې ته ورشئ، هر څوک خپله پوکانۍ ومومئ. د موندلو لپاره صرف درې، څلور دقیقې وخت لرئ.

په کوټه کې بد حال جوړ شو، دوه سوه کسانو یو بل سره ټېله کول او هر چا غوښتل چې خپله پوکانۍ ومومي خو تر څلور دقیقې وروسته هم هېڅوک ونه توانېدل چې خپله پوکانۍ پیدا کړي.

وروسته بیا استاد وویل: اوس یو بل څه کوو. د دې کار لپاره هم درې، څلور دقیقې وخت ټاکل شوی دی. هر چا که د بل چا پوکانۍ پیدا کړه، د هغه نوم دې واخلي او ور دې یې کړي.

دا ځل درې دقیقې لا نه وې تېرې چې ټولو ته خپله پوکانۍ ورسېده. استاد وویل: ډېری کسان د خپلې خوشالي د موندلو لپاره نور له مخې لرې کوي، حال دا چې خوشالي له یو بل سره په همکارۍ کې ده. کله چې مو یو بل ته پوکانۍ ورکړې، ټولو ته ورسېدې خو چې هر یو په خپل غم کې وئ، یوه ته هم ونه رسېده. ځېرنو ښودلې ده چې څومره له نورو سره مرسته کوئ، هغومره مو خپله خوشالي زیاتېږي.

## د بېزګانو نیول

استاد خپل شاګرد ته وویل: ته پوهېږې چې تجربه کاره کسان بېزوګان څنګه نیسي؟ دوی نه منډې پسې وهي، نه ونو ته پسې خېژي او نه ډزې ورباندې کوي. دوی یو شیشه اي مرتبان رااخلي چې خوله یې نرۍ وي. په مرتبان کې د بېزوګانو د خوښې خواړه اچوي، په ځنګل کې یې ورته ږدي او خپله لرې لري په یوه ګوښه کې ورته



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کېښني. وروسته بيا چې ځنګه په خوړو باندې د کومې بيزو سترګې ولګېدې، خامخا ورته راځي او لاس مرتبان ته ننباسي خو د مرتبان تنګه خوله يې نه پرېږدي چې له خوړو ډک لاس راوباسي. ښه شېبه تېره شي، نه يې زړه کېږي چې له خوړو لاس واخلي او نه يې را ايستلی شي. دغه وخت ښکاري راشي او په خپل جنجال کې ايساره بيزو بې زحمته ونيسي.
استاد وويل: د بيزو ټوکه به په ځان نه کوې، له خپل حرصه به ځان ته لومه نه جوړوې، په ژوند کې به د ځينو ګټو له خيره تېرېږې، مخ په وړاندې به ځې او له هغه څه به لاس اخلې چې د ايسارېدو سبب دې ګرځي.

## د درناوي ښبنتن

حضرت نظام الدين اوليا د شيخ عثمان (قُدِّسَ سِرُّهُ) په باره کې وويل چې دی د خدای دوست و، په غزني کې اوسېده، د جغندرو او ټيپرو يو ډول خواړه به يې پخول، هغه به يې په بازار کې خرڅول او همدا يې د ګوزارې ذريعه وه.
عثمان د خوړو د اخيستونکو درناوی په ځان لازم باله. که به چا کوټه او تقلبي سکه هم ورکړه، ده به پکې څه نه ويل، د خلکو خاطر کول ورته ډېر، ډېر ښه ښکارېدل.
وروسته چې خلک پوه شول چې دی کره او کوټه دواړه مني، کوټه سکې به يې لا زياتې ورکولې خو ده د خوړو خرڅول ونه درول.
شيخ د ژوند په وروستيو ورځو کې اسمان ته وکتل، ويې ويل: «خلکو به د خوړو په بدل کې تقلبي پيسې راکولې خو ما نه ردولې، اې ربه، که زما بندګي هم تقلبي وه، ما په خپل رحمت وبخښه او ما له خپل درشله مه شړه.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د کیشپانو پاکول

یوه ځوانکي به د هرې یکشنبې په سهار خپل سپي ته د جهیل د غاړې چکر ورکاوه. ده کابو هر ځل یوه زړه مېرمن لیده چې یو کوچنی وسپنیز قفس به ورسره و او د ولاړو اوبو په غاړه به ناسته وه. زلمي ته سودا پیدا شوه چې دا دلته څه کوي. کله چې له سپي سره د اوبو په غاړه، غاړه ګرځېده، د بوډۍ قفس ته یې د سترګو له کونجه وکتل. په قفس کې څو دانې کیشپان وو. په بله یکشنبه د زلمي زړه صبر نه شو، ورغی، ورته ویې ویل: که یې بده نه منې، یوه پوښتنه درنه کوم، دا کیشپان څه کوې؟

ښځې ورته وویل: پاکوم یې.

دغه وخت یو کوچنی کیشپ د ښځې په لمن کې و چې دې یې د سپنج په ذریعه کاسه ورپاکوله او درې نور کیشپان د قفس دننه وو.

ځوانکي په حیرانۍ وروکتل. بوډۍ وویل: دغه اوبه چټلې دي او د دې سبب کېږي چې د کیشپانو په کاسې باندې الجي پیدا شي، یعنې یوه زرغونه دوړه. په اوبو کې نورې ناپاکۍ هم د کیشپانو په کاسې باندې نښلي. دغه شیان د دې سبب کېږي چې کیشپان ډېر لمر وانخلي، د لامبو وړتیا یې کمه شي او د وخت په تېرېدو سره یې کاسه کمزورې شي. نو همدا وجه ده چې زه د هرې یکشنبې په سهار دلته راځم او له کیشپانو سره وخت تېروم.

ځوانکي ورته وویل: خو ایا د بېخي زیاتو کیشپانو کاسې به خیرنې پاتې نه شي؟

ښځې ځواب ورکړ: همداسې ده.

ځوانکي وویل: ته مهربانه یې مګر د کیشپانو په ژوند کې واقعي تغییر څکه نه راځي چې د دنیا کابو ټولو نورو کیشپانو ته څوک نشته چې پاک یې کړي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوډۍ چې د کوچني کیشپ په ملا باندې سپنج تېراوه، موسکۍ شوه او ویې ویل: د ډاکټر سوس نوم به دې شاید اورېدلی وي، ډېر مشهور لیکوال دی. دی لیکي چې ته به د دنیا لپاره صرف یو کس یې، خو داسې یو کس به هم وي چې ته ورته یوه دنیا یې.

زلمیه، که زه د ټولې دنیا د بدلانه وس نه لرم، دا خو کولای شم چې د ځینو دنیا وربدله کړم.

## د ژوبڼ اوښان

اوښه او جونګی یې لمر ته پراته وو. جونګي له موره پوښتنه وکړه: زموږ ملا ولې بوکه راوتلې ده، نور ژوي خو داسې نه دي؟

مور یې ورته وویل: هلته زموږ بدن اوبه زېرمه کوي او دې زېرمې ته اوښان سخت ضرورت لري ځکه په صحرا کې خو اوبه په اسانه نه پیدا کېږي.

جونګي بله پوښتنه وکړه: دا زموږ د پښو څپې ولې ګرد او لښګي مو اوږده دي؟

مور یې ورته وویل: ځکه د صحرا په شګو کې مو مزل ورسره اسانه کېږي.

جونګي درېیمه پوښتنه وکړه: زموږ بانه ولې دومره غټ، غټ دي؟

مور یې ورته وویل: ځکه د باد په وخت مو سترګې د صحرا له شګو ساتي.

دغه وخت جونګي مور ته وویل: نو موږ چې پیدا د صحرا د سفر لپاره یوو، بیا دلته په ژوبڼ کې څه کوو؟

استاد چې دا کیسه وکړه، ویې ویل: هر څوک یو څه ته جوړشوي دي خو کاشکې هر چا ته د خپلې وړتیا چارې سپارل کېدلای.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## تر ټولو سوړ ژمی

ډېر سخت ژمی و، داسې چې ګڼو ژويو د يخنۍ په وجه سا ورکړه. شيږګي د ځان د بچولو لپاره يو بل ته سره ښه نژدې شول چې د يو بل د بدن په تودوخه ګونډې يو څه تاوده شي. يو څه خو تاوده شول خو د يو بل د بدن اغزيو په عذاب کړل او ځينو يې جدايي خوښه کړه چې يخنۍ ووژل. نورو يې دا په ګټه وګڼله چې د خپلوعزيزانو د بدن اغزي ومني څو تاوده پاتې شي او ونه مري.

استاد چې دا کيسه وکړه، ويې ويل: که غواړو وژغورل شو نو يو بل به منو او زغمو، له يو بل سره اوسېدل مشکلات هم لري، مګر ګټې يې خورا لويې دي.

## ګوربت او توپان

ايا پوهېږئ چې ګوربت د توپان د راتلو اټکل کولای شي! دی چې کله پوه شي چې تېز باد رانژدې دی، نه ورنه پټېږي، بلکې د اسمانونو په لور بر الوځي او د هغه راتلو ته وزر غوړوي. په هغه شېبه کې چې توپان رارسېږي، دی وزر داسې وغځوي چې باد يې په هوا کړي او نور نو دی پاس پرواز کوي او توپان لاندې غورېږي.
ګوربت له باد، بادورېې او بادامې نه تښتي، نه پټېږي، بلکې د لا بر الوتلو لپاره استفاده ورنه کوي.
د ژوند له توپانونو سره کولای شو لا لوړ الوت وکړو او د ګوربتانو غوندې د مستو سيليو په اسونو سپاره شو. د ژوند له توپاني شېبو مه وېرېږئ، ستونزو ته مخامخ ودرېږئ او په جرات او هنر سره لا لوړو مرحلو ته ځانونه ورسوئ!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ګیلاس

د ارواپوهنې یوې پوهاندې د درس په منځ کې یو ګیلاس راواخیست، اوبه یې پکې واچولې، ویې ویل: د دې ګیلاس او اوبو وزن به څومره وي؟ چا یو کیلو وویل، چا نیم او چا زیات.

پوهاندې وویل: وزن یې یوڅه ډېر یا لږ، مهمه نه ده. مهمه دا ده چې څومره وخت یې په لاس کې نیسو. که یې یوه یا دوې دقیقې په لاس کې ولرو، مشکل نشته خو که یې یو ساعت په لاس کې ونیسو، لاس مو وچیږي او پعذابیږي. داسې وګڼئ چې ګیلاس مو ټوله ورځ په لاس کې نیولی وي، بیا به څه وشي؟ په لاس مو درد کیږي، درد به وار په وار زیاتیږي او دا هم کېدای شي چې که ګیلاس پرې نه ږدو، لاس به مو بېخي شل غوندې شي.

شاګردانو سرونه وخوځول، ویې ویل: بالکل استادې، د ګیلاس وزن نه بلکې هغه موده مهمه ده چې په لاس کې یې نیسو.

پوهاندې وویل: اوس اصلي خبرې ته راځم. زموږ د ژوند غمونه او اندېښنې هم دغسې دي. که دقیقه نیمه یې په ذهن کې ساتو، پروا نه کوي، که ټول ساعت ورسره بوختیږو، یو څه ډېر مو ځوروي خو که ټوله ورځ ورسره تېروو، دا امکان شته چې بېخي له پښو ولوېږو، بېخي ذهن راشل کړي.

پوهاندې دا هم وویل: کله کله اندېښنې ډېرې زوروې شي او نه مو پرېږدي. په دغسې ورځو کې ذهن ته استراحت ورکول مه هېروئ. قدم ووهئ، خوږې خاطرې دریادې کړئ، د روښانې آیندې خیال پلو ته پناه یوسئ، د خواږه ملګري مجلس ته کښېنئ، له ماشومانو سره بوخت شئ، د ګلونو، د غروب، د روانو اوبو یا د طبیعت د کومې بلې ښکلا ننداره وکړئ. مقصد داسې مه کوئ چې ځوروونکې اندېښنې مو ټوله ورځ په ذهن باندې بار وي. د دې بار کوزولو ته یوه طریقه لا ومومئ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د فابریکې څښتن

د بوټونو د یوې لویې فابریکې څښتن به له خپلو کارګرو سره ډېره ښه رویه کوله. هغوی یې کار په اخلاص کاوه خو نور نو ورسره ښه زړه ور ول، ټوکې یې ورسره کولې، خپل غمونه یې ورسره شریکول او دا پوښتنه یې هم زیاته ورنه کوله چې دومره ډېره هستي یې څنګه پیدا کړه. ده دې پوښتنې ته مختلف ځوابونه لرل، مثلا ویل یې چې همېشه یې زحمت ایستلی او له خلکو سره ښې رابطې ته یې زیات اهمیت ورکړی دی، خو نه خپله په دې قانع و چې د پوښتنې په پوره ځواب پوهېږي او نه پوښتونکو فکر کاوه چې پوره پوهېدلي دي.

په دې منځ کې یو کال د فابریکې څښتن خپل دوه همکاران د افریقا لرې پرتو سیمو ته واستول چې هلته د بوټونو د خرڅلاو لپاره بازار وګوري.

دا یوه همکار په خپل رپورټ کې ولیکل چې دلته ټول خلک لوڅې پښې ګرځي نو د بوټونو د اخیستلو بېخي سوال نه پیدا کېږي. بل همکار ولیکل چې زما په نظر دلته ډېره ګټه کولای شو څکه دوی لوڅې پښې ګرځي، نو که څنګه پوه شول چې د پښو د ساتلو لپاره وسیله شته، ټول به په شوق بوټونه واخلي.

د فابریکې څښتن ته چې د دواړو همکارانو لیکونه راورسېدل، خپل کارګر یې راوبلل، ورته ویې ویل: تاسې همېشه رانه پوښتنه کړې ده چې دومره شتمني مې څنګه پیدا کړه، ما ځینې ځوابونه درکړي وو خو پوره او قانع کوونکی ځواب نن رانه واورئ. زه ټول عمر د دې دوهم همکارغوندې وم، یعنې پېښو ته مې له مثبت اړخه کتلي او د خنډونو په منځ کې مې د پرمختګ لارې سهي کړې دي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## طبيعت

استاد په وينا کې وويل چې په وسلو باندې د شويو لګښتونو يوه برخه که د نورو ستونزو اواري ته بېله شي، د اوسني بشر ټول مادي مشکلات به اوار وي.
له وينا وروسته شاګردانو پوښتنه وکړه چې: نو انسانان ولې داسې نه کوي؟ ولې دومره ناپوه دي؟
استاد وويل: ځکه چې خلکو ليکل شوي کتابونه زده کړي او ناليکل شوي کتابونه يې هېر کړي دي.
شاګردانو غوښتنه وکړه چې د ناليکل شويو کتابونو مثال راوړي؟
استاد وويل: د حشراتو بونګهار او د مرغانو چيغهار د حقيقت د نغمو ساز دی. بوټي او ګلونه لارښودونکي دي. تاسې خو ورته غوږ کېږدئ! تاسې خو ورته پام واړوئ! طبيعت ولولئ!

## خبرې وزرې کوي

و نه و يو پنډت (هندو ديني عالم) و. دی يوه ورځ کور ته په لار کې له يوه ميداني تېرېده چې ستونی يې وتخنېده، لکه يو شی چې پکې بند وي، ويې ټوخل، هغه شی يې خولې ته راغی، له ځان سره يې وويل: «چې دا په څه لانجه پېښ شوم!» ويې توکل، تعجب يې وکړ: «دا خو لکه د زانې بڼکه چې وي! چې دا له کومه شوه؟»

دی له همدې فکرونو سره کور ته ورسېد او مېرمنې ته يې وويل: «يوه عجبه پېښه راوشوه. له خولې مې د زانې بڼکه راووته.» ښځې يې تعجب وکړ، ويې ويل: «دا

خو بېخي عقل نه مني.» پنډت ورته وویل: «ګوره، ګوره چې چا ته دې له خولې ونه وځي، خلک به يې بد شګوم وګڼي او کیسې به راپسې جوړې کړي.»

ښځې سر وخوځاوه خو ډېر ژر يې دې ارزو په زړه کې غزونې وکړې چې په یو چا يې باور کړی او دا کیسه يې ورته کړې وای. په زړه کې ورته‌ره شوه: «یو چا ته به لا ووايم، ګنې زړه به مې وچوي. دا ګاونډۍ ته به سر ورښکاره کړم!»

د ګاونډۍ کره ورغله، په ټیټ اواز یې ورته وویل: «یوه خبره مې درته کوله!» ګاونډۍ سره ټول غوږ، غوږ شوه، ویې ویل: «وایه، وایه!»

د پنډت ښځې ګاونډۍ ته ټوله کیسه تېره کړه. دې شاید پکې څه نه وي زیات کړي خو د ګاونډۍ غوږ ته داسې ورسېده چې پنډت یوه نه بلکې څو ښکې توکلې وې.

د پنډت ښځې په اخر کې وویل: «ګوره ، ګوره دا خبره به هیچا ته نه کوې.»

ګاونډۍ وویل: «ولې به وایم، ته بېخي بې غمه اوسه. هر چا ته په ژوند کې یوه ښه یا بده ورپېښېږي، خو دا خو مناسبه نه ده چې ډول غاړې ته واچوي او عالم وربانډې خبر کړي او بل ګوره، دا دومره د اندېښنې خبره هم نه ده، چې مقصد ورته وارخطا نه شي!»

ګاونډۍ دې کیسې سخته هیجاني کړې وه. لږ وروسته چې یې د کور کارونه تمام کړل ، د دوبي ښځه په لاره تېرېده، هغې ته یې وویل: «سلام ، دلته راشه، یوه خبره مې درته کوله.»

د دوبي مېرمن وویل: «څه خبره ده؟»

دې وویل: «خبره نه يې چې زموږ ګاونډي پنډت ته څه ورپېښ شوي دي؟» او بیا يې کیسه په دومره هیجان ورته وکړه چې هغې ته داسې ښکاره شوه لکه سلامته زانه چې د پنډت له خولې رالوېدلې وي.

د دوبي ښځې وویل: «توبه خدایه، توبه، دا خو بېخي د نه منلو خبره ده. او بیا دې ته ګوره چې پنډتان خو بېخي غوښه خوري نه.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

که څه هم د دوبي مېرمنې قسم کړی و چې راز به ساتي خو خپلې ملګرې ته يې وويل چې د پنډت له خولې سلامته زانه رالوېدلې ده.

کيسه خپره شوه او خبره د مختلفو ډولونو څو سوه مرغانو ته ورسېده. ډلې ډلې خلک به د پنډت کورته راتلل چې ځان ښه پوه کړي او ده به انکار کاوه. بالاخره پنډت د کور په شاتنۍ لار ځنګل ته ولاړ، له خلکو پټ شو. خلک چې نور د پنډت له ليدو نهيلي او ستړي شول، دې وروستۍ نتيجې ته ورسېدل چې: «دنيا له عجايبو ډکه ده، داسې څه به واورې چې هېڅ به نه پوهېږې چې اوس يې ومنې که يې ونه منې.»

## د راجا خوب

و نه و په هندوستان کې يو راجا و چې اولاد يې نه کېده. راجا د مېرمنې په رضايت د بل واده اراده وکړه. د هغه دويمې مېرمنې ورته دوه زامن وزېږول. دغه وخت لومړۍ مېرمنې ته هم خدای زوی ورکړ او له دې وروسته د راجا په کورنۍ کې اختلافونه پيدا شول، ځکه کشرۍ مېرمنې (رانۍ) کوښښ کاوه چې د دې زامن د پلار ځايناستي وي خو اوس دا وېره ورپيدا شوه چې هسې نه د مشرې رانۍ زوی د تخت لايق وبلل شي. بالاخره کشرې رانۍ راجا ته وويل چې مشره ښځه او د هغې زوی بېل کور ته واستوي. راجا يې غوښتنه ومنله، مشره ښځه يې له زوی سره په خپلو نورو مځکو باندې يو بېل کور ته واستوله.

وختونه تېرېدل او يوه شپه راجا عجب خوب وليد. خوب يې وليد چې يو پړانګ، يو مار او يوه بيزو چې درې واړه د سرو زرو دي، سره ناڅي. راجا ته د خوب د تعبير سودا ورولوېده. اول يې خپله کشره رانۍ او د هغې دوه زامن راوغوښتل، د خوب د معنا تپوس يې ترې وکړ. دوی يې تعبير ونه کولای شو. البته، کشرې زوی وويل چې د ده په ګومان د ده مېرنی ورور يې ګوندې په تعبير پوه شي. راجا په هغه زوی پسې سړی واستاوه. هغه چې راغی او کيسه يې واورېده، پلار ته يې وويل:



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دغه درې حیوانات موږ درې ورونه یوو، څکه مونږ درې سره ستا لپاره د سرو زرو حیثیت لرو. خدای دا خوب د دې لپاره دربانديې ولید چې موږ باید نور په خپلو منځو کې سره وران ونه اوسو، څکه مونږ ټول ستا سره زړ یوو او د دې لپاره چې د تخت په سر مو اختلاف پیدا نشي، خوب د اشارې په ژبه راته وايي چې که ستا هر زوی، طلايي پرانګ، طلايي مار او طلايي بیزو ومومي او د خلکو مخې ته يې ونځوي، هغه به ستا د ځايناستي حق او لیاقت ولري. د راجا دا تعبیر زړه ته ولوېد او درې واړو زامنو ته يې وویل چې دی به راج هغه زوی ته ورکړي چې تر کال دا وخته پورې دغسې درې حیوانات وموميې.

د کشرې رانۍ زامن چې د پلار له درباره راووتل او په خپل منځ کې يې سره مشوره وکړه، دې نتیجې ته ورسېدل چې د دغسې حیواناتو موندل يې د وس خبره نه ده، او حتا که په زرګر باندې هم دغسې حیوانات جوړ کړي، نځول يې ناممکن دي.

د دوی میرنی ورور خپلې مور ته ورغی، کیسه يې ورته وکړه. مور يې ورته وویل، چې وار مه خطا کوه، په حرکت کې برکت وي، که ته یوه ملنګ ته چې په ځنګلونو کې اوسي، ورشې، هغه ګوندې لار در وښيي.

نو د راجا زوی د سفر موزې په پښو کړې، روان شو او په ځنګلي سیمه کې يې له څو ورځې مزله وروسته یوه ډېر ګڼ ځنګل ته چې رڼا ورځ هم پکې د تت ماښام غوندې تیاره وه، ورسېد. ده شاوخوا سترګې غړولې، تیاره مخ په زیاتېدو وه او بالاخره يې په یوه لرې فاصله کې د اور غوندې رڼا ولیده. دی د رڼا خوا ته ورغی، هورې نری اور بل و، چیلم ایښی و او ده په چیلم خوله کېښوده، څو کشه يې وکړل. ملنګ چې دلته چېرته نژدې ویده و، د چیلم بوی راویښ کړ، راپاڅېد او پوښتنه يې وکړه چې دلته څوک دي؟ ده ځواب ورکړ: کاکا، زه یم!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ملنګ ورته وویل: ته اوس رښتیا زما وراره یې؟ له کومه راغلې، دومره ناوخته، په شپه کې؟

ده ورته وویل: له کوره، کاکا.

ملنګ وویل: چې څنګه زه در په یاد شوم، ته خو کله نه وې راغلی، خدای دې وکړي چې خیر وي.

ده ورته د خپل سفر او مقصد وویل.

ملنګ ورسره د مرستې ژمنه وکړه او بیا یې دیګ پر اور کېښود او یوازې درې دانې وریجې یې پکې واچولې چې په اوبو کې واېشي خو چې کله پخې شوې، د دوی دواړو لپاره بس وې. د ډوډۍ په وخت ملنګ ورته وویل: وراره، زه درته نه شم ویلای چې ته باید څه وکړې خو په ځنګل کې چې نور هم وړاندې لاړ شې، هلته زما کشر ورور اوسي، هغه ته ورشه، هغه ګوندې لار دروښیي.

نو چې سهار شو د راجا زوی روان شو. دوې ورځې وروسته دویم ملنګ ته ورسېد او ورته ویې ویل چې په څه پسې راوتلی دی. دویم ملنګ چې د ده کیسه واورېده، دېګ یې په اورباندې کېښود چې اوبه واېشي او بیا یې د وریجو دوې دانې پکې واچولې خو په همدغو دوو دانو کې دومره برکت پیدا شو چې دواړه یې ماړه کړل.

له ډوډۍ وروسته ملنګ وویل چې دی د دغسې طلایي حیواناتو د موندلو په اړه څه نه شي ورته ویلی خو د دوی یو بل ورور، چې تر دواړو کشر دی، ممکن په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي. نو په بل سهار د راجا زوی خپل سفر ته ادامه ورکړه او دوه، درې ورځې وروسته د درېیم ملنګ ځای ته ورسېد. دغلته دی یوه شو چې څه باید وشي. دغه ملنګ هم اوبه واېشولې او دېګ ته یې یوازې یوه دانه وریجه واچوله چې دواړه ورباندې ماړه شول.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې سهار شو، ملنګ د راجا زوی ته وویل چې ښې ته ورشي او په هغه باندې د دولس چارکه وسپنو یو ډال جوړ کړي چې ژې یې دومره تېره وي چې له ونې رالوېدونکې پاڼه که وریاندې ولګېږي، دوه ټوټې شي.

د راجا زوی ښې ته ورغی، هغه فرمایشي ډال ورته جوړ کړ او ده ډال ملنګ ته راوړ. ملنګ وویل، ډال باید امتحان کړو. داسې چې د راجا زوی ته یې وویل، ونې ته وخېژي، څانګې وښوروي چې پاڼې لاندې په درول شوي ډال راتوېې شي. د راجا زوی د ونې څانګې وخوځولې خو پاڼې راتوېې نه شوې. بیا ملنګ ونې ته وخوت، ونه یې وخوځوله، ډېرې پاڼې راولوېدې او چې هره پاڼه د ډال ژې ته برابره شوه، دوه ځایه شوه. ملنګ چې د ښې په کار مطمین شو، د راجا زوی ته یې وویل:

لږ وړاندې به په ځنګل کې یوه جوړه ماران ومومې چې د بانګس له لرګیو رغېدلې کور کې اوسي. دوی یوه لور لري چې له کوره راوتلو ته یې نه پرېږدي. ته به دغه تېز ډال د دوی د کور په دروازه کې کېږدې او خپله به په یوه ونه کې ورته پټ شې. کله چې ماښام ماران له کوره راوځي، ډال به یې دوه ځیرې کړي او چې ماران مړه شول، ته به یې لور ته ورشې او هغه به درته ووایي چې طلایي ژوې چېرې دي.

نو د راجا زوی له ملنګه رخصت واخیست، د مارانو د ځای په لور وخوځېد. ماسپښین و چې هلته ورسېد. ډال یې د هغوی د کور په وره کې کېښود او ماښام چې کله ماران له دروازې راوتل، ډال دوه ځایه کړل، ومړل. نجلې د مور و پلار له مړینې وروسته له کوره راووته چې په پېښه ځان پوه کړي. دغه وخت د راجا زوی ولیده. نجلې ډېره ښکلې وه. دې ورغی، خبرې یې سره وکړې او ډېر ژر سره میینان شول. د مارانو د لور له ذهنه مور و پلار په لنډ وخت کې ووتل او راتلونکې ډېرې کې د مارانو لور د راجا زوی پوه کړ چې د کور لوېدیځې او جنوبي خوا ته به په



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هېڅ وجه نه ځي. خو یوه ورځ دی د لویدیځ لور ته روان شو. چې یو څه مخکې لاړ، طلایي پړانګان یې ولیدل چې ناځي او د هغوی له لیدو سره سم پخپله په طلایي پړانګ بدل شو، د هغوی غونډې یې نڅا پیل کړه.

د مارانو لور ژر پوه شوه چې څه پېښ شوي دي. پسې ورغله، دی یې ورنه بېل کړ او بېرته یې په انساني څېره واړاوه.

څو ورځې وروسته د راجا زوی د کور د جنوب خوا ته لاړ او هلته یې طلایي ماران ولیدل چې د یوه ډنډ په غاړه ناځي.

د هغو له لیدو سره سم دی هم په طلایي مار بدل شو، نڅا یې پیل کړه. د مارانو لور یو ځل بیا دی رابېل کړ، پخپله اصلي بڼه یې واړاوه خو د راجا زوی بیا هم بې احتیاطي وکړه او دا پېره د جنوب لویدیځ خوا ته لاړ. هورې یې د ښېښیان د ونې لاندې طلایي بیزوګان د نڅا په حال کې ولیدل او د هغو له لیدو سره سم دی هم په طلایي بیزو بدل شو. د مارانو لور بیا هم دی ورنه رابېل کړ، را یې وست او په اصلي انساني څېره یې واړاوه.

له دې پېښې وروسته د راجا زوی وویل چې دی باید خپل کور ته ستون شي. د مارانو لور ورنه پوښتنه وکړه: اصلاً دلته څه ته راغلی وې؟ او دغه وخت ورته ده خپله تیوله کیسه وکړه، ویې ویل: اوس چې مې طلایي څناور وموندل، بکار ده کور ته ستون شم.

د مارانو لور ورته وویل: تا مې مور او پلار ووژل، اوس به یوازې څنګه اوسم، نو اول ما ووژنه، بیا لاړ شه! د راجا زوی ورته وویل: ته به له ما سره لاړه شې. دې ست د مارانو لور سخته خوشاله کړه او ده ورنه د طلایي څناورو د لیږدولو په اړه مشوره وغوښته. څکه ده ته یې صرف د اوسېدو ځای معلوم و، نور نو نه پوهېده چې خپل وطن ته به یې څنګه رسوي. د مارانو لور وویل: که دا ژمنه راسره کوې چې ما به



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هېڅوخت په میدان نه پرېږدي او بله ښځه به نه کوي، د طلایي ځناورو د حاضرولو وخت چې راغی، هغه یې زما په غاړه.

د راجا زوی قسم وکړ چې له دې سره به وفادار پاتېږي، بله ښځه به نه کوي. وروسته بیا دواړه د راجا د وطن په لور وخوځېدل.

کله چې دوی د درېیم ملنګ ځای ته ورسېدل، د راجا زوی ورته وویل، ما له دغه ملنګ سره ژمنه کړې وه چې د ستنېدو په وخت کې به یې ګورم او طلایي ځناور به ورښکاره کوم، اوس چې دغه ځناور راسره نشته، ده ته به څه وایم؟

دغه وخت د مارانو لور د هغه جامو ته درې غوټې واچولې او ورته وېې ویل، هغه وخت یې پرانیزه چې ملنګ د ځناورو د لیدلو غوښتنه وکړي.

د راجا زوی چې ملنګ ته ورغی، ملنګ ورنه وپوښتل: طلایي پړانګ، طلایي مار او طلایي بیزو کوم دي؟

د راجا زوی ورته وویل: داډه نه یم چې چېرته به وي خو ما یو څه په جامو پورې غوټه کړې دي. او بیا یې درې واړه غوټې پرانیستې. په یوې کې لوټه وه، په بله کې د لوښو کودرې، او په بله کې یوه ټوټه سکاره. د راجا زوی درې سره لړې وغورځول او پاڅېده، د مارانو په لور پسې ورغی، وېې پوښتله چې ولې یې داسې بې کاره شیان ورغوټه کړي وو؟

هغې وویل: ستا عقیده نه وه. که دې عقیده وای، ځناور به په لوټه، په کودرې او د سکرو په ټوټه نه بدلېدل.

دوی یو ځل بیا سفر پیل کړ. د دویم ملنګ ځای ته راورسېدل. هغه هم د طلایي ځناورو د لیدو غوښتنه وکړه او دا ځل د راجا زوی کوښښ کړی و چې خپله عقیده یو څه پخه کړي او چې غوټې یې پرانستلې، طلایي پړانګ، طلایي مار او طلایي بیزو رابښکاره شول.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته بيا ده په لاره کې لومړي ملنګ ته هم ځناور ورښکاره کړل او بالاخره هغه کور ته ورسېدل چې د ده مور پکې اوسېدله.

چې د ژمنې ورځ رانژدې شوه، د راجا زوی له پلاره وغوښتل د ده د مور کور ته څېرمه په يوه لوی ميداني کې کمپونه ولګوي او د دوی له کوره تر ميداني پورې يوه سرپوښلې لاره جوړه کړي، هاله به دی نخښدونکي زرين ځناور ټولو ته وښيي.
راجا همداسې وکړل او د ژمنې په ورځ ټول خلک په ميداني کې نندارې ته راټول شول. هاله بيا د راجا زوی درې ځناور په ميدان کې راڅرګند کړل. د مارانو لور په سرپوښلې لاره کې د نورو له سترګو پناه پاتې شوه او ژوي يې ونځول. خلکو کری ورځ تر ماښامه پورې ننداره وکړه، بيا خپاره شول. په هغه شپه ټول درول شوي کمپونه په طلايي کورونو بدل شول او چې راجا دا هرڅه وليدل، د دويمې ښځې کور يې پرېښود، د لومړۍ مېرمن کور ته راولېږدېد.

## د بخت مرغه

و نه و يو وخت يو بېوزلی بوټبه و. يوه ورځ چې ډېر ستړی شو، کار يې بس کړ، د ونې لاندې پرېوت. هورې يوې کوچنۍ مرغۍ چې د ده بېوزلي او ستوماني وليده، له ځان سره وويل: «له دغه سړي سره پکار ده مرسته وکړم.» او بيا راغله د ده څنګ ته په مځکه کېناسته.
د بوټبه چې سترګې مرغۍ مرغۍ کېدې، خوب يووړ. دغه وخت کوچنۍ مرغۍ د هغه څنګ ته يوه طلايي هګۍ کېښوده، والوتله. شيبه نيمه پس چې بوټبه راويښ شو، د طلايي هګۍ ليدو حيران کړ. ده هګۍ ژر په جېب کې واچوله، راپاڅېد، تر هغه دمه وهل شوي لرګي يې په شا واړول، د لرګيو دوکاندار ته يې ځان ورساوه.
دوکاندار ورته وويل: «د بوټو ورى دې وړوکی دی، نن دې لکه چې ډېره خواري نه ده کړې.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوټبه ورته تړوله کیسه وکړه. دوکاندار چې چالاک سړی و، دی وهڅاوه چې هګۍ په یوې طلایي سکې باندې وپلوري. د ساده بوټبه دا سودا خوښه شوه. دوکاندار ورته وویل چې که یې هغه مرغۍ ورته راوړه چې دغه هګۍ یې اچولې ده، نو د سرو زرو په پنځو سکو به یې ورنه واخلي. بوټبه ورسره ومنله.

په بله ورځ بوټبه د هماغې ونې لاندې چې هورې یې طلایي هګۍ موندلې وه، وغځېد او ځان یې ویده واړاوه. کوچنۍ مرغۍ یو ځل بیا راپیدا شوه او چې ځنګه د بوټبه ځنګ ته په مخکه کښېناسته، بوټبه سمدستي ورټوپ کړل، ویې نیوله، په خوشالۍ سره یې وویل: «اوس به دې د سرو زرو په پنځو سکو باندې خرڅوم.» طلایي مرغۍ ورته وچرېده: «زما یوه هګۍ د پنځو طلایي سکو سل برابره قیمت لري، ته په څه خبر یې؟ دوکاندار درسره چل کړی دی!»
بوټبه چې په خپلې تېروتنې پوه شو، ویې ویل: «بې ځایه حرص مې وکړ او ناحقه مې وخوروله، بخښنه غواړم!»
دغه وخت مرغۍ وویل: «زما عمر نور ختم دی. زه د بختورو مرغانو د کورنۍ یم. مونږ انسانانو ته نېکمرغي ورکوو خو قسمت مو داسې دی چې که مو انسان ونیسي، ژوندۍ نه پاتېږو.» بوټبه ورته وویل: «څه مرسته درسره کولای شم؟» مرغۍ وویل: «چې زه ومرم، زما یوه بڼکه راواخله، اور ته یې له لرې ونیسه، ته به په دې طریقه زما کور ته ورسېږې. هلته زما د کورنۍ غړیو ته بڼکه ورښکاره کړه او حقیقت ورته ووایه.» طلایي مرغۍ د دې خبرې له کولو وروسته مړه شوه.
بوټبه همداسې وکړل. د سترګو په رپ کې یې ځان د بختورو مرغانو په کورنۍ کې ولید. ده هغوی ته بڼکه ورښکاره کړه او په کیسه یې پوه کړل. د مړې شوې مرغۍ پلار وویل: «اوه، مونږ باید ژر تر ژره لاس په کار شو.» او بیا یې هغه بڼکه په مځکه کېښوده او د هغې له پاسه یې الوتل او تاوېدل پیل کړل. چې پوره لس ځله راتاو


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شو، ورته کېناست، له بنېکې سره یې ځان ولګاوه او دغه وخت سمدستي د مړې مرغۍ کالبوت راپیدا شو.

د کالبوت له رارسېدو وروسته د مړې مرغۍ مور او خویندو یو څه شنې پاڼې او تازه واښه راپیدا کړل. د دغو پاڼو او وښو خصوصیت دا و چې مړي یې ژوندي کول. دوی پاڼې او واښه د مړې مرغۍ په مښوکه کې کېښودل او مړې مرغۍ سمدستي سترګې پرانیستلې.

بوتېه چې هغه یو ځل بیا ژوندۍ ولیده، سخت خوشاله شو. راژوندۍ شوې مرغۍ وویل: «بخت راپیدا کېږي او پناه کېږي. مونږ هم د بخت غوندې یوو خو مور له هغو سره نه پاتېږو چې حریص وي.» بوتېه په ماته غاړه وویل: «ما څکه له لاسه ورکړې چې زه کم عقل وم!»

راژوندۍ شوې مرغۍ وویل: «انډیواله مه خپه کېږه! تا له ما سره مرسته وکړه او زه به په بدل کې یو ځل بیا تا ته درشم، مګر تر هغه وخته به صبر کوې!»

بوتېه کور ته خوابدی راستون شو خو دغه امېد یې زړه ماتېدو ته پرې نه ښود چې د بخت مرغۍ به یو وخت یو ځل بیا د ده په لوري راوالوځي.

## د هنر شهکار

و نه و یو وخت څلور ملګري وو چې څلور مختلف کارونه یې کول. یو پکې جولا و، بل ترکاڼ و، درېیم زرګري کوله او څلورم به سندور خرڅول. دوی به هره ورځ د ماښام خوا ته په یوه ځنګل کې سره لیدل او مجلس یې سره کاوه.

په دغسې مجلسونو کې یو ځل دوی د ورځني ژوند له سختیو او بې خوندیو شکایت وکړ. جولا وویل، «ژوند ستومانوونکی دی. زما کړی ورځ په تارغړولو او ټوکر اوبدلو تېره شي.» سندور خرڅوونکي وویل: «زه هم ستومانه یم. زه هر سهار له عمده فروشه سندور رانیسم او بیا ټوله ورځ کلي په کلي ګرځم، خرڅوم یې، دا


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مې حال دی.» ترکاڼ وويل، «زه نو کله اسوده وم؟ ټوله ورځ مې په دې تېره شي چې هله لرګي وتراشه او يو څه ترې ساز کړه.» زرګر وويل: «زه هم ستاسې په شان يم، ټول وخت مې د زرو په اوبه کولو او ګېڼې جوړولو تېر شي خو يوه مې نه دوه کېږي، په رښتيا چې ستړی يم.»

نو څلورو واړو سره وويل چې ښار ته به لاړ شي، نوی ژوند به پيل کړي. دوی پرېکړه سره وکړه چې دغه شپه به په ځنګل کې تېروي او سبا سهار وختي به د نوي ژوند په لټه ښار ته ځي، خو د دې لپاره چې په ځنګل کې له ځناورو ساتلي وي، هر يو به په نوبت پېره وکوي.

د پېرې اول نوبت د ترکاڼ و. نور وېده شول او دی د ډېوې رڼا ته وېښ پاتې شو. دغه وخت ده د وچ لرګي يوه ټوټه وليده، هغه يې وتراشله، د يوې ښځې مجسمه يې ترې جوړه کړه، د ونې لاندې يې کېښوده، زرګر يې راوېښ کړ چې د پېرې نوبت تېر کړي او خپله ويده شو.

زرګر چې تر ونه لاندې د لرګيو مجسمې ته وکتل، ډېره ښکلې ور ښکاره شوه، فيصله يې وکړه چې ګېڼه ورته سازه کړي. نو د هغې غاړې ته يې د سرو زرو غاړکۍ جوړه کړه، د هغې لاسونو ته يې بنګړي واچول او د هغې غوږونو ته يې والۍ سازې کړې. چې د مجسمې له پسوللو فارغ او د پېرې وخت يې پوره شو، جولا يې راوېښ کړ، پخپله څملاست.

جولا چې د ونې لاندې د لرګيو پسوللې مجسمه وليده، سخت خوند يې ورکړ، رااوچته يې کړه، په لاس کې واړوله، راواړوله او له ځان سره يې وويل: «دې ته لباس پکار دی.» جولا سمدستي لاس په کار شو، ساړی يې جوړه او مجسمې ته يې ورواغوستله. اوس نو مجسمه لا ښکلې ښکارېده. د جولا د پېرې نوبت چې پوره کېده، د ساړي مېرمن يې تر ونې لاندې کېښنوله، سوندور خرڅوونکی يې راپاڅاوه او خپله څملاست.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## ځنګل (څلور سوه حکایتونه)

سوندور والا چې تر ونې لاندې د ساړې مېرمن ولیده، له ځان سره یې وویل: شهکار دی، شهکار، د هنر شهکار! او بیا یې سره سا وایسته، ، ارزو یې وکړه چې: «کاشکې مې داسې ښکلې ښځه په نصیب شي.» ده له خپلې کڅوړې یوه ټوټه سوندور را وایستل، په ډېر شوق یې د هغې په تندي کېښودل او دغه وخت ناڅاپه په مجسمې کې سا وچلېده، راژوندی شوه، په یوې ښکلې پېغلې بدله شوه. پېغلې ده ته وکتل، شونډې یې موسکې شوې.

نور نو د سهار رڼا خپره وه او ویده ملګري هم راپاڅېدل او د نجلۍ په لیدو د هره یوه زړه وغوښتل چې واده ورسره وکړي. هر یوه ویل چې که د ده هنر نه وای، مجسمې به خدایزده چې سا اخیسته. د دوی اختلاف د حل کېدو نه و. یو چا ته چې د جرګو، مرکو سړی و، په شریکه ورغلل، کیسه یې ورته وکړه. هغه ورته وویل: په دې پېښه کې ترکاڼ د نجلۍ د پلار حیثیت لري، زرګر چې ګېڼه ورته برابره کړې ده، د هغې د تره په شان دی، جولا چې جامې ورکړې دي، د هغې ورور کېږي او دا د هغه چا ناوې ده چې د دې په تندي باندې یې سندور اېښي دي.

لانجه ختمه شوه. نجلۍ سندرو خرڅوونکي ته ورواده شوه. دوی دواړه له یو بل سره ډېر خوشاله وو او د څلورو ملګرو په ملګرتوب کې هم کمی رانغی.

## خزانه

بزګر په پټي کې یوې کوله چې ناڅاپه یې د ژغ څوکه له یوه کلک شي سره ولګېده، کرنګ اواز یې شو. بزګر ته سوال پیدا شو چې دا به څه وي؟ ده یوې بس کړه، کلکه مځکه یې یو څه وکینستله، که ګوري هلته دوه لوی له طلا ډک بکسونه خښ دي. د بزګر له خولې، چې دومره ډېر ثروت یې په خوب هم نه و لیدلی، ناڅاپه ووتل: دا څه وینم!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بزګر خپل ذهن ژر راټول کړ او له ځانه یې وپوښتل چې څه باید وکړي؟ اول یې فیصله وکړه چې سمدستي یې کور ته یوسي خو بیا دوه زړې شو چې که یې مېرمن دا راز ونه ساتلی شي او نورو ته یې له خولې ووځي، هغوی به د راز د ساتلو په بدل کې خامخا خپله برخه وغواړي.

بزګر له ډېر فکره وروسته دې نتیجې ته ورسېد چې حاضر دمه به په خزانه بېرته خاورې واړوي چې د چا ورپام نه شي، پخپله به کور ته لاړ شي، مېرمن به امتحان کړي چې لوی راز ساتلی شي، که نه؟ که یې ساتلای شوی، خزانه به بیا په بې غمه زړه کور ته یوسي.

دی چې کور ته راغی، مېرمن ته یې وویل: یوه عجیبه خبره مې اورېدلې ده خو ګوره، ګوره چې چا ته ونه وایې؟ مېرمن یې ورته وویل: ولې به وایم؟ څه خبره ده؟ ده ورته وویل: قول به راکوې چې راز به پټ ساتې، ځکه ډېره، ډېره پټه خبره ده! هغې کلک قول ورکړ او ده غوږ ته خوله ورنږدې کړه، ویې ویل: د پاچا په ګېډه کې کیشپ دی.

ښځې بیا هم ټینګار وکړ چې هیچا ته به نه وایي، خو چې څنګه بزګر د غرمې له ډوډۍ وروسته خوب یوووړ، دا له کوره راووته، د ګاونډې ښځې ته یې وویل: خبره یې که نه یې؟ د پاچا په ګېډه کې کیشپ دی!

خبره لکه د سرې اور خپره شوه، لور په لور لاړه، پاچاهي ماڼۍ ته ورسېده او ان پخپله پاچا واورېدله. پاچا ډېر په قهر شو، وزیر ته یې امر وکړ چې هغه څوک باید خامخا ومومي چې اوازه یې اچولې ده. وزیر دا اوازه له خپل ملګري او ملګري یې له یوه دوبي اورېدلې وه. دوبي ته خبره خپلې ښځې کړې وه، هغې ته خپلې خور کړې وه.... او لنډه دا چې د اوازې اصلي ځای معلوم شو. پاچا په بزګر پسې عسکر واستول. بزګر چې د پاچا عسکر د کور په دروازه کې ولیدل، پوه شو چې راز نه دی



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ساتل شوی، له ځان سره یې وویل: «لعنت دې پر ما وي چې خپلې ښځې ته مې د راز د ساتلو ویل. اوس به د خپلې بې عقلي سزا وینم.»

بزګر د پاچا حضور ته وروستل شو. پاچا چې ډېر په قهر و، پوښتنه ورنه وکړه: «تا ولې دومره احمقانه اوازه اچولې وه؟ اصلي خبره راته وکړه، کنه سر دې غوڅوم!»

بزګر له وېرې رېږد اخیستی و. ده فکر وکړ چې که رښتیا ووایي، ګونډې بچ شي، کنه نو خلاصون یې نشته. پاچا ورباندې چېغه کړه: «ولې دې اوازه اچوله، ولې!!»

بزګر وویل: «صاحبه ما اوازه نه ده اچولې. دا خبره زما ښځې کړې ده.» پاچا وویل: یعنې؟ ده وویل: «ما صاحب غوښتل خپله ښځه امتحان کړم چې راز له ځان سره ساتلی شي، کنه خو...» پاچا یې خبره ورغوڅه کړه، ویې پوښت: «کوم راز؟» بزګر وویل: «صاحب ما له طلاوو ډک دوه منګي موندلي دي.» پاچا چیغه کړه: «له طلاوو ډک دوه منګي؟ چېرته؟» بزګر ته په زړه کې ورتېره شوه چې د منګیو په ورښودلو سره ګونډې یوه برخه طلا ده ته هم ورپرېږدي، نو ویې ویل: «ځای به یې خامخا درښیم خو که یوه ژمنه راسره وکړئ چې نیمې به یې زما وي!» پاچا ورسره ومنله او ده د منګیو ځای وروښود. پاچا د منګیو له لیدلو وروسته باوري شو چې بزګر دروغجن سړی نه دی نو ورته ویې ویل: ته رښتینی انسان یې، د منګیو ټولې طلاوې دې ستا وي!

بزګر سخت خوشاله شو. طلاوې یې کور ته یوووړې او نور یې دې ته اړتیا نه لرله چې د خزانې موندل له خلکو پټ وساتي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# حکیم او شهزاده

په یوه ډېر لرې وطن کې یوه شهزاده عقل بایلود او په ځان یې د چرګ ګومان راغی. دی نور د کوټې په ځای په کوډله (چرغالي، مرغانچه) کې اوسېده. لباس یې نه اغوست او د طلایي بشقابونو ډوډۍ یې نه خوړه، څکه دی چرګ و. یوازې یې د چرګانو دانه خوړه.

پلار یې چې هر څه وکړل، زوی یې روغ نه شو. طبیبان، ملنګان، راهبان، حکیمان، ټول یې په علاج کې پاتې راغلل. په دې منځ کې یوه ورځ یو نااشنا حکیم دربار ته راغی او پاچا ته یې په عاجزۍ وویل: که مو اجازه وي، زه به هم خپله وسه وکړم!

پاچا اجازه ورکړه او حکیم ځان لوڅ کړ، د شهزاده کوډلې ته ننوت، د چرګانو غوندې یې په دانو خوړلو شروع وکړه او د هغوی غوندې یې بانګونه وویل. شهزاده چې ورباندې شکي شوی و، پوښتنه ورنه وکړه: ته څوک یې؟ حکیم ورته وویل: «دا دی وینې مې چې ستا غوندې یو چرګ یم.»
ورو ورو د دوی ملګرتیا ټینګه شوه او قسم یې سره وکړ چې له یو بله به نه بېلېږي.
وروسته بیا حکیم د هغه علاج پیل کړ. داسې چې یو کمیس یې واغوست. شهزاده ورته وویل: ته اوس په رښتیا غواړې چې انسان شې؟ ته څوک یې؟ تا لکه چې ځان هېر کړی دی! لېونی شوی خو به نه یې؟
حکیم په نرمه ورته وویل: «که یو چرګ د انسانانو غوندې کمیس واغوندي، بیا به هم چرګ وي. تشویش مه لره.»
شهزاده یې په خبره قانع شو. په سبا یې دواړو جامې واغوستې.
څو ورځې وروسته حکیم د دربار ډوډۍ وغوښته. شهزاده په قهر ورته وویل: «ځان ته دې پام دی چې څه کوې؟ د انسانانو غوندې ډوډۍ به هم یو چرګ خوړله؟» حکیم

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورته وویل: «هېڅ وخت دا فکر مه کوه چې که یو چرګ د انسانانو ډوډۍ وخوري، له انسانانو سره واوسي او له هغوی سره په دسترخوان کښېني، نو هغه دې انسان شي، هغه به بیا هم چرګ وي.»
شهزاده قانع شو او د انسانانو غوندې ژوند یې له سره پیل کړ.
استاد چې دا کیسه کوله، ویې ویل: «د دې لپاره چې جاهلان له جهله لاس واخلي، کله کله بله هېڅ لاره نه وي، مګر دا چې پوهان د هغوی په خم کې ځان ورنګوي.»

## ابنِ سیرین

ابنِ سیرین یو چا ته وویل: «څنګه یې؟ حال دې راته ووایه!»
هغه ورته وویل: «یو څوک چې ماشومان ورنه په کور کې ډوډۍ غواړي او له ده سره پیسې نه وي او پنځه سوه درهمه هم پوروړنه وربانډې وي، د هغه به څه حال وي؟»
ابن سیرین کور ته لاړ، زر درهمه یې ورته راوړل، ورته ویې ویل: «پنځه سوه درهمه پوروړیو ته ورکړه، پنځه سوه نورې یې ستا د کور د خرڅ لپاره.»
ابن سیرین ته د دومره پیسو ورکړه اسانه نه وه، ځکه زیات شتمن نه و. نو هغه سړی چې لاړ، ویې ویل: «ما باید له دې سړي پوښتنه نه وای کړې.»
نورو ورته وویل: «هغه خو مجبور کړی نه وې، خپله دې ورکړې.» ده وویل: «دا سمه ده چې هغه مجبور نه کړم خو که یو څوک د بل د حال د معلومولو شوق کوي او هغه ورته حال وایي، نو بیا که د مرستې ضرورت وي او مرسته نه کوي، دا په حال اخیستلو کې منافقت دی.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# روحیه

استاده (مهرمن چن) په خپل دفتر کې یوازې ناسته وه. زده کوونکی کوټې ته ورغی، په ماته غاړه یې ورته وویل: په امتحان کې به مې څو نومرې ورېږي وي؟ استادې ورته وویل: نور ټول کامیاب شوي دي خو تا ته یوه نومره بله هم پکار وه چې کامیاب شې.

هلک خواست ورته وکړ: خیر دی، دا یوه نومره راسره لحاظ وکړه.

استادې وویل: زه په نومرو کې د چا لحاظ نه کوم.

هلک په ژړه غوني غږ وویل: که کور ته لاړ شم او مور مې پارچه وګوري، وهي مې.

استاده په دې پوهېده چې اکثرو میندو او پلرونو ته د اولاد ناکامي د زغملو نه وي، خو دې هېڅوخت چا ته خیراتي نومرې نه ورکولې او دا کار یې خیانت باله. له بلې خوا د هلک وهم هم ورته ډېره بده خبره ښکارېده او په دې پوهېده چې وهل د هلک آینده ورتباه کولای شي. خوا یې بده شوه. هلک ورته هماغسې ژړه غونی ولاړ و او دا د حل لارې په فکر کې وه.

په دې منځ کې یې یوه بله خبره په ذهن کې تېره شوه، هلک ته یې وویل: خیراتي نومرې هېڅ وخت هیچا ته نه ورکوم، مګر زه او ته به یو تړون سره وکړو، زه به یوه نومره قرض درکړم، داسې چې په بل ځل امتحان کې که دې هر څو نومرې یوړې، دوه یې په قرض کې درنه کموم، دې سودا ته تیار یې؟

هلک په خوشالۍ ومنله او په راتلونکو میاشتو کې یې د بل امتحان لپاره ډېره خواري وکړه. دی له دې وروسته نه یوازې په لېسه بلکې په پوهنتون کې هم ډېر تکړه شو او په راتلونکو کلونو کې یې د یوه بریالي سوداګر په حیث ډېر شهرت



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وموند. دغه سړی لی کا شینګ نومېږي او د نړۍ یو لوی ملیاردر دی. د نومرو د پور کیسې د هغه ټول برخلیک وربدل کړ.

په ژوند کې ماتې خامخا وي. چې ماته مو روحیه مړاوې کړي، دغه وخت د روحیې د ژغورلو لپاره ځان ته یو څو نومرې پور ورکړئ. ښه روحیه لویو کامیابیو ته لار برابروي.

## یوه پېښه

د نوبل د جایزې د بنسټ ایښودونکي الفرد نوبل ورور لودویګ نوبل چې مړ شو، ورځپاڼو د ده ګومان ورباندې وکړ او ویې لیکل چې د دینامیتو مخترع مړ شو، هغه څوک چې د انسانانو د وژلو لپاره یې خطرناکې وسلې جوړې کړې.

ده چې له مړینې وروسته د ځان په اړه د خلکو قضاوت ولوست، ټکان یې وخوړ او وصیت یې له سره ولیکه، داسې چې ثروت دې یې د بشر د خیر لپاره استعمال شي.

دی اوس د دینامیکو د مخترع په توګه نه بلکې د نوبل د جایزې د بنسټ ایښودونکي په نوم یادېږي.

صرف یوه فیصله هم کافي ده چې برخلیک مو بدل شي او په تاریخ کې خلک په بله سترګه راته وګوري.

## اصل او کم اصل

د پاچا په غمي کې تور داغ پیدا شو. درباریانو یې علت معلوم نه کړ. له شاوخوا خلکو یې پوښتنې وکړې خو هېڅوک نه پوهېدل چې ولې داسې شوي دي. بالاخره یوه ملنګ د پاچا وزیر ته وویل چې د دې شي په علت پوهېږي. ملنګ یې پاچا ته راوست او غمی یې ورښکاره کړ. ملنګ وویل: «د غمي په منځ کې چینجی دی، هغه یې له منځه خوري.» پاچا ته خندا ورغله چې په غمي کې نو څنګه چینجی پیدا کېږي؟ ملنګ په خپله خبره ټینګ و او پاچا ورته وویل: «غمی به مات کړم،



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

منځ به یې وګورم، که چینجی پکې نه و، سخته سزا درکوم.» ملنګ ورسره ومنله، چې غمی یې مات کړ، په منځ کې یې رښتیا یو چینجی و.

پاچا په نوکرانو امر وکړ چې: ملنګ ونازوئ، نن شپه د دربار پاتې شونې ډوډۍ ورکړئ او د شپې یې په پخلنځي کې ځملوئ.

په سبا سهار چې پاچا په خپل ښکلي آس باندې پښه واړوله او ملنګ هم له پخلنځي راووت، پاچا ورته وویل: «زما د آس په باره کې څه فکر کوې؟» ملنګ وویل: «ډېر ښکلی آس دی او ډېر تېز ښکاري خو که سین ووینې، سمدستي ځان اوبو ته اچوي. دغه خوی پکې شته.»

پاچا وویل: «دا خو به همدا اوس تجربه کړو.» آس یې د سین خوا ته روان کړ او چې له اورده مزله وروسته سین راښکاره شو، پاچا په تعجب سره ولیدل چې آس بې ځنډه سین ته ورټوپ کړل.

پاچا نوکرانو ته مخ واړاوه، ویې ویل: «ملنګ به یوه بله شپه هم مېلمه وي، ویې نازوئ!»

هغوی پاتې شونې ورکړه او شپه یې د پخلنځي په کونج کې ورباندې تېره کړه.

په بل سهار چې ملنګ رخصتېده، پاچا ورروغوښت، ورته ویې ویل: «نور په څه پوهېږې، په خپله پوهه مې خبر کړه، بیا لاړ شه!»

ملنګ ورته وویل: «بل په دې پوهېږم چې ته شهزاده نه یې!»

په پاچا یې خبره بده ولګېده، له تخته راپاڅېد، ده ته یې وویل: «همدا اوس څم، مور ته قرآن ورکوم چې رښتیا راته ووایي، که دې دروغ ویلي وو، بیا به درسره جوړ شم.»

پاچا کور ته ننوت. مور ته یې قرآن ونیو چې د ده د اصل نسب په اړه به حقیقت ورته وایي. هغې ورته وویل: «ته د دربار د یوه نوکر زوی یې، د پلار اولاد دې نه



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کېده، چې بوډا شو، وويرېده چې پاچاهي يې مېراته نه شي، نو د دربار د يوه نوکر نوزېږی ماشوم مو کور ته راوړ، اوازه مو واچوله چې خدای زوی راکړی دی!»

پاچا دربار ته ستون شو او ملنګ ته يې وويل: «اوس به دې رخصت کړم، چې هر ځای ځې په مخه دې ښه خو په دې مې پوه کړه چې ته څنګه په دغو خبرو پوه شوې؟»

ملنګ ورته وويل: «هر شی له خپل منځه خرابېږي، د غمي په تورېدو مې هم يقين و چې د خپل ځان چينجی ورته بلا شوی دی او ستا د آس پښو ته چې مې وکتل، څرمن يې صافه نه وه، ويښته يې ډېر وو. په زړه کې راتېره شوه چې ده د کومې مېښې شيدې رودلې دي. د اسونو رمه د مېښو له ګلې سره ډېر ځله يو ځای څري او هغه وخت چې دی بيانۍ و، په رمه کې د کومې مېښې په شيدو اموخته شوی دی. مېښې خو چې اوبه ويني، ور ننوځي. او ستا د نه شهزاده توب راز له دې رامعلوم شو، چې د خپل مېلمه په قدر نه پوهېدې. پاتې شونې دې راکول او په پخلنځي کې دې څملولم.»

## له خره سره بحث

خره وويل: د وښو رنګ سور دی.

لېوه وويل: سور نه دی، زرغون دی.

د دوی بحث اوږد شو. اخر د ځنګله پاچا يعنې زمري ته ورغلل چې فيصله وروکړي. د ځنګل پاچا امر وکړ چې لېوه په غلطه دی، بندي يې کړئ! لېوه ورته وويل: صاحب نو زه سمه خبره نه کوم؟ د ځنګل پاچا ورته وويل: خبره دې سمه ده خو بندي کوم دې په دې ګناه چې له خره سره دې ولې بحث کاوه!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ابلیس

ابلیس له خپلو بچو سره چېرته روان و. په لاره کې یې د سین په غاړه یوه کېږدۍ او
د کېږدۍ په خوا کې یوه مېږمن ولیده چې بې غمه ناسته ده، غوا لوشي.
ده خپلو بچو ته وویل: دلته به یو څه تم شو چې د دغو خلکو ژوند په غم وړککړ
کړم. او له دې خبرې سره سم د غوا په لور ورتاو شو. د غوا د غاړې رسۍ په مړوۍ
بنده وه. ده مړوۍ وخوځاوه. غوا وترهېده، شا ته یې ټوپ کړل، د ښځې له لاسه د
شیدو لوښی چپه شو او د ښځې څنګ ته د هغې د ناست ماشوم سر چې د غوا په
لته ولګېد، مات شو. ښځه راپاڅېده غوا ته یې سوټی ونیو. د هغې مېړه چې له
کېږدۍ راووت، د زوی مات سر، چپه شیدې او د غوا وهل یې ولیدل، قهر ورغی،
د ښځې له لاسه یې سوټی واخیست، دې ته یې ونیو. د ښځې سر هم مات شو. دغه
وخت د ښځې پلار راپیدا شو چې د لور مات سر یې ولید، زوم ته یې کنځل
وکړل...

کیسه لا روانه وه چې شیطان خپلو بچو ته وویل: مور به نور څو، نور دوی پوه شه
او کار یې، خو ما دا درته ویل چې بس په چل کې، ډېر ورو یو مړوۍ وښوروئ،
نور نو د خدای مخلوق په خپله د یو بل ګرېوان ته لاسونه سره اچوي. دغه راز په
مجلس کې یو کس د شیطانت یوه وړه خبره وکړي، خلک د یو بل دښمنان شي او
د هیچا پام نه شي چې اور خو بل چا بل کړی و. زه خو پوهېږم چې اور چا بل کړی
دی مګر په مجلس کې ناستو شیطانت کوونکو ته ځانونه ډېر پاک ښکاري او اکثره
یې تر اخره په دې نه پوهېږي چې څومره اورونه یې بل کړي دي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871207698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دعا

بو چا په بيابان کې سفر کاوه. تږی و، وږی و، ستړی و. بالاخره يې په شګلن بيابان کې ځانګوره ونه وليده چې په څنګ کې يې چينه بهېده. لاروي په خوړو اوبو تنده ماته کړه، په خوندوره مېوه يې د لوږې چاره وکړه او د ونې يخ سيوري ته يې دمه ونيوله.
چې له دمې وروسته راپاڅېد او روانېده، ونې ته يې مخ واړاوه، ويې ويل: له خدايه څه درته وغواړم؟ که بهنده چينه درته وغواړم، لرې يې، که د ښې مېوې دعا درته کوم، ځانګې دې ورنه ډکې دي او که وايم چې په سيوري دې برکت شه! سيوری دې هسې هم برکتي دی، نو زه به له خدايه درته دا وغواړم چې که ستا له زړي بله ونه پيدا کېږي، هغه دې هم ستا غوندې وي!

## شل په شله

دوو معمولي کسانو شل تنه په زور په مخه کړي وو، چېرته يې بيول.
يو چا چې وليدل، تعجب يې وکړ چې دوه تنه څنګه کولای شي، د شلو کسانو غاړو ته رسۍ واچوي او په خپله خوښه يې هر لور ته بوځي.
د اسيرانو له منځه يوه اواز ورباندې وکړ: تعجب مه کوه، دوی که دوه هم دي خو يو لاس دي او موږ شل په شله يوو!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## کوهی

ډېره وچکالي وه. داسې چې په ويالو کې اوبه نه پيدا کېدې او ډنډونه وچ شول. ډېر وچ شوي ډنډ چونګښنو به د اوبو ډېر ارمان کاوه او د اوبو په تمه يې هره خوا سترګې ګړولې. يوه ورځ د کوهي په غاړه تېرېدلې او هلته يې په کوهي کې روڼې اوبه ولېدلې چې لمر ته برېښېدلې. چونګښنو سره وويل: راځئ ځان ورواچوو خو دوی مشرې، تجربه کارې چونګښې پوښتنه ورنه وکړه: که دا کوهی وچ شي، څه به کوئ، څنګه به راوځئ؟ دوی چې د اوبو شوق پسې اخيستې وې، وويل: نه به وچېږي! مشرې ورته وويل: چې ويالې وچې شوې، د کوهي په نه وچېدو ولې زړه وتړو او که بيخي ډاډه هم شو چې نه وچېږي، دا خبره ياد ساتئ چې هېڅکله هغه ځای ته مه ننوځئ چې راوتل يې ستاسې په لاس کې نه وي!

## مکتوب

د حکومت مامور راغلی و چې د کوکنارو د کروندو معلومات وکړي. دی چې په کرونده کې تېرېده، بزګر ورته وويل: «صاحب، احتياط کوه، ډېر مخکې مه ځه...»
ده يې نوره خبره وانهورېده، سمدستي يې له جيبه مکتوب راوايست، په قهر يې ورته وويل: «لوده، زه د وزارت مکتوب لرم!»
بزګر څو دقيقې وروسته مامور وليد چې منډې وهي او چيغې يې دي، وايي: «سپی راپسې دی!» بزګر ورته وويل: «مکتوب ورښکاره کړه!»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د مامون په دربار کې

مامون الرشید له خپل قاضي سره په دربار کې ناست و، دواړو د روژې په لومړي ماښام نرۍ میاشتې ته کتل. دغه وخت یو غټه امسا په لاس سړی چې د پیغمبري دعوه یې کوله، دربار ته راننوت. مامون له قاضي یحیا پوښتنه وکړه چې له دغه سړي سره باید څه وشي؟ قاضي وویل: پیغمبر خو باید معجزه ولري. راغلي سړي وویل: د معجزې ښودلو ته تیار یم. قاضي وویل: ابراهیم خلیل الله اور ته ځان واچاوه، روغ راووت، دا کار کولای شې؟ ده وویل: دا معجزه سخته ده. قاضي بله غوښتنه وکړه: موسی علیه السلام خپله امسا په ځمکه وغورځوله، په ښامار بدله شوه، دا کار کولای شې؟ ده وویل: دا کار راته لا سخته دی. قاضي یحیا وویل:عیسی علیه السلام مړ ژوندی کړی و، دا دې په وس کې دي؟ راغلي سړي وویل: دا کولای شم. خلیفه دې اجازه راکړي چې قاضي ته په دا سر باندې د خپلې امسا یو ګوزار ورکړم، ویې وژنم او له هغه پس یې راژوندی کړم. خلیفه قاضي ته وکتل چې څه بکې وایې. قاضي وویل: ما ومانه، سړی بې څه نه دی! خلیفه د قاضي یحیا د برطرفي حکم وکړ.

## هغه

یو وخت په ټولنه کې یو داسې نېک انسان و چې ان ملایکې یې په لیدلو خوشالېدې او په تعریفونو یې نه مړېدې. دی بزرګ و خو د بزرګي په باره کې یې کله هم فکر نه و کړی. ده نېکي خپروله، لکه ګلونه چې خوشبویي خپروي او دې ته نه ګوري چې خوشبویي چا ته ورکوي؟ په بدل کې یې څه اخلي؟ او په دې کار کې یې ځاني ګټه څه ده؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ده چې به چا ته وکتل، هغه به ورباندې ګران شو. د ده بزرګي په دې کې وه چې د
بل چا بخښل او ګرانول يې د فطرت برخه وه. ده وګړيو ته په همدې شيبه کې کتل.
دا په زړه کې نه ورګرځېدل چې پرون يې داسې کړي وو او سبا به هاسې وکړي.

يوه ورځ يوه فرشته ورته راغله، ورته ويې ويل: ته ولي الله يې او د اولياوو کرامت
حق دی، ته څه ډول کرامت غواړې؟ ايا غواړې چې په دم کې دې تاثير وي او
ناروغان درته راشي؟

ده ورته وويل: شفا بخښونکی خدای دی، دا مې خوښه نه ده چې زه دې تر نورو
زيات شم او زما په دم کې دې يو بېل تاثير وي.

فرشتې وويل: غواړې چې ګناهګاران سمې لارې ته راواړوې؟

ده ځواب ورکړ: زه د دې لايق نه يم چې د خلکو په زړونو اثر پرېباسم، دا د
ملايکو کار دی.

فرشتې ورته وويل: غواړې چې نورو خلکو ته د علم او تقوا په لوی مثال باندې بدل
شې؟

ده وويل: نه، بيا به د خلکو راپام وي.

فرشتې ورته وويل: ته بايد پخپله خوښه کرامت وغواړې کنه نو کرامت درکول
کېږي.

ده وويل: نو چې داسې ده، زما غوښتنه دا ده چې زه دې له نورو سره د نېکي وسيله
وګرځم خو په دې دې پوه نه شم چې دا وسيله زه وم.

خوشاله راوتل اود هغه په ورېادولو به پرېشانو زړونو سکون پيدا کاوه، د هغه له مجلسه به مړاوي کسان
د هغه په ليدو به يوازې شويو احساس کاوه چې يوازې نه دي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297696 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ډېر چټک

د موټروالا پام شول چې یو چا یې دروازه په تیږه وویشته. سخت په قهر شو، موټر یې بریک کړ او پسې راکوز شو. مازدیګر ناوخته و، سوړ باد چلېده، له یوه هلکه پرته هلته نور څوک نه ښکارېدل. موټر والا چیغه ورباندې وکړه: ولې دې موټر وویشت؟ هلک چې رېږېده، په ژړغوني غږ وویل: زما معیوب ورور سره له ویلچره دلته کندې ته لوېدلی دی، زه یې یوازې نه ویلچر ته خېژولی شم او نه یې له کندې راایستلی شم. مرسته غواړم.

موټر والا یو څه نرم شو، ورته ویې ویل: ورور به دې راوباسم، غم مه کوه خو لاس به دې راته نیولی و، موټر به دې په تیږو نه ویشت.

معیوب راوایستل شو او وارخطا هلک چې ارام شوی و، موټر والا ته د مننې په وخت وویل: وبخښه، موټر مې در ژوبل کړ خو ما هر موټر ته لاس ونیو، ټول تېز روان وو، ما ته د هیچا راپام نه شول، ځکه مې تیږې ته لاس کړ. یخني هم ډېره زیاته ده.

موټر والا ورته وویل: کور ته مو رسولای شم.

هلک وویل: خیر یوسې، د هغو ونو شا ته مو کور دی، مونږ خپله تلای شو.

د موټر خاوند چې بېرته په پاخه سړک مزل پیل کړ، له ځان سره فیصله وکړه چې په تیږه باندې داغي شوې دروازه به نه جوړوي، ځکه دغه داغ به ده ته همیشه وریادوي چې: په ژوند کې دومره هم چټک مه ځه چې نور مجبور شي چې ستا د پام د وراړولو لپاره تیږې ته لاس کړي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## له افسوس نه کولو ورو سته

په کلي کې یو داسې سپینږیری اوسېده چې ټول ورنه په تنګ وو. تل به یې تریو تندی نیولی و او همېشه به یې شکایتونه کول. د عمر په تېرېدو سره یې بدبیني کمېده نه، بلکې ډېرېدله او خبرې یې لا ترخې کېدلې. هر چا به هڅه کوله چې ځان ترې لرې وساتي، ځکه د هغه همېشنۍ بدبیني لکه ساري ناروغي نور هم د خپګان په مرض مبتلا کول.

خو په هغه ورځ چې اتیا کلن شو، یوه عجبه پېښه وشوه. اوازه شوه چې بوډا نن خوشاله دی، تندی یې ورین دی، شونډې یې موسکې دي او په مخ کې یې نور پیدا شوی دی.

ټول کلیوال په بوډا راټول شول، بوډا یې وپوښته چې څه پېښه ده؟

هغه وویل: څه خاصه خبره نشته خو بس دومره ده چې اتیا کاله مې په نېکمرغۍ پسې بې فایدې سرې ساوې وایستلې، نن چې اتیا کلن شوم، له ځان سره مې پرېکړه وکړه چې خوشالۍ پکار مې نه یې، نوره دې نه غواړم، نور نه درپسې ژاړم، نور غواړم ارام واوسم. او چې همدا پرېکړه مې وکړه، ارام شوم، ژوند مې بې غمه شو.

## حوصله مه بایله!

یو وخت یو بوډا چې په کاروبار کې یې تاوان کړی او دوپه شوی و، د حکومت په خیراتي پیسو ژوند کاوه.

په پنځه شپېته کلنۍ کې یې د احتیاجۍ له ژونده د راوتلو هوډ وکړ. په دې باره کې یې فکر شروع کړ چې څه کولای شي؟ په دې منځ کې یې ملګرو ورته وویل چې د چرګ پخولو طریقه دې ډېره ښه ده. دی د کنټاکي له ایالته راووت چې د نورو



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ځایونو په رستورانتونو کې د خپلې طریقې چرګ پخولو ته خریدار ومومي. ده به بې پیسو او بې تنخواه چرګان پخول چې ګوندې څوک راضي شي خو چې هر چا ته به ورغی، هغه به یې طریقه خوښه نه کړه. تر زر ځله یې ډېر منفي ځواب واورېد مګر حوصله یې ونه بایلله او ناکامي یې ونه منله. ده د مثبت ځواب تر اورېدو مخکې یو زر او نهه ځله منفي ځوابونه واورېدل.

د ده د چرګ پخولو طریقه بالاخره نورو ورسره ومنله او اوس د دنیا په ګوټ، ګوټ کې د کنتاکي سره کړي چرګوړي چې په کې، ایف، سي مشهور دي، ډېر مشتریان لري.

د کې ،ایف، سي رستورانتونه په کابو هر ملک کې شته.

مه نهیلی کېږه او په ځان باور ولره!

## انصاف

په تېرو هېرو زمانو کې چې ځناورو او مرغانو هم خبرې کولې، یو تږی مرغه په چینه ورکوز شو خو هلته یې دوه ماشومان ولیدل چې اوبه څښي. مرغه د چینې د غاړې د ونې په څانګه کېناست او د ماشومانو تلو ته منتظر پاتې شو. د ماشومانو له پاڅېدو سره سم، یو بوډا راغی چې اوبه وڅښي. مرغه ډېر تږی و او بوډا چې سپینه، اوږده ږیره یې وه، ډېر نوراني ښکارېده. مرغه له ځان سره وویل چې دی ډېر بې ازاره سړی ښکاري، نور صبر نه دی پکار، زه به هم ورکوز شم. خو چې څنګه مرغه د چینې په بله غاړه اوبو ته کېناست، بوډا ګاټي ته لاس کړ، مرغه یې په سر باندې وویشت، ړوند یې کړ.

مرغه حاکم ته ورغی، شکایت یې وکړ. حاکم امر وکړ چې د بوډا یوه سترګه باید ړنده شي. مرغه وویل: نه، نه، نه، سترګې یې څه ګناه کړې ده، ګناه یې توله په ږیره



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کې وه چې تېر یې ایستلم، که انصاف کوې، بېره ورباندې وخرېبه، چې زما
غوندې نور ورباندې تېر نه وځي.
حاکم ته د مرغه خبره پخه ښکاره شوه.

## حقیقت

بزرګ له خپلو مریدانو سره تر ونې لاندې په چوتره ناست و چې یو سړی راغی، پوښتنه یې ورنه وکړه: حقیقت شته؟ بزرګ ورته وویل: خامخا. وروسته بیا بل سړی راپیدا شو او همدا پوښتنه یې وکړه. بزرګ ورته وویل: نه. شېبه نیم پس درېیم سړی راغی او همدا د حقیقت د شتون پوښتنه یې وکړه. بزرګ ورته وویل: نه پوهېږم، شاید وي او یا نه وي.

درېیم سړی چې ووت، مریدانو یې د مختلفو ځوابونو د علت پوښتنه ورنه وکړه. ده ورته وویل: حقیقت ته د خلکو د رسېدو لاره یوه نه ده. ځینې د شک، ځینې د داډ او ځینې د انکار له لارې حقیقت ته رسېږي.

## لاره

ورشو ته د رسېدو لپاره د ځنګله له منځه تېرېدل پکار وو. سخوندر بې له دې چې وګوري ځنګه په اسانه واوړي، په ځنګله کې څو ځایه تاو راتاو شو او له سخت مزله وروسته ورشو ته ورسېد. په سبا سخوندر ټوله ګله په همدې پرونۍ لاره پورې ایستله. ورو ورو دا لاره د ریښتیا لاره شوه. که څه هم کږه وږه وه او که څه هم بې ځایه اوږده وه خو د تلو راتلو په وجه لارې ته ورته شوې وه او بنیادمانو هم ورباندې تګ راتګ شروع کړ.

یو وخت په ورشو کې کلی ودان شو. کلیوالو به په همدې لاره چې سخوندر پرانیستلې وه، تګ راتګ کاوه او چې ډېر کلونه وروسته کلی په ښار بدل شو، بیا به هم ښاریانو سره ویل: هوښیار په مغد لاره ځي چې پلار او نیکه یې ورباندې تللي وي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بو ماښام چې مرغان د ونو په دنګو څانګو کې په خپلو ځالو کې ناست وو، زاړه ځنګل ورته وویل: عجب مخلوق دی، لنډه، اسانه، سیده لاره به نه مومي او په اوږدې، کږې، زړې لارې به سر وي، وايي به چې دا خو زموږ د مشرانو لاره ده.

# اویسِ قَرَني

اویس قرني د پېغمبر(ص) د زمانې یمنی عارف و. ده به اوښان څرول او د خپلې نابینا مور او ځان ډوډۍ یې له دې درکه برابروله. هسې وايي چې د پېغمبر(ص) د لیدلو لپاره یې مدینې ته د تلو نیت وکړ او له مور بي بي یې د سفر اجازه وغوښته. هغې ورته وویل، تلای شې خو په دې شرط چې په مدینه کې به تر نیمې ورځې ډېر وخت نه تېروې. دی له یمنه مدینې ته لاړ، د هغه مبارک کور ته ورغی، خو هغه مبارک په مدینه کې نه و او لیدن یې ونشو.

اویس د خپلې تواضع له کبله او شهرت ته د نه توجه په وجه عربو شاعرانو (په ځمکه کې ناپېژاند خو په اسمان کې پېژندل شوی) بللی دی. په تصوف کې اویسیه طریقه د مرید او مراد مخامخ او فزیکي رابطه ضرور نه بولي، معنوي رابطه کافي ګڼي.

روایت دی وايي له اویس قرني پوښتنه وشوه چې رحمت څه در ډالۍ کړي دي؟ ده په خواب کې وویل: «چې سهار راوېښ شم احساس کوم لکه داسې څوک چې یم چې په دې نه پوهېږي چې تر ماښامه به ژوندی یم.»

پوښتونکي ورته وویل: په دې نو هر څوک پوه نه دي؟

ده ورته وویل: «ټول پوه دي خو ټول یې نه احساسوي. هېڅوک هېڅوخت د شرابو کلمې مست کړي نه دي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د خضر د لیدلو کیسه

پاچا چې حکومت یې له ډېرو ستونزو سره مخ و، د خضر د لیدلو ارزو وکړه. د خضر په اړه ویل شوي دي چې بزرګ او حکیم دی، د حیات اوبه یې څښلي دي او تر قیامته به ژوندی وي. د پاچا تمه وه چې د خپل حکومت د مشکلاتو په اړه به مشوره ورنه وغواړي.

په خلکو چې به بده ورځ راغله، د خضر د لیدلو دعا به یې وکړه او هغه به په شنو جامو کې ورڅرګند شو چې تسل ورکړي او لاره ور وښیي. جارچیانو ټول خلک خبر کړل چې که هر چا خضر پاچا ته ور ښکاره کړ، په بدل کې به د دربار له خوا له خپلې خوښې او اړتیا سره سم انعام واخلي.

د پاچا په رعیت کې یو ډېرغریب سړی چې د خپلو پورونو د پرې کولو لاره یې نه لیدله او د اولاد د بېګا ډوډۍ ته حیران و، د اعلام له اورېدلو وروسته سمدستي دربار ته لاړ، پاچا ته یې وویل چې د زرو دینارو په بدل کې به خضر وروښیي.

پاچا ورته وویل: پیسې به همدا اوس درکړم خو خضر به په ځلوېښت ورځې کې راښکاره کوې، کنه نو سر دې غوڅوم.

غریب سړي شرط ومانه او له پیسو سره خوشاله کور ته ستون شو. په دغو پیسو د ده ټولې ستونزې اوارېدلې. پورونه یې پرې کړل، د کور اړتیاوې یې پوره کړې او د برخلیک په انتظار کېناست.

په ځلوېښتمه ورځ غریب سړي خپله مېرمن خبره کړه چې پیسې یې په کوم شرط پیدا کړي دي. ده زیاته کړه: «زه راضي یم. پورونه مې ختم شول او کورنۍ مې له احتیاجه راووته. اوس که اعدام هم شم، غم یې نه لرم.» مېرمن یې ژړل او ده ورسره خداي پاماني وکړه او له ژمنې سره سم دربار ته ولاړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پاچا ورته وویل: څلویښت ورځې خو پوره شوې. خضر به راښکاره کړي؟

غریب سړي ورته وویل: «اې پاچا، ستا اوس رښتیا یقین و چې زما غوندې یوزلی، معمولي سړی به خضر دربانديې وویني؟ زه پوروړی وم، مسکین وم، کورنۍ مې د یګا ډوډۍ ته محتاجه وه. په هغو زرو دینارو مې مشکلات اوار شول. اوس له ژمنې سره سم راغلی یم چې اعدام شم.»

پاچا پخوا له دغسې مسالې سره نه و مخ شوی. نو خپل څلور واړه وزیران یې راوغوښتل چې مشوره ورسره وکړي. وزیران چې د پاچا شاوخوا دریدل، یو بوډا هم تالار ته رانوت، غلی ودرېد.

پاچا وویل: وزیرانو، راته ووایاست، له دغه سړي سره اوس څه وکړم؟

لومړي وزیر وویل: دی د دې مستحق دی چې غوښه یې په بیاتي باندې ټوټې، ټوټې شي.

دویم وزیر وویل: د نانوای تنور ته یې واچوئ او تر هغو پورې دې هلته وي چې هډوکي یې هم ایره شي.

دریم وویل: که په پاکي باندې ذره، ذره شي، هم کمه ده.

خو څلورم وزیر وویل: دغه سړی ما ته مجبور ښکاره شو، نه مجرم. زما وړاندیز دا دی چې ویې بخښئ او یو څه نورې پیسې هم ورکړئ چې په خپلو پښو ودرېږي او نوی ژوند پیل کړي.

پاچا د وزیرانو د خبرو له اورېدو وروسته په ګوښه کې ولاړ بوډا ته پام شول، ورته ویې ویل: بوډا ته هم څه یکې ووایه!

بوډا وویل: «داسې ښکاري چې لومړنی وزیر پخوا خیاط و، ځکه ذهن یې له بیاتي سره بوخت دی. دویم وزیر به په اصل کې نانوای و، ځکه یوازې تنور ورياد شو او دریم وزیر هم د سلمانیتوب سابقه لري، ځکه فکر یې په پاکي کې و. خو څلورم وزیر د مرګ او جزا په فکر کې نه و، بلکې د ژوند د بچولو ارزو یې لرله، دی په

**ځنګل** (څلور سوه حکایتونه)

رښتیا د وزارت وړ دی. دغه بیوزلی سړی چې تا ته راغی او شرط یې درسره ومانه، نهایت مجبور و. دی د خپلې کورنۍ د بچولو لپاره له خپل سره تېر شو. ته اوس وګوره چې ده خضر ځنګه در ښکاره کړی دی.» او بوډا ناڅاپه له سترګو غایب شو. هغه خضر و.

# د منې ونه

استاد وویل: دې ونې ته وګورئ، شاید پنځه سوه منې پکې وي او په هره منه کې شاید پنځه دانې، دا ولې؟ د څو نویو ونو لپاره دومره دانو ته څه ضرورت دی؟

دلته طبیعت مونږ ته یو سبق راښیي او راته وایي چې اکثره دانې هېڅوخت وده نه کوي.

نو که غواړئ چې یو څه وشي، تر یو ځل ډېره هڅه کوئ.

سلو ځایونو ته به ځې چې یو ځای کار ومومې.

سل کسان به پېژنې، چې یو پکې د رښتیا ملګری شي.

په لسګونو ځله به غلط لیکل کوې چې اخر یې سم ولیکې.

په څلونو به لوېږې چې په لاره تلل زده کړې.

او بالاخره په څلونو به ماتېږې چې کامیابي دې په نصیب شي.

# عادت

ملا نصرالدین ته زوی وویل: څومره وخت به بېوزلي یوو؟

ملا ورته وویل: څلوېښت ورځې.

زوی یې وویل: یعنې بیا به شتمن شو.

ملا ورته وویل: نه بچیه، عادت به شو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## رڼایي

یو بندي ډېر کلونه په کوټه قلفي کې تېر کړل. په دې موده کې یې نه څوک ولیدل او نه یې له چا سره خبرې وکړې. خواړه به د دېوال په منځ کې د دریځې له لارې ورکول کېدل.

یوه ورځ یو مېږی کوټنۍ ته ورغی. بندي په دقت ورته کتل چې څنګه په کوټه کې ګرځي. بیا یې هغه په لپه کې واخیست چې ښه ورته وګوري. د ډوډۍ دوه بڅري یې ورکړل او د شپې له خوا یې خپل فلزي ګیلاس ورباندې کېښود.

له مېږي سره ډېرې ورځې بوخت و. یوه ورځ یې ناڅاپه په ذهن کې ورتېر شول چې د انزوا لس کلنه موده ورته پکار وه چې سترګې یې د یوه مېږي ښکلا ته پرانیستل شي.

د پسرلي یو مازدیګر و چې د اسپانیایي انځورګر اِل ګریکو لیدلو ته د هغه یو ملګری ورغی او هغه یې په تیاره کوټه کې ولید. ټولې پردې کش شوې وې. ملګري یې ورته وویل: راځه د باندې ووځو چې لمر ووینې. انځورګر ورته وویل: لمر به هغه رڼا راګډه وډه وکړي چې په باطن کې مې شغلې ښندي، اوس نه وځم.

## همدا اوس

حکیم د یوه جاپاني جنګیالي کیسه وکړه چې ونیول شو. د شپې یې خوب والوت ځکه یقین یې و چې سبا به یې دښمن شکنجه کړي خو وروسته بیا د خپل مرشد خبره وریاده شوه چې «په همدې شېبه کې اوسه، ځکه همدا شېبه واقعي زمانه ده او سبا خیالي ده.» جنګیالي د دې خبرې وریادولو ارام کړ او خوب یوووړ.

حکیم وویل: په اسمان کې مرغانو او د مځکې په مخ ګلونو ته ګورئ چې پوره پوره په حال کې اوسي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ډينګ او ګيدړه

ډينګ او ګيدړه له ډېر وخت راهيسې د يو بل ګاونډي وو خو يو بل يې ښه نه اېښېدل. په مځکه باندې د ډينګ مښوکه وهل او ټک ټک کول په ګيدړې ښه نه لګېدل او ډينګ ته بيا د ګيدړې ځير ځير کتل او بل ښارل ښه نه ښکارېدل.

يوه ورځ ګيدړې له ځان سره وويل چې راځه په ډينګ باندې ريشخند ووهه، نو هغه ته يې د مېلمستيا بلنه ورکړه. ډينګ تعجب وکړ خو بلنه يې ومنله او د ګيدړې غرمنې ته ورغی. ګيدړې په اوارو بشقابونو کې پاسته غونډې خواړه پر مېز اېښي وو چې د ډينګ به مازې مښوکه ورباندې ککړه شوه، را اوچتولی يې نه شوای.

ګيدړې ځان ناګاره اړولی و، خپل خواړه يې په خوند خوند خوړل او په دې منځ کې به يې کله کله په ډينګ هم اواز وکړ: که کم وي، نور به راوړم؟

ډينګ ډېر وځورېده. د ډوډۍ خوندور بوی يې اشتها زياته پارولې وه خو وږی پاتې شو او چې ځنګه کور ته راغی، له ګيدړې د بدل اخيستلو په فکر کې شو. ټوله شپه په همدې فکر کې و. اخر يې يو پلان جوړ کړ. په بله ورځ سهار ګيدړې ته ورغی، ورته ويې ويل: تاسې زما ډېر عزت وکړ، ډېره ښه مېلمستيا مو وه، که زحمت نه وي، نن غرمه به زما مېلمنه شې!

ګيدړه وشکېده چې دی هم څه چل کوي خو مېلمستيا ته ورغله او چې ځنګه يې په لوښو باندې سترګې ولګېدې، د ډينګ په چل پوهه شوه. ډينګ د نريو ګيلاسونو په شان لوښو کې خواړه اچولي وو چې يوازې د ډينګ مښوکه وررسېده. ده خپلې مېلمنې ته وويل: مهرباني، نوش جان!

خو دهغې خواره کې اوربوز په نريو لوښو کې نه ځاييده. هغې يوازې ډوډۍ بوی وله او ډينګ مزې کولې.

په هغه شپه ګيدړه وږې کور ته ستنه شوه خو يو مهم درس يې زده کړ: مه کوه په چا چې وبه شي په تا!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# چرګ او ګیدړه

سهار و. لمر د اسمان له څنډې تازه تازه څرک واهه. ښکلې ورځ پیلېدله. چرګ د دېوال په سر بانګونه کول.

دغه وخت یوه ګیدړه راپیدا شوه. د چرګ په لیدو یې خوله اوبه اوبه شوه. په زړه کې ورته شوه: چې دی غلط نه کړم، هوښیاره ګیدړه به نه یم، بې عقله خره به یم!

نو چرګ ته یې وویل: چرګه وروره ستړی مه شې! نن څومره ښکلې ورځ ده!

چرګ چې هره ګیدړه یې دښمنه وه، د هغې په لیدو ووېرېده، ځان یې په دېوال پورې کلک کړ، په چورت کې لاړ.

ګیدړې په نرمه غاړه ورته وویل: زما په لیدو ولې خپه غوندې شوې. زه دې دومره بده ایسم؟ راځه چې نور سوله سره وکړو او اختلافات پرېږدو.

خو چرګ چې د دېوال له سره په شک شک ورکتل، غلی پاتې شو.

ګیدړې ورته وویل: اوس څه ته په دېوال ناست یې؟ په شک ولې راته ګورې؟ د چا خوا بده شي، څوک داسې نه کوي! تر کله پورې شکونه اوخپګانونه!

ګیدړې چې د چرګ شکي حالت زړه ور تنګ کړی و، د هغه د تېرایستلو لپاره دا هم ویل: خبر نه یې چې د ځناورو پاچا سوله اعلان کړې ده؟ پاچا دا وظیفه ما ته راکړه چې کلي ته راشم او په ټولو دغه زیری وکړم. نو هله، راکوز شه چې یو بل په غېږ کې سره ونیسو، روغه جوړه وکړو، هله!

خو چرګ ونه خوځېد. ګیدړې ورباندې ناره کړه: ژر کوه! زه خو باید نور ځناور هم خبر کړم، دومره وخت کله لرم!

چرګ له ځان سره وویل: دې ته لکه چې زه ډېر کم عقل ښکارم. زه یې باید پوه کړم چې کم عقل څوک دی!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**ځنګل** (څلور سوه حکايتونه)

نو ناڅاپه يې ځان په دروغو خوشاله وښود، کوځر يې وټپول او چيغه يې کړه: څومره ښه زېرى، شکر چې سوله وشوه، ما په ټول ژوند کې دومره ښه زېرى نه و اورېدلى، سم جشن بايد جوړ کړو!

د ګيدړې تمه پيدا شوه چې چرګ به اوس راکوز شي خو هغه بلې خوا ته غاړه اوږده کړه او په داسې انداز لکه بله د خوشالۍ خبره چې هم وي، ويې ويل: «څومره ښه، څومره ښه، د سولې نور زېري کوونکي هم راروان دي، رانږدې کېږي، په شريکه به د سولې جشن لمانځو، شکر چې دښمنۍ ختمې شوې، دا دى رانږدې شول، بل څوک نه دي، دوستان دي، سپي دي.»

ګيدړه چې د سپيو دښمنه وه، د سپي د نوم له اورېدو سره وويرېده، ژر يې وويل: زه بايد لاړه شم!

د چرګ سا سمه شوه. خو ګيدړه چې لږ وروسته پوه شوه چې سپي نشته او چرګ تېر ايستلې ده، خپلې کم عقلۍ ته غوسه شوه. په دې ځکه ټوکه وشوه چې ځان تر بل چا هوښيار ورښکاره شوى و.

هغه څوک خامخا غلطېږي، چې ځان تر نورو هوښيار ګڼي.

## غل او مرشد

يوه شپه د مرشد کوچون جونګړې ته غل ورغى، ورته ويې ويل: پيسې دې راوښيه، کنه وژنم دې! مرشد په ارامو اعصابو ورته وويل: زما پيسې هغلته دي، وابې خله خو د سبا د ډوډۍ لپاره څه راپرېږده. غله، چې ورسره په عذاب شوى نه و، نوکى پيسې ورپرېښودې او چې روان شو، کوچون اواز پسې وکړ: مننه رانه وکړه چې پيسې مې درکړې! غله مننه وکړه او په منډه له وره ووت.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

څه موده پس غل د یو بل کور د غلا په وخت ونیول شو. پولیسو ته یې د کوجون له جونګړې په غلا هم اعتراف وکړ. پولیسو کوجون وروغوښت، ورته ویې ویل: ده ستا له کوره هم غلا کړې ده؟
کوجون وویل: نه، ما خپله ورته وویل چې پیسې واخله او تشکر یې هم رانه وکړ.
غل چې د بند له کلونو وروسته ازاد شو، کوجون ته ورغی، مرید یې شو.

## شپږم نمبر قانون

د دوو هېوادونو صدراعظمان په یوه کوټه کې ناست وو او د دواړو هېوادونو په سیاسي اړیکو یې خبرې کولې. په دې منځ کې ناڅاپه یو قهرېدلی سړی کوټې ته رانوت، چیغې یې وهلې او مېز یې په سوک واهه. کوربه صدراعظم ورته وویل: «ښاغلی پیتر، لطفا شپږم نمبر قانون مه هېروه!» له دې خبرې وروسته پیتر سمدستي کرار شو، بخښنه یې وغوښته او له کوټې ووت.
صدراعظمانو بېرته خپلې خبرې شروع کړې خو شل دقیقې به لا نه وې تېرې چې یو بل قهرېدلی راغی، پښې یې په مځکه مځکه وهلې، له خولې یې ناړې بادېدلې، سپکې سپورې یې ویلې. کوربه صدراعظم ورته وویل: «ښاغلی یوهان، لطفا شپږم نمبر قانون مه هېروه!» یوهان هم د دې خبرې له اورېدو سره غلی شو، بخښنه یې وغوښته، ووت.
کله چې په درېیم ځل دغسې وشول، مېلمه صدراعظم خپل کوربه ته وویل: صدراعظم صاحب، ما په ژوند کې ډېر څه لیدلي دي خو ستاسې د شپږم نمبر قانون په اندازه یې نه یم حیران کړی، که کېدای شي راته وواته ووایاست چې په دې کې څه راز دی؟
کوربه صدراعظم ورته وویل: شپږم نمبر قانون وایي چې «ګوزاره کوئ، ډېر مه جدي کېږئ!»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مېلمه وويل: بس همدومره؟

کوربه وويل: بس همدومره.

مېلمه وويل: دا خو ډېر عالي قانون دی، نور قوانين مو څه دي؟

کوربه وويل: نور قوانين نلرو، ضرورت ورته نشته.

## درې غله

و نه و يو وخت په يوه ښار کې درې غله وو چې په شريکه به يې د غلا بندوبست کاوه او په شريکه به يې حرامې پيسې نوش جان کولې. دوی به ډېری وخت خلک څارل چې له چا سره ډېرې پيسې دي. که به څوک دوکان ته لاړ چې سودا واخلي، دوی به د سترګولاندې ورکتل چې پيسې ورسره کمې دي، که ډېرې؟ که به ډېرې وې، په هغه پسې به روان شول او چې هغه به په يوه ګوښه ځای کې تېرېده، د دوی يوه انډيوال به په اوږه وواهه. هغه سړي به مثلا ورته وويل: «دا څه کوې، لارې نه ګوره!»

غله به ورته وويل: «ته لارې ته ګوره، څه د پلار سړک خو دې نه دی!»

هغه سړي ته به قهر ورغی، وبه يې ويل: «عجب سړی يې، ته مست يې که لېونی؟»

غله به ورته وويل: «پلار به دې لېونی وي.» او لاس به يې ورواچاوه.

دغه وخت به هغه نور دوه غله راپيدا شول او لکه بيخي چې خبر نه وي، پوښتنه به يې وکړه: «خيريت دی، ولې سره جنجال کوئ؟» او چې د دواړو خواوو خبرې به يې واورېدې، د پيسو د ښبنتن ملګرتوب به يې شروع کړ. خو لومړی غل به نه ايسارېده، نبغ، نبغ به کېده او پټکې به يې کولې. د پيسو د ښبنتن چې به ټول پام د هغه نارو سورو ته و، دې نورو به بې له دې چې دی په ځان پوه شي، پيسې ترې وشوکولې.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دوی د غلا بله طریقه دا وه چې یو به یې د سودا په پلمه دوکان ته وخوت او نور دوه به له دوکانه بهر چېرته ولاړ وو. دوکان ته ورغلي غله به په رښتیا یو څه سودا وکړه خو اصلي مقصد به یې دا و چې د دوکاندار د پیسو ځای په نخښه کړي. دی به د پیسو د ځای له معلومولو وروسته را ووت او یو بل غل به دوکان ته ورغی، سودا به یې وکړه خو لکه د پیسو ورکړه چې یې هېره شوې وي، ارام به راووت، روان به شو. دوکاندار به اواز پسې وکړ او دی به لکه څه چې نه اوري، بې غمه روان و. دوکاندار به مجبور شو، له دوکانه به پسې راووت، را ا یسار به یې کړ. هغه به بخښنه وغوښته او د بیې پوښتنه به یې وکړه. دوکاندار که به مثلا پنځوس ورته وویل، ده به شلګون را وایست، وبه یې ویل: «نه تر شلو پورته نه ارزي» او روان به شو. دوکاندار به په غوسه شو چې خپل مال مې دی، نه یې خرخوم، غله به ورسره دلیل وواېه او د دوی د کشمکش په وخت کې به هغه اول غل دوکان ته وخوت، په پیسو به یې لاس تېر کړ، په خپله مخه به لاړ او چې هغه به ځان وایست، درېیم غل به رامخکې شو، د دویم غله او دوکاندار په لانجه کې به منځګړی شو، مال به یې بېرته دوکاندار ته وسپاره. دوکاندار به چې تر څو پوهېده چې په دوکان کې یې پیسې وهل شوي دي، غله به د ښار په بل سر کې وو.

دغو دریو د غلا نور چلونه هم لرل خو لکه څنګه چې هر غل اخر رسوا کېږي، دوی هم ونیول شول او د ښار حاکم امر وکړ چې په خره باندې دې سرچپه سپاره، کوڅه په کوڅه وګرځول شي چې ټول خلک یې سم وپېژني.

په تېرو زمانو کې چې نفوس کم او ښارونه کوچني وو، په خره باندې د چپه سپرېدو په وجه ټولو خلکو وپېژندل او نور نو دلته ورته غلا او بدعملي سخته شوه، کلیو ته لاړل.

خو به کلیو کې غله لا په اسانه پېژندل کېږي او دوی چې په مفتو او حرامو پیسو اموخته شوي وو، کار ته یې ملا نه تیتېده، نو هلته په لنډ وخت کې رسوا شول او



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مجبور شول چې له خلکو لرې په بیابان کې واوسي. دوی به د بیابان د لارې مسافر لوټل او په همدې یې ماته ګوډه ګوزاره روانه وه.

په دې منځ کې یو ځل یو دوکاندار چې د ټول کال د خرڅلاو پیسې ورسره وې او په سودا پسې ښار ته روان و، غلو ته په ګوتو ورغی. غله په یوه شېله کې ورته پټ وو، دوکاندار چې پیسې ورسره په خورجین کې وې او په خره باندې بې غمه روان و، ناڅاپه ځان د غلو په منځ کې ایسار ولید. غلو پیسې ورنه واخیستې او د ده د وژلو تکل یې وکړ. دوکاندار ورته وویل: «وړه کې ماشومان لرم، څه ګناه مې نه ده کړې، ولې مې وژنئ!» غلو ورته وویل: «موږ د ځان له وېرې مجبور یوو چې تا خوشې نه کړو، نو یا به دې وژنو او یا به دې لاس و پښې درتړو، دلته به دې اچوو.» غلو د هغه لاس و پښې وتړلې او خر یې له پیسو سره ورنه یووړ، په غره کې خپلې سمڅې ته خوشاله ستانه شول.

له دوی سره پیسې ښه ډېرې شوې خو خواړه ورسره کم وو نو سره ویې ویل چې یو به ښار ته لاړ شو، سودا به رانیسو.

خو لکه څنګه چې د دنیا مال نفاق راولي او ډېرې پیسې د ډېر اختلاف سبب کېږي، دوی هم په دې سره وران شول چې څوک به بازار ته ځي؟ اخر یې هغه یو چې تر نورو کمزوری و، د بازار تلو ته اړویست.هغه وویل: «ځم خو په دې شرط چې پیسې به له ما سره وي، ځکه هسې نه زه راستنېږم او تاسې پیسې وړې وي.»

دوو نورو ورته وویل: «نو چې ته په موږ دواړو باور نه کوې، موږ د دومره ډېرو پیسو باور په تا څنګه وکړو.»

له اوږده بحثه وروسته کمزوري غله ورته وویل: «پیسې به په درې برخو وویشو، هر څوک دې خپله برخه واخلي چې تشویش یې نه وي.»

دوو نورو وویل: «خبره دې بده نه ده خو له دومره ډېرو پیسو سره بازار ته تګ له خطره خالي نه دی، هسې هم د غله په زړه کې خلې وي، نور دې خوښه.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې بل غله ته د دوی خبره ښخه ښکاره شوه، د خپلې برخې پیسې بې پرېښودې او بوازې د خوړو له پیسو سره بازار ته روان شو.

دی چې لاړ، هغو نورو دوو دی رامنځ ته کړ. دا خو معلومه ده چې حاضر سړی سپین باز اوغایب سړی د خدای ګناهګار وي. دوی هم له غایب غله بنګې وایستلې. یوه وویل: «زه خو ولاکه پوهېږم چې دغه بې غیرته سړی مو څه ته له ځان سره ساتلی دی؟»

بل وویل: «دا خبره زه هم کوم، ولاکه د هېڅ درد دوا وي. بس هسې چټې مو ملګری کړی دی.»

هغه لومړي وویل: «په ښار کې هم د ده له بې غیرتۍ ونیول شو.»

بل وویل: «بالکل، پاو لا د ده راباندې وي.»

لومړي وویل: «بس دا یوه ښېګڼه لري چې رنګ یې د ډارنو دی، نابلده سړي ته غل نه ښکاري او بل دا چل یې زده دی چې ځان عاجز وښيي.»

دوهم وویل: «که زه او ته هم د ده غوندې بې همته وای، غلاوې مو کولای شوی؟ عاجزي لا چا راایستلې ده؟ پیسې پکار دي، پیسې! هاغه دی هغه عاجز دوکاندار په صحرا کې لاس تړلی پروت دی او زه او ته د پیسو په خزانه باندې ناست یوو.!»

چې د پیسو خبره یاده شوه، دواړه غلي شول، سترګې یې وبرېښېدې، یو بل ته یې ځیر ځیر وکتل، او بیا لومړي غله وویل: «نو څنګه پیسې زه او ته سره ونه وېشو؟» دوهم غله وویل: «زما هم درخوښه ده. چې خواړه یې راوړل، کار به یې وروکړو، زه او ته به چېرته لرې، نابلده ښار ته لاړ شو، مزې به کوو.»

لومړي غله وویل: «سمه ده، د ده خو ولاکه دا خبره په ما ښه لګېږي.»

دوهم وویل: «په پوست پاک نه دی، ته وګوره څنګه یې غوښتل چل راسره وکړي، ټولې پیسې رانه یوسي. اوس به یې خوښ شو!»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د دواړو فیصله همدا شوه چې هغه بل ځنګه راشي، ویې وژني او پیسې سره نیمې کړي.

په خوړو پسې تللي غله له ځان سره فکر کاوه: «دوی بې غمه پراته دي، د خطر ځای ته ما استوي. سترې زه ډېر یم خو برخه د دوی ډېره وي. تل راپورې ټوکې هم کوي چې ډنګر یم، عاجز یم. ما بازار ته استوي چې خلک رابانديې شک نه کوي او دوی بس خوړلو ته تیار دي. د دا ځل پیسې ډېرې زیاتې دي، دا ولاکه ورنه په کراره وخورم. یکار ده چې ځان ورنه بې غمه کړم. خوړو ته به زهر واچوم، دوی ته به ووایم، ما ډوډۍ په بازار کې خوړلې ده، خوب راځي، سترې یم، دوی به دواړه ختم شي.»

ډنګرغله همداسې وکړل، خواړه یې په زهرو ولړل او راستون شو. هغوی سمدستي په ده شروع وکړه، ویې واژه چې وروسته بې غمه ډوډۍ وخوري. ډوډۍ یې وخوړه او شېبه نیمه پس هلته درې مړي پراته وو.

په دوکاندار باندې یوه قافله برابره شوه، بچ یې کړ.

## لوبه

و نه و یو ښار و چې نور هر څه پکې منع وو او څه چې پکې منع نه وو د چیلک ډنډې لوبه وه. د دې ښار اوسېدونکي به هر سهار د ښار شاوخوا صحراګانو ته وتل، ورځ به یې په چیلک ډنډه تېروله.

او څرنګه چې ممنوعیتونه په یوه ځل نه بلکې ورو ورو او د تل په مخه، په پخو دلایلو رامنځ ته شوي وو، هیچا ته ګیله نه درېده او مانه نه پیدا کېده. له بلې خوا د دې سیمې اوسېدونکو له دغو قوانینو سره څه مشکل هم نه درلود.

کلونه واوښتل. یو وخت د ښار چارواکي دې نتیجې ته ورسېدل چې بندیزونو ته اړتیا نه لیدل کېږي، نو جارچیانو ته یې وویل چې ورشئ، خلک پوه کړئ چې له



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې وروسته بنديزونه نشته. جارچيان د دې خبر د خپرولو لپاره د ښار د ګټې ګوټې ځايونو ته ورغلل او په لوړ اواز يې وويل: «اې خلکو پوه شئ، خبر شئ چې له دې وروسته بندويزونه نشته او چې څنګه مو زړه غواړي هغسې ژوند کولاى شئ.»

خلک چې په جارچيانو راټول شوي وو، د ابلاغيو له اورېدلو وروسته خپاره شول او خپله چيلک ډنډه يې شروع کړه. جارچيانو يو ځل بيا جار وواهه: «په خبره پوه شوئ! تاسې ازاد ياست! تاسې نور چې هر څه خوښه وي، هغه کولاى شئ.» خو خلکو وريانډې غوږ ونه ګراوه او د چيلک ډنډې لوبه يې، بې کوچني ځنډه، جاري وساتله.

جارچيانو چې خپلې هڅې بې نتيجې وبللې، مشرانو ته ورغلل چې په حال يې خبر کړي.

مشرانو وويل: «بله لاره نشته، چيلک ډنډه منع کوو.»

د چيلک ډنډې له منع کېدو سره سم خلکو بغاوت وکړ، د ښار ټول چارواکي يې ووژل او د وخت له ضايع کېدو پرته يې لوبه سمدستي له سره پيل کړه.

## د انګورو ورښکې

د صومعې دروازه وټکېده. راهب ور ووت. د انګورو د باغ باغوان له کلي راغلى و. د انګورو يو ډک ورښکى يې راهب ته ونيو، ويې ويل: دا مې تا ته راوړي دي، د باغ تر ګردو ښه انګور دي.

راهب وويل: مننه، کور دې ودان، دا به همدا اوس استاد ته ورکړم، هغه به خوشاله شي.

باغوان وويل: ما خو تا ته راوړي دي، ما چې کله هم د صومعې دروازه ټکولې، تا راته پرانيستې ده، زما چې کله هم کار بند شوى، تا رانه ځان نه دى سپمولى.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راهب ورښکی ورنه په مینه واخیست. باغوان کلي ته ستون شو او د ده سهار د باغوان او انګورو په اړه خوږو احساساتو خوږ کړ. وروسته بیا ده د انګورو ورښکی استاد ته ورووړ چې د ژوند او حکمت خبرې یې ترې زده کړې وې.

استاد خورا خوشاله شو او په زړه کې وروګرځېده چې: «په صومعه کې یو ناروغ لرو، که هغه ته ورښکی ورکړم، روحیه به واخلي، تازه به شي.»

استاد همداسې وکړل خو انګور د ناروغ په کوټه کې ډېر پاتې نه شول. ناروغ نه اشپز ورياد شو چې په ورین تندي یې پرهېزانه ورته پخه کړې او د ده له خدمته یې غاړه نه وه غړولې.

اشپز د ناروغ په سوغات خوشاله شو خو له ځان سره یې وویل چې: «یو زلمکی صومعې ته تازه راغلی دی، د یوازېتوب احساس کوي، که یې هغه ته ورکړم، د یوازېتوب احساس به یې کم شي، د صومعې اوسیدونکي به ورته خپل او خواخوږي واېسي.»

زلمکي ته چې ورښکی کېښودل شو، داسې یې وګڼله لکه د خپل کور په چاپېریال کې چې وي، تر پخوا یې ځان ارام او ډاډه ولید. خوشاله و او ورښکی یې راواخیست چې راهب ته یې ورکړي ځکه صومعې ته د راتلو په لومړۍ ورځ راهب دروازې ته وروتلی او نازولی یې و.

د خوشالۍ کړۍ پوره شوه. نېکان، وروسته یا وړاندې، هغه څه مومي چې وړ او لایق یې دي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# اوښ او شغال

د اوښ او شغال سره يارانه وه. يوه ورځ شغال ورته وويل چې راځه د سيند بلې غاړې ته پورې وځو، زه خبر يم هورې د ګنيو کروندې شته، ته به په ګنيو مزې وکړې او زه به د سين په هاغه غاړه پراته هډوکي او مړه کبان وخورم.
اوښ ورته وويل: «د سين په دې غاړه خو زه هډوکي او کبان نه وينم، هلته به له کومه شي؟»
شغال وويل: «په دې غاړه کې ګيدړې او شغالان ډېر دي، هيڅ شی نه پرېږدي، دوی که هغې غاړې ته پورې وتلای شوی، هلته به هم څه نه وو.»
اوښ ومنله. شغال د اوښ په شا سپور شو چې له سينه واوړي. شغال په بله غاړه کې اوښ د ګنيو پټيو ته وروست او خپله په منډه راغی، د سين غاړې ته. دلته يې د سين د غاړې په شګو کې څو ځله ښکته پورته منډې رامنډې کړې، مړه کبان، کونيکبر او هډوکي يې ژر ژر وخوړل او وزبېښل، موړ شو او بېرته ګنيو ته لاړ. د ده چې څنګه ځان کوچنی و، ګېډه يې هم کوچنۍ وه، ژر يې چاره وشوه خو اوښ هغه د چا خبره لا شروع نه وه کړې. شغال چې خوندور خواړه ښه ډېر خوړلي وو او تر نورو شپو يې مستي زياته شوې وه، په ډېر لوړ اواز انګولاوې شروع کړې. اوښ ورته وويل: «زما مړېدل ډېر وخت غواړي، انګولاوې بس کړه چې خلک رانه‌دې خبر نه شي.» شغال وويل: «دا خو زموږ د پلار نيکه دود دی چې له ماښامنۍ وروسته د مستۍ چيغې وهو، د پلار نيکه دود نه شم پرېښودلای.»
اوښ چې د ګنيو په خوند کې ډوب و، د ده د خبرې ځواب ورنکړ خو څو شېبې لا نه وې تېرې چې بزګر راپيدا شو. شغال منډه واخيسته او اوښ خوارکی يې په وهلو وهلو د سين غاړې ته ورساوه.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شغال چې د يو کمر لاندې پټ و، راپيدا او د اوښ په شا سپور شو چې بېرته راپورې وځي. اوښ ورنه ګيله وکړه چې زما دې ونه منله، په بزګر باندې دې پر ژوبل کړم. شغال ووېل: «بزګر ظلم وکړ خو ما درته ووېل چې انګولاې زموږ د پلرونو، نيکونو دود دی، نو ما خپل دود څنګه پرې ايښی وای؟»

اوښ د سين منځ ته ورسېد، هغه ځای ته چې اوبه د اوښ تر ښېو لوړې وې او د سپوږمۍ رڼا ته د مستو څپو ليدلو هر څوک وېرولای شوی. اوښ دغه وخت ووېل: «زه به اوس لږ په اوبو کې ورغړم.» شغال عذرونه شروع کړل، زارۍ يې وکړې چې: «مه، مه، مه غرق به مې کړې.» اوښ ورته ووېل: «دا زموږ دود دی چې له دوړې وروسته رغړو، نو د پلار نيکه دود څنګه پرېږدم!»

خو شغال زارۍ کولې او چېغې يې وهلې چې مه کوه، مه کوه، مه کوه!

اوښ ووېل: «خير، دا ځل به ستا په خاطر ونه رغړم خو کاشکې دا زده کړې چې يوازې ته د پلار نيکه دودونه نه لرې، نور يې هم لري!»

شغال توبه وايسته چې بيا به نورو ته هم ګوري او د خپلو دودونو لپاره به نورو ته تکليف نه رسوي.

## تجربه

يو کليوال خپل مرشد ته ورغی، د خپل پلار شکايت يې ورته وکړ چې يوه ورځ راته وايي، غنم وکره، بله ورځ يې نظر بدل شوی وي، د جوارو راته وايي، هره شېبه يې نوې خبره وي، نه پوهېږم، څه ورسره وکړم؟

مرشد ورته ووېل: لاړه ورسره يوسه!

کليوال ووېل: لاړه به څنګه ورسره وړم چې په خپله خبره نه درېږي او دا نه شم ورته ويلی چې پرون خو دې داسې ويل، ځکه بيا راته غوسه کېږي.

مرشد ووېل: په کور کې ماشوم لرې؟

کليوال ووېل: هو. مال د خدای، يو کلن زوی مې دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مرشد وویل: هغه که مثلا ډکه پیاله چپه کړي، ورته په قهریږي؟

کلیوال وویل: نه، کوچنی دی نو.

مرشد وویل: نصیحت ورته کوې؟

کلیوال وویل: نه، په نصیحت لا نه پوهیږي.

مرشد بله پوښتنه وکړه: نو څه ورسره کوې؟

کلیوال وویل: ګوزاره ورسره کوم.

مرشد وویل: ته یو وخت کوچنی وې او په دې پوهیږې چې له کوچني سره څنګه سلوک باید وکړې، خو تا د بوډاتوب عمر نه دی تېر کړی او په دې نه پوهیږې چې د ډېر عمر له کسانو سره څنګه چلند پکار دی. په زړبودن کې نه حوصله پاتې وي، نه چندان فکر او نه د ځوانۍ حافظه. په زړبودن کې انسان ژر په قهریږي، ژر ګیله من کیږي او د بې وسۍ احساس کوي. که دغو ټکو ته پام وکړې، پخپله به پوه شې چې څنګه ګوزاره ورسره پکار ده.

## د بیزو په شان

د یوه خوشال او اباد ملک پاچا په یوه لرې، کوچنۍ پاچاهي باندې د یرغل هوس وکړ. لښکر تیار او سفر پیل شو. پاچا او عسکر یې په بیابان کې له څو ورځنۍ اوږده مزله وروسته یوه ځنګل ته ورسېدل. پاچا وویل چې شپه به دلته واړوو، دمه به ونیسو، اسونه به هم هوسا شي.

عسکرو آسونه په ونو پورې وتړل او خواړه یې ورته واچول. د یوې ونې لاندې چې آس تازه مېټر خوړل او پاچا یې ننداره کوله، یوه بیزو له ونې راښکته شوه، د مټرو په دانو یې منګول ډکه کړه، بېرته څانګو ته وخته. د مټرو د خوړلو په وخت له بیزو یوه دانه لاندې ولوېده چې په وارخطايي یې پسې راټوپ کړل. د ټوپ په وخت یې منګول پرانیستل شو او شته دانې یې هم لاندې توی شوې، خو دا د مټرو په هماغه



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه دانه پسې ګرځېده. دانه یې ونه موندله. بېرته ونې ته وخته. له هغه ځایه یې ښکته لاندې کتل.
پاچا، چې دا پېښه ولیده، له ځان سره وویل: «د دې بیزو ټوکه به په ځان نه کوم چې د یوې دانې د موندلو په اسره یې ډېر څه بایلودل. په خپل وطن کې ارام ژوند مې ډېر په خیر دی.»
په سبا سهار ټول عسکر خپل وطن ته خوشاله روان وو.

## غومبسه، تارګښ او کوځر لرونکې ستن

د فرانسې د خلکو یوه ولسي کیسه
ډېره زمانه پخوا په فرانسه کې دوه خانزاده ورونه وو چې نه یې د هستي او جایداد کمی و، نه د رنګ او ښایست. دوی دواړو ښه تعلیم کړی و. مور ته دواړه له هره اړخه پوره ښکارېدل. دا یو میلي نومېده، دا بل تونیک.
مشری ورور یعنې میلي شپاړلس کلن و او کشری څوارلس کلن.
کشري ورور تقوا او نېکۍ ته ډېر پام کاوه. همېشه به دې ته تیار و چې له بېوزلو سره مرسته وکړي او د بدو کسانو کینه له زړه وباسي. ده نه د پیسو غلامي ته غاړه اېښودله او نه یې قهر ته اجازه ورکوله چې د ده واګې په لاس کې واخلي.
مشري ورور، میلي، بیا د ده برعکس، دا خوښېدل چې نورو ته یوازې د خپل حق په اندازه برخه ورکړي. میلي د حساب کتاب سړی و. د دې خبرې کول ښه نه دي خو حقیقت دا دی چې که به چا بد ورسره وکړل، خپل پور یې نه پرېښوده.
میلي او تونیک له پلاره کمکي پاتې شوي وو، پلار یې مړ و، پالنه او روزنه یې د مور په غاړه وه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اوس چې دوی یو څه لویکي وو، مور یې فکر وکړ چې د زامنو تره یې هوښیار سړی دی، د ژوند ښې بدې یې ډېرې لیدلي دي، نو که زامن یو څو وخته د هغه کره واستوي او د هغه خبرې واوري، دوی به نور هم هوښیار شي.

یو سهار مور دواړو زامنو ته نوې خولۍ، پاک نوي بوټونه او ښکلي شنه کوټونه کېښودل او له پیسو ډکې بټوې یې ورکړې، ورته ویې ویل: «اوس نو هغه وخت دی چې تره ته ورشئ.»

د تره کور یې ډېر لرې، د دوی د وطن په بل سر کې و.

دواړو هلکانو په آسونو پښه واړوله او خوشاله روان شول چې بالاخره د لرې ځایونو د لیدلو فرصت په ګوتو ورغی.

اسونه چټک روان وو. دوی په څو ورځو کې یوې بلې پاچاهي ته ورسېدل. په دې پاچاهي کې اکثره ولاړې ونې دوی نه پېژندلې او د کروندو فصلونه هم نااشنا غوندې وو.

یوه ورځ چې دواړو ورونو مزل کاوه، په لاره کې یې یوه بېوزلې مېرمن ولیده چې د سړک د غاړې صلیب سره ناسته وه او مخ یې پټ و.

تونیک (کشري ورور) خپل آس ورته ودراوه، پوښتنه یې ورنه وکړه: «ستا مشکل څه دی چې دلته ناسته یې؟»

هغې وژړل، ویې ویل: «ما په ټوله دنیا کې بس یو زوی درلود، هغه خدای واخیست، او زه دا دی د مومنانو خیرات ته محتاجه شوم.»

د تونیک زړه خړیکه وکړه، خوا یې ورته بده شوه خو مشر ورور یې چې نه و درېدلی، له څو ګامه هاخوا د ملنډو په انداز اواز ورباندې وکړ: «ته اوس د دې مکارې بوډۍ په خبره باندې باور کوې؟ دا ناسته همدې ته ده چې د خلکو جېبونه تش کړي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بوډا وویل: «زلمو، زما ویښتو ته ګورئ چې څومره سپین دي! او د مخ ګونځو ته
مې هم ګورئ، ! زه بوډا یم او کمزوری او زما په پښو کې حرکت نشته. که تاسې
راباندې خپل یو آس خرڅ نه کړئ، زه به همدلته پاتې یم ، مرم به!»
مشر ورور ورباندې اواز وکړ: «په تا آس خرڅ کړو! ته یې د اخیستلو وس لرې؟»
بوډا د څېرې د تخم یوې کاواکې کاسې ته اشاره وکړه، ویې ویل: «دلته ګورئ، دلته
یو تارکښ (غنه) لرم چې تر پولادو مضبوط تار اوبي. تاسې خپل یو آس راکړئ، زه
به په بدل کې دا تارکښ درکړم.»
مشر ورور کټ کټ وخندل، کشر ورور ته یې وویل: «تونیکه، داسې سودا دې هم
کله لیدلې یا اورېدلې وه؟»
تونیک وویل: «بېوزلي یوازې هغه شی خرڅولی شي چې لري یې.» او له دې
خبرې سره سم له آسه کوز شو، آس یې له بوډا سره په تارکښ بدل کړ.
میلي خوله پرانیسته: «احمقه، دا فکر دې کړی دی چې له آسه پرته به څه کوې؟
بتوه دې ورکړه، پیسې دې ورکړې، کوټ دې ورکړ، ما در ته څه ونه ویل، اخر دې
آس هم ورکړ، ته به په دې تمه یې چې اوس به دې زه راسره اخلم؟ دا کار نه کوم،
ته باید پوه شې چې له سېره څو پخېرې او د بې ځایه سخاوتونو نتیجه څه ده؟ تا
راسره نه وړم، تا ته سبق درکوم چې بل وخت بې ځایه سخاوت ونکړې!»
کشري ورور په کراره وویل: «هو، دا په رښتیا یو سبق دی چې نه به مې هېرېږي.
خو ما هېڅکله دا فکر نه دی کړی چې ستا په پیسو، ستا په کوټ یا ستا په اس کې
به درسره ځان شریکوم، ځکه هغه خو ستا دي. ته خیر دی لاړ شه، ما ته تشویش
مه لره، ستا دې خدای مل شي!»
میلي په څواب کې څه ونه ویل، خپل اس یې تېز خوشي کړ او کشری ورور پسې
پلی روان شو. د مشر د آس له ګامونو دوړې بادېدې او دا بل په دوړو کې پټ و.
مشر بالاخره د دوو دنګو غرونو په منځ کې یوې درې ته ورسېد چې لعنتي کنده بلل



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کېدله، څکه دلته یوه بلا اوسېدله. بلا به د هغو مسافرو ښکار کاوه چې په دې لاره به بې پېښنه وکړه. بلا په سترګو لکه د تېرې غونډې ړنده وه خو په غوږونو دومره څکه وه چې د چینجي د ښکېدلو اواز یې اورېده. دې، چې لویه کوډګره وه، دوه بازان نوکري ته ساتلي وو او چې د مسافرو د راتلو اواز به یې واورېد، بازان به یې ورواستول چې ویې نیسي. په همدې وجه کله چې به مسافر مجبور شول چې له دې درې تېر شي، نو بوټان به یې وایستل او ان سا به یې په سینو کې تربت کړه چې د غره په سمڅه کې پرته بلا یې اواز وانه وري.

میلي چې د بلا په اړه کله هم څه نه وو اورېدلي، بې غمه په دره ورغی او بلا چې د غره په غار کې ویده وه، د هغه د آس د سوو په اواز سمدستي راویښه شوه، په خپلو بازانو یې ناره وکړه: «هلئ، سپین باز او سور بازه، هلئ چې درې ته یو څوک رانوتل، سمدستي یې ونیسئ چې د ماښام کباب مې برابر شي، هلئ!»

بازان د تېزې سېلۍ په شان د سترګو په رپ کې د درې خولې ته ورسېدل او میلي یې را ایسار کړ چې سمڅې ته یې ورسوي.

دغه وخت تونیک هم د درې خولې ته راورسېد او ورور یې ولید چې بازانو په هوا کړ. ده ډېرې منډې پسې وکړې خو بازان د سترګو په رپ کې مخ په اسمان والوتل او د ورپیڅو په منځ کې له سترګو پناه شول.

تونیک خوارکی غلی، غمجن ولاړ و او د ډېوالونو غونډې نښغو غرونو ته یې کتل او بیا په ګونډو شو، ویې ویل: «اې د دنیا خالقه، زما ورور وژغوره! زما ورور بچ کړه!»

ده له دعا سره جوخت ډېر نژدې یو نری اواز واورېد چې: «موږ مرستې ته تیار یوو، موږ مرستې ته تیار یوو!»

تونیک حیران حیران شاوخوا وکتل، ویې ویل: «ما ته څوک اواز کوي؟»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# موږ يوازې نه يوو!

د چروکي سورپوستکو له رواياتو سره سم په عمر کې يوه داسې شپه راځي چې په هغې کې هلك په زلمي بدلېږي. څنګه؟

په هغه ماښام هلك له پلار سره ځنګل ته ځي. سترګې يې ترړل شوې وي. ده ته ويل کېږي چې ته به شپه دلته يوازې تېروې، سترګې به د سهار تر لمر څرکه پورې نه پرانيزې.

د هغې شپې په تېرولو سره دی د قبيلې په ځوانانو او زلميو کې حسابېږي او په مستقل سړي بدلېږي. خو هغه څه چې په ځنګل کې ويني، هغه به هېڅوخت هېچا ته نه وايي.

د ځنګل په هغه توره شپه کې دی د ځناورو اوازونه اوري. د هغوی د پښو اوازونه يې ترغوږ کېږي او دا هم شته چې ځناور يې د ځورولو تکل وکړي مګر دی به سترګې په هېڅ وجه نه پرانيزي. په مستقل ځوان باندې د بدلېدو شرطونو ته به خامخا غاړه ږدي.

خو چې سهار شي او سترګې پرانيزي، خپل پلار ويني چې څنګ ته يې ناست دی. پلار يې ټوله شپه ورسره وي او دی نه پوهېږي. د قبيلې راتلونکي ځوانان هم په دې راز نه پوهېږي چې دوی په هغه بوږنوونکې شپه کې يوازې نه وي.

ژوند د هغې شپې په مثال دی. موږ په ځنګل او توره شپه کې بوږنوونکي اوازونه اورو، موږ ځان يوازې احساسوو، موږ په وېره کې يوو خو يوازې نه يوو، له موږ سره ساتندوی شته او وېره مو بې ځايه ده مګر په دې حقيقت ډېر وروسته پوهېږو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د لوی سړي ځایناستی

د هندوستان په اسام کې یو مشهور معبد و. د معبد د روحاني ډېر احترام کېده او خلکو خورا عالم سړی باله. روحاني چې بوډا او کمزوری شو، د خپل ځایناستي د غوره کولو فکر ور پیدا شو، داسې څوک چې د ده له مړینې وروسته د معبد اوسنی نوم او ښه شهرت وساتلی شي خو چې هر څه لټه یې وکړه او سترګې یې وغړولې داسې روحاني په نظر ورنغی چې د ده زړه وربانديې اوبه وڅښي. دی وار په وار کمزوری شو او له پښو ولوېد او چې مرګ یې ډېر نژدې ولید، د معبد متولي یې راوغوښت، ورته ویې ویل: «زما له مړینې وروسته زما ځایناستی پیدا کړه. که هر څوک وي پروا نه کوي خو چې په رښتیا انسان وي او انسانیت ولري.»

څه موده پس هر چېرته جارچیانو جار وواهه او اعلانونه خپاره شول چې د پلانی معبد مشر روحاني وفات شوی دی او اوس پکار ده چې ژر تر ژره د هغه ځایناستی وټاکل شي، هر څوک چې دې مقام ته کاندید وي، په پلانۍ ورځ دې معبد ته راشي او په امتحان کې دې ګډون وکړي.

په ټاکلې ورځ ګڼ روحانیان د سهار په خړه کې د معبد خوا ته وخوځېدل. معبد د غره په لمن کې و او د ورتلو لاره یې له اغزنو بوټو، تیږو او لوړو ژورو ډکه وه. امتحان ته تلونکي روحانیان په لاره کې ډېر په زحمت شول او چې معبد ته رسېدل پښې یې اغزنو بوټو ژوبلې کړې وې.

د معبد متولي ټولو راغلیو روحانیانو ته د سهارنۍ بندوبست وکړی و او له هغه وروسته یې امتحان ته کښېنول. له دوی د روحانیت د مختلفو کتابونو پوښتنې وشوې او پخواني سپېڅلي متونه ورته کېښودل شول چې ویې لولي او تفسیر یې کړي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د سوی او زمري کیسه

و نه و یو وخت په هندوستان کې په یوه لوی ځنګل کې یو مغرور او ډېر زورور زمري اوسېده چې په نورو ژویو یې لاس بر و. د هغه د غړمبهار غږ به تر لرې لرې پورې اورېدل کېده او ټول حیوانات ورنه وېرېدل. ده حیوانات بې غمه ښکارول او داسې قدرت نه و چې د ده مخه ونیسي یا ستونزه ورته جوړه کړي. زمري به چې په ځنګل یا شاوخوا صحرا کې هر حېوان ته هره شېبه زړه وشو، هغه به خامخا د ده خوراك و.

ژوي بې حده پرېشانه وو او وېره ورسره وه چې بالکل به یې نسل ختم شي. دوی بالاخره یوه ورځ په پټه راټول شول چې د ژغورنې لاره پیدا کړي خو له ټولو لاره ورکه وه او ان دومره جرات چا نه کاوه چې زمري ته ورشي او ورته ووایي چې که داسې له یوه مخه ښکار کوې او نه کشر ګورې، نه مشر، نه په تیخوري ژوي رحم کوې، نه یې په امېدواره مور، نو سبا به په ځنګل کې هېڅوك نه وي پاتې، د ټولو به یا نسل ختم وي، یا به هر څوك یوې خوا ته تښتي، ځنګل به پرېږدي.

له ډېرو بحثونو وروسته بالاخره یو هوښیار سوی رامخکې شو، ویې ویل: ما ورته فکر کړی دی، زه به زمري ته سبق ورکړم، ډېره اندېښنه مه کوئ!

د سوي خبره د چا زړه ته ونه لوېده خو چا رده هم نه کړه او دا نیمګړی امېد یې لا غنمیت وباله او غونډه خپره شوه.

په سبا یې سوی زمري ته نژدې ورغی، په ماته غاړه ورته ودرېد او په پورېدلي اواز یې ورته وویل: اې د ټول ځنګل پاچا، ما د حېواناتو یو پیغام درته راوړی دی. مونږ نور نه غواړو چې له تا پټ شو او ته سرګردانه شې. موږ ستا رعیت یوو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دا ډېره بده ده چې ته په مونږ پسې ګرځې. مونږ فیصله کړې ده چې هره ورځ به یو حیوان پخپلو پښو درته راځي او تاسې به یې نوش جان کوئ. په دې ډول به ستاسې عزت هم ساتلی وي او زمونږ نسل به هم نه ختمېږي، ځکه غوره دا ده چې امېدوارې مېندې بچي راوړي او ښکار نه شي. په دې ډول به زمونږ نسل نه ختمېږي او ستاسې په خوړو کې به خدای مکړه هېڅ وخت کمی نه راځي. دغه راز د کم عمره بچیو تر خوړو د هغو ژویو خوړل ښه دي چې ډېر عمر یې کړی دی او غوښه یې ډېره ده. په دې ډول به تاسې ته کافي غوښه وړاندې کېږي. که تاسې ته زمونږ فیصله د منلو وي نو مونږ به دا ګټه هم وکړو چې هر ژوی به په خپله کورنۍ کې خدای پاماني اخلي، بیا به دلته راځي او په دې ډول به کورنیو ته له خپلو عزیزانو جدایي هم اسانه شي.

زمري ته د سوي غوړو خبرو او غوړه مالي خوند وکړ، ویې ویل: زه خو د ځنګل د ټولو حیواناتو پاچا یم او د خپل رعیت دغه معقول وړاندیز منم.

سوی وویل: نو که دې اجازه وي، زه به لاړ شم، ټول به خبر کړم او بیا به هره ورځ له یوه چاغ حیوان سره ستاسې حضور ته راځم.

زمري په خوشالي اجازه ورکړه او سوی د سترګو په رپ کې د ځنګل د ونو په منځ کې نهام شو.

سبا سوی د وعدې په وخت زمري ته ورغی خو ډېر ستړی او یوازې. زمری چې د لوی ښکار په تمه و، په قهر ورته وویل: تا پرون څه ویلي وو؟ اوس خو یوازې راغلې!

سوی وویل: صاحب زه یوازې نه یم راغلی، ښه چاغه هوسۍ راسره وه خو په لاره کې یوه بل زمري ستنه کړه. هغه ویل زه د ځنګل پاچا یم او له دې وروسته به ټول ښکار زما وي، ما په ډېر زحمت ورنه ځان پټ کړ او تاسې ته مې په منډه ځان راورساوه چې دا بد خبر درکړم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## ښه او ساده

یوه ښه سړي چې ساده هم و، په بازار کې صندوق واخیست، کور ته روان شو. داسې چې دی پخپله په خره سپور دی او صندوق یې بیا په اوږو ایښی، په غبرګو لاسونو تکیه کړې دی.
یوه پېژندګلو چې په لاره کې ولید، ورته وویل: صندوق هم په خره کېږده، ولې دې ځان په تکلیف کړی؟
ده ورته وویل: دا انصاف نه دی چې خر هم زما بار یوسي، هم د درانه صندوق!

## جُحا او د پاچا خر

پاچا په سلګونو ډوله وحشي او اهلي ژوي ساتلي وو خو په ټولو کې خر ورباندې ګران و. یوه ورځ یې جُحا دربار ته ورغوښت، ورته وېې ویل: زما خره ته به خبرې ورزده کوې او له امره به غاړه نه غړوې.
جُحا ورته وویل: چې ستاسې امر دی ، په دواړو سترګو، خامخا به یې په خبرو راولم، زما یقین دی چې شل کاله وروسته به د انسانانو غوندې غږېږي.
پاچا د خره معلمي وروسپارله او شل کلنه موده یې ورسره ومنله.
د جُحا ښځې چې کیسه واورېده، مېړه ته ویل: خر خو تر قیامته هم په خبرو نه راځي، پاچا به دې اخر د دروغي وعدې په ګناه ووژني.
ده ورته وویل: تر شلو کلونو پورې به یا پاچا مړ وي، یا خر یا زه یا درې واړه. غم مه کوه!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د فطرت اواز

درویش اوراد ویل او دغه وخت د چونګښو اوازونه شول. درویش خپل غږ اوچت کړ چې یوازې د خپلو دعاګانو اواز واوري مګر ونه شوه. چونګښو لکه له یو بل سره چې یې سیالي وي، بد حال جوړ و. د درویش تمرکز یې ورګډوډ کړ. ویې ویل: «چوپ شئ، اوراد وایم!»

درویش چې معمولي سړی نه و او یو بزرګ و، غوښتنه یې ومنل شوه. په طبیعت کې سمدستي اوازونه غلي شول، لکه د اور لمبې چې غلې شي او خاموشي شي، په جبه زار کې کامله چوپتیا خپره شوه.

درویش له کړکۍ جبه زار ته غوږ ونیو. نور نو نه چونګښې کورړېدلې، نه حشرې بونګېدلې او نه د کوتان اوړدې منبوکې په کبانو پسې ټونګې وهلې.

درویش د سکوت په خپرېدو خوشاله شو او اوراد ویلو ته یې ادامه ورکړه خو یو بل اواز واورېدل شو. یو باطني اواز. دغه ټیټ اواز ورته ویل: او که خدای ستا تر وردونو او دعاګانو د چونګښو په اواز ډېر خوشاله وي، بیا؟

درویش دغه اواز ته په ځواب کې وویل: د چونګښو په کورړا کې به څه ښکلا او څه معنا وي چې خدای ورباندې خوشاله شي؟

خو باطني اواز وویل: نو په فطرت کې شورماشور ولې خلق شو؟

درویش یو ځل بیا د کړکۍ خوا ته وکتل او راضي شو چې طبیعت دې خپل مزل کوي. چونګښو، غوماشو او نورو شپې ګرځو ژویو په خپلو اوازونو د تیارو تشه ډکه کړه. درویش دغه نغمې واورېدلې او له مخالفته یې لاس واخیستل. دی له طبیعت سره همغږی شوی و.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# سپوږمۍ او سپوږمۍ ته اشاره کول

د ذن طریقې له استاد سره به، چې هر ماښام یې د پلي تګ ورزش کاوه، د ځینو سبې ملګری و. استاد به یو کوچنی توپ لرې واچاوه، سپي به پسې منډه کړه، په خوله کې به یې ونیو، ده ته به یې راوړ او لکۍ به یې وخوځوله چې اوس یې بیا واچوي او بیا پسې ورشي.

یوه ورځ استاد خپل تر ټولو لایق شاګرد ته وویل چې، راځه، نن مې د قدم وهلو ملګری شه!

دغه شاګرد په بودایي لیکنو کې متضادو خبرو ته متوجه کېده او کله نا کله یې د درس په وخت کې شکونه څرګندول.

په هغه ماښام چې دوی د کروندو د منځ په نرۍ لاره روان وو او سپي د توپ له راوړلو خوند اخیست، استاد شاګرد ته مخ واړاوه، ویې ویل: «سپي ته ووایه چې سپوږمۍ درته راوړي!»

شاګرد سپوږمۍ ته ګوته ونیوله، سپي ته یې وویل: «هغه راوړه!»

دغه وخت مرشد وویل: «زما سپی چېرته ګوري؟ ستا ګوتې ته ګوري. په مونږ باندې باید د سپي ټوکه ونه شي او باید د هغه څه چې اشاره ورباندې کوو او هغه څه چې اشاره ورته کوو، تر منځ توپیر ته پام وساتو. زموږ د بودایي متونو کلمې د اشارې د ګوتو په مثال دي. خپل حقیقت ته خپله لار هر څوک د نورو د کلمو په منځ کې به خپله پیدا کوي.»

## د سين د اوبو په شان

مريد له ژونده ګيله من و. شکايت يې کاوه چې يو مشکل لا ختم نه وي چې بل پيدا شي. دی له کليوالو هم ګيله من و، ويل يې په هر کار کې به درته خنډونه جوړوي.

مرشد چې د غره په يوه دره کې اوسېده، خپل مريد د درې د سين غاړې ته بوت او هلته يې ورته وويل:

وګوره، د سين تل د غره له کاڼو ډک دی خو اوبه نه ايساريږي، که کاڼي لار نه ورکوي، نو يو اړخ يا بل اړخ ته يې تېريږي. همداسې اوسه، نرم اوسه او مه دريږه!

## د سپين سارې استادې سوال

لايقې استادې چې تقاعد ته يې لږې ورځې پاتې وې، خپل درسي ساعت د لېسې له شاګردانو په عجيبه پوښتنه پيل کړ. دې وويل: که خوب وينئ چې پړانګ درپسې دی، تاسې غواړئ وتښتئ خو مخې ته هم پړانګ ولاړ وي او هر لوري ته چې ګورئ وحشي حيوانات درته په خو (کمين) کې دي، تاسې به څه کوئ؟

شاګردانې غلې پاتې شوې، ځواب ورسره نه و. وروسته بيا استادې وويل: راويښې شئ!

## د افريقايانو متل

يو اروپايي عالم چې افريقايي ټولنې يې څېړلې، څه موده د افريقا د يوه کلي د ماشومانو ښوونکی شو. ده يوه ورځ د مېوې ډکه ټوکرۍ تر ونې لاندې کېښوده او ماشومانو ته يې وويل چې که هر يو لومړی ور ورسېدئ، مېوې د هغه دي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد ماشومان پوه کړل چې خنګ په خنګ به درېږي او چې کله تر لسو پورې حساب وشو، ټول به په يوه وخت منډه پيلوي. ماشومان خنګ په خنګ ودرېدل او تر څو چې استاد لس ويل، دوی د يو بل لاسونه نيولي وو. دوی د مېوې ټوکری ته يو ځای په يوه وخت ورسېدل او د مېوې تر ټوکری خوشاله، چاپېر کېناستل.

استاد ورته وويل: که يو تر نورو له مخه رسېدلی وای، ټوله مېوه به د هغه وه، خو تاسې هغسې ونه کړل، ولې؟

دوی د خپلې ژبې يو متل تېر کړ چې معنا يې وه: که نور خوابدي وي، هغه يو کس هم نه شي خوشاله کېدلی.

د انسان پېژندنې اروپايي استاد ليکلي دي چې ما په خپل عمر کې د ټولنيز ژوند په اړه تر ټولو لويه خبره د افريقا د يوه کوچني کلي له ماشومانو واورېدله.

## په ځان باور

د هوسی سرعت په ساعت کې نوي کيلومتره او د زمري اووه پنځوس کيلومتره دی. نو چې داسې ده هوسی ولې د زمري ښکار کېږي؟

استاد وويل: د دې شي وجه د هوسی وېره ده چې له زمري څخه د خپل واټن د سنجولو لپاره بيا بيا شا ته ګوري او دا عادت يې سرعت ورکموي. که هوسی په خپل سرعت ډاډه وي، لکه زمری چې په خپل قوت ډاډه دی، زمری به يې هېڅ وخت ونه نيسي.

دغه ټوکه په موږ انسانانو هم کېږي، ډېر وخت په ځان باور نه لرو، شا ته شانه ګورو، تېرې ترخې خاطرې رايادوو او د پرمختګ امکان په لوی لاس کموو.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## اسره

یو څاڅکی شات په خاورو کې توی شول. یو کوچنی مېږی ورغی، ویې څکل. سخت خوند یې ورکړ. بیا، بیا یې وڅکل. په خوند یې نه مړېده. له ځان سره یې وویل چې څه یې په څنډو کې ګرځې، راځه منځ ته یې ورشه او پوره خوند واخله. ده همداسې وکړل، د شاتو د څاڅکي منځ ته ورننوت او هورې بند پاتې شو، مړ شو.

مرشد وویل: د دنیا خوندونه د شاتو لوی څاڅکي وګڼئ چې که اندازه ونه ساتئ او ځان پکې ډوب کړئ، بیا په رښتیا غرقېږئ.

## داسې هم وي!

ژمی ډېر سوړ راغی، هر لور ته واورې کوتې وې او کاغی خپلو بچو ته خواړه نه لرل، نو د خپل بدن غوښه یې پرې کوله، په دوی یې خوړله. ژمی تېر شو او کاغی مړه شوه خو بچې یې وژغورېدل او ویې ویل: په ایکې یو ډول خوړو یې پوزې ته ورسولو، ښه ده چې مړه شوه.

## تمرکز

استاد د پخواني هند کیسې کولې. ویل یې یوه ورځ چې د شالونو اوبدونکی په خپل کار بوخت و، پاچاهي لښکر د ده له کار ځای سره تېرېده. په سلګونو عسکر وو خو ده تر اخره سر ور اوچت نه کړ. یو ملنګ چې د ده بې پروایي ته پام شوی و، ورته وویل: ټول خلک عسکرو ته لاس په نامه ولاړ وو او تا سر را اوچت نه کړ، دا څنګه؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ده ورته وویل: څه وخت؟ کوم عسکر؟
ملنګ بېا وویل: ما ډېر بزرګان لیدلي او دا لاسونه مچه کړل، ورته ویې ویل: ما ډېر بزرګان لیدلي او دا ملنګ بې سمدستي
رامعلومه شوې ده چې یوازې هغه سړی رسېدلی دی چې ټوله توجه خپل کار ته اړولې شي.

استاد وویل: د نړۍ ټول نوابغ هغه کسان وو چې پوره پوره تمرکز یې لرلی دی. د ذهن پرېشاني د بري مخه نیسي. چې بهر په کار بوخت یاست، د کور فکر درسره وي، چې په کور کې یاست، د بهر د کار اندېښنه درسره وي. چې لوبې کوئ، درسونه مو په ذهن کې تېرېږي او چې درس ته کښېنئ، لوبې مو سترګو ته کېږي. ذهن خپرول یعنې ځان ناکامول او کامیابي یعنې د ذهن راټولول.

## سپېڅلې پاڼې

راهب یوازې دا یوه ارزو لرله چې په جاپاني ژبه لیکل شوې ټولې سپېڅلې لیکنې په ایکې یوه کتاب کې چاپ کړي. د داسې کتاب چاپولو ته ډېرې پیسې پکار وې. ده په همدې وجه د جاپان ټولو سیمو ته سفرونه وکړل او کافي پیسې یې راټولې کړې خو دغه وخت لوی سېلاب راغی او ډېره تباهي یې وکړه. راهب چې دومره لویه تباهي ولیده، د سپېڅلي کتاب لپاره را ټولې کړې پیسې یې په مصیبت ځپلو ووېشلې.
څه موده پس یو ځل بیا د خپلې ارزو د پوره کولو لپاره د جاپان ګوټ ګوټ ته لاړ او څندې یې ټولې کړې. خو دا ځل وبا خپره شوه او راهب غوره وبلله چې د سپېڅلي کتاب لپاره ټولې کړې پیسې د وبا په ناروغانو یا هغو کورنیو ولګوي چې عزیزان یې په وبا کې وفات شوي وو.
د وبا له پښنې وروسته راهب په دریم ځل د جاپان کابو هر ګوټ ته لاړ او د کتاب لپاره یې پیسې غونډې کړې. دا ځل څه پېښه ونه شوه او له مطبعې سره یې خبرې وکړې چې سپېڅلی کتاب ورچاپ کړي. ده تر چاپ له مخه کتاب لوی راهب ته


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورښکاره کړ چې که کومه تېروتنه پکې پاتې وي او هغه سمه کړي. لوی راهب په کتاب کې چې په ډېر دقت تالیف شوی و، هېڅ تېروتنه ونه مونده او یوازې د یوه ټکي د بدلولو په اړه یې راهب ته ولیکل: دا په حقیقت کې د سپېڅلي کتاب درېیم چاپ دی، نه اول. دا چاپ به د سر په سترګو ولوستل شي خو هغه نور دوه د زړه په سترګو لوستل کېږي.

## واعظ

په قرغه کې له نورو ګوښې، یوازې ناست، د پاخه عمر سړي ته چې ذکام په عذاب کړی و، یو څوک ودرېد، ورته ویې ویل: ذکام که څه هم خطرناک مرض نه دی خو سړی ډېر په تکلیفوي، زما مشوره در ته دا ده چې لیمو وخوره، مالټې هم ګټورې دي، ویټامین سي لري، استراحت درته لازم دی، چای څښل او خولې کېدل، د ذکام ناروغي اسانوي. په هر حال تشویش مه لره، د څو ورځو خبره ده.

ذکام شوي کس مننه ورنه وکړه.

ده ورته وویل: ویبخښه، دا مې عادت دی چې هر چا ته لازمې خبرې وکړم، زه د پېشې په لحاظ واعظ یم.

ذکام شوی کس ورته وویل: زه د پېشې په لحاظ ډاکټر یم، د داخله ناروغیو متخصص.

## حساب

په تېرو زمانو کې یوه پاچا په سوکاله او ښېرازه هېواد کې بېغمه پاچاهي کوله خو لکه څنګه چې د دنیا دود دی، نه غم تلپاتې وي، نه بې غمي. پاچا ناروغ شو او ورو ورو یوه شو چې د ژوند وروستي ورځې یې رارسېدلي دي. ده چې اولاد نه درلود، د ځایناستي په فکر کې شو او جارچیان یې راوغوښتل، ورته ویې ویل: ټول خلک خبر کړئ چې که هر څوک په قبر کې یوه شپه تېرولی شي، هغه به د قبر د شپې په سبا سهار د ملک پاچا وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د قبر د شپې تصور ډېر سخته و، له یوه ډېر بې وزلي سړي پرته نور هېڅوک د دغه شرط منلو ته تیار نه شول. بې وزلی کس په قبر کې پرېوت او په خاورو کې پټ شو. د دې لپاره چې هوا ور ورسېږي، یوه نرۍ نلکه لحد ته ورتېره شوه. بېوزلی سړی هلته خوب یووړ، یا بېهوشه شو، خو په هر حال لکه خوب چې ویني، نکیر و منکر ورته راغلل. هغوی ورنه وپوښتل: دنیا کې دې څه لرل او څه کار دې کاوه؟ ده ورته وویل: یوازې یو خر مې و، چې په هغه به مې له ځنګله ښار ته بوټي راوړل. هغوی ورته وویل: تا یو ځل خر وږی پرېښود ځکه ستړی وې او حوصله دې نه وه چې واښه ورته واچوې. یو بل ځل دې وواهه. دوه کرته دې دومره دروند بار کړی دی چې د هغه بې ژبې حیوان ملا په ورځو ورځو درد کاوه.
په بېوزلي سړي باندې د دغو ظلمونو په وجه د اور د لښتو ګوزارونه وشول، داسې ګوزارونه چې هر یو یې هغه د چا خبره کمکی قیامت و.
په سهار چې قبر لوڅېده، شاوخوا ډېر خلک د نوي پاچا هرکلي ته ولاړ وو خو بېوزلی چې څنګه راپاڅېد، غوړونو ته یې ګوتې وروړې، ویې ویل: توبه، توبه، له پاچاهي تېر یم! د یوه خره حساب ورکول هم سخته دي، پاچاهي خو څه کوې!

## د خیر له ځایه خدای خبر دی

د درویش په مجلس کې یو چا تر څه پېښې پورې دا پاسنی متل تېر کړ او درویش بیا دا لاندې کیسه وکړه:
ژمی و. یوه ورځ کې مرغۍ مخ په جنوب الوتله چې تودو سیمو ته ځان ورسوي. په لاره یو ځای ساړه دومره زیات شول چې بېهوشه شوه، په مځکه راپرېوته. دغه وخت په پټو کې د هغې څنګ ته یوه غوا تېرېدله چې ګېډه یې تشه کړه او د مرغۍ له سره پرته نور ځان په خوشیو کې پټ شو. مرغۍ توده شوه، په هوش راغله،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خوب یووړه او چې راویښه شوه، تازه او خوشاله وه تر الوتلو له مخه یې د مستۍ سندره پیل کړه. پیشو یې اواز واورېده، سمدستي پسې ورغله، ویې خوړه.

## پسې ورشو که ورنشو؟

پاولو کویلو د پرتګالي ژبې تر ټولو زیات لوستل شوی لیکوال بلل کېږي. دی لیکي: د ساحل په غاړه ګرځېدم، قدم مې واهه. له لرې یو ځلنده شی راښکاره شو. سوال راته پیدا شو چې په دې سپېرو شګو کې به دا څه شی وي چې داسې پړکېږي؟ پسې ورغلم. د پیپسي قوطۍ وه. له ځان سره مې وویل: په ژوند کې بې ارزښته شیانو ډېر ځله تېر ایستلی او له لارې چپ کړی یم. ما په دغسې شیانو پسې بې ځایه لټون کړی او وخت یې را ضایع کړی دی. خو که نه وای ورغلی، په کلونو به مې زړه خوږ چې هغه به ممکن ډېر قیمتي شیان وو، کاشکې ورغلی وای، کاشکې!

## د نظرونو توپیر

د ارجنټاین د شلمې پېړۍ نامتو ورزشکار روبیرتو دې وینزو چې د یوې لویې سیالۍ اتل شو، په بدل کې یې ډېرې پیسې تر لاسه کړې. ده ته یوه ښځه راغله، ورته ویې ویل: ماشوم زوی مې مرګیحاله دی، د علاج پیسې نلرم، که مرسته راسره وکړې! ده د هغې سیالۍ د انعام ټولې پیسې ښځې ته ورکړې.

بله اونۍ د دوی د سپورټي انجمن رییس ورته وویل: ساده خانه، پوه یې چې څه ټوکه درسره شوې ده؟ ما د هغې ښځې په اړه پوښتنه وکړه، هغه ښځې اولاد نه لري، سم چل یې درسره کړی دی!

د روبیرتو تندی ورین شو، په خوشالۍ یې وویل: خدایه شکر چې یو ماشوم مرګیحاله نه دی!

## د انتقام یو بل نوم

په مُشکي آس باندې سپور کس چې د پلي مسافر څنګ ته تېرېده، هغه ته بد بد وکتل. مسافر له ځان سره وویل: ځینې کسان لکه دغه سپور نورو ته د درناوي او له نورو د مهرباني کولو توان نلري او ان یو سلام کول ورته سخته وي.
څو دقیقې وروسته یوه ډله سپاره راپیدا شول، له مسافره یې وپوښتل: تا دلته په مشکي آس باندې سپور کس نه دی لیدلی؟
مسافر وویل: لیدلی مې دی، هغه څوک دی؟
هغوی وویل: هغه بې لارې دی.
مسافر وویل: نو تاسې د دې لپاره پکار دی چې عدالت ته یې وسپارئ؟
سپرو وویل: نه، موږ د دې لپاره پکار دی چې سمه لاره ورونښیو. یوازې روغه جوړه ده چې نړی ژغورلی شي، نه عدالت، چې د انتقام یو بل نوم دی.

## مرستندوی

استاد وویل: که ستاسې د ګاونډي د کور مخې ته یوه غټه تیږه پرته وي او دی چې له کوره راوځي، اکثره وخت یې پښه له تیږې سره د لګېدو په وجه ژوبلیږي، تاسې به د ګاونډي په توګه څه کوئ؟
شاګردانو ځواب ورکړ: تیږه به لرې کوو.
استاد وویل: که یې زه ګاونډی یم، زه به د تیږې د لرې کېدو کوشش ونه کړم، مګر دا چې یوه ورځ دی پخپله ووینم چې د تیږې د لرې کېدو کوشش کوي او زور یې نه رسیږي. دغه وخت به ورځم او مرسته به ورسره کوم.
استاد زیاته کړه: یو څوک باید خپله نېکمرغي اول په خپله وغواړي او څوک که د ځان په غم کې نه وي، بل به یې څومره او تر کله غمخور شي؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## زه او شیطان

شیطان ته مې وویل: لعنت پر تا!
وبې خندل، ویې ویل: څه بد مې در سره کړي چې ښېرا راته کوې؟
ومې ویل: دا هر ځل چې پرځم دا د چا له لاسه؟
په خوب کې یې د رحمان بابا بیت راته ووایه:
ته اوده وربانديې ناست یې
آس دې درومي بې جلبه
او بیا یې پوښتنه وکړه: دا آس پېژنې؟
ما ورته وویل: نه
وبې ویل: دا آس بل شی نه دی، ستا نفس دی، ستا نفساني ژوند دی چې د ویدو غونډې یې په بې فکرۍ او غفلت کې تېروې، ملونې هم نه لرې. نو که یو څوک په مست آس باندې، بې جلبه، په پټو سترګو مزل کوي، ولې به نه پرځي؟
ما ورته وویل: نو په دې منځ کې ته چکاره شوې؟
راته ویې ویل: چې راویښ شوې، چې آس ته دې ملونې واچولې، چې په غړېدلو سترګو دې مزل پیل کړ، چې سورلي دې زده کړه، هغه وخت بیا زه ستا د آس ترهولو ته متې رانغاړم؛ فعلاً خو ما ته حاجت نشته.

## د پلار نصیحت

پلار چې د مرګ په بستر پروت و، زوی یې راوغوښت او درې نصیحته یې ورته وکړل:
یو/ که دې زړه و چې کور وپلورې، اول یې په خپله خوښه ورنګوه، ترمیم یې کړه، بیا یې وپلوره!
دوه/ که دې قمار ته زړه وشو، په ښار کې هغه څوک پیدا کړه چې تر هر چا ډېر وخت یې قمار کړی دی، له هغه سره له مشورې وروسته جواري ته متې راونغاړه!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

درې/ که دې چرسو، بنګو، سګریټو ته شوق وشو، په ښار کې هغه چا ته ورشه چې تر نورو په عمر مشر وي او دا چارې یې کړې وي.
زوی چې یو وخت د کور د پلورلو اراده وکړه، د پلار نصیحتونه یې په یاد وو، کور یې په خپله طبعه ورنګاوه او ترمیم کړ، خو وروسته یې بیا اراده بدله شوه، ځکه کور ډېر ښکلی شوی و، زړه یې ورباندې ونشو چې له ګوتو یې ووځي.
د قمار هوس چې ورپیدا شو، د ښار تر ټولو تجربه کار جواریګر ته ورغی. هغه په یوه خواره جونګړه کې اوسېده او ده ته یې اعتراف وکړ چې قمار سړی له حلالو او حرامو دواړو خلاصوي.
د ښار تر ټولو مشر چرسي او سګریټي یې هم پیدا کړ. د هغه صحت ډېر خراب و او ډاکټر ورته ویلي وو چې که د چرسو او سګریټو له لوګیو دې ځان ساتلی وای، اوس به دومره په تکلیف نه وې. دی چې د هغه له مجلسه خپل کور ته راغی، ښځې ته یې وویل: د پلار د نصیحتونو په معنا اوس پوه شوم. که د ده نصیحتونه نه وای شاید اوس به بې کوره وم، په جېب کې به مې چرس وو، سګرېټ وو او د بېګا ډوډۍ به مې نه لرله. خو کاشکې یې نور نصیحتونه هم راته کړي وای!
ښځې یې ورته وویل: مور وپلار اولاد پېژني، هغه پوهېده چې ستا کمزوري کومې دي، نصیحت یې د کمزوریو په اندازه درته کړی دی.

## غرختونکي

غرختونکي وغوښتل چې د دنګ غره څوکې ته د یخنۍ په موسم کې هم وخېژي. خاص بوټونه، چاکو، رسۍ، د شا بکس، خاصې امساګانې، په غره کې د شپې تېرولو لپاره خېمه او نور وسایل یې راواخیستل، یوازې روان شو.
چې په غره کې تیاره ورباندې راغله، استراحت ته یې زړه ونه شو، ځکه یخنې زیاته وه، فکر یې وکړ چې سفر یې په ګټه دی. د سفر په حال کې ناڅاپه د ده تر پښو


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لاندې تېرې وښوییدې او دی لاندې خطا شو. لا لویه بدمرغي دا پېښه شوه چې رسی د غره په کاڼو، بوټو کې چېرته بنده شوه او دی په هوا کې ځوړند پاتې شو.

توره شپه، یخني، تنهایي او په هوا کې ځوړند پاتېدل! مګر یو الله یې چاره کړې وای. څو ځلې یې د الله، الله چیغې ووهلې. دغه وخت یې یوغیبي اواز واورېد، چې رسنی پرې کړه!

خو ده جرات ونکړ.

په سبا اخبارونو ولیکل چې یو غرختونکی چې له غره را ښویېدلی او د مځکې په دوه مترۍ کې ځوړند پاتې و، د تېرې شپې د سختې یخنۍ په وجه وفات شوی دی.

## خرهار

بوډا به د خپلې مېرمن له خرهاره هره شپه شکایت کاوه. ویل به یې ډېر مې پعذابوي. بوډۍ مېرمن یې ورسره نه منله.

یوه شپه بوډا د هغې د خرهار غږ ثبت کړ چې سهار ورته ثبوت وړاندې کړي. سهار ته بوډۍ راویښه نه شوه. هغه مړه وه.

له دې پېښې وروسته به بوډا هره شپه هغه ثبت شوي اواز ته، چې د خوږې نغمې غوندې ورباندې خوږ لګېده، غوږ نیولی و.

## دردونه

مرشد خپل مرید مړاوی او خوابدی ولید. د علت پوښتنه یې ورنه وکړه. هغه وویل، شمدا اوس په لاره راتلم، یو خوږ ملګری په مخه راغی، ډېر سوړ چلند یې راسره وکړ. لکه بېخي چې سره نه پېژنو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مرشد ورته وويل: که دې په لاره کې يو څوک ليدلی وای چې له درده تاوېږي، راتاوېږي او تا سلام ورباندې اچولی وای خو هغه ځواب نه وای درکړی، نو ترې ګيله من به وې؟

مريد وويل: نه، ځکه چې هغه به له درده کړېده او ما ته يې وخت نه شو راکولی.

مرشد وويل: درد يوازې جسمي نه وي، روحي هم وي. ته څه پوهېږې چې ستا خوږ ملګري نن څه ستونزه لرله؟ موږ د خلکو له يوازې ځينو ستونزو خبرېږو او ډېر مشکلات داسې دي چې خلک يې له ځان سره يا په کاله کې ساتي، بل ورباندې نه خبروي.

## د بودا ځواب

بودا ته چا وويل: ټول عمر دې خدای ته په زاريو تېر کړ، څه دې لاس ته راوړي هم دي؟

بودا ورته وويل: نه، څه مې لاس ته نه دي راوړي، بلکې څه مې له لاسه ورکړي هم دي. اوس قهر، کينه، بدنيتي، وارخطايي او له مرګ و زړبودنه وېره راسره نه وي.

## خواشيني

د يوه کليوال به تل تندی تريو و، ويل به يې سر په سر وچکالي دي، څه ته خوشاله شم. په څه زړه ښاد کړم؟

وروسته بيا ډېر بارانونه وورېدل، مست پسرلی راغی او وچکالي ختمه شوه خو د کليوال تندی بيا هم تروه وه. يو چا ورته وويل: سږ کال هم چې ستا په تندي اته انيا ليکلي دي، نو تا دې خدای خوشاله کړي! ده ورته وويل: سږ به مې په کار ښېخ ووځي. ځکه خواشينی يم.

## فرصت

بزګر ته څوک د لور د غوښتلو لپاره ورغلل. بزګر ورته وویل: زه درې غویي لرم، که دې هر یو له لکۍ ونیو، لور مې ستا شوه. ځوان ومنله او بزګر یوې غوجل ته بوت چې ډېرغټ، مست، ښکروړغوایی پکې ولاړ و. ځوان ته په زړه کې ورتېره شوه چې هسې نه ژوبل مې کړي، نو د بل غويي د لیدو یې وویل. بزګر بلې غوجل ته بوت. دا غوایی کوچنی و. ځوان له ځان سره وویل: دا غوجل تر هغه بلې کوچنی ده، غوایی هم پکې تر هغه بل کوچنی دی، درېیمه غوجل چې لا وړوکې ده، غوایی به یې هم لا وړوکی وي، نو د لکۍ نیول به یې لا مطمن وي. بزګر ته یې د درېیمې غوجل وویل. د ده اټکل سم و. د درېیمې غوجل غوایی له ځانه ډېر وړوکی او کمزوری و. دی نېغ ورتېر شو خو هغه لکۍ نه لرله.
استاد چې دا کیسه کوله، ویې ویل: ډېر ځله تاوان هغه وخت کوو چې د لا مطمینې ګټې په تمه لومړني فرصتونه ضایع شي.

## پلونه

دوو وروڼو چې له پلاره په ورپاتې مځکه باندې بزګري کوله، د مینې او درناوي په ستنو ولاړ، خوږ او خوشاله ژوند درلود. خو یوه ورځ داسې راغله چې په وړه خبره یې خوا سره بده شوه، له یو بله مرور شول او کشري ورور د دوی دواړو د پټیو په منځ کې یو نهر تېر کړ چې اوبه یې له یو بله بېخي بېل وساتي. په دې منځ کې یو سهار د مشري ورور د کور دروازه وټکېده. که ګوري یو ترکاڼ دی، وایي چې که څه کار وي، حاضر یم چې خدمت دې وکړم. هغه خپلې تحویلخانې ته بوت چې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د لرګیو ډېرې تختې پکې وې او ترکاڼ ته یې وویل، غواړم له نهر سره یو دېوال راته ودروې، که نور څه ته ضرورت وي، زه ښار ته ځم، راته ووایه.

ترکاڼ ورته وویل: نه، دا دی مېخونه هم په تحویلخانه کې شته، بل شی نه غواړي.

ماښام چې مشری ورور له ښاره راغی، د دېوال په ځای یې د نهر په سر یو پُل ولید.

ترکاڼ ته یې په غوسه وویل: ما خو د دېوال درته ویلي وو!

په همدې شېبه کې کشری ورور راپیدا شو او د پله په لیدو یې فکر وکړ چې مشري ورور د روغې جوړې هڅه کړې ده، نو له پله واوښت، ورور ته یې غېږه ورکړه، بخښنه یې وغوښته. مشري ورور ته چې د پل د جوړولو برکت معلوم شو، په ترکاڼ پسې ورغی. ترکاڼ روان و. ده ترې مننه وکړه او ورته ویې ویل: مېلمه مې شه راسره، څو شپې له موږ سره تېرې کړه.

ترکاڼ ورته وویل: کور دې ودان، پاتې شوی به وای خو ډېر نور پلونه دي چې جوړېدل غواړي.

## څراغ

یوې ښځې چې په هنري سیالي کې یې لومړی مقام ګټلی و، په جایزه کې ورته یو قیمتي فانوس ورکړ شو. فانوس هم ډېر ښکلی و، هم یې تېزه رڼا کوله. دې په سالون کې راوځړاوه. سالون ورسره ډېر ښکلی او روښانه شو. دې د فانوس په رڼا کې پام شول چې د سالون د دیوال رنګ یو څه توی شوی دی. دېوال یې ورنګاوه. وروسته یې پردې ته پام شول چې یو څه خیرنه شوې ده، هغه یې ووینځله او بالاخره د فانوس په رڼا کې غالۍ ته متوجه شوه، چې پت یې لړ لړ تللی دی. غالۍ یې هم بدله کړه. نور نو سالون یو مخ ښکلی شوی و.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه حکیم چې دا کیسه واورېده، ویې ویل: که یو ښه کار وکړئ، ډېرو نورو ښو کارونو ته به مو خامخا مخه شي. په سالون کې ټول تغییرات له فانوسه پیل شول، ځکه هغه اول ګام و. اول ګام تر ټولو مهم دی.

## هغه چې عیب یې پټ نه و

د ذن د طریقت مرشد په سلګونو شاګردان لرل. پرته له یوه شاګرده چې کله کله یې د شرابو نشه کوله، نورو ټولو د مرشد توصیې پوره تر سره کولې.

مرشد ورو ورو بوډا کېده او متقي شاګردانو ته ورو ورو دا سوال پیدا کېده چې پیر به د دوی په منځ کې څوک خپل ځای ناستی ټاکي او د طریقت پټ راز به ورته وایي؟

مرشد د مړینې په شپه خپل هغه شرابي شاګرد راوغوښت او د طریقت پټ رازونه یې ورونمایل.

دې پېښې نور مریدان سمدستي وقهرول او په خپلو منځونو کې یې برالا سره وویل چې موږ د پیر په خدمت او دعاګانو ځانونه مړه کړل خو مرشد هغه څوک ځایناستی وټاکه چې عیبب یې له هیچا پټ نه دی.

مرشد چې د دوی د شکایت اواز واورېده، را ویې بلل، ورته ویې ویل: پیر ته خو پکار ده چې د طریقت راز هغه مرید ته ووایي او هغه څوک خپل ځایناستی وټاکي چې ښه یې پېژني. تاسې ټول نام خدا متقیان یاست او یوازې مې ستاسې فضیلت لیدلی دی چې دا خطرناکه ده، ځکه فضیلت ډېر ځله د کبر، غرور او تعصب پرده پوش وي. په همدې وجه مې داسې څوک انتخاب کړ چې عیب یې رامعلوم و.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## چلند

دوه کسان د هندوستان په یوه کلیواله سیمه کې روان وو. دا یو سپین ږیری مرشد او بل ځوان مرید. مرید چې څو ګامه وروسته روان و، یو ځای په څو بې لارې هلکانو پېښ شو چې په ده پورې یې ټوکې مسخرې پیل کړې، په لوټو یې وویشت او په مختلفو طریقو یې وځوراوه خو ده ورته هېڅ و نه ویل. وروسته چې مرشد او مرید په بېړۍ کې سپرېدل، هلکان هم بېړۍ ته پسې وختل چې مرید هلته هم وځوروي خو هغه لکه ډبرې ته چې خبرې کوي، هېڅ غبرګون نه څرګنداوه. هلکانو بېړۍ دومره وخوځوله راوخوځوله چې ړنګه شوه. بېړۍ وان، مرشد او مرید لامبو زده وه، هلکان یې په ډېر زحمت ژوندي راوایستل. له دې پېښې وروسته مرشد مرید ته وویل: «دا هر څه ستا له لاسه پېښ شول. اصل ملامت ته یې.» مرید حیران، حیران وروکتل او مرشد زیاته کړه: «تا هېڅ عکس العمل ښکاره نکړ او دا سمه نه وه. تا باید دومره رحم لرلای چې د دوی په زړه کې دې غوټه نه وای پرې اینښې. یو مخ چوپتیا او ځان داسې ښودل چې نه څه وینې، نه څه اورې، مناسب چلند نه دی.»

## جبران

یو سړی چې له مېرمنې سره یې ګوزاره ګرانه شوې وه، مرشد ته ورغی، مشوره یې وغوښته. مرشد ورته وویل: ته باید دا زده کړې چې هغه واورې.

سړي نصیحت د زړه له تله ومانه او یوه میاشت وروسته راغی، ویې ویل: ما هره هغه خبره چې دې وکړه د زړه په غوږو واورېده.

مرشد موسکی شو، ویې ویل: اوس کور ته لاړ شه د هغې هره هغه خبره واوره چې نه یې کوي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ناخبره سړی

یو چا به د سړک په غاړه سمبوسې خرڅولې. دی بېسواد و نو اخبارونه یې نه لوستل، په غوږو دروند و، نو راډیو یې نه اورېده او په سترګو یې چندان سم نه لیدل نو تلویزیون یې نه لید.

ده په ډېر شوق خپل کار کاوه او په لوړ اواز به یې نارې وهلې چې: سمبوسې، سمبوسې، مزه داره سمبوسې! او مشتریان یې ورځ په ورځ ډېرېدل. ده به اوس ډېره غوښه اخیسته، ډېر وړه یې اخیستل، ډېرغوړي یې اخیستل او دیګی یې غټ کړ. ده اوس لا زیاتې سمبوسې پخولې.

دغه وخت چې د ده کار ښه په درز کې روان و، زوی یې له پوهنتونه فارغ شو، له پلار سره یو ځای شو.

زوی د پلار غوږ ته خوله ورنژدې کړه، ویې ویل: بابا سمبوسې خو ډېرې پخوې او وړه، غوړي او غوښه ډېر اخلې مګر د دنیا اوضاع ښه نه ده، روسیې په یوکراین حمله کړې ده، چین ممکن په تایوان یرغل وکړي، د منځني ختیځ کشاله هم لاینحله معلومېږي، یو لوی اقتصادي بحران نښې له ورایه ښکاري، زما په نظر ځان ورو ورو راټول کړه. حالات مخ په خرابېدو دي.

پلار فکر وکړ چې زوی یې پوهنتون لوستی دی، اخبارونه لولي، راډیوګانې اوري، له هر څه خبر دی نو خبره یې باید بابېزه ونه ګڼي.

نو په سبا یې لږې سمبوسې پخې کړې، په پخولو کې یې د پخوا غوندې ډېر دقت ونه کړ، د لوښو نظافت ته یې توجه کمه شوه، نور یې نارې نه وهلې چې سمبوسې، مزه دارې سمبوسې! او هغه پخوانی شوق ورپاتې نشو. د ده کاروبار په لنډ وخت کې بې مزې شو، نور به لږ خلک ورتلل او مشتریان کم شول.

پلار زوی ته وویل: تا رښتیا وویل، علم ښه شی دی، که ته نه وای زه به اوس هم نه وم خبر چې اوضاع خرابېږي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د پارک ماشومه

یوه پوهاند عجیبه خبره وکړه. ویل یې یو مازدیگر پارک ته تللی وم. هلته یوه درې کلنه ماشومه له مور سره ګرځېده. ماشومې یو لاس مور ته ورکړی و او په بل لاس یې د پوکانۍ تار نیولی و، په خوند خوند یې ورته کتل. دغه وخت ناڅاپه تېزه سېلۍ راغله، تار یې غوځ کړ، پوکانۍ مخ په بره لاړه، د ماشومې له ګوتو ووته. ما ماشومې ته کتل چې اوس به ژاړي. خو په حیرانۍ مې ولیدل چې هغه واه ، واه وایي او د اسمان په زړه کې د پوکانۍ نامعلوم لور ته الوت ته داسې خوشاله ده لکه د دې په خوښه او غوښته چې الوځي.

په هغه مازدیګر د یوه دوست تلفون راغی، یو مشکل ورپېښ و، زما مرسته یې پکار وه. زړه مې په تنګ شو خو د پارک ماشومه رایاده شوه، ورته ومې ویل: په دواړو سترګو، دا خو راته د فخر خبره ده چې ستا لپاره یو څه وکړم.

دوست مې زما په خبره ډېر خوشاله شو او دا خو قاعده ده چې که بل چا ته سکون ورکوې، ته هم سکون احساسوې. زما ذهن چې ارام شو، په اسانه مې مرسته ورسره وکړه.

پوهاند زیاته کړه: ژوند همېشه موږ له ناڅاپي مشکلاتو سره مخ کوي او له عادي حالته مو باسي خو که د هغې ماشومې غوندې یې هرکلی وکړو، خوشالي به مو په نصیب شي او که غمجن شو نو بس غمجن به یوو نو!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# وروستی انتخاب

یوې پېغلې دوه طلبګاره لرل. یو یعقوب نومېده، بل مصطفی. دې ته پکې انتخاب سخته و، څکه یو هم بد نه و. هر ځل چې به طلبګارانو خبره یاده کړه، دې به مثلاً وویل: دا د بېړې کار نه دی، ګورو به، خدای دې خیر کړي...

په وروستي ځل چې یعقوب د جمعې په ورځ بیا راغی، دې همدا پاسنی خبره ورته وکړه او د سړي تندی تریو غوندې شو، ژر یې خدای پاماني وغوښته، ولاړ.

په سبا یې مصطفی راغی او د دې له خولې یې همدا د ګورو به یې، د بېړې کار نه دی، خدای دې خیر کړي... خبرې واورېدې. مصطفی هم لکه یعقوب، خوابدی غوندې شو، ژر پاڅېد، ولاړ.

پېغله پوه شوه چې د طلبګارانو حوصله مخ په کمېدو ده، خو له بلې خوا دې ته وروستی پرېکړه اسانه نه وه، نو یوې سپین سارې مېرمن ته چې ډېره پوه وه، ورغله، مشوره یې ځنې وغوښته. هغې ورته وویل: یوه ټوټه کاغذ راواخله، اول د یوه ځوان هغه ځانګړنه ولیکه چې ستا ډېره زیاته خوښه ده او بیا د بل ځوان هغه ځانګړنه ولیکه چې ستا ډېره زیاته خوښه ده. له دې وروسته کاغذ سترګو ته نژدې ونیسه، دواړه خبرې ولوله او سترګې پټې کړه. په دې وخت کې به ستا په ذهن کې غوره شوی کس ودرېږي.

نجلی همداسې وکړل او یعقوب یې پکې غوره کړ.

سپین سارې چې د دې له فیصلې خبره شوه، پوښتنه ورنه وکړه: د دوی په باره کې دې څه لیکلي وو؟

نجلی ورته وویل، ما ولیکل: «د مصطفی مې دا ځانګړنه ډېره خوښه ده چې کله یې وینم نو داسې احساس راکوي لکه ډېر تکړه سړی چې وینم.» او «د یعقوب مې دا ځانګړنه ډېره خوښه ده چې کله یې وینم نو داسې احساس راکوي لکه زه چې ډېره تکړه یمه».


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## مشر ماڼو او کارکوونکی

يو چا له درې کلونو راهيسې په يوه لويه بېړۍ کې کار کاوه. ده په دې درېو کلونو کې د اول ځل په مخه نشه وکړه. د بېړۍ مشر ماڼو د هغه شواروز په رپورټ کې د ده په اړه وليکل چې: «پلانی کارکوونکی نن شپه نشه و.»

کارکوونکي چې په رپورټ کې دا جمله ولوسته، مشر ماڼو ته ورغی، معافي يې وغوښته او ويې ويل: «په تېرو درېو کلونو کې مې صرف يو ځل نشه وکړه، اوس که دا په رپورټ کې پاتې شي، سوانح مې ورسره خرابېږي، يا دا جمله رنګه کړه او يا دا هم ورسره وليکه چې په تېرو درېو کلونو کې يې صرف يوه شپه نشه وکړه.»

مشر ماڼو يې غوښتنه ونه منله، ويې ويل: «هغه څه چې ما ليکلي دي، په سلو کې سل حقيقت لري.»

څو ورځې پس د رپورټ ليکلو نوبت د همدې کارکوونکي و. ده وليکل: «مشر ماڼو نن شپه نشه نه و.»

مشر ماڼو ورته وويل: «دا جمله رنګه کړه، يا يې بدله کړه، ځکه اوسنی بڼه خو يې دا معنا هم لري چې په نورو شپو کې زه نشه کوم او صرف همدا شپه مې نشه نه ده کړې.»

کارکوونکي يې غوښتنه ونه منله، ويې ويل: «هغه څه چې ما ليکلي دي، په سلو کې سل حقيقت لري.»

## د دوو ملګرو کيسه

اسحاق او سليم د ماشومتوب ملګري وو. په ښوونځي کې تر اخره يو ځای وو او په عسکري کې هم سره يو ځای شول، په يوه ټولي کې وو. چې جګړه ونښته، د دوی ټولی اول خط ته واستول شو. يوه شپه چې د مرميو باران و، اسحاق اواز واورېد: اسحاقه! اسحاقه!

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اسحاق سمدستي وپېژاند چې د سليم اواز دی. خپل مشر ته يې وويل: ملګری مې مرسته غواړي، اجازه راکړه، ورشم!

مشر ورته وويل: زموږ کسان ډېر کم دي، که ته هم ولګېږې، څه به کوو، او بل ستا ملګری ډېر ژوبل معلومېږي، ورتګ دې بې فايدې دی، مه ځه!

لکه څنګه چې د عسکري قانون دی، اسحاق مجبور و، د مشر ومني، پاتې شو.

شېبه نيمه پس يې بيا د سليم اواز واورېد: اسحاقه! اسحاقه!

خو اسحاق سړه سا وايسته او په خپل سنګر کې پاتې شو.

لږ وروسته بيا د سليم اواز شو: اسحاقه!

اسحاق يو ځل بيا له مشره د ورتلو اجازه وغوښته. مشر دا ځل په نه زړه اجازه ورکړه. اسحاق په تياره کې د مرميو په منځ کې په سينه وښويېد، ځان يې وررورساوه، سليم يې سنګر ته راوڅکاوه. هغه مړ و. مشر ورته وويل: ما نه درته ويل چې سړی ختم دی خو نه دې منله!

اسحاق ورته وويل: زه چې ورغلم لا ژوندی و. وروستی خبره يې دا وه چې: زه پوهېدم ته به ځان راورسوې!

## دوه ورونه

يو ورور به همېشه نشه و، جنګونه به يې کول، د کورغړي به يې وهل، بې لارې بنيادم و؛ دا بل ورور له بدو ډېر لرې و، خيرمن انسان و او دومره نرم و چې ټول عمر يې هغه د چا خبره بل بنيادم ته «ورکړ شه» هم نه وو ويلي.

يو چا له بې لارې وروره پوښتنه وکړه چې ته ولې داسې شوې؟ هغه وويل: د پلار له لاسه. هغه به نشې کولې زه هم د هغه غوندې شوم.

خو چې له هغه بل وروره يې پوښتنه وکړه چې ته ولې داسې شوې؟ هغه وويل: د پلار له لاسه. هغه به نشې کولې، ګوزاره يې نه کوله، جنګونه يې کول، نو د ماشومتوب له وخته مې له دغسې چلنده بد راغلل.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## غرقېدونکی سړی

سېلاب راغی، هر چا يوې خوا ته پناه يووړه خو يو کس په کور پاتې شو، ويل يې، زه په خدای باور لرم، خدای به مې ساتي.
اوبه زياتې شوې. يو جيب موټر ورته راغی چې دی وباسي خو ده وويل: زما تکيه په خدای ده، په وسايلو نه ده.
اوبه لا زياتې شوې. د موټرو ځای بېړيو ونيو. دی د کور دويم منزل ته وخوت. يوه بېړۍ ورته راغله چې ځان بچ کړي خو ده ونه منله، ده وويل: زه په خدای باور لرم، زما تکيه په خدای ده، په وسايلو نه ده.
د سېلاب اوبه نورې هم زياتې شوې. دی د کوربام ته وخوت. دغه وخت هېلي کوپټر پسې راغله چې ويې ژغوري. خو ده وويل، ژغورونکی يوازې خدای دی، هغه به مې ساتي، نه څم.
کله چې اوبو ډوب کړ او ومړ، خدای ته يې ګيله وکړه، ويې ويل: ما په تا ځان سپارلی و، ما په تا تر هر چا کلکه عقيده لرله، خو اوبو يووړم!
خدای ورته وويل: ته څه فکر کوې چې هغه جيب، هغه بېړۍ او هغه هيلي کوپټر چا دراستولي وو؟

## حريص

يوه حريص بزګر ته يو لوی فيوډال وويل چې له لمر خرکه تر لمر لوېدو که زما په جايداد کې تر هر څومره مځکې راتاو شوې، هغه مځکه به ستا وي، خو په دې شرط چې ماښام بېرته هماغه ځای ته ځان ورسوې چې حرکت دې پيل کړی دی.
بزګر د وړيا مځکې وړانديز ته سخت خوشاله شو. په سبا سهار يې له لمر خرکه حرکت پيل کړ. غوښتل يې چې تر وسه، وسه ډېره مځکه خپله کړي، نو منډې يې وهلې. ماسپښين يې له ځان سره حساب وکړ چې که نور هم مخ ته ځي، بيا به تر


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ماښامه پورې د حرکت د پیل ځای ته رسېدل ورته ممکن نه وي، نو مخ یې راوګرځاوه. که څه هم په ساعتونو منډې یې وهلې وې او ښځې ډېر ستړی و، خو د پیل ځای ته د رسېدو لپاره یې باید منډې جاري ساتلې وای.
لمر د غرونو څوکې ته نژدې کېده او ده چې به وروکتل، پښو ته به یې لا زور ورکړ، لا به چټک شو، ځکه دا خطر و چې لمر به لوېدلی وي او دی به لا د پیل ځای ته نه وي رسېدلی. متل دی وایي، ګور که ګران دی، د مړي ورته ناکام دی، ده هم له تېزو منډو پرته بله لاره نه لرله او بالاخره د لمر له وروستنیو شغلو سره سم، د پیل ځای ته ورسېد او راچپه شو. د بې حده ستړیا په وجه یې زړه درېدلی و. دی چې سبا خاورو ته سپارل کېده، یوازې دوه متره مځکه ورته پکار شوه.

## د مساوات او برابري کیسه

د پوکانو خرڅوونکي به ډېر څله رنګارنګ پوکانۍ په هوا کړې چې د ماشومانو پام ورواوړي او پېرودلو ته یې راشي. یوه ورځ چې سرې، شنې، زېړې او زرغونې پوکانۍ په هوا کې وې، د خرڅوونکي ځنګل چا وښوراوه، ده چې وروکتل، یو تور پوستی ماشوم و. ماشوم پوښتنه وکړه: که یوه توره پوکانۍ خوشې کړې، هغه هم پاس الوتلای شي؟
خرڅوونکي ورته وویل: بچیه، د پوکانۍ رنګ د هغې د الوتلو سبب نه دی، پوکانۍ د هغه څه په وجه الوځي چې په منځ کې یې وي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د سیمې تر ټولو شتمن سړی

د سیمې تر ټولو شتمن سړی په دنګ آس سپور و، په خپلو کروندو راګرځېده چې خوند واخلي او د یوه پلوان شریک د مځکې په راخپلولو باندې هم فکر وکړي.

شتمن د یوې ونې لاندې هانس نومی بزګر ولید چې شکرونه باسي. شتمن ورته وویل: «څه چل دی چې شکرونه باسې؟» هانس وویل: ډوډۍ مې وخوړه، د خدای په رالېږلي نعمت شکر پکار دی.» شتمن یې دسترخوان ته، چې یې لا ټول کړی نه و، وکتل، ویې ویل: «په پیاز او وچې ډوډۍ شکرونه کوې، ځکه دې دغه حال دی!»

هانس وویل: «خدای مې هر ضرورت پوره کړی دی، زه باید شاکر واوسم.» هانس بزګر یوه بله خبره هم ورته وکړه: «ما تعجب وکړ چې تاسې دې خوا ته راغلئ او له ما سره مو ولیدل، ما تېره شپه خوب لیده چې یو غیبي اواز راباندې وشي چې په راروانه شپه کې به د سیمې تر ټولو شتمن کس وفات شي. زه د خوب په معنا نه پوهېږم خو فکر کوم، ویل یې لازم وو.»

شتمن ورته وویل: «په خوبونو پسې مه ګرځه، دا چټیات دي.» او له دې خبرې سره بې آس روان کړ. ده که څه هم د هانس بزګر مخ ته خوبونه چټیات وبلل خو اندېښنه ورولوېده چې د سیمې تر ټولو شتمن کس خو دی دی، هسې نه خوب رښتیا شي، نو چې کور ته ورسېد، خپل ډاکتر یې راوغوښت، د بزګر د خوب کیسه یې ورته وکړه. هغه معاینه کړ او اطمینان یې ورکړ چې هېڅ ډول صحي مشکل نه لري.

ډاکتر دا هم ورته وویل: «ستا د ډاډ لپاره به شپه دلته تېره کړم، مګر باور وکړه چې صحت دې ښځي ښه دی، بالکل بېغمه څمله.»

په سبا سهار چې د سیمې تر ټولو شتمن سړي او ډاکتر یو ځای سهارنۍ خوړه، دروازه وټکېده. شتمن ته خبر راغی چې تېره شپه هانس بزګر وفات شوی دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د کاګویا او فوجي غره افسانه

ډېره زمانه پخوا د جاپان په یوه کلي کې چې د بانګس د بوټو ځنګلونه ترې راتاو وو، تاکیتوري نومی بوډا اوسېده. ده به بانګس بوټي رېبل؛ هغه بوټي چې بند، بند وي، منځ یې تش وي او له وچو لرګیو یې د ګاډي په جوړولو او نورو ګټو شیانو کې کار اخیستل کېږي، ځکه لرګی یې ډېر سپک او ډېر کلک دی. تاکیتوري او مېرمن یې له خپل ژونده راضي وو خو راضي او ارام بنیادمان هم بې درده نه وي، دوی د اولاد د لرلو ارزو لرله. یوه ورځ چې تاکیتوري د ځنګل په منځ کې بوټي رېبل، د بانګس یوه پړکنده بوټي ته یې پام واوښت. ورته سودا یې شوه، منځ یې ورپرانیست. که ګوري یوه ښکلې، پسته، وړکۍ ماشومه پکې ده. ماشومه چې ډېره نازکه جوړه وه، د ده تر مړوند لویه نه وه.

تاکیتوري چې د هغې ښکلا ته وکتل، زړه یې ومنل چې باید یوه اسماني ډالۍ وي. دی له ماشومې سره په بیړه کور ته روان شو. ده او مېرمن یې د خپل اولاد په توګه د هغې د لویولو او روزلو فیصله وکړه او د کاګویا هیمي نوم یې پرې کېښود چې د «ځلنده شهزادګۍ» معنا لري. ځلنده شهزادګۍ د وخت په تېرېدو او لویېدو سره د جاپان تر ګردو ښکلې پېغله شوه. هغې ته خدای د سپوږمۍ غونډې پړکنده ښکلا ور په نصیب کړې وه. د ځلنده شهزادګۍ طلبګاران ډېر وو خو دې به تل داسې شرطونه ورته ږدول چې پوره کول یې د هیچا د وس خبره نه وه، مثلا یوه طلبګار ته یې د ښامار له غاړې د غاړکۍ راوړلو شرط وړاندې کړ او یوه بل ته یې وویل چې د هورای له اساطیري ټاپو به د سرو زرو څانګه راته راوړې. د دې ټول رویباران ناکام شول او دا پېغله پاتې شوه. مور او پلار یې دې وضعیت ته خواشیني وو، ځکه ډېره ورباندې ګرانه وه. دې به ډېر ځله پاس په اسمان کې سپوږمۍ ته په غمجن انداز کتل او د واده نه کولو په اړه یې څه نه ویل.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**ځنګل** (څلور سوه حکایتونه)

د پنځلسۍ په یوه روښانه شپه کې هغې بالاخره مور و پلار ته خپل راز څرګند کړ. هغې وویل: «زه له دې خاورینې دنیا سره تعلق نه لرم. زه د سپوږمۍ یم او ژر باید خپل اصلي کور ته ستنه شم. زه مځکې ته جزایي را استول شوې یم او نور زما د جلاوطنۍ وخت په پوره کېدو دی.»

مور و پلار چې یې د هغې د بېلتانه واورېدل، په ژورو اندېښنو کې لاهو شول. هغو ورته زارۍ وکړې چې مه ځه، خو د تقدیر فیصلې ډېرې پخوانۍ وي، وروسته یا نه بدلېږي. دې ورته وویل چې تاسې د زړه له تله رابانډې ګران یاست او ستاسې محبت به هېڅوخت نه هېروم.

چې میاشت تېره شوه او د پنځلسۍ بله شپه راغله، پاس له اسمانه د نوراني مخلوقاتو یوه ډله د تاکیتوري کور ته ورکوزه شوه چې ځلنده شهزادګۍ ورسره بوځي. مور و پلار یې ډېر وژړل او کلیوالو ډېرې زارۍ وکړې، خو د جاپان تر ټولو ښکلې پېغله له سپوږمۍ والو نجونو سره روانه شوه او د تلو په وخت کې یې د خدای پاماني یو لیک او یو کوچنی بوتل چې د ابدي ژوند اکسیر پکې وو، مور و پلار ته پرېښودل.

خو د تاکیتوري زړه مات و، هغه ته بې ځلنده شهزادګۍ ژوند بې خونده و، د تلپاتې ژوند اکسیر یې وانه خیستل، د جاپان په تر ټولو لوړ غره یعنې د فوجي په څوکه یې هغه دې تمه وښندل چې د خپل محبت پیغام اسمان ته ورسوي. اکسیر تر ننه پورې د فوجي په څوکه کې لوګېږي او موږ ته د لړې یا وربځو په شکل ښکاري.

ځلنده شهزادګۍ خپل اصلي وطن ته لاړه خو دلته یې په جاپان کې د ښکلا، د راز او د محبت یوه داسې کیسه پرېښوده چې له پېړیو راهیسې ویل کېږي، اورېدل کېږي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## قهرېدلی پاچا

پاچا د یوه ښار د خلکو د وژلو نیت کړی و خو د دې لپاره چې ډېر بې رحمه ښکاره نشي، ورته ویې ویل: که مو ما ته داسې شی راوړ چې په غم کې مې خوشاله کړي او په خوشالي کې مې غمجن کړي، هاله مو بخښنم.

د ښار پوهانو ټوله شپه ویښه تېره کړه چې داسې شی ومومي، اخر یې یوه ګوتې انتخاب او سهار یې پاچا ته وړاندې کړه. پاچا ورته وویل: ما خو نه لیدلي او نه اورېدلي دي چې ګوتې دې سړی په غم کې خوشاله او په خوشالۍ کې غمجن کړي، دا مو هسې خپل وخت ضایع کړی دی.

دوی ورته وویل: دا چې په ګوته کړئ او په غم او خوشالي کې ورته وګورئ، بیا به یې په اثر پوه شئ!

پاچا نه منله. دوی ورته وویل: یو ځل خو ورته وګورئ چې هلته څه دي؟

په ګوتې باندې لیکلي وو: دا هم تېرېږي!

پاچا چې دا جمله ولوسته، د دوی خبره یې ومنله او ویې بخښل.

## هغه بل شی

د خلقت په لومړیو ورځو کې اور، اوبه او یو بل شی په ځنګل کې پټ ول. دوی سره وویل چې که له یو بله بېل شول، بیا به یو بل څنګه سره پیدا کوي؟

اور وویل: «که زه درنه بېل شوم، لوګیو ته ګورئ، چېرته چې لوګی وي، هلته به ما ومومئ.»

اوبو وویل: «که سره بېل شو، شنو وښو او تازه ګلونو ته ګورئ، زه به هورې یم.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

او هغه بل شي وویل: «غوره دا ده چې ما ورک نه کړئ، که مو زه ورک کړم، بیا به مې هېڅوخت ونه مومئ.»
تاسې پوهېږئ چې هغه بل شی څه شی و؟ هغه بل شی باور و. که بې باوره شوئ، بیا به یې هېڅ وخت پیدا نه کړئ.

## د جشن کیسه

په جشنونو کې ورزشي لوبې، نڅاوې، سندرې، د اسانو د ځغلولو سیالي او د خوندورو خوړو برانیستي رستورانتونه وي. سږ کال پکې یوه بله تماشه هم وه چې ډېر خلک یې ورمات کړي وو. سږ یو پهلوان راغلی و چې په سوک به یې لوبې خښتې ماتولې، د ګوتو په زور به یې درنې وسپنې کږولې، ولاړه لارۍ یې په یوازې سر ټېله کوله او نورې عجیبې نخرې یې کولې.
پهلوان ته ډېرې پیسې ټولې شوې. د جشن په وروستۍ ورځ یې یو لېمو په ګوتو کې ښه ټینګ کړ چې اوبه یې ټولې تویې شي. بیا یې نندارچیانو ته وویل چې که هر چا له دې لېمو یو څاڅکی نورې اوبه راتویې کړې، سل دانې زرګونه انعام ورکوم.
په سر کې دوه پیاوړي، متوو زلمي راپاڅېدل، په نوبت سره یې خپل بخت وازمایه خو کامیاب نه شول. درې، څلورو نورو کسانو هم لاسونه جګ کړل او ستېج ته راغلل مګر د لېمو سترګه لنده نه شوه. په دې منځ کې یوه له ځانه وړوکې، نیمزالې مېرمن چې شاید څو څلوېښت کلنه به وه، ستېج ته غلې، غلې راغله او لکه څوک چې شرمېږي، په ډېر ټیټ اواز یې وویل: زه به هم کوشش وکړم!
شاوخوا ناستو کسانو ته خندا ورغله، ځینو حیا وکړه، خپله خندا یې د شونډو تر شا پټه وساتله. ځینو نورو په کټ کټ وخندل. دوی خندل او مېرمن په ټول زور لېمو ټینګاوه. ټینګ یې کړ، ټینګ یې کړ، ټینګ یې کړ او بالاخره ټولو په حیرانۍ ولیدل چې یو څاڅکی راتوی شو.

پهلوان سل داني زرګونه ورکړل او ورته ويې ويل: ته يوه شېبه مه ځه، يوه پوښتنه درنه کوم، ما تر اوسه په سلګونو ځله د لېمو اوبه ايستلې او بيا مې خلکو ته ويلي دي چې بل څاڅکی پکې پيدا کړئ خو ته اول کس يې چې کامیابېږې، دا څه چل دی؟ دا څه راز دی؟

هغې وويل: چې د چا مېړه معيوب وي او په کټ پروت وي، چې اووه ماشومان يې په کور کې وي او وږي وي، نو هغه کس په يوې پيسې پسې د غره سر ته هم خېږي، د سلو زرګونو د ګټلو لپاره د يوه لېمو ټينګول خو ورته ډېره وړه خبره ده.

## د منډو اتل

د منډو د سياليو اتل ته چا وويل چې په ژوند کې دې له منډو څه وخت ډېر خوند اخيستی او ځان ډېر کامياب در ښکاره شوی دی؟

ده وويل، ما په سلګونو لويو سياليو کې ګډون کړی او په کابو ټولو کې مې کاميابي په نصيب شوې ده. په معمولي سياليو کې برخه اخيستل او کامیابېدل خو مې له حسابه وتي دي. طبعا، انسان په هر بري خوشالېږي خو هغه بری چې د وخت په تېرېدو سره يې زما په زړه کې اهميت او خوشالي زياته شوې، يو داسې بری دی چې د نورو شايد ورپام شوي هم نه وي. يوه ورځ مې په چمن کې منډو ته ځان چمتو کاوه، يوه بوډۍ او يو نابينا هم چمن ته د ځغاستې لپاره راغلي وو او ما ته يې د سيالۍ بلنه راکړه، ما ورسره ومنله. د دوی دواړو سرعت په يوه اندزه و او ما هم خپل سرعت تقريبا د دوی غوندې کړ، ځکه که شاته پاتې کېدی دوی به فکر کاوه چې هسې يې لحاظ کوم او که مخ ته تلای، د دوی خوشالي مې کموله، نو کله تر دوی لږ وروسته، کله لږ وړاندې ځغلېدم او په اخر کې د چمن بل سر ته په يوه وخت ورسېدو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په هغه ورځ له خپل دې کاره راضي شوم او په سبا يې چې منډو ته تلم، د پروني سهار چلند راياد شو، خوشالي مې احساس کړه. د هغه سهار منډه له کلونو وروسته هم رايادېږي او خوشالي مې ورسره زياتېږي. اوس مې يقين دی چې اصيلې خوشالي او کاميابي له محبت، خواخوږۍ او درناوي سره غوټه دي، که دا ترې وباسې، د تيرو کاميابيو خاطري په زړه کې وار په وار بې روحه کېږي، لکه ګل چې دې له ګلدانه را ايستلی وي.

## مار

د نالوستو او ناپوهانو په کلي کې اوازه شوه چې يو لوستی سړی راغلی دی. دې اوازې د کلي چلباز وارخطا کړ، ځکه هغه به دوی ته ويل چې په کوز ملک کې يې ډېر علم حاصل کړی دی او د همدې دروغو په زور يې په دوی لوبې کولې.
چلباز په لوستي سړي پسې خبرې شروع کړې. لکه څنګه چې د ګڼو ناپوهانو عادت دی چې د يوه خبره به بل ته رسوي، لوستي سړي ته هم د چلباز خبرې ټکي په ټکي رسېدلې خو هغه په خوله مهر لګولی و، مګر په ځينو کليو کې مهر شوې خوله هم د دې سبب نه ګرځي چې چوغليګر غلي شي. چوغليګرو چلباز ته د لوستي له قوله سل رښتيا او دروغ وويل او هغه يې نور هم لوستي ته په قهر کړ.
لنډه دا چې دوه کسه په خپلو کې سره ولوېدل او مېله ګرمه شوه. کليوالو وويل، دوی دواړه به دا معلوموي چې کوم يو لوستی دی او کوم يو دروغ وايي. د کلي په ميدان کې خلک راټول شول. چلباز خلکو ته وويل چې دغه سړی که رښتيا لوستی او باسواده وي، مار دې وليکي، دا ګز او دا ميدان.
لوستي مار وليکه او چلباز د مار د کلمې په ځای د مار انځور وايسته، کليوالو ته يې وويل: اوس تاسې وواياست چې دا مار دی او که دا؟
کليوالو د چلباز خبره ومنله. لوستي ښار ته کډه وکړه او چلباز ډېر کلونه نور هم په کليوالو لوبې کولې.

## د عسکرو ډوډۍ

په عسکري کې دوو ملګرو د ډوډۍ شکایت کاوه. یوه وویل: دومره بېخونده ده چې له ستوني په زحمت تېرېږي او بل وویل: کمه هم ده!
یو حکیم چې د دوی خبرې واورېدې، ویې ویل: دا خو لکه د ژوند کیسه، چې هم ورنه شکایت کوو او هم غواړو چې کم نشي.

## ښکاري او طالبان

و نه و په تېرو زمانو کې یو ښکاري و چې کله به یې زرکې او صحرایي کوترې ښکارولې او کله به د سین غاړې ته په کبانو پسې ته. همدا پېشه د ده د ښځې او بچیو د روزي ذریعه وه. ده یوه ورځ په صحرا کې د یوې غونډۍ په لمن کې د غنمو دانې پاشلې وې چې کوترې به ورته راشي او په دام کې به یې ونیسي. له اوږده انتظاره وروسته درې دانې کوترې لومو ته نژدې شوې خو دغه وخت دوه کسان راښکاره شول چې د ده د لومو په خوا را روان وو او په لوړ اواز یې خبرې سره کولې. دی ورغی، ورته ویې ویل: لطفا ورو خبرې کوئ، چې کوترې وانه لوزي، ما دلته لومه ورته ایښې ده.
هغه دوه کسان چې طالبان وو، ورته ویې ویل: موږ په خپل منځ کې بحث کوو، په تا کار نه لرو او دا خو د خدای صحرا ده، دلته په لوړ اواز غږېدل منع کېدلی نه شي، دلته نه د چا ماشوم ویده دی چې راویښ به شي او نه ناروغان بستر دي چې په تکلیف به شي.
ښکاري وویل: ګورئ کوترې د لوړ اواز په اورېدو سره الوزي، نه پاتېږي، که غلي شئ، ګوندې ویې نیسم.

طالبانو ورته وویل: نو موږ خپل کار پرېږدو چې ته کوترې ونیسې؟ داسې نه شو کولای، البته، که دوه کوترې پکې راکوې، موږ به غلي شو. کنه نو هر څوک به خپل کار کوي، دا زموږ د درس ویلو ځای دی، لومې دې بل ځای غوړوه!

ښکاري ورته وویل: ځوانانو، زما همدا کسب دی، همدا د مرغانو خرڅول مې د بچیو روزي ده، کرې ورځ مې ورته تېره کړې ده، په ایله کې اوس د درې کوترو نیولو ته نژدې شوی یم، نو په هغو کې هم چې دوه تاسې ته درکړم، زه به څه کوم.

هغوی وویل: ته هره ورځ ښکارونه کوې او موږ ډېر وخت وشو چې غوښه مو نه ده خوړلې. نن شپه په مدرسه کې مېلمانه هم لرو، دا دوې کوترې به راکوې، په دې کې زموږ قسمت دی.

ښکاري وویل: وه انصافدارو، دا خو څه ستاسې د مدرسې کوترې نه دي، نه دا لومې تاسې اېښې دي، نه دا مځکه د مدرسې ده، لږ گوزاره کوئ.

خو د ښکاري زاریو اثر ونکړ او هغوی وویل: «یا به دوې کوترې راکوې چې غلي شو او یا ته خپل کار کوه، موږ به خپل کار کوو. که موږ د مزاحمت حق نه لرو، ته یې هم نلرې چې زموږ د درس و بحث مخه نیسې.»

ښکاري وویل: «زما خو نه منئ خو د دې لپاره چې زه راضي شم او کوترې درته حلالې شي، تاسې دغه درس چې وربانديې غږېږئ، ما ته را زده کړئ.»

طالبانو ورسره ومنله. ښکاري لومو ته ستون شو او درې کوترې ونیول شوې.

ښکاري د کوترو له نیولو وروسته طالبانو ته وویل: «زه په خپله ژمنه ولاړ یم، دوې کوترې درکوم، خو تاسې به هم په خپله ژمنه درېږئ، هغه سبق به ما ته رازده کوئ.»

هغوی وویل: درس به در وښیو خو ته نالوستی یې، په مسألو نه پوهېږې او که پوه هم شې. یوه کلمه زده کړه به دې څه پکار شي؟ علم کاشکې د څو کلمو په زده کړه حاصلېدلای!

ښکاري وویل: دا خو سمه ده، سواد نلرم، مګر علم هیڅا په یوه ورځ کې نه دی زده کړی، هغه یو توری هم ښه دی چې زده یې کړم، ګوندې یو وخت مې په کار راشي.

طالبانو وویل: نو چې نه منې، واوره، موږ د خنثی په باره کې غږېدو، یعنې هغه انسان یا حیوان چې نه نر وي، نه ښځه. زموږ بحث دا و چې که یو څوک خنثی دنیا ته راشي، د شریعت په اساس یې د میراث برخه څنګه کېږي؟ موږ په همدې مشاجره کې و چې تا غلي کړو.

ښکاري وویل: چې دا یوه د خنثی کلمه مې زده کړه، دا هم ښه خبره ده، کوترې مو اوس نوش جان.

طالبانو دوې کوترې واخیستې او دوی سره خدای پاماني وکړه.

په سبا ورځ ښکاري په کبانو پسې د سین غاړې ته لاړ او جال یې په اوبو کې خپور کړ. تر غرمې پورې یې هېڅ کب ونه نیو. نور یې زړه و چې جال راټول کړي او تش لاس کور ته ستون شي، چې یو ډېر ښایسته کب یې ونیو. کب طلایي ټاپې لرل او دومره ښکلی و چې کب نیونکی په لوښي کې د اوبو په منځ کې واچاوه چې ونه مري.

ښکاري په لاره کې څو ځله ورته وکتل. په غاړه، ټټر او اړخونو کې یې تور او سپین داغونه وو. د ګېډې لاندې وزر یې طلایي وو او لکۍ یې لا بله جلوه کوله. دومره ښکلی و لکه انځورګر چې په لاس ایستلی وي. ښکاري چې کورته ورسېد، مېرمنې ته یې وویل: نن مې ښکار ونه کړ خو یو ښکلی مېلمه مې راسره راوست، ته خو ورته وګوره!

ښځه یې هم ښایست ته حیرانه شوه او مېړه ته یې وویل: ما هم په عمر کې دومره ښکلی کب نه دی لیدلی. ښه شو چې ژوندی دې پرېښود. خرڅوه یې مه. پاچا ته یې سوغات یوسه. هغه په ماهۍ کې تازه تازه د مرمرو یو ډنډ جوړ کړی دی. ور یې وړه، نوم به دې ښه شي.

ښکاري وویل: ډېره ښه مشوره ده.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کب یې په یوه پاک لوښي کې واچاوه او د پاچا د مانۍ خوا ته روان شو. دی په داسې وخت کې مانۍ ته ورسېد چې ډله ته یې تازه اوبه ورخوشې کړې وې، څو کبان په روڼو اوبو کې ګرځېدل او پاچا او وزیر یې په تماشه بوخت وو.

ښکاري خپل سوغات وړاندې کړ. د ده کب د ډلې د منځ تر ټولو کبانو ښکلی و. پاچا ورته خوشاله شو او امر یې وکړ، چې سل طلاوې انعام ورکړي.

دغه وخت وزیر د پاچا په غوږ کې وپوسنېده: دومره طلاوې بښخې ډېرې دي. دا اسراف دی. بیا به سبا نور هم دغسې تمه کوي او په خزانې به بوج ډېر شي.

پاچا ورته وویل: اوس خو مې ویلي دي، له خپلې خبرې څنګه واوړم؟

وزیر وویل: چل به وکړو. له ښکاري به وپوښتو چې دا کب نر دی، که ښځه؟ که یې نر وویل: ورته وبه وایو چې ورشه ښځه یې راپیدا کړه چې سل طلاوې انعام واخلې او که یې ښځه وباله، د نرغوښتنه به ترې وکړو. دی خو یې جوړه نه لري نو قانع به شي چې سل طلاوې یې حق نه دی، خو بیا یې هم تش لاس مه پرېږدئ، چې لس طلاوې ورکړئ د خدای تر کوره به خوشاله وي.

پاچا سر ورته وخوځاوه او ښکاري ته یې مخ واړاوه: «ښه نو اوس دا راته ووایه چې تا راوړی کب نر دی که ښځه؟» بوډا ښکاري چې هوښیار سړی و او د زمانې سړې تودې یې ډېرې لیدلې وې، د وزیر پسنې پوهولی و چې څه خبره خامخا شته، نو ذهن یې چمتو و او د طالبانو هغه پرونی ټکی سمدستي ور یاد شو، پاچا ته یې وویل: صاحب دا کب خنثی دی.

پاچا یې ځواب ته ډېر وخندل او امر یې ورکړ چې سل نه بلکې دوه سوه طلاوې ورکړئ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د شیخ بدل

د پاچا په دربار کې یو شیخ و چې ډېر عزت یې کېده. پاچا به هېڅ خبره د هغه بې مشورې نه کوله. د شیخ ډېر عزت په هغه کې د کبر ناروغي پیدا کړې وه.

یوه ورځ چې شیخ د پاچا د انګورو په باغ کې ګرځېده، یوې بې ادبې بیزو ورپورې وخندل. شیخ ډېر غوسه شو او په لوړ اواز یې وویل: بیزوګانو، ستاسې د دې سپکاوي بدل په ما پور دی!

شیخ چې له باغه ووت، د بیزوګانو مشر په باغ کې دېره ټول بیزوګان راټول کړل، ورته ویې ویل: شیخ ډېر کینه کښ سړی دی، خامخا به موږ ته څه دسیسه جوړه کړي، غوره دا ده چې د پاچا له باغه ټول ووځو.

اکثرو بیزوګانو یې خبره ومنله خو څینو ته یې خبره بابېزه ښکاره شوه، په باغ کې پاتې شول.

څو اونۍ وروسته د باچا د اسونو په طویله کې اور ولګېد، څو اسان ژوبل شول.

پاچا شیخ راوغوښت چې د دې پېښې شګون معلوم کړي او دا وګوري چې په آینده کې باید څه وشي.

شیخ وویل: اجازه راکړه چې زه د شپې کتابونه وګورم، بیا به سبا په دربار کې حال درکړم.

پاچا ورسره خوښه کړه او سبا په دربار کې شیخ وویل: په کتابونو کې راغلي چې که د پاچا د اسونو په طویله کې اور ولګېږي، دا ښه شګون نه دی، خو د دې لپاره چې بلا دفعه شي، د پاچا په باغ کې که بیزوګان وي، د هغو د بدن په وازده باندې باید ټول اسان غوړ شي، بیا ټول د ګنګا په اوبو ووینځل شي، له هغه وروسته به که خدای کول د بلا مخه نیول شوې وي.

پاچا سمدستي عسکر واستول چې په پاچاهي باغ کې ټول بیزوګان ونیسي او د شیخ توصیه عملي کړي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## بدل شوی پاچا

و نه و یو بې لارې پاچا و. دی دومره ظالم و چې رعیب به په پټه تل لاسونه لپه کړي وو او له خدایه یې د هغه د نسکورېدو یا وژل کېدوغوښتنې کولې. خو یوه ورځ ده ټول حیران کړل. ده ژمنه وکړه چې له دې وروسته به هېڅ ډول ظلم نه کوي. پاچا په خپله ژمنه ودرېد، په رعیت باندې مهربان شو او نور یې ان په ژبه باندې چا ته ترخه خبره ونکړه.

څو میاشتې وروسته وزیر، چې اوسورباندې زړه ور شوی و، پوښتنه ورنه وکړه: یو دم بدل شوې، دا څنګه؟

پاچا ځواب ورکړ: د اس په سورلي په ځنګل کې ګرځېدم. یوه ګیدړه مې ولیده چې له تازي سپي تښتېدله. ګیدړې ځان خپلې سوړې ته ورساوه خو پوره لا نه وه ننوتې چې شاتنۍ پښې ته یې د تازي خوله ورسېده او هغه یې ټول عمري ګوډه کړه. وروسته بیا یوه کلي ته لاړم او هلته مې هماغه تازي ولید چې یو چا ته غپېږي. هغه سړي یوه غټه تیږه راواخیسته، تازي یې ورباندې وویشت او د هغه پښه ماته شوه. سړی ډېره لاره لا نه و تللی چې یوه آس په زنګانه لغته ورکړه، په مځکه راپرېوت، پښه یې ورماته کړه. آس ځغاسته پیل کړه، پښه یې په یوه غار کې ننوته، ماته شوه. نو دغو پر له پسې پېښو ته چې مې وکتل، دې نتیجې ته ورسېدم چې شر، شر پیدا کوي او بدي، بدي زېږوي. که زه ظلم جاري وساتم، خامخا به په ظلم واوړم. نو د ځان د بدلېدو هوډ مې وکړ.

## د بیربل تشبیه

بیربل د ایران د پاچا په بلنه هغه هېواد ته تللی و. په ایران کې ورته ښې مېلمستیاوې وشوې او قیمتي سوغاتونه یې تر لاسه کړل. د راتلو په وخت کې یوه درباري ورته وویل چې ته د ایران د صفویانو پاچاهي او د هند د مغولو پاچاهي څنګه سره پرتله

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کوې؟ ده ځواب ورکړ: «ستاسې سلطنت لکه پنځلسی او زموږ سلطنت لکه د اوو ورځو سپوږمۍ.»

د ایران د دربار کسان د هغه په دې خبره ښه خوشاله شول. خو بیربل چې هند ته راستون شو، اکبر پاچا ورته په قهر و. پاچا ورته وویل: «ته خایین راوختې، تا خپل پاچا بې عزته کړ.»

بیربل وویل: «خدای دې نه کوي، زما دې ژبه پرې شي چې خپل پاچا به بې عزته کوم. پنځلسی وار په وار کوچنۍ کېږي او ختمېږي خو هلال وار په وار لویېږي او ځلېږي. زما اصلي مقصد د دې خبرې کول وو چې د ایران پاچاهي مخ په زوال ده او زموږ د اعلیحضرت پاچاهي مخ په قوت او پراختیا ده.»

اکبر د بېربل توضیح قانع کړ او تندی یې ورین شو.

## بزګر او ګاونډی یې

د یوه بزګر او د هغه د ګاونډي سره دعوه شوه. د اکبر پاچا دربار ته لاړل چې لانجه یې فیصله شي. بزګر وویل: ما له خپل ګاونډي یو کوهی په بیه رانیولی دی، اوس وایي چې اوبه مې نه دي دربانديې خرڅې کړي، د هغو پیسې به جدا راکوې.

اکبر پاچا له بیربله وغوښتل چې لانجه ور اواره کړي.

بیربل د بزګر له ګاونډي پوښتنه وکړه: تا کوهی وربانديې خرڅ کړی او ستا اوبه اوس د ده په کوهي کې دي، همداسې ده؟

ګاونډي ځواب ورکړ: بالکل.

بیربل وویل: نو یا بزګر ته د ځای کرایه ورکړه او یا دې اوبه بل چېرته یوسه!

ګاونډی په خپله خطا پوه شو، بخښنه یې وغوښته، له دعوې تېر شو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د بیربل په زړه پورې ځواب

یوه ورځ اکبر پاچا له درباریانو پوښتنه وکړه چې که څوک زما برېتونه کش کړي، څه جزا باید ورکړه شي؟

یوه درباري وویل: دغسې کس باید اویا دُرې ووهل شي.

یوه بل وویل: د یوسلو اویا دُرو مستحق دی.

یو بل درباري ورته په دار کول مناسب وبلل.

اکبر پاچا بیربل ته مخ واړاوه. بیربل وویل: داسې څوک چې ستاسې برېتونه کش کړي، زما په نظر د شیریني مستحق دی.

دې ځواب ټول حیران کړل.

بیربل توضیح وکړه: څکه چې دغسې جرات د پاچا له لمسي پرته بل هېڅوک نه شي کولی.

## د لېوه انعام

د لېوه په ستوني کې هډوکی بند و، پعذاب و. یوه زانه یې د تالاب په غاړه ولیده، ورغی، ورته ویې ویل: ستاسې زانو غاړې او مښوکې اوږدې دي، زما له ستوني خو دا هډوکی وباسه چې ډېر په تکلیف یم، انعام به درکړم.

زانه چې حلاله او بې ازاره ده، د لېوه په خوله کې یې له مښوکې وهلو کرکه کېده، خو له ځان سره یې وویل چې یو خدمت کولای شي، ولې یې ونه کړي. هډوکی یې ایسته کړ. لېوه بې له دې چې ان مننه ورنه وکړي، په خپله مخه رهي شو. زانې اواز پسې وکړ: زما انعام څه شو؟

لېوه ورته وویل: چې د لېوه له خولې دې سر سلامت راووت، دا وړوکی کی انعام دی؟

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## ریښې مضبوطې پکار دي

دوو ګاونډیانو د یوه ګل دوه تازه راشنه شوي بوټي واخیستل او په خپلو کورونو کې یې کېښنول. د دا یوه بوټي، چې د متقاعد ښوونکي په کور کې و، معمولي پالنه کېدله خو د دا بل بوټي په پالنه کې هېڅ کمی نه و او څښتن یې، چې په ښاروالي کې مدیر و، تندې ته ببخي پرېښوده نه او هغه د چا خبره پوره یې نازاوه.

دوې میاشتې وروسته یو ماسپښین هوا توپاني شوه. د ښاروالي د مدیر بوټی یې له ببخه وایست خو د متقاعد ښوونکي بوټي صدمه ونه لیده. د ښاروالي مدیر ښوونکي ته وویل چې ما او تا دا بوټي په یوه ورځ کېښنول، په هغه ورځ دواړه بالکل په یوه اندازه وو خو وروسته زما بوټی څکه لا ګڼ او لا تازه و چې ما یې ډېره خسمانه کوله، مګر توپان چې راغی، زما د بوټي ریښې یې په هوا کړې او ستا وال بچ شو، دا ولې؟

متقاعد ښوونکي ورته وویل: زما بوټی چې سم نه نازېده، مجبور و، ریښې وغځوي او د مځکې نم او خواړه ورکش کړي خو تا ډېر نازاوه او د ریښو د غځولو اړتیا یې زیاته نه وه.

## زمری او هوښیاره ګیدړه

زمري ته خپلې مېرمن وویل چې خوله دې بوینه ده. په ده دا خبره هم بده ولګېده او هم خجالت شو. له کوره د باندې ووت او درې ژوي یې راوغوښتل چې د دې خبرې حقیقت معلوم کړي.

اول یې له پسه پوښتنه وکړه. هغه چې په زمري د یوه مشر او ملګري ګومان کاوه، ورته وویل: د خولې دې بد بوی ځي، کاشکې یې چاره وکړې! زمری ورته په غوسه شو، سر یې ورغوځ کړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بیا یې له لېوه پوښتنه وکړه. لېوه چې د پسه پرې کړې سر ولید، ویې ویل: صاحب د دنیا تر ښو عطرونو یې هم ښه بوی ځي، هر څوک چې ستا خوله بوینه بولي، بد کوي. زمری هغه ته هم غوسه شو، چاپلوس یې وباله، ویې واژه.

وروستی نوبت د ګیدړې و. ګیدړې وټوخل، ویې ویل: صاحب زه ذکام شوې یم، دماغ مې بند دی، بوی نشم پېژندلی.

او ګیدړه همدې خبرې د زمري له غضبه وژغورله.

## مېږی او کوتره

مېږی تږی و. د اوبو په لټه کې د ډنډ غاړې ته ورسېد خو پښه یې وښوییده، ډنډ ته خطا شو. په ونه کې ناستې کوترې چې دا حال ولید، یوه پاڼه یې په مښوکه کې ونیوله، په اوبو کې یې د هغه څنګ ته کېښوده. مېږی پاڼې ته وخوت او ساعت نیم پس چې نري باد پاڼه د ډنډ غاړې ته ورسوله، دی له اوبو راووت، ژوندی پاتې شو.

په هماغه ورځ ماسپښین چې کوتره ویده وه، یو ښکاري وغوښتل جال ورباندې واچوي، ژوندۍ یې ونیسي. د یوه مېږي چې ورپام شول، د جال غوړولو په شېبه کې یې د ښکاري په پښه کلکه خوله ولګوله. هغه جال پرېښود، وی، وی یې وکړل او کوتره چې اواز راویښه کړې وه، والوتله، بچ شوه.

## پاچا او سوالګر

پاچا او ملکه د ښار سیل ته وتلي وو. په یوه کوڅه کې یې یو بوډا سوالګر ولید. د دوی خوا ورته بده شوه، سل طلاوې یې ورکړې. سوالګر بې حده خوشاله شو، کچکول یې په کځوړه کې واچاوه او د کور په خوا روان شو. په لاره کې یې یو څوک ولیدل چې لاسنیوي ته یې سخته اړتیا لرله. سوالګر کولای شوی چې یوه یا دوې طلاوې هغه ته ورکړي او ویې ژغوري خو داسې یې ونکړل او لږ وړاندې په یوه غله پېښ شو، غله ټولې طلاوې ورنه ولوټلې.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سوالګر بېرته مجبور شو، کچکول یې په غاړه کړ. څو ورځې پس چې پاچا او ملکه بیا د ښار په سیل وتلي وو، د بوډا سوالګر لیدلو حیران کړل. دوی په خپلو منځو کې سره وویل: «ده ته خو موږ سل طلاوې ورکړې وې، بیا ولې درویزه کوي؟»

پاچا او ملکې همدا پوښتنه له سوالګره وکړه او هغه د غلا کیسه ورته وکړه. دوی دا ځل ورته یو الماس ورکړ چې تر سلو طلاوو یې هم بیه ډېره وه. سوالګر کچکول سمدستي په کځوړه کې واچاوه، کور ته خوشاله روان شو. بوډا سوالګر دا ځل بیا په لاره کې یو محتاج بنیادم ولید چې مرسته یې ورسره کولای شوی او ویې نکړه.

دی چې کور ته راغی، مېرمن یې په کور کې نه وه. الماس یې په یوه تش دېګ کې کېښود او پخپله یې بالښت ته ډډه ووهله چې لږ دمه ونیسي او وروسته بیا بازار ته لاړ شي، الماس وپلوري، ښه شتمن شي. دی چې ستړی و، خوب یووړ. په دې منځ کې یې مېرمن راغله، هماغه دېګ یې د سین غاړې ته یووړ چې له اوبو یې ډک کړي، بې له دې چې پوه شي چې په دیګ کې څه دي. د ډکولو په وخت الماس د سین اوبو یووړ.

سوالګر چې راویښ شو او په کیسه پوه شو، تندي ته یې ټک ورکړ او کچکول په غاړه بازار ته راووت. پاچا او ملکې چې په درېیم ځل هم د ګدایي په حال کې ولید، ورته ودرېدل او ویې پوښت چې ولې؟ ده ورته کیسه تېره کړه. پاچا او ملکه دې نتیجې ته ورسېدل چې دوی نصیب نه شي بدلولی، نو دا ځل یې صرف یوه روپۍ ورکړه چې د هغې ورځې چاره یې ورباندې وشي.

بوډا سوالګر چې د هغې ورځې خرچه موندلې وه، کور ته روان شو. په لاره کې یې د سین په غاړه یو کب نیونکی ولید چې نیولی کب یې په ګونۍ کې لټ په لټ اوړي. د سوالګرکب ته خوا بده شوه، کب نیونکي ته یې وویل، ما ته یې په یوه روپۍ راکړه. هغه ورباندې خرڅ کړ، او ده چې بېرته سیند ته اچاوه، کب له خولې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هماغه الماس ایسته وغورځاوه. بوډا له خوشالۍ لاسونه وپړکول، چیغه یې کړه: پیدا مې کړ! پیدا مې کړ!
دغه وخت هغه د سلو طلاووغل د سین په غاړه تېرېده او ګومان یې وکړ چې بوډا دی پیدا کړی دی، نو ورغی، زاری یې ورته وکړې چې چا ته حال مه وایه، طلاوې دي ټولې درکوم.
بوډا چې اولاد نه لاره او د ګدایي حوصله یې هم ورځ په ورځ کمېدله، ناڅاپه شتمن شو او له احتیاجه راووت.

## تور ټکی

استاد چې صنف ته راننوت، ټولو شاګردانو ته یې یوه، یوه سپینه پاڼه ورکړه، ورته ویې ویل: نن یو مهم امتحان اخلم، دا معلومه کړئ چې په دې پاڼه کې څه دي؟
شاګردانو سپینه پاڼه په ځیر وکتله، یوازې یو تور ټکی یې پکې ولید، نور څه یې ونه موندل. دوی حیران پاتې شول چې دا څنګه امتحان دی؟ ځواب طبعا د ټولو همدا و چې دلته یو تور ټکی دی.
استاد وویل: تاسې دا یو کوچنی تور ټکی یاد کړ، مګر د کاغذ ټول سپین مخ مو د یادولو وړ ونه باله. تاسې ګرم نه یاست، ځکه له ژوند سره زموږ د چلند طریقه همدا ده. موږ په ژوند کې د ناروغۍ داغ وینو، خو د صحت نعمت نه وینو. د هره ورځ خواږه مجلسونه لکه دغه د کاغذ سپین والی نه راښکاري خو یوه ورځ ترخه خبره لکه دغه تور داغ له پامه نه غورځوو. ټول عمر چې ډوډۍ رارسېږي، د کاغذ د سپین مخ په شان یې طبیعي او د نه یادولو وړ ګڼو، خو که یوه ورځ وږي پاتې شو، هغه خاطره مو په زړه باندې داغ پاتې شي. شکر کول او د ژوند د بې انتها نعمتونو لیدل مه هېروئ.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## مور

توماس اديسن يوه ورځ له ښوونځي وختي کور ته راغی او مور ته يې يو کاغذ ورکړ، ورته ويې ويل: «زما ښوونکي دا خط راکړ، ويل يې دا به دې يوازې مور ته ورکوې.» د مور سترګې يې د خط په ليدو له اوښکو ډکې شوې او زوی ته يې په لوړ اواز ولوست: «ستا زوی يو نابغه دی. دا ښوونځی د هغه لپاره ډېر کوچنی دی او د هغه د روزلو لپاره لازم استادان نه لري. لطفا ته خپله ورته درس ورښيه.»

د اديسن د مور له مړينې ډېر کلونه وروسته، اديسون د پيړۍ يو تر ټولو ستر مخترع شو. ده يوه ورځ چې د پلرني کور الماری پلټله، يو زوړ ليک پيدا کړ، هغه چې د ده استاد د ده مور ته استولی و. ليک يې ولوست. هلته ليکلی پيغام دا و چې: «ستا زوی په ذهني لحاظ ډېر کمزوری دی. موږ ده ته نور اجازه نه شو ورکولی چې مکتب ته راشي. دی له مکتبه اخراج شوی دی.»

اديسن احساساتي شو او د خپلو ورځنيو يادښتونو په کتابچه کې يې وليکل: «توماس الوا اديسن په ذهني لحاظ ډېر کمزوری ماشوم و چې خپلې مور د پيړۍ په نابغه بدل کړ.»

## د سهوې پېښې

سليم او سلما کلي ته د نيا و نيکه کره تللي وو. سليم هلته يوه لينده پيدا کړه چې د نيکه په باغ کې مرغۍ وولي. مرغۍ يې ونه ويشتلې خو له بده قسمته د نيکه و نيا يوه هيلۍ چې د باغ د منځ د حوض په غاړه ګرځېده، په سر ولګېده او مړه شوه. سلما دې شي ته پام شول خو نيا و نيکه يې خبر نه کړل. کله چې ماښام له ډوډۍ وروسته نيا په سلما اواز وکړ چې ورشه، لوښي ووينځه! سلما وويل: سليم وايي زه يې وينځم. او بيا يې سليم ته چې په څنګ کې يې ناست و، په غوږ کې وويل: د هيلۍ کيسه چا ته نه کوم، ورشه لوښي ووينځه. سليم سمدستي لوښو ته پاڅېد.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په سبا ماښام له ډوډۍ وروسته نیا بیا سلما ته د لوبنو وویل او دې ورته وویل چې سلیم یې په خپل شوق وینځي.
سلیم چې د لوښو له وینځولو راغی، نیا ورته وویل: تا چې هیلی ویشته، ما د کور د دویم پوړ له کړکۍ درته کتل او په دې هم پوه شوم چې سلما درباندې خبره ده، ځکه خو د هغې کارونه ورته کوې. دا دوې ورځې مې صبر وکړ چې ته به خپله تېروتنه ومنې او وبه وایې چې هیلی زما له لاسه مړه شوه او ما باید مرغان په ګاټو نه ویشتلی، خو تا اعتراف نه کاوه، حال دا چې د سهوې بار صرف هغه وخت له اوږو اخیستل کېږي چې سهوه ومنل شي او د نورو له قبضې راوتل هغه وخت اسانه کېږي چې هغوی ستا د راز په نامه له ځان سره څه ونه لري.

## حرص

په کابل کې د چاکلېټو یو ډېر لوی دوکان جوړ شوی و. پلار خپل زوی ته وویل چې نن دې مغازې ته بیایم، هلته بې شمېره قسمه چاکلېټ پراته دي، ته پکې یو انتخاب کړه، درته اخلم یې، خو ګوره، د چاکلېټو مخې ته صرف یو ځل تېرېدلی شې او له کومو چې تېر شې، هغه بیا درته نه اخلم.
هلک په مغازه کې د رنګارنګ چاکلېټو مخې ته تېرېده، ځینې تر نورو ښه ورښکاره شول خو د لا ښه چاکلېټ په تمه مخ په وړاندې لاړ. لاړ، لاړ او د مغازې اخر سر ته ورسېد خو انتخاب یې لا نه و کړی.
پلار یې ورته وویل: ته خو د چاکلېټو ډېر شوقي یې، ولې دې یو هم خوښ نه شو؟
زوی ځواب ورکړ: ډېر مې خوښ کړل مګر ما ویل تر هغو به هم ښه پیدا کړم.
پلار ورته وویل: په هر حال، د یوه چاکلېټ د نه لرلو په اندازه تاوان دې وکړ مګر هغه سوال ته دې ځواب ومونډ چې تا سهار له ما کړی و. تا سهار پوښتنه وکړه چې حرص څه ته وایي؟
حرص همدا وي چې د ډېرې ګټې په تمه لږه ګټه هم له لاسه ورکړې.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# کور او شخصيت

يو ښار ډېر ښکلی کور جوړ و. خلکو په لوړه بيه ورنه غوښت خو د ده زړه نه ورباندې کېده. څه موده پس دی بل ښار ته لاړ، څه کار يې و، چې راستون شو، په نوي کور يې لمبې بلې وې. سترګې يې له اوښکو ډکې شوې. مشر زوی ورته راغی، په غوږ کې يې ورته وويل: فکر مه خرابوه، پرون مې ستا بې اجازې خرڅ کړی دی، وبخښه، تاسې نه وئ او بيه ډېره لوړه وه، ما ويل که انتظار کوو، سړی پښېمانه نشي.

د کور د خاوند اوښکې وچې شوې او نور يې لمبو ته لکه د نورو لسګونو کسانوغوندې هسې د سيل لپاره کتل. شيبه نيمه پس يې بل زوی راغی، په غوږ کې يې ورته ويل: نپوهېږو څه وکړو چې د لمبو مخه ونيسو! هغه سړي صرف پيشکي پيسې راکړې دي، له هغو خامخا تېرېږي، لالا مې هسې ورته خوشاله دی.

دې خبرې د کور خاوند يو ځل بيا خوابدی کړ، ستونی يې ډک شو. شونډې يې ورپېدې او شاوخوا ولاړو ېغمو خلکو ته يې په قهر وکتل.

ډېر وخت لا نه و تېر چې دريم زوی يې راغی، پلار ته يې په خوشالی وويل: هاغه د ونې لاندې ولاړ نری ځوان د کور اخيستونکی دی. دا اوس، اوس يې راته ويل چې ما ژبه کړې ده، زه له خپلې ژمنې نه اوړم، که ټول کور ايره هم شي، کور زما دی.

سړی يو ځل بيا د نورو سيل کوونکو په ډله کې شامل شو. لاسونه يې تر تخرګونو لاندې نيولي، لمبو ته يې کتل.

لږ وروسته د کور اخيستونکی ورته راغی، ويې ويل: ما دې اوس زوی ته هم وويل، زه چې لوز وکړم، بيا خپل لوز نه ماتوم. کور زما دی، ته اندېښنه مه لره!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سړي خوله چینګه کړه، ویې ویل: زما د کور په اخیستلو کې دې لوی تاوان وکړ، بخښنه غواړم، خدای دې د دې لس برابره ښه کور درکړي.
هغه وویل: تاوان خو به هغه وخت و چې زه له خپل قوله اوښتی او زما شخصیت سوځېدلی وای. چې سر وي، خولی ډېرې پیدا کېږي.

## قضاوت

ماشومه له پلار سره پارک ته تللې وه. هلته هغې منې ولیدې، پلار ته یې وویل چې منو ته مې زړه وشو. له پلار سره یې پیسې کمې وې، صرف دوې دانې یې ورته واخیستې. ماشومې د پلار لاس خوشي کړ، یوه منه یې په یوه او بله یې په بل لاس کې کلکه ونیوله. پلار ورته وویل: دا یوه به ما ته رانه کړې؟ دې سمدستي په یوه منه او بیا په بلې منې چک ولګاوه.
پلار ته یې په زړه کې ورتېره شوه چې دومره وړه ماشومه هم د حرص په ناروغۍ مبتلا وي. ده لا همدا فکر کاوه چې ماشومې ورته وویل: بابا دغه یې ستا، دا ډېره خوږه ده!
استاد چې دا حکایت کاوه، ویې ویل: موږ اکثره وخت د نورو په اړه ژر قضاوت کوو او کله سمدستي او کله ډېره موده وروسته پوه شو چې تېروتلي وو.

## له پلار سره ډوډۍ

زلمي زوی عمر خوړلی پلار هغه رستورانټ ته راوست چې پلار یې د ځوانۍ په وخت کې چاینکي پکې خوړلې وه. پلار پوړېده، ګام یې سم نه شو اخیستلی خو خوشاله و. د چاینکي د خوړلو په وخت له بوډا دوه ځله ګوله لاندې ولوېده. د هغه لاسونه رېږدېدل.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته بیا زلمي لاندې لوښدلې ډوډۍ راټوله کړه، مځکه یې صفا کړه، د پلار ږیره یې چې په خوړلو لړلې وه، په خپل دسمال پاکه کړه او له پلار سره لاس وینځلو ته ولاړ. دغه وخت ناستو کسانو تر سترګو لاندې دوی ته کتل او په زړه کې یې په زلمي باندې افرین وایه.

کله چې پلار او زوی له رستورانته وتل، یوه د پاخه عمر سړي اواز ور باندې وکړ:

زلمیه، پوهېږې چې دلته دې څه پرېښودل؟

زلمي په حیرانۍ ور وکتل، ویې ویل: نه!

د پاخه عمر سړي وویل: ټولو ناستو زامنو ته یو سبق او ټولو پلرونو ته یو امېد!

## د نورو د هڅو قدردان

یو ځوان چې لوړې زده کړې یې کړې وې، د یوې کمپنۍ ریاست ته کاندید و. له کاندیدانو به د کمپنۍ مالک پخپله امتحان اخیست. دی چې د کمپنۍ مالک ته ورغی او د ده په علمي برياوو مطمین شو چې له ښوونځي او پوهنتون او لا لوړو زده کړو پورې اول نومره و، نو لږ یې ډېر له ځان سره ایسار کړ.

د کمپنۍ مالک ورته وویل: پلار دې څه کار کوي؟

ده ورته وویل: زه یو کلن وم چې پلار مې وفات شو.

-نو مصرف دې څنګه پوره کاوه؟

-مور مې کار کوي.

-هغه څه کار کوي؟

-د خلکو جامې وینځي.

-ته دې لاسونه راښکاره کړه!

ځوان لاسونه ورښکاره کړل چې صاف او پاسته ول.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د کمپنۍ مشر پوښتنه وکړه: له مور سره دې د جامو په وینځلو کې کله مرسته کړې ده؟

ځواب ورکړ: نه، هېڅوخت، ځکه هغه ما ته وايي چې ځان ورسوه، لا ډېر کتابونه ولوله. بله دا چې هغه په خپل کار کې ډېره تکړه ده، ما ته يې ضرورت نشته.

د کمپنۍ مالک ورته وويل: زه يوه غوښتنه درنه کوم. کور ته ستون شه، د مور لاسونه دې ووينځه او سبا يو ځل بيا ملاقات ته راشه.

ځوان خوشاله راستون شو، ځکه منفي ځواب يې نه و اورېدلی. په کور کې يې مور ته وويل چې لاسونه دروينځم. هغې حيران، حيران ورته کتل او البته خپه نه وه، فکر يې کاوه چې زوی يې ګوندې مقرر شي.

زوی ورو ورو د هغې لاسونه وينځل او ستونی يې ډک، ډک کېده، ځکه په لومړي ځل يې د هغې چاودې، ځيرو لاسونو ته پام شول چې څو ځايه تناکي وو.

دی په لومړي ځل پوره پوه شو چې همدې تناکو لاسونو دی لوړو زده کړو ته رسولی او د ده خرڅ يې برابر کړی دی. د هغې د لاسونو زخمونو د ده د روښانې سبا لاره اواره کړې وه. د مور د لاسونو له وينځلو وروسته ده په پټه خوله جامې هم ووينځلې.

په هغه شپه مور او زوی اوږدې خبرې وکړې. زلمی زوی سبا د کمپنۍ د مالک دفتر ته لاړ.

هغه ورته وويل: اوس راته ووايه چې په کور کې دې څه وکړل او څه دې زده کړل؟

ده ورته وويل: يو، ما قدرداني زده کړه. ما به دمور له مرستې پرته په هيڅ وجه اوسنی برياوې نه لرلای. دوه، يوازې له مور سره په کار کې مرستې کولو په دې پوه کړم چې کار اسانه نه دی، ډېر زحمت غواړي. درې، زه په کورني ژوند کې د همکارۍ او روابطو په اهميت پوه شوم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د کمپنۍ مالک ورته وویل: ما غوښتل چې د کمپنۍ رييس مې په همدې ټکو پوه وي. زه غواړم داسې څوك مشر وټاکم چې د نورو د مرستې قدردان وي، د نورو د کار په اهميت پوه وي او يوازې پيسې ګټل يې د ژوند مقصد نه وي. مبارك دې وي، ته د کمپنۍ رييس شوې.

هغه د رياست په وخت کې ډېر زحمت وايست، له همکارانو سره يې رابطه ښه وه، هغوی يې خبره منله، په هغوی ګران و او يو بل ته يې په درنه سترګه کتل. د کمپنۍ په عوايدو کې لوی فرق راغی. مالك له خپل انتخابه راضي و.

## اوزه او ګيدړه

ګيدړه د شپې په تياره کې څاه ته ولوېده. څاه ډېره ژوره نه وه خو په نېغو، ښويه دېوالونو يې ختل سخته وو. ګيدړې په دې تمه چې سبا به رڼا کې ګوندې کومه لاره پيدا کړي، شپه په څاه کې تېره کړه. سهار هلته يوه اوزه تېرېدله. چې ګيدړه يې په څاه کې وليده، ويې پوښتله: «دلته څه کوې؟»

ګيدړې وويل: «عجبې خوږې، خوندرې اوبه يې دي، راشه، ويې څښه چې دعا راته وکړې.»

اوزې بې عقلې سمدستي ورټوپ کړل. اوبه بدې نه وې خو دې ته يې پام نه و کړی چې څنګه به راخېژي. ګيدړې ورته وويل: «ته د شا په پښو نېغه ودرېږه، زه به دې سرته وخېژم ځان به وباسم او بيا به تا وباسم.» اوزې همداسې کړل. ګيدړه راوخته خو د مرستې په ځای يې نصيحتونه ورته شروع کړل: «يو څوك چې هوښيار وي داسې ځای ته نه کوزېږي چې د راختلو لاره يې نه وي ورمعلومه. او بل يو څوك چې ذره قدرې عقل هم ولري د ګيدړې نه مني، ځکه ګيدړې خو په چلبازۍ کې نوم ايستلی دی.» اوزې ورته وويل: «خبرې دې د کاڼي کرښې دي خو اوس مې په ميدان مه پرېږده!»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګیدړې ورته وویل: «هغه زه وم چې په میدان پاتې وم، ته خو مالک لرې او شپږ ورکوې، په تا پسې به ټولې لوړې ژورې وپلټي، غم مه کوه، ساعت نیم کې به خامخا در پسې راشي.» دغه وخت د بنیادم د پښو ځرپې شو او ګیدړه د ځنګل په لور وتښتېده.

## غلا شوی آس

په آس باندې سپور سړی څو ساعته پر له پسې مزل ستړی کړ، د یوه ځنګل په خوا کې یې آس په ونه پورې وتاړه، خپله د ونې سیوري ته خوب یووړ. یو وخت چې راویښ شو، آس یې نه و. پوه شو چې غلا شوی دی. یوه لویه لښته یې له ونې راغوڅه کړه او د آس او غله په پله پسې روان شو. پل یوه نژدې کلي ته رسېدلی او هلته بیا د ډېرو پلونو په منځ کې ورک شوی و. ده په کلي کې لښته په لاس کې ځرخوله او په لوړ اواز یې ویل چې غل دې زما آس راستون کړي، کنه نو هماغسې کوم چې هغه بل ځل مې آس ورک شوی و.

ده په لوړ اواز اخطارونه ورکول او کلیوالو اورېدل. غل چې د همدې کلي و، ووېرېده، آس یې بېرته په هغه ځای کې خوشي کړ چې غلا کړی یې و او آس خپل ښتن ته په ګوتو ورغی.

غله ته چې د آس د ښتن اخطارونو اندېښنه پیدا کړې وه، ده ته په لاره کې ودرېد، پوښتنه یې ورنه وکړه: هغه بل ځل چې دې آس ورک شوی و، څه دې کړي وو؟

ده وویل: هېڅ ، بل آس مې واخیست.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# لاو تزه

د لرغونو زمانو یو هغه انسان چې ترننه پورې له بشر سره غږېږي او پیغامونه ورته لري، چیني حکیم لاو تزه دی. د ده فکر د ختیځ پر فلسفه او عرفان ژور اثر کړی دی او ان په اوسني وخت کې هم د حکمت د لارې لارویان د ژوند د معنا د موندلو په تمه د لاو تزه لیکنې لولي.

ویل کېږي چې دی شاوخوا دوه زره پنځه سوه کاله پخوا اوسېده، د سلطنتي کتابتون کتابدار و، د ملک ګډوډۍ یې زړه تنګ کړ، له ملکه ووت او غایب شو. لاو تزه په خپلو عرفاني ډوله فکرونو کې له طبیعت سره په ملګرتیا، په ساده طبیعي ژوند او نرم اوسېدلو باندې ټینګار کوي. هسې وایي چې یوه شاګرد ورنه وپوښتل: په دنیا کې تر ټولو پیاوړی څوک بولې؟ ده پوښتونکی د سین غاړې ته بوت، هلته یې ورته وویل: دې تېږو او اوبو ته ګوره، اوبه نرمې دي او روانې، تیږې کلکې دي او ناخوځنده. د وخت په تېرېدو سره دا اوبه دي چې تیږې سولوي. نو په نهایت کې چې څومره پوست یې، هغومره پیاوړی یې.

په یو بل حکایت کې لولو چې په هغه زمانه کې یوه ډېره لویه ونه وه. خورا لوړه او خورا څانګوره. خلک به یې ننداره ته ورتلل. لاو تزه ته یې هم د لیدلو سودا ورولوېده.

ده په خپل غوایي پښه واړوله او ور روان شو. په ونه چې یې نظر ولګېد، لوی والي یې حیران کړ، څکه څانګو یې له ښه لرې فاصلې لا نیم اسمان پوښلی شو. ده د ونې له نندارې وروسته له هلته ولاړو کسانو چې د هغه ځای اوسېدونکي وو، پوښتنه وکړه: دا ونه خو ډېره غټه ده، د دې له لرګیو ولې د بېړۍ یا نورو وسایلو د جوړولو لپاره استفاده نه ده شوې؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغوی وویل: د دې لرګي ټول غوټه، غوټه دي، تختې ورنه نه جوړېږي او د ترکانانو نه پکارېږي.

لاو تزه بله پوښتنه وکړه: نو لرګی یې سوځولو ته ولې نه دی وړل شوی؟

خلکو وویل: لرګی یې ډېر لوند دی، که یې هر څومره هم لمر ته واچوي، نه اوچېږي، د سونګ لپاره مناسب نه دی.

لاو تزه چې د هغې له مېوې ډکو څانګو ته وکتل، بله پوښتنه هم وکړه: مېوه یې څنګه ده؟

خلکو چې شاید د هغه له سوالونو ستړي شوي وو، ورته وویل: خوند یې وڅکه!

لاو تزه ورټیټ شو، یوه مېوه یې له مځکې ورپورته کړه، خولې ته یې یووړه خو چې څنګه یې غاښ ورباندې ولګاوه، تندی یې ګونځې شو. خوند یې خورا بد و.

دغه وخت لاو تزه یوه حقیقت ته ورسېد: دې ونې خلکو ته هېڅ ګټه نه رسوله او په همدې وجه یې په خپل حال کراره، ازاده پرې ایښې وه چې بې مشکله وده وکړي او لویه شي.

## الحمدلله

بزګر پاچا ته چارمغز راوړي وو. د پاچا طبیعت خراب و. په چارمغزو یې موټ ډک کړ، بزګر یې په سر ورباندې وویشت. بزګر وویل: الحمدالله!

پاچا ورته وویل: زه دې وهم او ته الحمدالله وایې، مطلب؟

بزګر وویل: نن مې زړه و هینداونې راوړم، خو بیا مې نظر بدل شو، ځکه مې الحمدالله وویل.

## د مبلمه پېژندل

بیربل ته د ښار یوه لوی شتمن مېلمستیا کړې وه. دی چې ورغی، هلته ډېر کسان ناست و. د بیربل ګڼه ګوڼه نه خوښېده، کوربه ته یې وویل: «مېلمانه خو ماشاالله ډېر دي.» کوربه ورته وویل: «صرف یو بل مبلمه دی، دا نور ټول زما د شرکت کارکوونکي دي.» او په دې پسې یې له بیربله دا بې خونده پوښتنه وکړه: «راته ویلی شې چې په دې کسانو کې هغه بل مبلمه کوم یو دی؟»

بیربل ورته وویل: «ته له دوی سره یوه ټوکه وکړه یا څه خبره وکړه چې ما ته پکې مبلمه وغیرمبلمه معلوم شي!»

کوربه یوه ډېره بې خونده ټوکه وکړه چې له یوه سړي پرته نورو ټولو ورته وخندل.

بیربل په ناستو کسانو کې همدا سړی مبلمه وباله چې نه یې وو خندلي.

کوربه ورته وویل: «څنګه دې وپېژاند؟»

بیربل ځواب ورکړ: «دا خو قاعده ده چې مامورین د رییس هرې ټوکې ته خاندي او دغه چا چې ونه خندل، معلومدار مامور نه دی، زما غوندې مبلمه دی.»

## د لیست په سر کې

یوه ورځ مرګ په چا پسې ورغی، ورته ویې ویل: نن دې نوبت دی!

هغه ورته وویل: وبه یې نه ځنډوې؟

مرګ ورته وویل: د لیست په سر سر کې دې نوم دی.

هغه وویل: نو چې داسې ده، توکل په خدای خو اول به راسره یو چای وڅښې، اخرمبلمه یې، بده ده چې وچې شونډې ستنېږې!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مرګ ومنله. ده په چای کې د خوب ګولۍ واچولې او مرګ په درانه خوب ویده شو. ده بې کاغذ راواخیست، خپل نوم یې د لیست له سره وغورځاوه، په اخر، اخر کې بې ولیکه.
مرګ چې راویښ شو، د ده د ښه چلند مننه یې وکړه او ورته ویې ویل: خوښ مې شوې، ښه سړی یې، ستا په خاطر به خپل کار د لیست له اخره شروع کړم.

## پیغام

څوکب نیونکو د سمندر په اوبو کې یو بوتل پیدا کړ. د بوتل په منځ کې یو کاغذ و او پر هغه لیکلي وو چې: «ما وژغورئ! زه دلته یم. څپو دې ټاپو ته راڅپ وهلم، دې ځای ته چې بل څوک نشته، د ساحل په غاړه یوازې، د مرستې په انتظار ولاړ یم. بیړه وکړئ!»
لومړي ماڼو وویل: خدایزده په دې لیک څومره زمانه تېره وي؟ د هغه خوارکي هډوکي به هم اوس خاورې وي.
دویم ماڼو وویل: ځای یې هم معلوم نه دی. دلته یعنې کوم ځای؟ په دې شاوخوا سیمه کې؟ د شمال خوا ته؟ د جنوب خوا ته؟ کومې خوا ته؟ او که ان په کوم بل سمندر کې؟
دریم ماڼو وویل: دا پیغام په زمان او مکان کې مه بندوئ. دا پیغام راته وایي چې تاسې ته محتاج او منتظر انسانان ممکن هر وخت او هر چېرته پیدا شي، تاسې مرستې ته هر وخت او هر ځای چمتو اوسئ!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دعا

د لرغوني چین یوه امپراطور خپلو وزیرانو ته وویل چې زه یې غواړي معبد ته ولاړ شي، بودا ته دعا وکړي.

یو وزیر چې غوړه مال و، امپراطور ته وویل: تاسې صاحب معبد ته د تلو اړتیا نه لرئ.

امپراطور وویل: نه شوم پوه، ولې اړتیا نلرم؟

ده ځواب ورکړ: د بودا جوهر رحم دی او تاسې په رعیت باندې همیشه مهرباني کړې ده، نو تاسې په حقیقت کې ژوندی بودا یاستئ، ځکه وایم معبد ته د تلو او بودا ته د دعا کولو اړتیا نلرئ.

امپراطور وویل: ستا تر خبرې پورې یوه کیسه رایاده شوه. یو وخت وایي یو بودایي عابد و چې د کوان ین بودهیساتوا (د مهربانۍ الهه) لیدل یې د ژوند تر ټولو لویه ارزو وه. ده ډېرو ځایونو ته سفرونه وکړل او ډېر مذهبي کتابونه یې ولوستل چې د مهربانۍ الهې ته د رسېدو لاره ومومي.

له کلونو کلونو هڅو وروسته، بالاخره کامیاب شو. له خپل کور کلي ډېر لرې په یوه سپېڅلي ځای کې بودهیساتوا د اسماني برم په یوه شغله کې ورښکاره شوه. ده د درناوي لپاره ورته پرلتې ووهلې. هغې وپوښت: تا زما د لیدو لپاره ولې دومره اوږده مزلونه کړي دي؟

ده وویل: مهربانې الهې، زه یوازې غواړم یوه پوښتنه درنه وکړم.

هغې وویل: سمه ده، وایه، څه وایې؟

ده وویل: زه چې په زحمت کې یم، دعاوې کوم، ستا مرسته غواړم. ایا ته هم چې په زحمت کې یې، دعاوې کوې؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغې وویل: هو!

ده بیا وپوښتله: چا ته دعاوې کوې؟ څوک دربولي؟

هغې ځواب ورکړ: کوان ین بودهیساتوا وربولم.

ده وویل: نو ته خو پخپله کوان ین بودهیساتوا یې، ته ځان څنګه بولې؟

هغه وموسکېده، ویې ویل: ځکه دا بهتره ده چې له ځانه مرسته وغواړې، نه له بل چا.

دغه وخت هغه د اسماني برم په یوه شغله کې له سترګو پناه شوه.

امپراطور وویل: ما له دې کیسې دا زده کړې چې بودا زموږ په زړونو کې دی. کله چې معبد ته ځو او هغه رابولو، په حقیقت کې ځان رابولو او له ځانه مرسته غواړو. ځکه نو زه نن ستاسې د نظر برخلاف، معبد ته ځم.

## د هنر ښتن

د ګوریلال په هنر کې هیڅ شک نه کاوه. دی د خپل وخت تر ټولو ښه مجسمه جوړوونکی و. یوه شپه یې په خوب کې ولیدل چې پنځلس ورځې وروسته به د مرګ رب النوع خپل استازی راواستوي او له ده به روح واخلي. ګوریلال له مرګه د پټېدو لپاره په هغو پنځلس ورځو کې د خپل ځان نهه مجسمې جوړې کړې او د هغو په منځ کې د مجسمو غوندې بې حرکته ودرېد.

چې د مرګ د رب النوع استازی راغی، حیران شو چې اوس په دغو کې کوم یو ګوریلال دی. استازی تش لاس رب النوع ته ستون شو. رب النوع ته قهر ورغی، پخپله پسې راغی او هغه هم تعجب وکړ چې دلته خو لس ګوریلاله دي. البته ژر یې خپل کار وکړ. په لوړ اواز یې وویل: مجسمې نورې بالکل د ګوریلال غوندې دي خو دا یو عیب پکې شته.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ګوریلال، چې په خپل هنر باندې یې نیوکه نه زغمله، زړه صبر نشو، اواز یې وکړ:
کوم عیب؟
او د مرګ رب النوع یې سا واخیسته.
ځینې خلك وایي چې ګوریلال خپل غرور وواژه او ځینې نور وایي چې ګوریلال د خپل هنر په مټ اوس هم د خلکو په خاطرو کې ژوندی دی،هغه له مرګه هسې بې ځایه وېره کوله.

# نالوستلی لیک

بوې ښځې به د بودا ډېرې ستاینې کولې. په مېړه یې د پردي سړي ستاینه ښه نه لګېده. یوه ورځ بودا ته قهرېدلی ورغی چې په سختو پوښتنو کې یې لا ځوابه کړي او بیا دا کیسه خپلې مېرمنې ته وکړي. ده له بودا وپوښتل: د دې لپاره چې ارام او خوشاله ژوند ولرو د څه شي وژل پکار دي؟ بودا ورته وویل: د قهر.
په ده باندې چې دغه وخت د قهر اور بل و او د قهر په وجه یې ذهني درد پوره احساساوه، د بودا ځواب ډېر ښه ولګېد، د هغه مرید شو.
د دې سړي کشر ورور چې د هغه له مریدۍ خبر شو، سخت قهر ورغی او په بودا پسې لاړ چې زړه وربانديې تش کړي. ده د بودا په لیدو سمدستي هغه ته کنځل وکړل. بودا په کراره ورته وویل: که یو مېلمه درشي او ستا ډوډۍ ونه خوري، هغه ډوډۍ چا ته پاتې شوه؟ ده وویل: ډوډۍ خپل څښتن ته پاتې شوه. بودا وویل: ما هم ستا کنځل وانه خیستل.
دې خبرې د بودا په اړه د ده نظر بدل کړ، دی هم د هغه مرید شو.
دغه سړی چې ولاړ، هلته یوه ناست سړي بودا ته وویل: د دې سړي خبرو هېڅ منفي اثر درباندې ونکړ، ستا اعصاب ډېر پیاوړي دي!
بودا ورته وویل: که یو لیك درته راشي او ته یې ونه لولې،طبعا په تا اثر نه کوي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# بې فکره یاران

غرڅه ناجوړ و. د ناروغۍ په وخت یې زړه په دې تکیه و چې د څو ورځو وښو زېرمه لري او وړې نه پاتېږي. په دې منځ کې یوه ډله دوستان پوښتنې ته ورغلل او غرمه ورسره پاتې شول. هغوی د غرڅه په وښو د ګېډې له مړولو وروسته پاڅېدل، ورته یې ویل: اندېښنه مه لره، جوړ به شې! غرڅه ورته وویل: که مې خپلو یاران مړ نه کړي، ناجوړي به مې ګوندې نه وژني.

# د شتمن کېدلو دوران

یوه سړي چې اقتصادي مشکلات یې زیات وو، ډېرې وخت په کور کې د یوه لرګین بوت په عبادت او له هغه څخه په خواستونو تېراوه. فکر یې کاوه چې تر کارکولو ورته همدا خواستونه ډېر ضروري دي. دی چې ورځ په ورځ غریب کېده، اخر یې زړه ډېر په تنګ شو، بوت یې په لغته وواهه، بوت مات شو او دی په ایله کې شتمن شو. د بوت ګېډه له سرو زرو ډکه وه.

# له لامبو وروسته لغته

د ماګدا (د لرغوني هند یو ایالت) پاچا خپل ولیعهد راوباله او ورنه ویې غوښتل چې په آشرام (د اوسنیو لیلیله لېسو ګوندې یو ځای) کې لوړې زده کړې وکړي. شهزاده آشرام ته لاړ او د هغې زمانې د لوړو زده کړو تر بشپړولو پورې څو کاله هورې پاتې شو.

یو ځل په اوړي کې ګورودېو (لوی استاد) ټولو زده کوونکو ته خبر ورکړ چې نن به د لامبو لپاره سین ته ځو. شاګردان ټول لاړل او په سړو اوبو کې یې له لامبلو خوندونه واخیستل. د راستنېدو په وخت کې شهزاده له خپلو ملګرو سره و او ګورودېو چې د دوی شا ته روان و، ناڅاپه شهزاده ته لته ورکړه، راګوزار یې کړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

حاضر کسان ټول د ګورودېو دې عمل حیران کړل. شهزاده له خاورو راپاڅېد، خپلې جامې یې پاکې کړې او په درناوي یې پوښتنه وکړه:ګورودېو، له ما څه غلطي شوې وه چې داسې سزا مو را کړه؟ که پوه شم، ښه به وي!

ګورودېو ځواب ورنکړ، غلی پاتې شو. شهزاده یو ځل بیا په درناوي توضیح وغوښته خو ځواب یې وانه ورېد. کله چې نورو شاګردانو د لتې د علت پوښتنه وکړه، ګورودېو یوازې دومره وویل: آشرام ته به ستانه شو، ډوډۍ به وخورو، بیا به درسونو ته ځو.

کلونه واوښتل خو شهزاده او ملګرو یې د هغې لغتې د علت په اړه څه توضیح وانه ورېده. یوه ورځ ګورودېو شهزاده راوباله، ورته ویې ویل: ستا زده کړې پای ته رسېدلې دي. اوس کولای شې، پلازمېنې ته لاړ شې، په خپله ماڼۍ کې واوسې.

شهزاده کور ته ستون شو چې په حکومتي چارو کې له پلار سره مرسته وکړي.

یوه ورځ پاچا ورته وویل: «زه نور بوډا شوی یم او غواړم ته مې ځای ناستی شې.» هاله یې صدراعظم ته مخ واړاوه، امر یې وکړ چې د ځایناستۍ د لویو مراسمو بندوبست وکړي، د ملک ټول مشران او د خلکو استازي راوغواړي. شهزاده له پلاره وغوښتل چې یو بلنلیک دې ګوردېو ته هم واستول شي. پاچا چې خپل استاد ته د شهزاده له درناوي خوشاله شوی و، دا غوښتنه ومنله.

د ځایناستۍ په ورځ د مراسمو له ختمېدو وروسته شهزاده، چې تازه پاچا شوی و، له چوکۍ پاڅېد، ویې ویل: «د پاچا په توګه په لومړني فرمان کې غواړم یوه پوښتنه وکړم.» ټول غلي شول. ده ګورودېو ته مخ واړاوه، پوښتنه یې وکړه: «نن غواړم پوه شم چې په هغه ورځ دې ولې له ما سره هغسې چلند وکړ؟ زه خو چې هر څه فکر کوم، کومه غلطي رانه نه وه شوې. ما خو څله له تاسو وپوښتل خو ځواب مې وانه ورېد. ولې؟»

ګورو له ځایه پاڅېد، ویې ویل: «اې ځوانه پاچا، اول دا راته ووایه چې د هغې پېښې په وجه دې په دغو کلونو کې څه په زړه کې ګرځېدل؟ څه دې احساسول؟»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پاچا وویل: «تر نه پورې ناکرار یم. هغه پېښه په خوب کې او په ویښه رایادېږي، زما خوب او خوراک یې ګډوډ کړي او زما په عملونو یې سیوری پروت دی. که رښتیا ووایم تل به په قهر وم. دا راته سخته وه چې بې دلیله دې د نورو دوستانو او شاګردانو مخې ته په لته ووهل شم. تل مې شرم احساس کړی او بد اثر یې راباندې کړی دی.
څو ځله مې اراده وکړه چې... خو بیا مې لاس ونیو.»

ګورودېو وویل: «که نن هم د هغه عمل دلیل درته ونه وایم،، څه به وکړې؟»

پاچا وویل: «اوس چې پاچا یم، کولای شم چې....» او نور یې څه ونه ویل.

دغه وخت ګورودېو وویل: «اې ځوانه پاچا، واوره! ما هغه ورځ په لوی لاس ظلم وکړ. او لا بده دا چې د خپل ظالمانه عمل په توضیح کې هم پاتې راغلم، تر نه پورې غلی پاتې شوم. زما دغسې چلند په کلونو ناکراره، قهربدلی او پرېشان کړې. تا به په دې کلونو کې حتما زما په باره کې فکر کړی وي چې ظالم، بخېل، بدنیتی، بې لارې، بې رحمه او د شهزاده ګانو دښمن یم. شاید ارزو دې کړې وي چې یوه ورځ رانه بدل واخلې خو په دې شبېه کې درته وایم چې تا ته دا زما اخري درس دی چې: د پاچا په حیث هېڅ کله ظلم مه کوه او رعیت ته خپل عملونه بې توضیح مه پرېږده.

ما وغوښتل چې دغه درس یوازې په خوله درته ونه وایم، بلکې د داسې مثال په ذریعه یې در زده کړم چې بیا یې هېڅ وخت هېر نکړې. د هېواد د ادارې لپاره تر ټولو لوی اصل عدالت دی. که د واکمن یو کار خلکو ته غلط ښکاري او واکمن د خپل عمل له توضیح ورکولو ډډه کوي، نو خلک خامخا نهیلي کېږي، قهرېږي او په واکمن باندې بې باور ختمېږي. له خپل واکمنه د رعیت خپګان یوازې او یوازې د واکمن د دښمن په ګټه دی، ځکه دا یې د نسکورېدو پیلامه ده. تاریخ همدا راته وایي چې د هېڅ حکومت عمر نه اوږدېږي مګر دا چې د خلکو خوښې ته وګوري او په عدالت وچلېږي او د خپلو عملونو په توضیح کې پاتې رانشي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# اډېسن

ناسې به د برق د مخترع توماس اديسن نوم اورېدلی وي. اډېسن نور ګڼ اختراعات هم کړي وو او د خپلو اختراعاتو په برکت يې ډېرې پيسې ګټلې وې. ده ګټلې پيسې ټولې په خپل لابراتوار لګولې، ځکه هلته يې تحقيقات کول او هغه ځای يې په دنيا کې تر بل هر ځای خوښ و.

يو وخت چې اډېسن ډېر بوډا و، خورا بده پېښه وشوه. يوه شپه له بده مرغه لابراتوار اور واخيست. د اطفاييې مامورين د اډېسن د کور په ځای د هغه د زوی کور ته ورغلل، ورته وېې ويل: د لابراتوار په ټولې ودانۍ او وسايلو متاسفانه اور لګېدلی دی او بچېدل يې نشته، موږ اوبه صرف د دې لپاره شيندو چې اور شاوخوا نورو ځايونو ته خپور نه شي. موږ دا جرات ونکړ چې پلار ته دې ووايو، له تا مو غوښتنه ده چې هغه له پېښې په داسې طريقه خبر کړه چې مناسبه يې ګڼې.

زوی يې له ځان سره فکر وکړ چې که اوس نيمه شپه پلار راويښوي او دا لمبې ويني، خدای مکړه زړه يې ونه دربږي، نو بهتره ده چې د پېښې ځای ته ورشي او پلار بيا سهار په کراره په کيسه پوه کړي.

زوی يې چې د لابراتوار ودانۍ ته ځان ورساوه، هلته يې وليدل چې پلار يې د لابراتوار مخې ته په کوڅه کې په يوه چوکۍ ناست دی او د خپل ټول عمر د سرمايې لولپه کېدل ويني. زوی ته په زړه کې ورتېره شو چې که په پلار غرض ونلري او ځان ورښکاره نه کړي، دا به شايد بهتره وي. خو د پلار يې ورپام شو، زوی يې وروباله ورته وېې ويل: راشه، ته خو دې لمو ته وګوره، ښايسته دي، ګومان کوم ګوګړ چې د فاسفورس په ځنګ کې سوځي، لمبې يې دغسې شنې شي، ښايست يې ختم دی!

زوی يې ورته وويل: پلاره زما خو ټول بدن رېږدي، زه خو حيران وم چې تا به څنګه خبروم او ته يې د ښايست سيل ته بې غمه ناست يې!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پلار ورته وویل: چې د اطفايي څه په وس کې نه دي، زه او ته به څه وکړو؟ زما او ستا لپاره په دې شپه کې ښه خبره دا ده چې د لمبو له ښکلا خوند واخلو. د بل لابراتوار د جوړولو په باره کې به بيا سبا په کراره فکر کوم، اوس دا د شنو لمبو سيل ښه دی چې بل وخت يې نه شم کولی.

يو کال پس اډېسن په خپل نوي لابراتوار کې په کار بوخت و او د بشر د تاريخ يوه ستره اختراع يې پکې وکړه، يعنې په لومړي ځل يې د اواز د ثبتولو آله جوړه کړه چې ګرامافون بلل کېږي.

## پام، پام، پام

يو مريد مرشد ته ورغی، ورته ويې ويل: «د حکمت راز راباندې ولوروه، په کاغذ يې رانه ليکه.» مرشد د نی قلم راواخيست او صرف دا يوه کلمه يې ورته وليکله: توجه!

هغه سړي وويل: صرف همدومره!

مرشد وليکل: توجه! توجه!

راغلي سړي وويل: زه په لويه تمه راغلی وم، د يوې ژورې خبرې په تمه!

مرشد يو ځل بيا قلم را اوچت کړ، ويې ليکل: توجه! توجه! توجه!

د مريد زړه په تنګ شو خو څه يې ونه ويل. د مرشد ور پام شول، ورته ويې ويل: که د ژوند شېبو ته ځير نشې، هېڅ راز به ونه مومې. که حکمت ته رسېدل غواړې، توجه کول زده کړه!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# درې ورونه

درې سپین ږیري ورونه د چین د یو ښار په څنډه کې اوسېدل. دوی سره یو ځای اوسېدل، په یوه کور کې. درې واړه مجرد وو او د درې واړو نظر ډېر کمزوری و. یوه ورځ کشري ورور وویل چې: «مالي چارې به زه په غاړه واخلم ځکه دمشري ورور سترګې ډېرې ضعیفې شوې دي، پیسې سمې نه سره پېژني، خلک یې تېرباسي.»

منځوي ورور چې دا خبره واورېده، په شونډو کې یې وموسل، ویې ویل: «تاسې که د مالي چارو په رښتیا غم کوئ، ما ته یې راوسپارئ ځکه زما نظر تر تاسې دواړو بهتره دی.»

مشر ورور وویل: «دا نو نه ده معلومه چې د چا سترګې په رښتیا کمزورې دي. راځئ دغه لانجه په سمه طریقه اواره کړو. ما سهار واورېدل چې نن مازدیګر د صومعې لپاره لوحه لګوي. سبا به ورشو، وبه یې ګورو، که هر چا لوحه سمه ولوسته، هغه ته به مالي چارې وسپارو، دا بې ځایه بحثونه پکار نه دي، اوس به د غرمې خوب وکړو.»

په دې خبره سره سلا شول.

چې څنګه نور دوه پرېوتل، مشر وروړغلی پاڅېد، صومعې ته لاړ او هلته یې له راهبه پوښتنه وکړه: «ما اورېدلي چې نن مازدیګر تاسې د صومعې د دروازې په سر یوه لوحه لګوئ، هلته به څه ورباندې لیکلي وي؟»

راهب وویل: «هو، لوحه لګوو په هغې به د کنفوسیوس دا خبره لیکل شوې وي چې: هر وخت صادق اوسه!»

مشر ورور ورته وویل: «خدای دې اجرونه درکړي، دا خو مو بهترینه خبره انتخاب کړې ده.» او ولاړ.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شپه نیمه پس منځوی ورور له نورو دوو پټ ځان صومعې ورساوه او له راهبه یې همدا پوښتنه وکړه. راهب وویل: «عجبه ده، هر څوک غواړي په لوحه خبر شي. په لوحه باندې لیکلي دي چې: هر وخت صادق اوسه!»

منځوي ورور وویل: «ډېره ستره خبره ده. سلامت اوسئ، رښتیا د دې جملې شاوخوا مو څه ګلونه یا بل سینګار په نظر کې نیولی دی؟»

راهب وویل: «د جملې شاوخوا ګلداره حاشیه ده.»

منځوی ورور خوشاله ولاړ او لږ وروسته کشری ورور راپیدا شو، راهب ته یې وویل: «راته ویلی شې چې د لوحې په منځ کې به څه لیکلي وي؟» د راهب شونډې موسکې شوې، ویې ویل: «هر وخت صادق اوسه!»

بله پوښتنه یې د لوحې د چارچاپېر په باره کې وه چې راهب د ګلداره حاشیې ورته وویل او بله پوښتنه یې دا وکړه: «ایا د کنفوسیوس له خبرې پرته بل کوم ټکی، کوم توری، کومه کلمه په لوحه کې شته؟»

راهب ورته وویل: «یوازې د لوحې په لاندنۍ برخه کې د وانګ لي نوم لیکلی دی، هغه څوک چې د لوحې پیسې یې ورکړې دي.»

کشري ورور له راهبه مننه وکړه چې د کنفوسیوس ډېره فلسفي خبره یې انتخاب کړې ده او کور ته خوشاله ستون شو.

په سبا سهار درې سره وروڼه صومعې ته ولاړل. دوی چې د دروازې مخې ته ودرېدل، مشر ورور پاس وکتل، ویې ویل: «ما ته خو دا خط سم واضح ښکاري. دلته لیکلي دي چې: هر وخت صادق اوسه!»

منځوي ورور وویل: «ما فکر نه کاوه چې ته به دومره شی هم ولولې، واقعا سم دې ولوست، خو نور څه وینې؟

- نور څه شی؟

- د حاشیې به باره کې څه وایې؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ـ حاشيه؟ کومه حاشيه؟
ـ د جملې شاوخوا ګلداره حاشيه ده، زه شکر هغه هم وينم.
کشري ورور افرين ورکړ او البته زياته يې کړه: «زه پکې نور څه هم وينم؟ تاسې يې ليدلې شئ؟»
هغه نور دوه غلي پاتې شول او کشري ورور په فخر سره وويل: «لاندې په کونج کې ليکلي دي چې وانګ لي. هغه څوک چې د لوحې پيسې يې ورکړې دي.»
دغه وخت راهب چې وړم ماسپښين يې دوی درې واړه ليدلي وو، راووت. راهب وويل: «وبخښئ تاسې به د لوحې ليدلو ته راغلي یاست، هغه يې متاسفانه مازديګر رانه وړه. نن به تر غرمې راورسېږي.»

## کونګ

په يوه تکه توره شپه کې چې ستوري او سپوږمې په ورېځو کې پټ وو، دوه ځيرګي په ځنګل کې د ځېږۍ د ونې لاندې ورو ورو روان وو، دوی داسې په احتياط ګامونه اخيستل چې د پښو اواز يې هيچا نه اورېده. په ځېږۍ کې يو کونګ ناست و. هغه غږ وړباندې وکړ: زه کونګ يم، تاسې څوک یاست؟
هغوی ته سوال پيدا شو چې په دومره ډېره تياره کې دا څنګه سترګې دي چې دوی ويني؟ کونګ بيا اواز وکړ: تاسې دوه ښيم، تاسې څوک یاست؟
ځيرګي چې سخت وېرېدلي وو، د ځنګل په بوټو، وښو کې ننوتل او ځان يې نورو ژويو ته ورساوه، خبر يې کړل چې کونګ په ټولو ژويو کې اول دی، د ده په اندازه عقل او پوهه له بل هيچا سره نشته، ځکه دی په تروږمۍ کې هم ويني او په هر شي پوهېږي.
د مرغانو د اداري چارو مسوول مقام وويل چې زه به د کونګ په اړه تحقيق وکړم او بيا به نورو ژويو ته راپور وړاندې کړم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دغه مسوول څو ورځې وروسته چې مطلقه تیاره او تروږمی وه، د کونګ خوا ته ورغی، پوښتنه یې ورنه وکړه: ما څو منګولې پاس نیولې دي؟

کونګ ورته وویل: دوه.

دا ځواب سم و او مسوول مقام بله پوښتنه ورنه وکړه: عاشق چې معشوقې ته زاری کوي، مطلب یې څه وي؟

کونګ ځواب ورکړ: واده کول یې مطلب وي.

د مرغانو د اداري چارو مسوول نورو ژویو ته چټک راستون شو او اعلان یې وکړ چې کونګ د مځکې د مخ تر ټولو ژویو هوښیار او دانشمند دی، ده ته ان په توره شپه کې هر څه ښکاري او تر ټولو مشکلو پوښتنو ته ځوابونه ورکولی شي.

ګیدړې وویل: دی د ورځې په رڼا کې هم شیویني؟

موږک او شغال ځواب ورکړ: ولې نه. یو څوک چې په تیاره کې شی ویني، په رڼا کې خو به یې خود ویني.

په نورو ژویو د ګیدړې پوښتنه بده ولګېده، د کونګ د شخصیت د تخریبولو او د هغه په اړه د شک پیدا کولو قصدي کوشش یې وباله. په دې منځ کې ځینو ژویو ګیدړې ته د جزا ورکولو وړاندیز وکړ چې وړاندیز سمدستي عملي شو.

دغه وخت ټپوس د خبرو نوبت ونیو، ویې ویل: وروسته له ډېرو مودو راټول شوي یوو، راځئ دا اتفاق د همیشه لپاره وساتو او کونګ خپل رهبر وټاکو!

د ټپوس له خبرې سره هیچا مخالفت ونکړ. یو پلاوی وټاکل شو چې کونګ ته ورشي او د ژویو پیغام ور ورسوي چې د دوی رهبري دې په غاړه واخلي.

کونګ چې د نورو ژویو غونډې ته ځان رارساوه، د غرمې شاوخوا یولس بجې وې. د لمر رڼا یې سترګې ځلولې. دی د ژویو په جلوس کې ورو ورو روان و او ورو قدمونه یې نورو ته د هغه د عظمت او لویي یوه بله نخښه ښکاره شوه. یوې چرګې،

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې د ده پر ګردو، تېزو سترګو نظر پرېوت، چیغه کړه: دا په هېڅ وجه عادي مخلوق نه دی!

نو کونګ چې به هر لور ته روان شو، د ژوېو مخه به هغې خوا ته شوه او چې په هر شي به دی ورغی، دوی هم پسې ورتلل.

بالاخره کونګ په یوه پاخه سړک برابر شو. دی چې د پاخه سړک په منځ کې روان و، نور ژوي ورپسې روان شول. له څه مزله وروسته یوه ګربت چې پاس په هوا کې یې ګزمه کوله، په پاخه سړک باندې یوه لاری ولیدله. ده د مرغانو اداري مسوول ته اطلاع ورکړه چې لاری په اویا کیلومتره سرعت سره له مقابل لوري را روانه ده.

د مرغانو اداري مسوول کونګ ته اطلاع ورکړه چې خطر په مخ کې دی. کونګ وویل: د څه شي خطر؟

لاری ډېره رانژدې شوې وه. استخباراتي مقام په وارخطایي وویل: تاسې صاحب خطر نه احساسوئ؟

کونګ چې د ورځې په رڼا کې څه نه شوی لیدلی، په ارام انداز وویل: له چا؟ له څه شي؟

ژوېو چې د خپل رهبر په غبرګ کې اطمینان احساس کړ، په یوه اواز یې چیغې کړې: ژوندی دې وي لاربنود!

دوی لا د زنده باد چیغې وهلې چې لاری لاندې کړل. ډېر ژوي مړه او زخمیان شول. کونګ کمبخت په مړو کې و.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## زمري او انسان

زمري او انسان د ځنګل په منځ کې روان ول، خبرې یې سره کولې. انسان ویل چې انسان په زمري هم زورور دی خو زمري دا خبره نه منله.
زمري وویل، انسان د توپک په زور غټې خبرې کوي او چې له لرې ډز وکړي او زمری په مرمۍ له پښو وغورځوي، بیا ورته رانژدې شي، سر ته یې ودرېږي، عکس واخلي، لاپې کوي چې زمری مې راچپه کړ.
دوی لا دغه بحث کاوه چې د ځنګل د منځ په څلورلاره کې د یوه پهلوان مجسمې ته ورسېدل چې په تش لاس یې زمری راخملولی دی.
انسان وویل: مجسمې ته وګوره، دا یې ثبوت، انسان زمری په تش لاس هم راخملولی شي.
زمري وویل: دا خوهاغه کیسه شوه چې ګیدړې ته یې وویل، شاهد دې څوک دی؟ دې وویل، لکۍ مې. انسان پخپله یو شی جوړ کړي او هغه بیا د ځان شاهد بولي.

## دوه زړي

په یوه ښېرازه خاوره کې دوه زړي د یو بل په خوا کې وو.
لومړي زړي وویل: زه غواړم وده وکړم، غواړم څېلي مې تر ما لاندې خاورو ته وغځېږي او تنه مې زما پر سر پرتې خاورې ورها خوا، د رڼا او هوا دنیا ته لار ومومي.غواړم پاڼې مې د پرخو کورېنې شي او د غوټیو سپړل مې د پسرلي د رانګ زېری شي.غواړم رېښې مې د مځکې په اوبو تنده ماته کړي او د مځکې له خوږو خوندونه واخلي. غواړم د لمر په پلوشو تود شم او د سپوږمۍ په شغلو زړه وبایلم. غواړم، غواړم، غواړم...



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه وده وکړه.

دويم زړي وويل: که ريښې لاندې په خاورو کې وغځوم، معلومه نه ده چې په توره تياره کې به څه ور پېښېږي؟ که پاس له خاورې سر راهسکوم، د نازکې تنې د خوندي کېدو ضمانت مې څوک کوي؟ که غوټۍ وکړم له ډول، ډول حشرو سره به څه کوم؟ که غوټۍ ګل شي او شوخ ماشومان يې ترمې، ترمې کړي، بيا؟ که تېز بادونه راشي او ډنډر مې مات شي، بيا؟ نه، نه، صبر پکار دی، په پوره احتياط سره بايد ګام واخلم.

دی منتظر پاتې شو.

او د پسرلي په لومړيو ورځو کې چې يوه مرغه په خاورو کې مښوکه وهله، منتظر زړی يې ومونډ، ويې خوړ.

## د څاڅکي ځای

اکبر پاچا ډېر هوښيار سړی و او د ده يوه هوښياري دا وه چې د بيربل غوندې ځيرک سړی يې نږدې ملګر ی و.

يوه ورځ اکبر ته ډېر قيمتي عطر ډالۍ شوي وو. اکبر چې د عطرو بوتل پرانيست، يو څاڅکی عطر ورنه په مځکه توی شول. ده سمدستي لاس ور اوږد کړ، ګوته يې ورباندې وموښله. ګواکې غوښتل يې چې ضايع نشي.

اکبر چې سر را اوچتاوه، پام يې شول چې بيربل ورته کتل. نو په زړه کې خجالت غوندې شو، څکه بيربل ته بايد دومره حريص نه وای ښکاره شوی.

په سبا باندې اکبر پاچا بيربل خپل حمام ته ورروغوښت، ورته ويې ويل: زړه مې دی په حمام کې قسماقسم عطرونه وښندم، چې خوشبويي به يې څنګه وي؟ ته هم خپل نظر راکړه.

او بيا پاچا په نوکرانو عطرونه راوړل. نوکرانو د ډېرو قيمتي عطرو څو ډک بوتلونه په حمام کې تش کړل او هاله پاچا بيربل ته وويل چې دا خوشبويي څنګه احساسوې؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بیربل ورته وویل: که ان ټول حمام عطر، عطر شي، د هغه پروني څاڅکي ځای نه نیسي.
د بیربل مطلب دا و چې په لوی لاس او په پام سره خو موږ هر یو سخي، زړه ور یا مهربان کېدلی شو، مگر غوره دا ده چې په بې پامی کې هم د سخاوت، زړه ورتوب یا مهرباني غونډې ښه خویونه ولرو. ښه خویونه باید د خپل شخصیت برخه کړو، نه د خپل نمایش.

## د کنجوس مړینه

یو کنجوس چې پنځه لکه دیناره یې لرل، د نوي کال په پیل کې له ځان سره وویل: سږ کال به هم لا پیسې ټولې کړم، بل کال به د خوښې ژوند پیلوم.
خو دوه، درې ورځې لا نه وې تېرې چې مرگ ورته راغی. کنجوس ورته ډېرې زارۍ ورکړې چې فرصت راکړه خو هغه نه منله. کنجوس ورته د خپلې نیمې شتمنې په بدل کې د درې نورو ورځو ژوند وړاندیز وکړ، مگر هغه تیار نه شو. کنجوس دا وړاندیز هم وکړ چې د خپلې ټولې شتمنۍ په بدل کې صرف یوه ورځ نور ژوند غواړي مگر مرگ له خپلې پرېکړې وانه وښت. البته په اخر کې یې صرف دومره اضافه وخت ورکړ چې دغه څو کرښې پکې ولیکي:
«ته که هر څوک یې او دا لیک لولې، دا درته وایم چې د ژوند په قدر پوه شه. که دومره شته لرې چې ماته گوډه گوزاره دې وربانديې وشي نو د پیسو په ټولولو نور وخت مه لگوه، ژوند وکړه چې پښېمانه نشې. ما په پنځه لکو دینارو ان یو ساعت وانه خیستلی شو. پوه شه چې ژوند ترهر شي قیمتي دی.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د حیواناتو غونډه

حیوانات راټول شوي وو، د انسانانو له لاسه یې شکایت کاوه چې دوی استثماروي او په خپله ګټه یې استعمالوي.

غوا وویل: زما شیدې وړي.

چرګې وویل: زما هګۍ وړي.

پسه وویل: زما غوښه وړي.

نهنګ وویل: زما د بدن غوړي وړي.

او شاپېتي(حلزون) وویل: زه داسې څه لرم چې دوی تر بل هر شي ورته زیاته اړتیا لري او هغه وخت دی چې شکر نه یې شي رانه اخیستلای.

(یادونه: شاپېتی د نورو ژویو برخلاف، ډېر ورو روان وي، لکه د وخت کمی چې بېخي نلري.)

## د تېري پته ارزو

یوه ورځ ور شاګرد استاد ته وویل: زړه مې دی نورو ته حقیقت ور زده کړم، ستا څه مشوره ده؟

استاد ورته وویل: صبر وکړه.

کال پس یې بیا همدا مشوره ورنه وغوښته او استاد ورته وویل: صبر وکړه.

شاګرد کال په کال همدا مشوره غوښته او استاد ورته ویل، اوس لا صبر کوه.

یوه ورځ یې له استاده پوښتنه وکړه: څه وخت به د تدریس جوګه شم؟

استاد ځواب ورکړ: هغه وخت چې نورو ته ستا د درس ورکولو بې حده شوق کم شوی وي.

# د جاپان بهترین چای

څو کسه شتمن سپین ږیري به په جاپان کې هره اونۍ راټولېدل چې چای سره وڅښي او په ورځنیو حالاتو خبرې وکړي.

د دوی یو نامناسب عادت دا و چې دا ورته خورا مهمه وه چې د ډېرو قیمتي چایو نوي ترکیبونه پر مېز ورته ایښي وي.

د مجلس کوربه توب په نوبت و. کله چې د مجلس تر ټولو سپین ږیری سړی د دوی کوربه شو، چای یې د دوی د بلې هرې ورځې تر چایو خوندور و. ټولو ورنه وپوښتل چې دا دې له کومه کړی او ترکیب یې څنګه دی؟

بوډا وموسل، ویې ویل: «دا چای چې تاسې ژبې پرې ټکوئ، هماغه دی چې بزګران یې زما په کروندو کې هره ورځ څښي. د ژوند تر ټولو ښه شیان نه قیمتي وي او نه یې موندل سخته وي.»

## بوډا او بدمعاش

یو بدمعاش بوډا په وژلو وګواښه. بوډا ورته وویل: دا دود دی چې قاتلان د مقتولانو د ژوند وروستۍ ارزو ورپوره کوي، ته هم دا دود مه ماتوه.

بدمعاش وویل: وروستۍ ارزو دې څه ده؟

بوډا وویل: د هغې مخامخ ونې یوه څانګه غوڅه کړه.

بدمعاش سمدستي توره له تېکې راوایستله، څانګه یې غوڅه کړه، بوډا ته یې وویل: نور؟

بوډا وویل: ورشه، اوس یې بېرته په ونه پورې پیوند کړه.

بدمعاش وویل: دا مې نو په وس کې نه دي.

بوډا ورته وویل: اوس پوه شوې؟ وژل او ورانول څه کمال نه دی، کمال دا دی چې رغول او جوړول دې زده وي.

بدمعاش توره بېرته په تېکې کې کېښوده.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## باغي مريد

يوعابد ګورو (په هندي مذهبونو کې مرشد) ته په ګونډو شو چې د مريد په توګه يې ومني. ګورو د هغه په غوږ کې مانترا (سپيڅلي کلمات) وويل او خبرداری يې ورکړ چې په دغو کلماتو نور هېڅوک مه خبروه.

عابد پوښتنه وکړه: که نور خبر کړم، څه به وشي؟

ګورو وويل: هر څوک چې په مانترا خبر کړې، هغه د جهل او زحمت له اسارته ژغورل کېږي، خو پخپله ته به له مريدی محروم او په عذاب ګرفتار شې.

عابد چې د ګورو له مجلسه څنګه پاڅېد، نېغ بازار ته لاړ، ډېر خلک يې په ځان راغونډ او په اورېدلې مانترا خبر کړل.

مريدانو د عابد د چلند په اړه ګورو ته اطلاع ورکړه. دوی وړانديز وکړ چې بايد د اطاعت نه کولو په وجه سمدستي له حلقې وايستل شي.

ګورو وموسل، ويې ويل: دی داسې څه ته اړتيا نه لري چې زه يې ورزده کړم. د ده عمل وښووده چې پخپله يو ډول ګورو دی.

## سپی او دوا

يو چا خپل ملګري ته وويل چې د کب غوړ د سپي لپاره د دوا حيثيت لري، د صحت لپاره يې ډېر ښه دي. د سپي څښتن د کب غوړ پيدا کړل، کور ته يې راوړل. ده به د سپي سر د پښو په منځ کې ونيو، خوله به يې په زور ورپرانيستله او لويه کاچوغه غوړ به يې په ستوني کې ور وڅڅول. سپی په ظاهره د کب د غوړو خوړولو ته تيار نه و. يوه ورځ چې سپي سر ډېر وخوځاوه او غوړ لاندې توی شول، څښتن يې په حيرانۍ وليدل چې سپی په مځکه باندې توی شوي څاڅکي څټي. معلومه شوه چې سپی د کب له غوړو سره نه بلکې د ورکولو له طريقې سره وران و.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د پیروس پاچا اِپیروس

د پیروس پاچا اپیروس ته خپل ملګری سینیس نژدې ورغی، ورته ویې ویل: که روم ونیسو، له هغه وروسته به مو پلان څه وي؟

- سیسل ورنژدې دی، د هغه ځای نیول به راته اسانه شي.

- د سیسل له نیولو وروسته به څه کوو؟

- بیا به نو افریقا ته اوړو، کارتاژ به لوټو.

- په کارتاژ پسې؟

- په هغه پسې به د یونان نوبت وي.

کیدای شي وپوښتم چې د دې هومره فتوحاتو نتیجه به څه وي؟

پیروس وویل: بیا به کرار کښېنو، مزې به کوو.

سینیس وویل: ایا همدا اوس نه شو کولای چې مزې وکړو؟

## بزرګ او غل

له بزرګ سره یوه طلایي کاسه وه. ماخوستن چې یې غوښتل ویده شي، څه اواز یې واورېد. کور ته غل ور اوښتی و. ده طلایي کاسه راواخیسته، غله ته یې چې د دېوال په سیوري کې غلی ولاړ و، ونیوله، ورته ویې ویل: دا واخله، لاړ شه، زه به بې غمه خوب وکړم.

غله کاسه واخیسته، د سترګو په رپ کې ووت.

سهارغل له کاسې سره بېرته راغی. بزرګ ته یې وویل: چې کاسه دې په اسانۍ راکړه، ما ته ځان ډېرغریب ښکاره شو. ما ته د هغه ثروت د موندلو طریقه رازده کړه چې جدایي ورنه همدومره اسانه وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## سقراط په بازار کې

سقراط ته ساده ژوند ښه ښکارېده. ده به ان بوټونه نه په پښو کول، ویل به یې چې هر څومره له کمو وسایلو سره عادت شو، هغومره به اسوده یوو. البته، سقراط په دوکانونو ګرځېدل او ډول، ډول شیانو ته کتل، خوښېدل. یوه ورځ چا د دې عادت د علت پوښتنه ورنه وکړه. ده وویل: په دې باندې پوهېدل مې خوشاله کوي چې له کومو، کومو شیانو پرته هم ارام ژوند لرلای شم.

## چرګ او چینجی

په تېرو زمانو کې د یوه پاچا زوی ته روحي ناروغي پیدا شوه، داسې چې ځان به چینجی ورته ښکارېده او له چرګانو دومره وېرېده چې تل به په کوټه کې د مېز شا ته پټ و.

پاچا اعلان وکړ چې که هر چا د ده د زوی وهم ختم کړ، لوی انعام به یې په نصیب شي. ګڼ کوډګر، حکیمان او طبیبان ورباندې ستړي شول خو د شهزاده له سره یې وهم ونه ایست.

بالاخره یوه ورځ یو هلک وتوانېد چې له شهزاده سره لوبې وکړي او په لوبو لوبو کې یې د میز له شا راباسي او قانع یې کړي چې چینجی نه دی، سړی دی.

پاچا ډېر خوشاله شو، هلک ته یې غټ انعام ورکړ خو دوه، درې ورځې وروسته شهزاده د چرګانو له لیدلو سره بیا د مېز شا ته پټ شو. هلک پسې ورغی، ورته ویې ویل: ته خو پوه شوی یې چې سړی یې، نو بیا ولې پټېږې؟ شهزاده وویل: زه خو پوه شوی یم چې سړی یم خو چرګان به څوک پوهوي چې زه چینجی نه یم؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## خزانه

بزګر د مرګ په وخت کې لټو زامنو ته وویل: ما په پټو کې یوه خزانه پټه کړې ده، هغه پیدا کړئ.

لټو زامنو د پلار له مړینې وروسته کرونده لټ په لټ واړوله، خزانه یې ونه موندله. د کښت وخت راورسېد. پټي هسې هم اړول شوي وو، غنم یې وکرل. چې درمندونه واخیستل شول، بیا د خزانې د موندلو اسره ورپیدا شوه، پټي یې واړول، راواړول خو خزانه نه وه، مګر د کښت لپاره مځکه تیاره وه.

دوی ورو ورو په کار عادت شول او دې نتیجې ته ورسېدل چې پلار په همدې عادت د خزانې نوم ایښی و، ځکه لټان په اوله کې له کاره وېرېږي او په دې نه پوهېږي چې په کار عادت کېدل یعنې د مطمینې خزانې موندل.

## پوهېدل

یو ځل له بزرګه پوښتنه وکړه: څنګه کولای شم چې ګاونډی ونه ځارم، د هغه غیبت ونکړم او د هغه په اړه له قضاوت کولو لاس واخلم؟

بزرګ ورته وویل: دعا وکړه.

ده وویل: ما دعا کړې ده خو نه یم کامیاب شوی.

بزرګ وویل: د دعا په وخت کې به دې په زړه کې خیری و.

ده وویل: زړه به نو څنګه پاکوم؟

بزرګ وویل: هر وخت چې په دې پوه شې چې که بل خطا کوي، هغه نه پوهېږي او د بخښلو مستحق دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## اجر

د چین یو بودایي زیارت کوونکی هندوستان ته لاړ چې د دغه لوی وطن د نېکانو او بزرګانو خبرې واوري. یو ماښام چې تیاره تازه خپرې شوې وه، دی د غره د لمنې په یوه لرې بانډه کې د کتیلا نومي عالم کور ته ورغی. هغه د ډیوې رڼا ته څه لیکل. کابو یو ساعت په لیک بوخت و او چې لیک ختم شو، بله ډیوه یې مړه کړه، بله یې ولګوله او بیا یې چیني زایر ته وویل: نو اوس به مجلس وکړو.

زایر پوښتنه ورنه وکړه: اول دا راته ووایه چې ولې دې تر خبرو له مخه یوه ډیوه مړه او بله بله کړه؟

کتیلا وویل: ما د سرکار کار کاوه او د سرکار ډیوه راته بله وه، اوس چې خپل مجلس کوم، پکار ده خپله ډیوه بله کړم، ډوډۍ مې باید حلاله وي.

په هغه شپه زایر نورې پوښتنې ونه کړې. هغه دې نتیجې ته ورسېد چې د کتیلا همدا یوه خبره که ذهن ته سمه وسپاري، د هندوستان د ټول سفر د زحمت اجر یې موندلی دی.

## د پلرني کسب زده کړه

د غله زوی چې ولیدل پلار یې نور بوډا شوی دی، هغه ته وویل: دا خپل کسب را زده کړه چې که تا بس کاوه نو په کور کې خو یو څوک وي چې جاري یې وساتي.

پلار یې غږ ورته ونکړ خو چې تیاره شوه، هلک یې ورسره د یوه کور وهلو ته روان کړ. کور ته چې واوښتل، غله یوه لویه الماری پرانیستله، زوی ته یې هلته د ننوتو وویل. زوی چې ځنګه ورننوت، پلار الماری پسې کولپ کړه، او بیا یې داسې شور ماشور جوړ کړ چې د کور ټول غړي راویښ شول او ده پکې غلی ځان وایست.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هلك د الماری په منځ کې وارخطا، قهرېدلی او حیران پاتې و چې اوس به څه کوي.
دغه وخت یو فکر ورپیدا شو. د پیشوګانو غوندې یې د میو، میو اوازونه وکړل. د کور
یوې خدمتګارې الیکین بل کړ او الماری یې پرانیستله چې پیشو وباسی.
هلك د الماری له پرانیستل کېدو سره سمدستي منډه کړه. څو چې د کور غړیو فکر
راټولاوه چې څه باید وکړي، ده له کوره ځان ایستلی و.
ده چې دغه کور ته نژدې په کوڅه کې یو کوهی ولید، اول یې هغه ته یوه لویه تیږه
ورواچوله، بیا یې ځان د ونو شا ته غایب کړ. د کوڅې اوسېدونکو کوهي ته
ځراغونه نیولي وو چې غل پکې پیدا کړي خو غل خپل کور ته رسېدلی و، غوسه
یې ختمه وه اوغوښتل یې پلار ته خپله کیسه وکړي. پلار یې ورته وویل: ما ته اوس
څه کیسه کوې، دا چې دلته ناست یې، کیسه معلومه ده، کسب دې زده کړی دی.

## ښېله ارزو، ښېل حقیقت

پیشو په ونه کې ناسته وه، په کټ کټ یې خندل. سپي له لاندې وروکتل، ورته ویې
ویل: لېونی شوې خو نه یې چې هسې له ځان سره خاندې؟
پیشو وویل، خوب مې لیده چې باران اوري، ډېر سخت باران او دا باران د اوبو د
څاڅکو نه وي، د موږکانو وي.
سپی ورته په قهر شو، ویې ویل: بې معنا خوب دې لیدلی دی، اصل خوب چې
موږ له خپلو مشرانو اورېدلی و، دا و چې باران وي خو د اوبو د څاڅکو په ځای
پیشوګان اوري.
استاد چې دا کیسه وکړه، ویې ویل: که موږك وغږوئ هغه به د ښېل خوب کیسه
کوي. هر څوك خپله ښېله ارزو او خپل ښېل حقیقت لري.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## انجام

بابا نانک د سیکهانو مذهبي مشر و. حکایت دی، وایي دی چې وفات شو، مسلمانانو یې د غسل و کفن تابیا وکړه، ځکه مسلمان یې باله او هندوانو یې د سوځولو لپاره لرګي راټول کړل، ځکه هندو ورښکارېده.

د بابا نانک یو مخلص چې وفات کېده، شاګردانو یې ورته وویل: استاده، تا اوس وسوځو؟ خاورو ته وسپارو؟ څه وکړو؟

د ده په شونډو د ژوند وروستۍ موسکا خپره شوه، ویې ویل: یوه کیسه چې په انجام یې نه پوهېږې، لا خوندوره وي.

## جبر او اختیار

یو ځوان استاد ته راغی، ورته ویې ویل: انسان مختار دی که مجبور؟

استاد ورته وویل: پاڅه! ودرېږه!

ځوان که څه هم په دې خبره حیران شو خو پاڅېد.

استاد وویل: اوس یوه پښه له مځکې اوچته کړه!

ده ښۍ پښه پاس ونیوله.

استاد وویل: دغه چل دې له چپې پښې سره هم وکړه!

ځوان وویل: داسې خو نه کېږي.

استاد وویل: ته مختار وې چې ښۍ پښه اوچته کړې، که چپه، خو ته مختار نه یې چې دواړه اوچتې وساتې.

جبر او اختیار دواړه شته.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## بېړۍ

يو ځوان عارف ته راغی، ورته ويې ويل: که هر څه په تقدير کې ليکلي وي نو زه چې څه کوم، زه مجبور يم او له مجبور سړي بايد دا پوښتنه ونشي چې ولې دې داسې کول، داسې دې نه کول؟ او که انسان مختار وي نو ولې په تقدير باور ولرو؟
عارف ورته وويل: په سمندر کې په يوه بېړۍ کې سپور يې، ته دا کولای شې چې په بېړۍ کې هرې خوا ته ولاړ شې، خو له بېړۍ راوتلی نشې.

## په تنګ شوی سالک

مريد راغی، مرشد ته يې وويل: کور مو تنګک دی، شور پکې ډېر وي، وظيفو ته مناسب ځای نه لرم، نور ما د سلوک په لارويانو کې مه حسابوه.
مرشد چې د ژمي پيتاوي ته ناست و، مريد ته وويل: لمر له سترګو پټ کړه! هغه مخ ته لاسونه ونيول. مرشد ورته وويل: لمر ډېر لوی دی او ستا لاسونه ډېر واړه دي، خو ستا لاسونو يې مخه ونيوله. د معنويت لمر هم ډېر لوی دی، ته کولای شې چې کوچنۍ ستونزې پلمه کړې او مخه يې ونيسې مګر يوازې ته به ترې محروم پاتې يې.

## په اسمانونو کې خبرې

عبدِ مبارک د مکې په لاره کې يوه شپه خوب وليد چې په اسمانونو کې دی او هلته د دوو ملايکو خبرې اوري. يوه ملکه له بلې پوښتنه کوي: سږ کال څومره کسان حج ته تللي دي؟
بله ورته وايي: شپږ لکه کسان.
هغه لومړۍ بله پوښتنه کوي: د څومره کسانو حج قبول شوی دی؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په خوب ورکوي: د یوه هم نه. البته، په بغداد کې یو بوټ ګنډونکی دی چې علي موفق نومیږي، هغه حج نه دی کړی خو حج یې قبول شوی او برکت یې هم هغو کسانو ته رسېدلی دی.

له سفره وروسته عبد مبارک په بغداد کې د علي موفق دوکان ته ورغی او د خپل خوب کیسه یې ورته وکړه. د علي موفق په مخ اوښکې روانې شوې، ویې ویل: زه په ډېر زحمت درې نیم سوه دیناره ټول کړل چې سږکال به حج ته ورځم خو یو ګاونډی مې وږی و، پیسې مې هغه ته ورکړې او د مکې له سفره تېر شوم.

## څوابونه

له مرشده پوښتنه وشوه: عاقل څوک دی؟

مرشد وویل: څوک چې له نورو سره په ناسته پاسته کې همېشه د زده کړې یو څه مومي.

-پیاوړی څوک دی؟

-هغه چې په ځان برلاسی دی.

-شتمن څوک دی؟

-هغه چې د خپلې اصلي شتمنۍ په قدر پوه وي، یعنې د وخت.

-څوک د درناوي وړ دی؟

-هغه چې ځان او نورو ته درناوی کوي.

هلته یوه حاضر سړي وویل: ګومان نه کوم چې دا خبرې دې له چا پټې وي.

مرشد وویل: که یو شی پټ هم نه وي خو چې سترګې پرانه نیزو، نه یې وینو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## ارام ذهن

مرشد او شاګرد له یوه کلي بل ته روان وو چې ناڅاپه له ځنګله پړانګ راښکاره شو.
شاګرد وویل: استاده څه به کوو؟
مرشد وویل: «منډه وهلی شو خو دی تر موږ ډېر چټک دی، ځای په ځای وارخطا درېدلی شو، بېهوشه کېدلی شو او ذهن له هر تشویشه خالي کولای شو.»
او په دې خبرو پسې استاد داسې غلی ودرېد، لکه هېڅوخت چې هېڅ نه ول.
شېبه نیمه پس پړانګ لار چپه کړه.
مرشد وویل: کله چې ذهن ارام وي، کراري یې په اتومات ډول شاوخوا خپرېږي او په هر شي اثرغورځوي.

## د فکر قدرت

یو یوګي له خپل شاګرد سره یوه لوی ښار ته لاړ. دوی به دلته شپه تېروله او ډوډۍ به یې خوړله خو پیسې یې نه لرلې. شاګرد په دې فکر کې و چې ډوډۍ به له نورو وغواړي او شپه به په پارک کې تېره کړي. ده یوګي ته وویل: دلته نږدې پارک شته، شپه به پکې تېره کړو.
یوګي وویل: په ازاده هوا کې؟
شاګرد ځواب ورکړ: هو.
یوګي وموسل، ویې ویل: نه، شپه به په هوټل کې تېروو او ډوډۍ به هم هورې خورو.
شاګرد وویل: پیسې یې نلرو.
یوګی وویل: کله چې په یوې موضوع باندې ذهن مرکوز کړې، هغه ته رسېږې.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوګي سترګې پټې کړې او په پوره ذهني تمرکز یې مراقبه پیل کړه. کابو لس دقیقې وروسته راپاڅېد او له شاګرد سره روان شو. دوی په مختلفو سړکونو او کوڅو کې وګرځېدل، بالاخره یوه هوټل ته ورسېدل.

یوګي خپل شاګرد ته وویل: راځه، هوټل ته دننه شو.

دوی د هوټل په وره کې وو چې یو دریشي کړی سړی ورته راغی، ویې ویل: «زه د هوټل منیجر یم. تاسې مرتاضان غوندې ښکارئ او شاید پیسې به نه لرئ. غواړئ د هوټل په پخلنځي کې کار وکړئ؟ په بدل کې به ډوډۍ او د شپې ځای درکړو.»

یوګي وویل: بالکل سمه ده.

شاګرد حیران شو او له یوګي یې پوښتنه وکړه: څه کوډې دې وکړې؟ داسې څنګه وشول؟

یوګي وموسېده، ویې ویل: ما غوښتل تا ته د فکر زور در ښکاره کړم. کله چې غواړو یو شی پېښ شي نو که په پوره تمرکز وربانډې فکروکړو او ذهن مو ورسره مقاومت ونکړي، یعنې ذهن ورته په رښتیا پرانیزو، هغه شی واقع کېږي.

راز دا دی چې تمرکز وکړو، تجسم وکړو، جزییات سترګو ودروو، باور ولرو او د ذهن او احساس انرژي په هماغه ذهني صحنې ورتوله کړای شو.

کله چې ستاسې ذهن له فکرونو خالي شي او یوازې یو فکر د نورو اجازه ورنه کړي، ډېر زیات قدرت پیدا کوي. بنیادم باید پوره پام ولري چې په څه باره کې فکر کوي. یو متمرکز فکر پیاوړی دی او ډېر زیات تاثیر لري.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ذهن او توپاني سمندر

سوامیننداو شاګرد یې رنګا د سمندر په غاړه قدم واهه. هوا سړه وه. تېز باد په سمندر کې لوړ موجونه جوړول. له څه شېبې ګرځېدلو وروسته سوامیننداو ودرېد، شاګرد ته یې وکتل، پوښتنه یې وکړه: څېاند سمندر څه دریادوي؟
رنګا ځواب ورکړ: ما ته زما ذهن رایادوي. زما د ذهن ځغلنده، ناکراره افکار.
سوامیننداو وویل: هو، توپاني سمندر د ذهن په شان دی او فکرونه یې موجونه. ذهن لکه اوبه شنه حالت لري، نه ښه دی، نه بد. باد موجونه ولاړوي، لکه وېرې او تقاضاوې چې فکرونه پیدا کوي.
رنګا وویل: زه نه غواړم چې بېړۍ مې د توپاني سمندر په منځ کې وي.
سوامیننداو وویل: د اکثرو کسانو بې سکانه بېړۍ د توپاني سمندر په منځ کې روانه ده او دوی شاید په ځان پوه هم نه وي چې چېرته دي. د اکثرو کسانو ذهن ډېر ناکرار دی. ذهن ته یې هر ډول فکرونه بې وقفې ځي راځي او پارېدلی یې ساتي.
سوامیننداو زیاته کړه: ته سمندر په دې نه شې کرارولی چې اوبه را ایسارې کړې او د حرکت اجازه ورنه کړې. ضرور دا ده چې باد ودروې. باد ستا له تقاضاوو او وېرو جوړېږي. دغو ته اجازه مه ورکوه چې ستا پر ژوند حکومت وکړي. د خپل پام د کنټرول په ذریعه د دوی کنټرول زده کړه. هاله به ستا د ذهن سمندر ارام شي.

# فیل او پشه

یو مرید او مرشد په ځنګله کې روان وو. مرید دې شي ته فکر وړی و چې ذهن یې ولې همیشه ناکرار وي. ده له مرشده پوښتنه وکړه: «ولې یوازې د ډېرو لږو کسانو ذهنونه ارام دي او د نورو کابو ټولو ناارام؟»
مرشد هغه ته وکتل، وموسېد، ویې ویل:



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ازه به تا ته د فیل او غوماشي کیسه وکړم. یو فیل ولاړ و، د ونې تویې شوې پاڼې یې ورو ورو خوړلې. دغه وخت یوه غوماشه راغله د ده له غوږ سره یې بونګ بونګ وکړ. فیل د غوږونو په خوځولو وشړله. شیبه نیمه پس غوماشه بیا راغله او فیل بیا لرې کړه.

غوماشه څو، څو ځله راغله او فیل د غوږونو یا خرطوم په خوځولو له ځانه لرې کړه خو د دې د تلو راتلو تمام نه و. اخر فیل پوښتنه ورنه وکړه: ته څومره بونګېږې، څومره ناکراره یې! ولې دې هیچرته یوه لحظه تېکه نه کېږي؟

غوماشې ځواب ورکړ: زه چې هر څه ووینم، یا واورم یا بوی کړم، ورجذبوي مې. زما پنځه حواس او هر څه چې زما شاوخوا پېښېږي، ما هر لور ته ورکاږي او زه ځان ترې راټولولی نشم. ستا د سکون راز په څه کې دی؟ ته دومره ارام ولې یې؟

فیل خوراک بس کړ، ویې ویل: «زما توجه زما د پنځه ګونو حواسو په لاس کې نه ده، بلکې زما په لاس کې ده، زه چې یې هر لور ته وغواړم، اړولی یې شم. دا شی له ما سره مرسته کوي چې په خپل کار کې ډوب واوسم او خپل ذهن ارام او مرکوز وساتم. اوس زه په خوراک بوخت یم، زما ذهن خوړو ته پوره متوجه دی او په دې ډول له خوړو ښه خوند اخلم او ښه یې ژویم. زه خپل پام په کنټرول کې ساتم، نه برعکس، او دا له ما سره مرسته کوي چې ارام واوسم.

د دې خبرو په اورېدو سره د مرید لېمې وځلېدې، وموسېد، مرشد ته یې وکتل، ویې ویل: «پوه شوم! زما ذهن به تل ناکرار وي، که هغه زما د پنځو حواسو او د هغه څه په کنټرول کې وي چې زما شاوخوا پېښېږي. او برعکس، که زه د پنځه واړه حواسو کنټرول په لاس کې ولرم او د حسي تاثیراتو پروا ونه کړم، زما ذهن به ارام وي او د ناکرارۍ بې اهمیته کول به یې په وس کې وي.

مرشد وویل: ذهن ثابت حالت نلري، چېرته چې پام اوړي، دی هم هغې خوا ته ځي. نو پام په کنټرول کې ولره چې ذهن دې په کنټرول کې وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## راما او کریشنا

دا د نولسمې پېړۍ کیسه ده. په هندوستان کې دوو زلمو ملګرو، راما او کریشنا، وغوښتل چې لندن ته ولاړ شي، لوړې زده کړې وکړي او ډېرې پیسې وګټي. دوی ولاړل. کریشنا هورې ځوانیمرګ شو او راما لوړې زده کړې وکړې او شتمن شو.

یو وخت یو څوک له لندنه هند ته راغی، په هند کې یې د دوی ښار ته سفر وکړ او هلته یې د لندن د ډېرو نورو خبرو په منځ کې د راما او کریشنا کیسه هم وکړه، البته، ده د رانا او کریشنا نومونه سره غلط کړي وو. ده ګومان کړی و چې راما مړ دی، نه کریشنا. نو د کریشنا کورنۍ ښه خوشاله شوه او د راما کورنۍ ډېره خوابدې.

استاد به د نولسمې پېړۍ دا کیسه ډېره کوله او ویل به یې، زموږ غمونه او زموږ خوشالۍ زموږ د ذهن پیداوار دي. که په ذهن کې ښو خبرو ته ډېر ځای او بدو خبرو ته لږ ځای ورکړو، ژوند بهتره کېږي.

## دوی به ستا په باره کې څه وایي؟

ابن اثیر چې ماشوم و، د خپل پلار او یوه درویش خبرې واورېدې. درویش وویل: «خپلو چارو ته پام ساته او ستا په باره کې له تا وروسته راتلونکو خلکو قضاوت ته باید اهمیت ورکړې.»

پلار یې ورته وویل: «نو څه؟ زما په باره کې د راتلونکو نسلونو خبرې، چې زه مړ یم او نه یم، هېڅ اهمیت نه لري.»

ابن اثیر دا مکالمه هېڅوخت هېره نه کړه. ده ټول عمر هڅه وکړه چې ښه وکړي، خلکو ته خیر ورسوي او خپل کارونه په شوق سره ترسره کړي. دی نورو ته د پام کولو او له نورو سره د ښه کولو په خاطر مشهور شو. کله چې وفات شو، داسې ډېر څه ورته پاتې شول چې د ده په ښار کې د ژوند کیفیت ورسره بهتره کېده. د ده د قبر په تیږه لیکل شوي وو: «هغه ژوند چې له مرګ سره ختمېږي، داسې ژوند نه دی چې ښه تېر شوی وي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# تعادل

یو زلمی صومعې ته راغی، ویې ویل، غواړم راهب شم. د راهبانو غونډې منظم او له ګناه خونډي ژوند ولرم خو پلار راته یوازې د سترنج لوبه زده کړې ده چې هغه هم د ګناه کار دی، نور هېڅ کمال نه لرم، ما به په صومعه کې پرېږدئ؟
مشر راهب ورته وویل: دا د ګناه کار زه هم کله کله کوم، راځه یو سترنج سره وکړو، د صومعې په باره کې به بیا وروسته غږېږو!
دوی لوبه پیل کړه. زلمي په اوله کې جدي لوبه کوله خو ژر پوه شو چې د مشر راهب پکې مزه نشته نو هغه ته یې په لوی لاس فرصت ورکړ چې ژر مات نه شي. زلمي په زړه کې وویل چې که راهب ژر مات شي، شاید وځورېږي، نو لوبه یې اوږده کړه چې راهب ته څان ډېر کمزوری ښکاره نشي. خو لوبه لا روانه وه چې راهب لوبه بس کړه او زلمي ته یې وویل: ته د اصولو او زړه سوي تر منځ تعادل ساتلی شې او موږ دې په سر سترګو په صومعه کې منو.

# د دانشمندانو شکایت

فیلسوفانو، د منطق عالمانو او د حقوقو ډاکترانو د ملا نصرالدین له لاسه محکمې ته شکایت وکړ چې د دوی هتکِ حرمت یې کړی او دوی یې جاهلان بللي دی.
قضیه ډېره جدي وه، ځکه ملا نصرالدین به کلي په کلي ګرځېده او ویل به یې: «دا څانونو ته چې عالمان وایي، دوی له یو سره جاهلان، سرتمبه او سرناخلاصه دي.»
ملا د هیواد ملي امنیت ته په ګواښ تورن شو.
مشر قاضي وویل: اول د ملا نصرالدین نوبت دی چې خبرې وکړي؟
ملا وویل: کاغذ او قلمونه راوړئ!
سپینې پاڼې او قلمونه راوړل شول.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ملا وویل: «هرو اوو کسو دانشمندانو ته چې دلته حاضر دي او زما له لاسه يې شکايت کړی دی، یوه پاڼه کاغذ او يو خودکار قلم ورکړئ.»

دا کار هم وشو.

ملا وویل: اوس دې هر یو جدا جدا دې پوښتنې ته ځواب ووايي چې وچه ډوډۍ څه شی ده؟

دانشمندانو پوښتنې ته ځوابونه ورکړل او د امتحان اووه واړه پاڼې د مشر قاضي پر مېز کېښودل شوې.

مشر قاضي د دوی ځوابونه په لوړ اواز ولوستل:

د لومړي دانشمند ځواب: وچه ډوډۍ يو ډول خواړه دي.

د دویم دانشمند ځواب: د وړو او اوبو يو ترکيب ته وچه ډوډۍ وايي.

د درېیم دانشمند ځواب: الهي نعمت دی.

د څلورم دانشمند ځواب: پخه شوې پېړه او زغاله.

د پنځم دانشمند ځواب: وچه ډوډۍ واحد تعريف نه لري او مختلف تعبيرونه ترې کېدای شي.

د شپږم دانشمند ځواب: يو ډول مغذي ماده.

د اووم دانشمند ځواب: د دې پوښتنې سم ځواب ډېر وخت غواړي او د بېړې کار نه دی.

ملا نصرالدین وویل: «دوی چې هره ورځ ډوډۍ ويني، ډوډۍ خوري او وربانديې غړېږي خو د هغې په باره کې متفقه خبره نه شي کولای، نو زما په باره کې څنګه متفق شول چې په څلور کتابه يې ملامت کړی يم؟ دوی ما څکه جاهلان او سرناخلاصه بللي دي چې په ډېرو ابتدايي شيانو کې هم واضحه خبره نه لري او سرتیمبه يې څکه بولم چې د بل هم نه مني.»

د ملا نصرالدين له خبرو وروسته مشر قاضي وويل چې د محاکمې نننۍ غونډه پای ته ورسېده. بله غونډه به د راتلونکې مياشتې په اتلسم تاريخ وي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## چرچرک

یو سور پوستی کلیوال له خپل ښاري ملګري سره د نیویارک ښار په تایمز میدان کې روان و. غرمه وه، ګڼه ګونه وه او د موټرونو اوازونو فضا په سر اخیستې وه. په دې حال کې چې د څنګلوري غږ هم په زحمت اورېدل کېده، سورپوستي خپل ښاري ملګري ته وویل: «د چرچرک اواز اورم.» هغه ورته وویل: «لېونی شوی یې، په دومره شورماشور کې د چرچرک اواز له کومه شي؟»

سورپوستي غوږونه څک کړل او چې له سرکه واوښت، ښي لاس ته د یوه لوی سمتي ګلدان په لور تاو شو. ملګری یې ورپسې و. سورپوستي د ګلدان د بوټو د څانګو لاندې سترګې وغړولې او یو کوچنی چرچرک یې پیدا کړ. ملګری یې حیران شو، ویې ویل: «تا ښخي معجزه وکړه، ستا غوږونو ته سل سلامه!» سورپوستي وویل: «زما او ستا په غوږونو کې فرق نشته. خبره په دې کې ده چې د څه شي اورېدلو ته تیار یې؟» ملګري یې وویل: «زه که وهم غواړم په دومره شورماشور کې د چرچرک اواز نه شم سهي کولای، دا به منې!» سورپوستي وویل: «که یو شی واقعا درته اهمیت ولري، بیا یې اورېدلی شې. زه به یې په عمل کې در وښیم.» دغه وخت ده له جیبه ماتې پیسې راوایستلې، په پاخه سړک یې واچولې چې شرنګ یې شو. د پیسو شرنګ په هماغه شورماشور کې تر کابو لس مترو پورې لارویانو واورېد او په جیبونو یې لاس وواهه چې د دوی پیسې خو به نه وي لوېدلې.

## رڼا او تیاره

لمر او سمڅې د رڼا او تیارې په باره کې بحث کاوه. سمڅه د رڼا په معنا نه پوهېده او لمر تیاره نه پېژندله. اخر یې پرېکړه وکړه چې د یو بل ځای ته ورشي. سمڅه پیتاوي ته شوه، ویې ویل: پوه شوم چې رڼا څه ده. په رڼا کې خو هر شی لیدل کېږي. وروسته بیا لمر سمڅې ته لاره وکړه، ویې ویل: زه خو پوه نه شوم چې تیاره څه ته وایي؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ډالر

دا د شلمې پېړۍ د لومړيو وختونو کيسه ده.

د تجارتي چارو د شرکت يو رييس په قرض کې غرق و، د وتلو لاره يې نه ليدله، د پور نېټې ورځ په ورځ رانږدې کېدلې. مازديګر پارک ته لاړ چې پام به بله واړوي مګر په ذهن کې يې بس همدا يوه موضوع وه. په يوه چوکۍ کېناست، سر يې په دواړو لاسونو کې ټينګ کړ. دغه وخت ناځاپه يو بوډا راپيدا شو، ورته ويې ويل:

«پرېشانه ښکارې، په ما غږ کولای شې.»

ده ورته خپله ستونزه بيان کړه او هغه وويل:

«زه له تا سره مرسته کولی شم، نوم دې راوښيه.»

ده خپل نوم وروښود او هغه يو چيک ورکړ، ويې ويل: «دا پيسې واخله. پوره يو کال وروسته به په همدې ورځ، په همدې ساعت، په همدې ځای کې زه او ته سره ګورو او ترهغو به تا زما پيسې بېرته ګټلې وي.»

بوډا له دې خبرې وروسته لاړ او د پارک په ونو کې له سترګو پناه شو.

د تجارتي شرکت رييس چيک وکوت. د پنځه لکه ډالرو و. د هغې زمانې مشهور مليونر جان راکفيلر يې لاندې امضا کړې وه.

د رييس سا سمه شوه. په دې پيسو د ده د پوروونو مشکل حل کېده خو يوه بله پرېکړه يې وکړه. چيک يې په خپل سيف کې کېښود او له ځان سره يې وويل چې: «اوس خو د بدې ورځې د مخنيوي وسيله لرم، نو ولې په ډاډ سره معاملې نه پيلوم؟ ګوندې په معاملو کې ګټه وکړم او پوروونه له خپلې ګټې ورکړم.»

ده چې يو ځل بيا ډاډ پيدا کړی و، څو لوی قراردادونه وکړل او ښه ګټه يې پکې وکړه. په اتمه مياشت يې پوروونه ختم شول او هغه چيک لا په سيف کې سلامت کېناست. کال پس له ساتل شوي چيک سره پارک ته لاړ، په هماغه څوکۍ کېناست. بوډا راپيدا شو، ده غوښتل چې له منښې وروسته د خپل برې کيسه ورته پيل



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړي، خو یوه نرسه په منډه، منډه راغله، ویې ویل: شکر چې پیدا مې کړ. له کوره نښتېدلی و. امېد دی تاسې یې نه یاست په تکلیف کړي. دی چې هر څوک ووینې ورته وایي، جان راکفیلر یم.
رییس چې په پارک کې یوازې پاتې شو، د زېړي مازدیګر په رڼا کې یې ګلونو ته کتل او د دې یوه کال په پېښو یې غور کاوه. دی دې نتیجې ته ورسېد چې خیالي یا واقعي پیسې نه بلکې نه وارخطا کېدل اصلي سرمایه ده.

## د بل ملامتول

ماریا باید په هوایي ډګر کې یو ساعت نور هم الوتکې ته انتظار کړی وای. یو پاکټ بسکټ یې واخیستل او کتاب یې راوایست چې ویې لولي. له څو پاڼو کتاب لوستلو وروسته بسکټ ور په یاد شو، یو بسکټ یې چې د څنګ په میز ایښی و، را اوچت کړ. دې په حیرانی ولیدل چې د میز بلې غاړې ته ناست سړي هم یو بسکټ ور واخیست. انتظار یې هسې هم اعصاب کمزوري کړي وو، سړي ته په زړه کې غوسه شوه، خو غږ یې ونه کړ، د کتاب مطالعه یې جاري وساتله. لږ وروسته یې یو بل بسکټ ور واخیست او پام یې شول چې هغه سړي هم بسکټ ورواخیست. له قهره بې شونډې وچیچلې او په کتاب بوخته پاتې شوه. په دریيم، څلورم، پنځم ځل هم چې دې بسکټ را اخیست، هغه سړي بې اجازې او بې له دې چې وشرمېږي، بسکټ ور اوچتول. نور نو ماریا که څه هم کتاب لوست خو کتاب یې نه شو لوستلی، ټول پام یې دې سړي او بسکټو ته و.
بالاخره صرف یوه دانه بسکټ پاتې شو. ماریا ته په زړه کې ورګرځېدل چې که دا وروستی بسکټ را واخلي، ده ته به پاتې نشي. دې د انتقام له همدې تصوره خوند


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

اخیست او لا یې لاس نه و وروړی چې سړي وروستی بسکټ نیم کړ، نیم یې خپله نوش جان کړ، پاتې یې ماریا ته پرېښود.
ماریا له ډېره قهره هغه نیم په ځای پرېښود، کتاب یې بند کړ او له ځان سره یې وویل: د الوتکې ځنډ دومره ونه ځوروولم، لکه د دغه سړي چلند.
دغه وخت له مسافرو وغوښتل شول چې الوتکې ته ژر ځانونه ورسوي. ماریا تر پاڅېدو له مخه دستکول پرانیست چې کتاب پکې کېږدي. د دې بسکټ په دستکول کې و او په میز باندې ایښي بسکټ د هغه سړي وو.

## د بدن تر ټولو مهم غړی

چې ډېر کوچنی وم، مور رانه پوښتنه کړې وه چې د بدن تر ټولو مهم غړی کوم یو دی، ما غوږونه ورښودلي وو. دې راته ویل، نه، غلط شوې، ډېر خلک شته چې غږونه نه اوري خو عادي ژوند کوي.
چې پنځه کلن شوم، یو ځل بیا یې رانه پوښتنه وکړه، ما دا ځل سترګې ور وښودلې.
مور مې وویل، ډېر لرې نه یې خو ځواب دې سم نه دی، ځکه ډېر کسان شته چې نابینا دي مګر د نورو خلکو غوندې عادي ژوند کولای شي.
سږ کال مې نیکه وفات شو. پلار مې په لومړي ځل ولید چې ژاړي. مور مې وژړل او له ژړا وروسته یې راته وویل چې: د بدن تر ټولو مهم غړی کوم یو دی؟ زما یقین راغی چې دا که هسې د ټوکو پوښتنه وای، نو په داسې حالت کې به یې نه کوله. ما ورته وویل، نه پوهېږم، ته راته ووایه، سودا مې شوه.
دې راته وویل، د بدن تر ټولو مهم غړی اوږه ده.
ما ورته وویل: په دې دلیل چې سر ورباندې تکیه دی.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دې وویل: نه، په دې دلیل چې د غم او ژړا په وخت کې د یوه دوست او عزیز سر وراندې تکیه کېږي. هر څوك په ژوند کې یو وخت یوې اوږې ته ضرورت لري چې په هغې اوښکې تویې کړي. زما ارزو دا ده چې د بل د ژړا لپاره همېشه اوږه ولرې.
له هغې ورځې وروسته پوه شوم چې د بدن مهم غړی خودخواه نه وي بلکې نورو ته په غم کې پناه ورکوي.

## په زړه کې

څو کسه مشران او ماشومان سره ناست وو، د مجلې پاڼې یې اړولې، عکسونه یې لیدل. هلته د یوې کورنۍ د غړو عکسونه وو. د دریو اولادونو رنګونه مور و پلار ته ورته ول او د یوه رنګ بل شان و. یوې ښځې وویل، دا کورنۍ زه پېژنم، دا یوه چې پکې بل شان ده، دوی په لور ولې منلې ده.
یوه ماشوم وویل: په لور ولې منل څه ته وایي؟
یوه بل ماشوم ځواب ورکړ: زه پوهېږم. ماشومه چې د مور د ګېډې په ځای د هغې په زړه کې وده وکړي، هغه په لور ولې منل شوې وي.

## د موټر خښول

په برازیل کې یوه ډېر شتمن سړي خبریالانو ته وویل چې خپل یوملیون ډالري موټر په پلانۍ ورځ خاورو ته سپاري.
هغې ورځې ته دوې اونۍ پاتې وې او په دې موده کې په دې اړه ډېرې تبصرې وشوې. ټولې تبصرې منفي وې. څینو وویل، دی بس دې ته خوشاله دی چې په خبرونو کې یې نوم راشي. څینو نورو وویل: موټر دې یوې خیریه موسسې ته ورکړي چې وېې پلورې او بېوزلو ته خواړه وربانډې واخلي. یوه سړي دا هم وویل


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې قانون بايد بدل شي او خلك بايد دا اجازه ونلري چې له خپلې شتمنۍ سره د خپلې خوښې لوبې وکړي.

خلك خوشاله نه شول خو خبريالان خوشاله وو، ځکه د تاوده بحث موضوع پيدا شوې وه. د موټر د سخولو وخت راورسېد. ګڼ خبريالان له کمرو سره ورغلل چې د پېښې ژوندي راپوروونه خپاره کړي. شتمن د يو مليون ډالري موټر په خوا کې د خبريالانو مخې ته وويل: زه موټر نه خښوم، په دې وجه نه چې خلکو وغندلم، بلکې له اوله مې هم دا کار نه کاوه. ما صرف يو بل مهم ټکي ته د خلکو توجه غوښته. موږ هره ورځ د بدن ډېر ضروري او قيمتي اعضا لکه زړه، بډوګي او سترګې خاورو ته سپارو، حال دا چې ځينې نور کسان سخته اړتيا ورته لري. راځئ دغه اړخ ته پام واړوو او په روغتونونو کې د ګڼو پرتو کسانو ژوند وژغورو.

## غوراوي

اووه کلنې نجلۍ له پلاره پوښتنه وکړه چې: اغا، کله هم ما ژړولې يې؟

پلار يې ورته وويل: «هو، يو ځل. ته په هغه وخت کې درې کلنه وې. ما ستا مخې ته قلم، پيسې او نانځکه واچول او درته ومې ويل چې يو پکې خوښ کړه. ما په زړه کې ويل چې قلم د عقل، پيسې د ثروت او نانځکه د ساتيرۍ علايم دي. که دې هر شی خوښ کړ، په اينده کې به شايد هغې خوا ته ځې، خو تا بل کار وکړ. تا درې سره له مخه لرې کړل او راغلې زما په غېږ کې کېناستې. تا څلورم انتخاب هم درلود خو هغه ته ما پام نه و کړی. دې پېښې وژړولم.»

نجلۍ ورته وويل: نو ولې دې ژړل؟

پلار يې ورته وويل: هغه اوس نه درته وايم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# سخي

حاتم طايي ته چا وويل: تر ځان سخي سړی دې په عمر کې ليدلی دی؟
ده وويل: يو وخت د يو چا مېلمه شوم چې ټوله شتمني يې يوازې دوه پسونه وو. يو يې راته د ماښام د ډوډۍ لپاره حلال کړ، ما يې د ځيګر تعريف وکړ چې ډېر خوند ور و، د سبا سهار لپاره يې د هغه بل پسه ځيګر هم راته کباب کړی و.
حاتم ته وويل شول چې تا په بدل کې ورسره څه وکړل؟
حاتم وويل: ما پنځه سوه پسونه ورکړل.
ورته وويل شول: نو ته خو تر هغه سخي وې.
حاتم وويل: نه، ده چې څه لرل ټول يې ما ته راکړل او ما د خپلې شتمنۍ يوه وړه برخه ورباندې ولوروله.

# د نړۍ تر ټولو نېکمرغه مارغه

کارغه په ځنګل کې اوسېده او له خپل ژونده پوره راضي و. يوه ورځ يې د رونو اوبو په ډنډ کې قو وليد. د هغه هسکې سپينې غاړې او د پومبې په شان تکو سپينو بڼکو ته يې چې پام واوښت، له ځان سره يې وويل: زه خو ډېر تور يم. قو به د دنيا تر ټولو نېکمرغه مرغه وي.
کارغه همدا خبره قو ته وکړه. قو ورته وويل: ما هم تر يو وخته همدا فکر کاوه خو کله چې مې د دوه رنګه وزرونو طوطي وليد، له هغه وروسته ګومان کوم د نړۍ تر ټولو نېکمرغه مرغه طوطي دی.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کارغه په طوطي پسې ورغی. د هغه د زمردو غونډې زرغونو بڼکو او د هغه په منځ کې لاجوردي کرښو ته یې اول په خیر، خیر وکتل، بیا یې ورته وویل: قو تا تر ټولو نیمکرغه مرغه بولي، ستا څه رایه ده؟

طوطي وویل: تر هغو چې مې طاووس نه و لیدلی، همدا فکر مې کاوه. زه یوازې دوه خو هغه ګڼ رنګونه لري. هغه تر هر مرغه بختور دی.

کارغه ژوبڼ ته لاړ چې طاووس وګوري. د طاووس د سیل لپاره په سلګونو کسان راټول وو. چې د ژوبڼ د بندېدو وخت شو او خلک ووتل، کارغه ورته وویل: «طاووس جانه، ته ډېر زیات ښکلی یې. هره ورځ دې په زرګونو کسان ننداري ته راځي، خو ما چې ووینې، مخ اړوې. زما په فکر ته د مځکې د مخ تر ټولو خوشاله او نېکمرغه مرغه یې.»

طاووس ورته وویل: «ما تل فکر کاوه چې زه به د نړۍ تر ټولو خوشاله او نېکمرغه مرغه یم خو د خپل ښایست په ګناه په ژوبڼ کې بندي شوم. ما ژوبڼ ټول لیدلی دی او رامعلومه شوې ده چې یوازې کارغه هغه مرغه دی چې په قفس کې نه بندي کېږي. له څه مودې راهیسې فکر کوم چې کاشکې کارغه وای، په خپله خوښه به هر ځای ازاد ګرځېدم.»

## سړېتوب

دا کیسه په جرمني کې پېښه شوې ده. یوه ښځه چې د غوښې د توزیع په مرکز کې یې دنده وه، د رخصتېدو په وخت په څه کار پسې سړې خونې ته ورغله او هلته له اواز د باندې نه وځي او ځرنګه چې د کارکوونکو د رخصتي وخت و نو سړې خونې ته تګ راتګ هم نور نه کېده چې څوک د دې له حاله خبر شي. دا د ډېرې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

بخنی په وجه بېهوشه شوه او څلور ساعته وروسته چې مرګ ته نژدې وه، د مرکز چوکيدار د سړې خونې دروازه پرانيسته، له مرګه يې وژغورله.
په سبا باندې چې کارکوونکي راغلل، چوکيدار وويل چې دلته ډېر کسان کار کوي او زما ياد نه وي چې څوک حاضر دي، څوک غير حاضر دي، خو دا د مرکز په سلګونو کارکوونکو کې يوازينۍ همکاره ده چې د راتلو په وخت کې راته وايي، پلانيه سلام او د تلو په وخت کې مې هم نوم اخلي او راسره مخه ښه کوي. نو پرون چې مې سهار د دې سلام واورېد او مازديګر مې يې مخه ښه وانه ورېده، سودا راولوېده چې دا نو څه شوه. د ټولو کارکوونکو له تلو وروسته مې ټول مرکز پسې وکوت او اخر مې په سړې خونې کې وموندله.

## د ملګرو لرلو اهميت

يو ګربت د سين د غاړې په ونه کې اوسېده. دی ځوان او ښکلی و خو ملګری يې نه درلود. يوه ورځ يې يوه ښکلې ګربته وليده چې د يوې ونې په څانګه ناسته وه.
ده ورته وويل: واده به سره وکړو خو هغې ورته وويل: زه له داسې چا سره واده نه کوم چې ملګری نه لري.
ده پوښتنه ورنه وکړه: که ملګري ومومم، بيا راسره واده ته تياره يې؟
دې وويل: بالکل تياره يم.
ګوربت د ملګرو د موندلو هڅه پيل کړه. د سين په بله غاړه يې يو لوی سمندري کيشپ وليد. دی ورکوز شو، ورته ويې ويل: له ما سره ملګرتيا ته تيار يې چې په ښه، بده کې د يوه بل ملاتړي واوسو؟
کيشپ يې ملګرتيا ومنله او دواړو سره ژمنه وکړه چې يو بل ته به لاس ورکوي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګوربت د دویم ملګري په لټه والوت او سمندري شاهین ( یو ډول مارغه چې کبان خوري.) یې ولید. شاهین هم ملګرتیا ته چمتو شو او دواړو سره وویل چې په ښه، بده کې به له یو بل سره مرسته کوي.
ګوربت چې د اوبو په غاړه دوه ملګري موندلي وو، د یو بل ملګري د موندلو په تمه د ځنګل په لور والوت. ده د ونو په منځ کې یو پړانګ ولید، وزر یې ورټیټ کړل، ورته وېې ویل: زه غواړم ملګري ولرم، ته راسره ملګرتیا کوې؟ پړانګ چې ګېډه یې مړه وه او طبیعت یې راسته و، د ګوربت ملګرتیا په خوشالۍ ومنله، وېې ویل: سر له همدې شېبې دې ملګرى یم. نور به هېڅوک درته چپ نشي کتلی، که هر چا ځورولې، په ما باندې غږ وکړه ، زه که هر چېرته یم، ځان در رسوم. ته نور سرې سترګه ګرځه!
ګوربت ډېر خوشاله شو چې درې ملګري یې پیدا کړل. ګوربته ورسره واده ته تیاره شوه. په واده کې یې کیشپ، شاهین او پړانګ برخه واخیسته او دواړو ګوربتانو نوی ژوند پیل کړ.
څو میاشتې پس، د دوی دوه بچي وشول. دواړه ښکلي او روغ وو. مور و پلار یې ورته سخت خوشاله ول.
په دې منځ کې یوه ورځ دوه ښکاریان راغلل، د ګوربتانو د ونې لاندې کېناستل. ښکاریان چې په ساعتونو ګرځېدلي او ښکار په ګوتو نه و ورغلی، وږي او ستړي وو. دوی د سین په غاړه د کبانو د نیولو هڅه وکړه خو کب هم په ګوتو ورنغی.
نور نو تیاره خپره شوه. دوی همدا د ونې لاندې ځای غنیمت وباله چې شپه دلته تېره کړي او د ځان تودولو لپاره اور بل کړي.
اور یې بل کړ. د اور لمبو او لوګیو پاس په ونه کې د ګوربتانو بچي په تکلیف کړل، چونګ، چونګ یې شو. ښکاریانو یې چونګ، چونګ واورېد، یوه پکې وویل:

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

«په ونه کې مرغان دي. راځئ ویې نیسو، کباب به یې کړو.» بل ښکاري ورسره ومنله.

ګوربتانو چې د ښکاریانو خبرې واورېدې، د خپلو بچیو د ساتنې اندېښنه ورپیدا شوه. ګوربتې وویل چې راځئ له ملګرو مرسته وغواړو. ګوربت لنډ په سمندري شاهین پسې ورغی. شاهین ورته وویل: «ته خالي ته ستون شه چې بچیان وساتې، زه پسې درځم.»

سمندري شاهین د سین په اوبو کې غوپه ووهله، ځان یې لوند خیشت کړ او بیا یې اور ته ځان ورساوه، وزر یې ورباندې وڅنډل. ده چې څو ځله داسې وکړل، اور مړ شو.

ښکاریانو یو ځل بیا اور بل کړ خو لرګیو لا پوره خوله نه وه اخیستې چې سمندري شاهین لانده وزر ورباندې وڅنډل. په دې منځ کې ګوربت سمندري کیشپ ته هم ورغی. کیشپ چې د ګوربت مشکل واورېد، ویې ویل: «ملګریه غم مه کوه، زه به ژر در ورسېږم او له ښکاریانو سره به یې معلومه کړم. ته دې ځان بچیو ته رسوه.»

ګوربت ونې ته راستون شو. لږ وروسته سمندري کیشپ هم راورسېد. دی هغه ځای ته نژدې ورغی چې ښکاریان ناست وو اوغوښتل یې یو ځل بیا اور بل کړي. ښکاریانو چې کیشپ ولید، یوه یې وویل: ښه غټ کیشپ خو دی، راځه مرغان څه کوو، دی به راونیسو.»

بل یې وړاندیز ومانه، ویې ویل: «راځه له کمیسونو رسۍ جوړې کړو. یو سر به یې په کیشپ او بل به یې په خپلو ملاوو پورې وتړو، ښه په زور به یې راکش کړو چې د اوبو له څنډې را دې خوا ته شي.»

هغه بل ښکاري یې خبره خوښه کړه. دوی له کمیسونو رسۍ جوړه کړه، د رسۍ په یوه سر یې د سمندري کیشپ پښې وتړلې او بل سر یې په خپلو ملاوو پورې غوټه کړ او بیا یې زور وواهه چې راکش یې کړي خو د کیشپ کشول سخته وو، او بلکې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

برعکس، کيشپ دوی اوبو ته ورکش کړل. دوی که رسی نه وای غوځې کړې، په اوبو کې لاهو کېدل. اوس يې چې کميسونه هم نه وو، له يخنی پوړېدل، نو يو ځل بيا د اور بلولو په لټه کې شول.

ګوربت چې ښکاريان بيا د څانګو او پاڼو په ټولولو وليدل، بيا وارخطا شو. دا ځل يې ځان ځنګل ته ورساوه. پړانګ د ځنګل په څنډه کې و چې د ګوربت شکايت يې واورېد او سمدستي ور روان شو. دغه وخت ښکاريانو اور بل کړی او ونې ته د ختلو په تکل کې وو چې مرغان ونيسي. خو چې څنکه يې سترګې په پړانګ ولګېدې، منډه يې واخيسته، بيا رانغلل.

ګوربت له خپلو درې واړو ملګرو مننه وکړه چې په سخته کې پکار راغلل. دی په دې هم پوه شو چې ګوربته هوښياره وه او په ژوند کې يو څو ملګري لرل ضرور دي.

## فطرت

يوه ورځ شاګردان استاد ته ورغلل، ويې ويل: استاده، د زيارتونو په سفر روان يوو.

استاد وويل: ولې؟

دوی ځواب ورکړ: چې برکت يې موږ ته هم راورسېږي، چې نېکان او صالحان شو.

استاد وويل: سمه ده. نو زما يوه غوښتنه هم پوره کړئ. دغه کريله (يو ډول خوړا تريخ کدو ډوله سابه) هم درسره يوسئ، په زيارتونو يې وګرځوئ چې برکتي شي او ما ته يې بېرته راوړئ.

نو کريله هم له شاګردانو سره زيارت په زيارت وګرځېده او چې دوی راتلل، هغه يې صحيح سلامته استاد ته وسپارله. استاد يې د پخولوغوښتنه وکړه.

شاګردانو پخه کړه او استاد ته يې په دسترخوان کېښوده.

استاد چې ګوله وکړه، په لوړ اواز يې وويل:عجبه ده!

شاګردانو پوښتنه وکړه: ولې استاده؟

استاد وويل: دا خو هماغسې ترخه پاتې ده.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شاګردانو وویل: نو تریخوالي خو د کریلې په ذات کې دی.
استاد وویل: همدا خبره زه هم درته کوم. چې شخصیت بدل نه کړئ، زیارتونه به درکې هیڅ بدلون رانه ولي. که موږ هر یو خپله په خپل خوی کې تغییر رانه ولو، د استاد او مرشد او بل هر چا خبرې بې فایدې دي. تاسې چې مثبت فکر وکړئ، اوازونه په موسیقي بدل شي، حرکتونه په نڅا واوړي، موسکاوې خنداوې شي، ذهن د توجه او مراقبې ځای شي او ژوند د جشن یو پراخ میدان.

## د ځان ارزول

یو هلک د یوې مغازې مخې ته له وړیا تلفونه چا ته زنګ وواهه او چې له هغې خوا تلفون پورته شو، ده وویل: خاله جانې، د چمن ریبلو ته دې که څوک پکار وي، زه تیار یم.
هغې وویل: نه، زه نفر ورته لرم.
هلک وویل: که هر څو ورکوې زه تیار یم د هغه په نیمه بیه به یې وکړم.
هغې وویل: مننه، زه له هغه ډېره خوشاله یم.
هلک وویل: که غواړې زینې دې هم مفته جارو کوم.
هغې وویل: نه، کور دې ودان.
هلک چې تلفون کېښود، خوشاله او موسکی و. د مغازې څښتن چې د ده خبرې اورېدلې وې، ورته وویل: ما ستا دا رویه او مثبته روحیه خوښه شوه، که غواړې زه به کار درکړم.
هلک وویل: مننه، زه کار لرم.
د مغازې څښتن وویل: خو همدا اوس دې زارۍ کولې، کار دې غوښت.
هلک وویل: ما چې له چا سره خبرې کولې، له هغې سره کار کوم، چمن یې رېبم، خو اوس مې کتل چې زما له کاره څومره راضي ده.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# پسي رسېدل

پلار موټر چلاوه او زوی يې په شا سيټ کې ناست و. يو نوی ماډل موټر تر دوی مخکې شو. زوی وويل: پلار جانه، ترې مخکې شه!
پلار يې ورته وويل: زما او د هغه موټر فرق کوي.
لږ وروسته يو بل موټر د شا لخوا راغی، تر دوی مخکې شو. هلك بيا د مخکې کېدو وويل.
دا ځل پلار په څه نا څه تونده لهجه ورته وويل: بچيه، ما درته وويل چې موټران يو شان نه وي. ته هغه ډېر موټران نه وينې چې موږ ترې مخکې روان يوو خو يو نيم چې رانه مخکې شي، ستا زړه ورته په تنګ وي.
زوی يې ورته وويل: دا نو هاغسې خبره شوه، لکه زما د مکتب. د يو نيم شاګرد چې نومرې رانه ډېرې شي، ته او مور جانه واياست ترې مخکې شه او ډېر نور چې له ما شا ته پاتې وي، هغه نه وينئ او دا هم نه ګورئ چې زه او بل او بل خو سره فرق لرو.

## ورکه اوزه

دا هر څه د يکشنبې په ورځ چې په کاناډا کې ښوونځي رخصت وي، پېښ شول. مازديګر مهال دوو مکتبي هلکانو يوه شيطاني کار ته پام شول. دوی د بل چا درې اوزې ښوونځي ته په مخه کړې، په هرې يوې يې نمبر وليکه: يو، دوه، څلور. او بيا يې په ښوونځي کې خوشې کړې.
اوزو شپه په ښوونځي کې تېره کړه. په سبا سهار چې مدير او سرمعلمان راغلل، ښوونځی يو څه ګډوډ ور ښکاره شو. دوی د اوزې پچې وليدې او لږ وروسته يې وزې وليدې چې د ښوونځي په زينو کې يوه خوا، بله خوا منډې وهي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لیون پیل شو. درې اوزې یې وموندلې. اول نمبر، دویم نمبر او څلورم نمبر وموندل شوې، خو دریم نمبر؟ دوی ټولې کوټې بیا بیا وکتلې خو دریم نمبر اوزه نه پیدا کېده او دې ساده حقیقت ته یې نه پام کېدل چې دریم نمبر اوزه بالکل نشته. د دوی پلټنه اوږده شوه.

زموږ په منځ کې ګڼ کسان د ښه ژوند له لرلو سره سره تل احساس کوي چې یو څه یې نشته. دوی په دریم نمبر اوزې پسې لالهانده دي. دوی به کور لري، کار به لري، صحت به یې ښه وي، د چا پور به ورباندې نه وي خو د هغه څه نشتوالی به یې ځوروي چې د دریم نمبر اوزې غوندې یې په دنیا کې بالکل وجود نشته.

## عقیده

یوې بوډۍ مېرمن د راډیو (موږ او اوربدونکي) پروګرام ته تلفون وکړ، له خدای پاک نه یې مرسته وغوښته. یو بې دینه چې دا پروګرام اورېده، د دې ښځې د مسخره کولو لپاره یې راډیو ته په تلفون کې وویل چې خدای پاک د بوډۍ مېرمن ادرس غواړي. ښځې ادرس ورکړ. بې دینه سړي خپل نوکر ته ښه ډېر خواړه په کارټن کې واچول چې د ښځې کور ته یې ورسوي. ده نوکر ته وویل چې کله یې وپوښتلې چې کارټن چا درکړی؟ ته ورته ووایه: شیطان راکړی دی.
نوکر کارټن د ښځې په مخ کې کېښود. هغه ښه خوشاله شوه، ډېره مننه یې وکړه او د کور منځ ته د کارټن د توکو په لېږدولو بوخته شوه.
نوکر ورته وویل: پوښتنه دې ونه کړه چې خواړه چا را استولي دي؟
هغې وویل: ضرور نه ده. کله چې خدای امر وکړي، ان شیطان هم مجبور وي، امر یې مني. نو که هر چا را استولي وي، کور یې ودان.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د مشکل ځای

له یوه سړي سره اندېښنه وه چې د ښځې غوږونه یې درانه شوي دي، د پخوا غوندې نه اوري او شاید د غوږ آلې ته ضرورت ولري. ده په دې باره کې له یوه پېژندګلو ډاکتر سره خبرې وکړې.

ډاکتر ورته وویل: «یو ټسټ دی، په کور کې یې پخپله کولای شې. له هغه وروسته به ما ته اسانه شي چې مشوره درکړم. ټسټ اسانه دی، داسې چې له مېرمنې دې تقریبا څوارلس متره لرې ودرېږه او له هغې سره خبرې وکړه، اواز دې باید دومره اوچت وي لکه د عادي خبرو په وخت. که یې ستا اواز نه اورېده، فاصله شاوخوا نهه متره کړه، که یې بیا هم نه اورېده، درې، څلور متره نور ورنږدې شه او تر هغو پورې فاصله لنډوه چې ستا عادي اواز واوري. له دې ټسټه وروسته زه درته ویلی شم چې څه باید وشي.»

د ده د ناستې د کوټې او پخلنځي واټن تقریبا څوارلس متره و. ماښام چې هغه په پخلنځي کې وه، او د دواړو کوټو تر منځ وروونه پرانیستي وو، ده ټسټ پیل کړ، هغې ته یې په نه ټیټ او نه لوړ غږ، په معمولي انداز وویل: لیزا، څه پخوې؟»
ځواب رانغی.

نو دی پخلنځي ته ورنږدې شو، په نهه متري کې یې ورته وویل: لیزا، څه پخوې؟
ځواب رانغی.

درې، څلور متره نور هم ورلنډ شو او پوښتنه یې وکړه: لیزا، څه پخوې؟
ځواب یې وانهورېد.

اخر یې د پخلنځي په وره کې چې واټن کابو درې متره و، ورته وویل: لېزا څه پخوې؟
بیا هم ځواب رانغی.

او کله چې یې په څنګ کې ودرېد او همدا پوښتنه یې وکړه، هغې ورته وویل: «دا پنځم ځل دی چې درته وایم، بېنډۍ پخوم.»

موږ معمولا فکر کوو چې مشکل د نورو دی، زموږ نه دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د بېوزلو د يوې خدمتګارۍ خاطره

مور تريزا چې خپل عمر يې د بېوزلو او محتاجانو خدمت ته وقف کړی و، ليکي چې ماښام يو سړی راغی، راته وې ويل: «اته کسيزه کورنۍ يوو، نن درېيمه ده، د خوړلو لپاره هېڅ نلرو.»

د اتو کسانو ډوډۍ مې راواخيسته، ورغلم. ماشومان مې تر نظر تېر کړل، غوښې يې ټکېدلې او هډوکي يې راوتلي وو، په څېرو کې يې د غم نخښه نه ليدل کېده، بلکې يوازې د لوږې درد و چې ليده مې. وريجې مې د ماشومانو مور ته کېښودلې. هغې دوې برخې کړې. دا يوه برخه يې له ځان سره واخيسته، بهر ووته. چې راستنه شوه، ما وپوښتله، چېرته لاړې؟ هغې ما ته دا ساده ځواب راکړ: «ګاونډيو ته ورغلم، هغوی هم زموږ غوندې وږي دي.»

دا زما لپاره د تعجب خبره نه وه چې نيمې وريجې يې نورو ته ورکړې، ځکه بېوزلان سخيان وي. زما لپاره د تعجب ځای دا و چې دا پوهېدله چې هغوی هم وږي دي. قاعده ده چې کله خپله کړېږو، دومره له ځان سره بوختېږو چې د نورو لپاره وخت نه مومو.

## اجوره

دا کيسه په دوبۍ کې پېښه شوه. د يوه افغان فابريکه ناڅاپه ودرېده، څه خرابي پکې پيدا شوه. کارګرانو يې چې ټول افغانان وو، پوره پنځه ورځې د فابريکې د بيا چالانولو هڅه وکړه خو ونه توانېدل. د فابريکې مالک مجبور شو، په يوه متخصص پسې لاړ. يوه مصري انجينره يې ورته راوسته. هغې وويل: جوړول يې دوه دقيقې وخت غواړي او زما اجوره لس زره ډالره کېږي.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د فابریکې مالک چاره نلرله، د دومره ډېرې اجورې منلو ته تیار و، خو بیا یې هم ورته وویل: دوه دقیقې کار او لس زره ډالره!

دې ورته وویل: یو پېچ باید تاو شي، هغه دوه دقیقې وخت غواړي او د یوه ډالر کار دی خو پاتې نهه زره، نهه سوه، نهه نوي ډالره د دې اخلم چې هغه پېچ باید در وښیم او په دې سربېره یو بل ټکي ته دې هم شاید پام واوړي.

د فابریکې مالک وویل: څه شي ته؟

دې وویل: د علم و مهارت اهمیت ته.

## سیوري

مقدوني سکندر چې په کورینت کې د یونانی مشرانو او سپین روبو مخې ته راووت، ډېر تود هر کلی یې وشو او له یوه سړي پرته نورو یې پوره درناوی په ځای کړ. دغه عجب سړی دیوجانس نومېده چې فیلسوف و او عقیده یې بودا ته څه ناڅه ورته وه. د هغه په نظر شتمني او ډېر نور وسایل چې موږ فکر کوو، اړتیا ورته لرو، هسې یو سرخوږی دی، د پرېشانی سبب کېږي او له ساده، اسانه ژونده د خوند اخیستلو مخه مو نیسي.

ده د خپلو همدې عقیدو په اساس خپله شتمني په نورو باندې ووېشله او د کورینت بازار د چارسو په خوا کې یې، بې وسایلو، تقریباً لوڅ لپڅ په یوه چاټۍ غونډې شي کې اوسېدل غوره وبلل چې له شتو ازاد وي.

سکندر یې لیدو ته لېوال شو، پسې ورغی، په داسې حال کې چې ځلنده زغره یې په ځان کې وه او د خول شمله یې نرې باد خوځوله، د فیلسوف چاټۍ ته ودرېد، ورته ویې ویل: پر ما ګران یې، راته ووایه، څه ارزو لرې چې در پوره یې کړم؟

دیوجانس، چې تر هغه وخته لمر ورباندې لګېده، ورته وویل: «صاحب، زه یوه ارزو لرم.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

سکندر وپوښت: څه ارزو؟
ده ووېل: «که يو څه دې خوا شئ چې دا لمر راباندې ولګېږي.»
وېل شوي دي چې سکندر يې دومره تر اثر لاندې راغی چې ورته ويې ويل: «که سکندر نه وای، ديوجانس کېدل به مې غوښتل.»

## د محبت زور

د جان هاپکنز پوهنتون استادانو د اجتماعي علومو يو شمېر محصلان د داسې دوه سوه هلکانو د ژوند په اړه څېړنې ته واستول چې عمرونه يې د دولس او شپاړلس کلونو تر منځ وو، په بېوزلو کورنيو کې پيدا شوي وو او له هره اړخه په نامناسب چاپېريال کې لوييدل. د محصلانو دنده دا وه چې د اوسني وضعيت په رڼا کې د دغو بېوزلو هلکانو راتلونکی پنځه ويشت کلن برخليک اټکل کړي.
د محصلانو د څېړنو په اساس اټکل وشو چې شاوخوا يوسلو اتيا تنه به يې په راتلونکې کې د لږ يا ډېر وخت لپاره د جرمونو د تر سره کولو په وجه بنديان شي.
پنځه ويشت کاله وروسته د محصلانو يوه بله ډله واستول شوه چې هغه دوه سوه کسان ومومي او معلومه کړي چې برخليک يې څنګه دی.
په دې موده کې د دوی څو کسه وفات شوي وو. څو کسه يې ونه موندل شول او د پاتې نورو په منځ کې يوازې څلورو کسانو د څه مودې په مخه بند تېر کړی و، نورو ټولو مناسب، عادي ژوند لاره.
د محصلانو په مخ کې اوس دا سوال پروت و چې د دغو کسانو په اړه پخوانی اټکل ولې غلط ثابت شو؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دغو اکثرو کسانو په خپلو خبرو کې د خپلې یوې ښوونکې نوم ډېر یاد کړی و. محصلانو هغه وموندله چې اوس څو اتیا کلنه وه. له هغې پوښتنه وشوه چې کله دغه کسان ستا شاګردان وو، تا ورسره څنګه چلند کړی و؟
دې ته د خپل چلند په اړه خاص څه نه وریادېدل خو یوه خبره یې له خولې ووته، چې د اجتماعي علومو متخصصانو اصلي ځواب پکې وموند. دې وویل: دوی پر ما ګران وو.

## تر وفاته پورې یو کال وخت

استاد نن د انتوني برګیس کیسه وکړه. برګیس چې څلویښت کلن شو، ډاکترانو ورته وویل چې یوازې یو کال نور د ژوند فرصت لري. د ده په مغز کې تومور پیدا شوی و. د مړینې وېرې دومره مړاوی نکړ لکه دې حقیقت چې کورنۍ ته یې داسې میراث نه درلود چې هغوی وربانديې څه موده ارام ژوند وکړي.
برګیس تر دې وخته هېڅکله مسلکي لیکوال نه و خو دغه احساس یې تل کاوه چې د لیکوال کېدو استعداد لري. نو په دې تمه یې چې ګوندې کورنۍ ته یو میراث پرېږدي، قلم او کاغذ راواخیستل، لیکل یې پیل کړل. ډاډه نه و چې د کار شی به ولیکي، خو له لیکلو پرته یې بل شي ته فکر نشو کولای.
د برګیس په قول «د ۱۹۶۰ کال د ژمي اوله میاشت وه او له وړاندوینو سره سم، همدا ژمی او وربسې پسرلی او اوړی مې وخت درلود، په مني کې به یوه ورځ راچپه کېدم او ختمېدم به.»
ده په دې موده کې په پوره شوق او ټوله انرژي کار وکړ. پنځه نیم ناولونه یې ولیکل. د ځینو لویو لیکوالو د ټول کار په اندازه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د هغه کال تر پایه پورې د برګیس سرطان یو څه کنټرول او وروسته بیا ختم شو. دی ډېر کلونه نور هم ژوندی و او اویا کتابونه یې ولیکل خو که د سرطان د اعدام حکم وربانديې نه وای ختلی، شاید ان یوه پاڼه یې نه وای توره کړې.

استاد په اخر کې دا هم وویل: موږ اکثره د انتونی برګیس غوندې په ځان کې یو پټ عظمت لرو او منتظر یوو چې یوه خارجي حادثه یې راښکاره کړي خو ښکار ده چې حادثې ته ونه ګورو.

## د (هو) مخ

توماس جفرسن (چې د نولسمې پېړۍ په سر کې د امریکا ولسمشر و) او ګڼ نور د لارې مله یې له سینه پورې وتل. سېل راغلی و، سیند تر مورګو پورې ډک و. هر څوک د خپل آس په سورلي په ډېر زحمت له اوبو تېرېدل.

د دغو کسانو له ډلې ببل، یو پلي کس، د آسانو خاوندانو ته په ځیر ځیر کتل او د دوی په منځ کې یې په توماس جفرسن غږ وکړ چې: «که ممکنه وي ما هم په خپل آس باندې له اوبو واړوه!»

ولسمشر یې غوښتنه ومنله، دی یې له ځان سره په آس باندې سپور کړ او له اوبو یې واړاوه. د سین په بله غاړه د توماس جفرسن د سفر یوه ملګري دغه سړي ته وویل: تا په دا دومره خلکو کې څنګه په ولسمشر غږ وکړ؟

دی چې تر دې دمه په دې نه پوهېده چې د امریکا ولسمشر تر اوبو اړولی دی، حیران پاتې شو، ویې ویل: زه نور نه پوهېږم چې ولې مې په ولسمشر غږ وکړ، خو د خلکو څېرو ته مې په ځیر کتل، په ځینو مخونو باندې مې (هو) ولوستل، په ځینو (نه)، د ولسمشر په مخ باندې یوغټ (هو) راښکاره شو، ځکه مې په جرات اواز وربانديې وکړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## مړه ډیوه

د چا یوه وړه لور وه، ایکې یوه او ډېره نازولې. نجلۍ بې حده وربانډې ګرانه وه. ده به خپل ټول ژوند بلله. د خدای کړه وو، نجلۍ ناجوړه شوه، داسې ناجوړه چې هېڅ ډاکټر ته یې د علاج چل ورنغی، ټولې هڅې ناکامې شوې او نجلۍ اسماني شوه.

نور نو پلار د دنیا له ژونده لاسونه واخیستل. له هېڅ شي سره یې دلچسپي نه پیدا کېده. یاران، دوستان یې پرېښودل. یوازې به ناست و او عادي ژوند ته د ورستنېدو اراده یې ختمه شوې وه.

په دې حالت کې یې یوه شپه خوب ولید چې جنت ته تللی دی. هلته د بې شمېرو وړو فرشتو جلوس دی. دوی سپین کمیسونه اغوستي او په لاسونو کې یې بلې ډیوې وي. یوازې یوه پکې داسې وه چې ډیوه یې مړه وه. هغې ته ورنژدې شو. که ګوري د ده لور ده. دی ورته وایي: بچې، ولې دې ډیوه بله کړې نه ده؟ هغه ځواب ورکوي: زه چې یې هر ځل بله کړم، ستا اوښکې وربانډې تویې شي، بېرته مړه شي. دغه وخت پلار له خوبه راپاڅېد او په ټول قوت سره یې اراده وکړه چې عادي ژوند به پیلوي.

بېرته یې عادي ژوند ته مخه کړه. روحیه یې راژوندۍ شوه، یاران دوستان یې وپالل او د ژوند چارې یې سنبال کړې. نور نو بې ځایه اوښکو هغه ډیوه نه مړه کوله.

## په یو بل ګران

یوې ښځې چې اوږده ویښته یې لرل، خپل مېړه ته د یوې ږمنځې د اخیستلو وویل. مېړه یې سره ساه وایسته، ویې ویل: کاشکې پیسې راسره وای، د ساعت بند مې دا څو ورځې وشو، شلېدلی دی. دومره پیسې نشته چې بل واخلم.

ښځه چوپ پاتې شوه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

میړه چې یې په کار پسې لاړ، په بازار کې یې ساعت وپلوره، د ښځې د اوږدو وېښتو لپاره یې ږمنځ واخیسته او ماښام چې کور ته راغی، د ښځې اوږده وېښته یې لنډ شوي ولیدل. هغې ورته وویل: ما وېښته خرڅ کړل، په هغو پیسو مې ستا لپاره د ساعت بند راونیو.

د دواړو په مخونو اوښکې راماتې شوې.

یوه هوښیارسپین ږیري چې دا کیسه واورېده، ویې ویل: دوی په یوه حساب نېستمن وو خو د دنیا تر ټولو لویه شتمني ورسره وه، دوی په یو بل ګران وو. هغه څوک چې د خپل ګران، ګران وي، تر هر چا نېکمرغه دی.

## وفا

د دوه اتیا کلنې ښځې مات شوی سر ډاکتر ورپانسمان کړ. د دې سودا وه چې ژر کور ته لاړه شه. ډاکتر ورته وویل: چای به راسره وڅښې، دمه به ونیسې، بیا به لاړه شې. دې وویل: له مېړه سره باید د سهار چای وڅښم.

ډاکتر چې د دوی کورنۍ پېژندله، ورته وویل: په کور کې نور هم شته، هغه بې چایو نه پاتېږي.

دې وویل: خو چې زه ورسره نه یم، ښه خبره نه ده.

ډاکتر وویل: ته که ورسره یې، که نه یې، پروا نه کوي، هغه دې نه پېژني، د هغه حافظه خو متاسفانه ختمه ده.

دې ورته وویل: دی مې نه پېژني، مګر زه خو یې پېژنم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## چې ارزو پر تا زوروره شي

شاګرد به هڅه ډېره کوله خو چې د سیالۍ او امتحان وخت به راغی، نخښنه یې غلطه ویشته.

له مرشده چا پوښتنه وکړه: دی ولې ناکامېږي؟

مرشد وویل: د کامیابۍ ارزو یې ډېره زوروره ده.

## لوی حقیقت

شاګرد وویل: داسې ښکاري چې د عیسایانو په نظر لوی حقیقت له موږ د باندې دی او د بودایانو په نظر زموږ په داخل کې دی.

استاد ورته وویل: داخل او خارج به څنګه سره بېلوې؟ پولې یې کومې دي؟

شاګرد وویل: زما د څرمن دننه زما داخل دی او زما له څرمن بهر خارج دی.

استاد وویل: څرمن خو ستا د جسم پوله ده، ستا د ذهن پوله کومه ده؟

شاګرد وویل: ذهن پوله نه لري.

استاد وویل: نو چېرته دی؟

شاګرد وویل: زما په سر کې.

استاد په ټوکو ورته وویل: نو په دومره وړوکي ځای کې لوی حقیقت څنګه ځایېږي؟

او بیا یې خپل ساعت په لاس کې ونیو، شاګرد ته یې وویل: دا ستا له ذهنه بهر دی، که ستا په ذهن کې دی؟

شاګرد وویل: دا زما له ذهنه بهر دی.

استاد وویل: یعنې چېرته چې زما ساعت دی، هلته لوی حقیقت نشته؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شاګرد غلی شو.
استاد زياته کړه: که غواړې لوی حقيقت ته ورسېږې، د داخل و خارج او د عيسايي او بودايي خبرې بس کړه.

## پښه او لکۍ

ابرهام لينکن يوه ورځ خپل سکرتر ته وويل: که ته لکۍ هم پښه وبولې، يو آس به څو پښې ولري؟
سکرتر وويل: پنځه پښې.
لينکن وويل: نه، څلور پښې، ځکه لکۍ ته پښه ويل، هغه په پښه نه بدلوي.
لينکن د امريکا شپاړلسم ولسمشر و. دی په اخلاقي لحاظ په دې مشهور دی چې په خپل هېواد کې يې غلامي غيرقانوني اعلان کړه او په سياسي لحاظ يې لوی کار د امريکا د شمال او جنوب يووالی و. لينکن د غريب سړي زوی و. پلار يې بزګري او نرکاني کوله. هسې وايي چې په کانګرس کې يوه وکيل ورته وويل چې د موچي زوی يې څو عجبه ده ولسمشر شوې؟ ده ورته وويل: هو، د موچي زوی يم او هغه به هر بوټ دومره په مينه او اخلاص جوړاوه چې ګاکان ورنه تل راضي وو.

## له نيمګړيو حالتونو ورهاخوا

د لرغوني هند يو پاچا چې جاناکا نومېده، د حکمت د لارې لاروی او د حقيقت د موندلو مينه وال و. يوه ورځ چې جاناکا د ګلونو په منځ کې په خپل تخت باندې تکيه کړې وه او نوکرانو ورته پکې واهه، خوبولی شو. خوب يوړ. خوب يې وليد چې د ګاونډي ملک پاچا په جګړه کې ماتې ورکړې ده، اوس اسير دی او شکنجه کېږي. د شکنجې په پيل کې راويښ شو. سترګې يې وغړولې. د ګلونو په منځ کې په تخت باندې ناست و، نوکرانو ورته پکې واهه او چوکيدارانو يې په ماڼۍ پيره

کوله. شپېه نیمه پس پر ده بیا سر وزنګېده، خوب یووړ او بیا یې هماغه خوب ولید. چې راویښ شو، د نور کله غوندې بېغمه، خوندي، په خپله مانۍ کې و.

دی په فکر کې ولاړ: کله چې ویده و، د خوب دنیا ورته بېخي واقعي ښکارېده، اوس چې ویښ دی، د حواسو دنیا هم واقعي ښکاري. په دغو دوو کې کومه یوه په رښتیا واقعي ده؟

له حکیمانو، پوهانو او ټولو هغو کسانو سره، چې ده دغه پوښتنه ورنه وکړه، څه ځواب نه و.

کلونه واوښتل او ځواب یې ونه موند، څو بالاخره یوه ورځ د مانۍ دروازه وټکول شوه، د اشتاواکرا په نوم یو چا د پاچا د لیدلو اجازه وغوښته چې پوښتنې ته یې ځواب ووایي.

اشتاواکرا په لغت کې کوږ وږ ته وایي او د ده څېره هم د ده نوم ته ورته وه، دی له موره دغسې کوږ وږ پیدا شوی و. په اوله کې پاچا ته هسې د ټوکو سړی معلوم شو، ورته ویې ویل: «هغه ځواب چې له حکیمانو سره نه و، له تا سره به په دې قواره له کومه شي؟»

اشتاواکرا ورته وویل: «ان د ماشومتوب له وخته پر ما ټولې لارې بندې وې نو مجبور شوم چې د حکمت لمن ټینګه ونیسم.»

پاچا وویل: نو وایه، خبره دې کوه!

اشتاواکرا وویل: «نه د خوب حالت او نه د ویښې حالت واقعي دی. چې ویښ یې د خوب دنیا نشته، چې ویده یې د حواسو دنیا نشته. نو یوه هم واقعي نه ده.»

پاچا پوښتنه وکړه: «که یوه هم واقعي نه وي، واقعي به څه شی وي؟»

اشتاواکرا وویل: «له دواړو ورهاخوا حالت. ویې ومومئ. هغه واقعي حالت دی.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ریونن

بودايي راهبه ریونن په ۱۷۹۷ کې دنیا ته راغله. دا د جاپان د مشهور توره باز شنګین لمسی وه. خدای ورکړې ښکلا او شاعرانه نبوغ یې تر دې حده وو چې په اولس کلنی کې یې د دربار د یوې آغلې په توګه د ملکې خدمت کاوه. دا ان په دومره کم عمر د نوم او شهرت څښتنه وه.

ګرانه ملکه ناڅاپه مړه شوه او د ریونن د هیلو مانۍ ونړېده. دې چې په دنیا کې د ژوند بې ثباتي د سر په سترګو ولیده، د ذن طریقت لوستلو ته یې پناه یووړه.

خپلوانو یې د طریقت لاره نه ورخوښوله، دا یې اړایستله چې واده وکړي. جوړه په دې راغله چې دا به د درې ماشومانو له زېږولو وروسته د راهبه کېدو اجازه لري.

تر پنځه ویشت کلنی پورې یې درې ماشومان دنیا ته راغلل او شرط یې پوره شو. نور نو مېړه او خپلوان د ریونن د ارزو په مخ کې خنډ نه وو.

دا ایدو ښار ته لاړه او له مرشد تیځوګیدو یې وغوښتل چې په شاګردۍ یې ومني. هغه چې څنګه ور وکتل، (نه) یې ورته وویل، ځکه دا ډېره ښکلې وه. ریونن یوه بل مرشد، هاکوو، ته ورغله. هاکوو هم دا د حسن په وجه ونه منله، ورته ویې ویل، ستا ښکلا بلا بوټوي.

ریونن یو پوره تود شوی اتو راواخیست، په خپل مخ یې کېښود. څو شېبې وروسته یې ښایست د تل په مخه ختم شوی و. هاکوو چې بیا ولیده، د شاګردې په حیث یې ومنله.

ریونن د همدې پېښې په درناوي د کوچنۍ هینداري په شا باندې یو شعر ولیکه:

«د ملکې په خدمت کې چې وم، عود مې سوځول، چې نازکې، پستې جامې مې خوشبویه وي او اوس د یوې بې کوره مېرمن په توګه، خپل مخ سوځوم چې د ذن معبد ته د تلو اجازه ومومم.»

کله چې ریونن له فاني دنیا رخصت اخیست، یو بل شعر یې ولیکه:



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

«دې سترګو شېږ شپېته څله د مني بدلېدونکی منظر ليدلی دی.
ما د سپوږمۍ د رڼايي په اړه کافي خبرې کړې دي. نوره مې مه پوښته. يوازې هغه وخت چې هېڅ باد نه لګېږي، د لمنځو او نښترو اواز ته غوږ شه.»
نوټ: د سپوږمۍ له رڼايي منظور ظاهري حسن دی چې دې د حواسو له دنيا د ورهاخوا حقيقت د ليدلو په تمه، سور اتو ورباندې تېر کړ.

## درد او غم

مرشد وويل: کله چې صدمه وويني، مثلا تپي شې، دا يو درد دی او چې د تپ د بدل اخيستلو فکر در پيدا کېږي يا د يو چا د بد چلند کينه په زړه کې وساتې، دا بيا د درد برخه نه ده، دا له درده ورهاخوا، يو ډېر بدرنګی شی دی چې غم يې بولو.
مرشد زياته کړه: موږ د نورو غشي دومره نه خرابوي لکه خپل منفي فکرونه.

## تونل

په جاپان کې د يوه بدمعاش زوی، زنکي، ايدو ښار ته لاړ، هلته د يوه دولتي مقام د کور چوکيدار شو. ده د کور د څښتن له مېرمن سره تار وغځاوه او چې دا راز معلوم شو، د ځان د بچولو لپاره يې د ښځې مېړه وواژه، له هغې سره وتښتېده.
وروسته بيا دواړه غله شول. ښځه خورا حريصه وه. د ده ورسره ورانه راغله. پرې يې ښوده. دی ډېر لرې، بوزين ولايت ته لاړ. هورې به د ملنګانو غوندې سرګردان او لالهاند ګرځېده.
له خپلې بدې ماضي د راوتلو لپاره يې فيصله وکړه چې نېکي به کوي. ده يوې خطرناکې غرنۍ لارې ته پام شول چې ګڼ کسان د تېرېدو په وخت پکې مړه او ژوبل شوي وو. زنکي هلته د يوه تونل جوړولو ته مټې راونغښتې. زنکي به د ورځې سوال کاوه، د شپې به يې په يوازې ځان غر کنسته. وروسته له ډېرش کلونو کاره يې


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ډېرش فوټو په بره او د شل فوټو په لوړوالي دوه زره دوه سوه اتیا فوټه تونل وکنسته.
د کار ختمېدو او د غره بل اړخ ته د تونل رسېدو ته لا دوه کاله پاتې وو چې د وژل شوي مقام زوی ته په ګوتو ورغی. دغه ځوان رزمي هنرونه زده کړي وو او د پلار د بدل اخیستلو پیاوړې اراده ورسره وه. زنکي ورته وویل: «ما ته یوازې دومره وخت راکړه چې د تونل کار ختم کړم. د کار له ختمېدو سره سم مې ووژنه.»
ځوان ورسره ومنله. میاشتې تېرې شوې او زنکي لا لګیا و. ځوان اوږده انتظار او لاس تر زنه کېناستلو ستړی کړ، د تونل په کار کې ورسره بوخت شو چې هم بوخت وي، هم د انتقام نېټه رانږدې شي. د ګډ کار په موده کې ځوان ته د زنکي پوخ هوډ او د ګناهونو د جبران لپاره د هغه دغه اقدام خوند ورکړ.
تونل بالاخره بشپړ شو. خلکو په اسانه لاره تګ راتګ پیل کړ او زنکي د خپل مقتول زوی ته ودرېد چې «اوس مې سر غوڅولی شې!»
ځوان ورته وویل: «زه د خپل استاد سر نه شم غوڅولی.»

## سبق

په چین کې دولس، دیارلس سوه کاله پخوا د تانګ لړۍ پاچاهي وه. د دوی یو صدراعظم چې ډېر خدمتونه یې کړي وو او په اداري چارو ښه پوهېده، خورا منلی سړی و. ده د شهرت، قدرت او ثروت له لرلو سره سره ځان یو عاجز بودایي ګڼه او معبدونو ته به ورته. صدراعظم د ذن طریقت مرشدانو ته هم زیات درناوی کاوه او په روحاني مسایلو کې یې د هغوی استادي منله.
صدراعظم یوه ورځ د ذن له مرشده پوښتنه وکړه چې: خودپرستي څه ته وایي؟
مرشد ورته وویل: بې ځایه پوښتنه دې وکړه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

صدراعظم د مرشد خبره ښه بې حیثیتي وګڼله، رنګ یې تک سور شو خو څه یې ونه ویل.
مرشد وویل: په دومره وړه نیوکه چې ناکراره شوې، دا د خودپرستي یو واضح مثال دی. امید دی دا سبق به دې نه هېرېږي.

## په پوښتنه پسې پوښتنه

یوه راهب له استاده پوښتنه وکړه: دا غرونه، دریابونه، دا ټوله مځکه له کومه پیدا شوي، له کوم ځایه راغلي دي؟ استاد ورته وویل: دا سوال له کومه شوی، له کوم ځایه راغلی دی؟

## مرسته که نه مرسته؟

پیشو اوبو ته لوېدلې وه. د سین په غاړه ناست بوډا لاس ور اوږد کړ چې راوېې باسي، هغې یې په لاس نوکارې ولګولې. بوډا د وینې شوي لاس په ځای بل لاس ورمخکې کړ، هغه هم د پیشو منګولو ټپي کړ. یوه زلمي، چې هلته نژدې ناست و، په بوډا اواز وکړ: پرې ږده یې، په مرسته نه ارزي.
بوډا زلمي ته څه ونه ویل او د پیشو د راایستلو هڅه یې جاري وساتله. پیشو چې یې را وایستله، زلمي ته یې وویل: هغې که نوکارې لګولې، د خپل فطرت خلاف کار یې نه کاوه، نو ملامته نه وه، خو ما که راایستلې نه وای، د خپل فطرت مخالفت به مې کاوه. د انسان فطرت له انسانه انس و محبت و نېکي غواړي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# لېوه خويه پاچا

پاچا لس پياوړي خدمتګار سپي ساتلي وو چې چا ته به په قهر شو، سپي به يې پسې خوشي کړل چې ټوټې ټوټې يې کړي. لېوه خويه پاچا يوه ورځ خپل وزير ته په قهر شو، امر يې وکړ چې: «سپيو ته يې واچوئ.» وزير ورته وويل: «صاحب. ما لس کاله ستا خدمت کړی دی. ما ته لس ورځې وخت راکړه چې له اولاد سره يې تېرې کړم.»

پاچا يې غوښتنه ومنله.

وزير چې له درباره راووت، د سپيو په ساتونکي پسې ورغی. ورته يې وويل: «زه غواړم لس ورځې به د سپيو خدمت وکړم.» د سپيو ساتونکي تعجب وکړ او خوشاله شو چې وړيا همکار يې موندلی دی. وزير په لسو ورځو کې سپيو ته خوراک ورکړ. د هغوی ځای يې پاک کړ، ويې نازول، لوښي يې ورسره وکړې، ويې وينځل او ټول يې خوشاله وساتل.

په يولسمه ورځ چې پاچا سپي ورته راخوشي کړل، هغوی يې په پښو کې پرېوتل. د هغه بوټونه يې وڅټل، په هغه پورې يې ځان ومواښه او هېڅ صدمه يې ور ونه رسوله. پاچا ورته وويل: «دوی دې ولې لحاظ کوي؟» وزير ځواب ورکړ: «ما ته دوی سره لس ورځې ښه کړې دي نو دوی که سپي هم دي ښه نه هېروي.»

پاچا پوه شو چې د وزير مقصد څه دی. وزير يې په هغه ځل معاف کړ خو د سپيو په ځای يې لس لېوان وموندل.

## پخه خبره

ښاغلی فواد له ډېرو کلونو خدمته وروسته ناڅاپه د کمپنۍ په يوې لوړې چوکۍ مقرر شو. دی د عمومي رييس مرستيال وټاکل شو او د دې ټاکنې په وياړ عمومي رييس د کمپنۍ ټولو عالي رتبه مقاماتو او د دوی ميرمنو ته د مېلمستيا بندوبست


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وکړ. په مېلمستیا کې چې غیررسمي مجلس و، د عمومي رییس مېرمن د ښاغلي فواد له مېرمنې پوښتنه وکړه چې مېړه دې خوشاله ساتي؟ دا پوښتنه په هغه لوی مجلس کې یو څه غیرعادي وه، خو ځواب دومره غیرعادي وو چې د یو څو ثانیو لپاره یې ټول مجلس غلی کړ. د ښاغلي فواد مېرمن وویل: نه، هغه مې خوشاله نه ساتي.

مدیرانو به نور یو بل ته سره کتل چې د شرکت د نوي ټاکل شوي دوهم نمبر مقام په اړه د سترګو په اشارو کې شکونه څرګند کړي، چې د دوهم نمبر مقام یعنې ښاغلي فواد مېرمن زیاته کړه: زما خوشالول زما خپل کار دی، نه د بل چا. هېڅوک د بل د خوشالولو مسوول نه وي.

## بدګوماني

استاد نن د کیشپانو کیسه وکړه. ویل یې، یوه ډله کیشپان د اوړي په ګرمۍ کې د لرې غره لمنې ته لاړل چې مېله وکړي. دوی له کورونو خوندور خواړه راوړي وو خو مالګه یې هېره کړې وه. ټولو وویل چې بې مالګې ډوډۍ خوند نه کوي، یو کس باید کور ته پسې واستوو. په دې باره کې چې څوک به ځي، اوږد بحث وشو. اخر ټولو ځوان کیشپ ته مخ واړاوه چې ځوان یې، تکړه یې، ته به چټک ځې، مالګه به راوړې.

ځوان کیشپ نه منله، ویل یې، ما به په مالګه پسې ولېږئ ، تاسې به رانه ډوډۍ وخورئ، خو ټولو ژمنه وکړه چې ستا تر راتګه به په ډوډۍ څکه هم نه کوو.
ځوان کیشپ مجبور شو، روان شو.
نورو د مېلې ډوډۍ ته لاس ورنه وړ او منتظر پاتې شول. یوه، دوه او ان درې میاشتې تېرې شوې. د غرو په لمنو کې هوا وروو ورو مخ په سړېدو وه خو ځوان کیشپ لا نه و راستون شوی. کیشپان د هغه له راتلو نهیلي شول، د مېلې د ډوډۍ په خوړلو یې


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پیل وکړ. هغوی لا اوله گوله نه وه کړې چې ځوان کیشپ ناڅاپه د نژدې وښو له منځه سر راښکاره کړ، ویې ویل: زه پوهېدم چې تر ما پورې صبر نه کوئ، ځکه خو په مالگه پسې نه ولاړم، دلته لنډ په وښو کې درته پټ شوم، دا دی شک مې ثابت شو.
استاد وویل: موږ اکثره د ځوان کیشپ غوندې د بدگومانۍ په ناروغۍ مبتلا یوو، هم خپل وخت خرابوو، هم د نورو.

## بې شمېره چونگښې

یو چینی بزگر له کلي ښار ته لاړ، د یوه رستورانټ څښتن ته یې وویل: غواړې چې د یو ملیون چونگښو قرارداد درسره وکړم؟
رستورانټ والا وویل: د چونگښو د غوښې مشتریان خو ډېر دي، مگر دومره چونگښې امکان نه لري چې پیدا کړې.
بزگر وویل: زما د کور په خوا کې یو لوی ډنډ دی، دومره چونگښې پکې دي چې حساب یې مستوفي هم نشي کولای. د دوی د نارو په وجه ټوله شپه ویښه تېروم. که دې هر څومره پکار وي، زه یې درته رارسوم.
د رستورانټ مالك وویل: فعلا د اونۍ پنځه سوه دانې راوړه. بیا به ورو ورو اندازه زیاته کړو.
بزگر چې اونۍ وروسته راغی، یوازې دوه دانې ډنگرې چونگښې ورسره وې.
رستورانټ والا ورته وویل: نورې دې څه کړې؟
بزگر وویل: په حساب کې غلط شوی وم، همدا دوه وې، خو باور وکړه دومره نارې یې وهلې لکه یو ملیون چې وي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297098 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد چې دا کیسه وکړه، ویې ویل: موږ چې د چا په کومه خبره خپه شو، نو که هغه خبره د دوو چونګښو په اندازه وي، په ذهن کې یو ملیون چونګښې ورنه جوړې کړو او بیا تمامه شپه خوب نه راځي.

## شبکور

یو سړی چې ښکار ته تللی و، کلي ته په راستنېدو کې ورباندې ناوخته شو، ماښام شو او د ده مشکل دا و چې په تیاره کې یې سترګو سم نه لیدل.

دی چې د کلي په لور چټک را روان و، په لاره کې یوه ځناور حمله ورباندې وکړه. ده سخته مقابله ورسره وکړه او په ډېر زحمت یې ځناور له پښو وغورځاوه. د هغه سر یې له بدنه جدا کړ او په خورجین کې یې واچاوه چې په رڼا کې بیا سم ورته وګوري، ځکه د ده په فکر ډېر غټ سري ځناور یې مات کړی و.

په کلي کې چې یو چا له خورجینه په راوتلي سر سترګې ولګېدې، چیغه یې کړه: مراد خان زمري ښکار کړی دی! زمری!

او مراد خان چې د زمري نوم واورېد، په ځمکه راپرېوت، بېهوشه شو.

سهار ته چې په هوش راغی، کلیوالو د زمري د سر او د بېهوشي ورنه وپوښتل. ده وویل: ما فکر کاوه چې له یوه غټ سپي سره به مې مقابله وي، زه څه پوهېدم چې زمری مې وژلی دی او د هغه سر راسره دی، ځکه بېهوشه شوم.

## نتیجه

د جمعې په سهار یو شتمن سړی د خپل کور په تراس کې پیتاوي ته ناست و، قهوه یې څښله، چې په یوې پاڼې یې نظر ولګېد. پاڼه خوځېده، راخوځېده، لکه یو ژوندی شی چې ترې لاندې شوی وي. ورته ځیر شو. یوه مېږي په اوږو بار کړې وه، کشوله یې. پاڼه چې تر مېږي په څلونو غټه وه، وړل یې هغه ته اسانه نه وو. خو ځله ورنه کېره شوه. لکه له اوږو چې یې لوېدلې وي. کله کله به بېخي ودرېد، ته وا



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لاره ورنه ورکه وي، يا دمه ورته نيسي. يو ځای يې په مخ کې مخکه نوکې ژوره وه، لکه لاس چې لپه کړې، په همدې اندازه، خو د ده لپاره يې کنده وبوله. مېږی ورته وچ ودرېد. شايد فکر يې کاوه چې څه بايد وکړي. وروسته بيا لاس په کار شو. پانه يې داسې تاو راتاو کړه چې د کندې سر ورباندې پټ شو، پخپله د کندې بل سر ته لاړ، له هغې خوا يې ونيوله، ويې څکوله.

شتمن چې کابو يو ساعت د مېږي په ننداره و، د دغه کوچني موجود همت او ځيرکې ته حيرانی يووړ. لکه انسان چې زحمت باسي او خپلو چارو ته لارې چارې سنجوي.

دغه مېږی مېږتون ته تش لاس دننه شو، ځکه د پانې ننويستل ممکن نه وو. موږ هم د خپلو هدفونو لپاره ډېرې سختې په ځان تېروو او د بري په لاره کې ان سربښندونو ته تيار يوو خو په واقعي نتيجې باندې چندان غور نه کوو.

## د تشويش او خپګان دليل

يوې بيزو په ځنګل کې خوشاله ژوند کاوه. چې وږې به وه، خوندورې مېوې به خوړې او چې ستړې به وه، بې غمه خوبونه يې کول. يوه ورځ يې په يوه کور کې د خورا ښايسته منو ډکه کاسه وليده. دې په هر موټ کې يوه، يوه ونيوله او ځنګل ته يې منډې کړې.

منې يې بوی کړې، بوی يې نه و، بيا يې خوله ورباندې ولګوله، غاښونه يې ور خوږ کړل. دا په اصل کې د لرګيو منې وې خو ډېرې ښکلې وې او چې نورو بيزوګانو به په حسرت ورو کتل، دې به په منګولو کې لا ټينګې ونيولې.

بيزو په خپلې نوې شتمنې چې لمر ته ځلېدلې، وياړ کاوه او دومره ورسره خوشاله وه چې په اوله کې يې ان لوږې ته پام نه و. چې په ځنګل کې يې د منو ونه وليده،


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

لوږه وریاده شوه خو زړه یې نه کېده چې په لاس کې نیولې منې په مځکه وغورځوي او ونې ته وخېژي.
وړې بیزو په ځنګل کې ستومانه روانه وه، ورسره شتمني یې په لاسونو کې ورو ورو په یوه درونډ بار بدلېده خو که زحمت هم و، د دې شتمني وه او داسې څه ورسره وو چې نورو نه لرل. بیزو ته د شتمنې بایلل او په تکلیف کې اوسېدل دواړه سخته شول. حیرانه وه چې څه وکړي؟ سرګردانه روانه وه او چې بیا هم د میوو ونې په مخه ورغلې، صبر یې ونشو، لرګینې منې یې په مځکه واچولې، ونې ته وخته.
د دې بیزو ټوکه ډېر څله له موږ سره هم شوې ده. په ژوند کې اکثره وخت داسې بارونه وړو چې پوه نه یوو چې اخر څه ورباندې کوو.

## سیالي

یوه ورځ چې په خپل بایسکل باندې روان وم، مخې ته یو بل بایسکل والا راښکاره شو. هغه به شاید نیم کیلومتر له ما لرې و. په زړه کې راتېره شوه چې راځه ترې مخکې شه. سرعت مې زیات کړ. ورو ورو ورنږدې کېدم او بالاخره ترې تېر شوم. د هغه بیخي راپام نه وو خو ما له ځان سره لوبه ګټلې وه، البته، ښه یې ستړی کړی وم او خولې راباندې ماتې وې. خپه شوم څکه دفتر ته روان وم او ښه خبره نه وه چې د خولو بوی مې څي. د دفتر له رایادولو سره مې پام شول چې د دفتر له کوڅې څو سوه متره وړاندې تللی یم او که بیا هم سرعت ډېر نه کړم او نورې خولې ونه بهوم، د حاضرۍ وخت ته نه رسېږم.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# خوشالي

شنمنه مېرمن د ارواپوهې کتنځي ته ورغله، ډاکترې ته يې ويل: «جايداد شکر ډېر لرو، غريبه نه يم، خاص مشکل مې نشته، خو له ژونده خوند نه اخلم، مړاوې يم، اکثره وخت سوال راپيدا شي چې دا ولې؟ څکه تا ته راغلې يم.»

اروا پوهې ډاکترې ورته وويل: «په دهليز کې به دې يوه ميرمن ليدلې وي چې صفايي کوي، مريم نومېږي، ورشه د هغې د ژوند کيسه واوره.»

مريمې جارو کېښوده، دې ته يې خپله کيسه شروع کړه: «مېړه مې د ملاريا له ناروغۍ وفات شو او يوازينی زوی مې د هغه له وفاته درې مياشتې وروسته موټر وواهه، ووژل شو. دې پېښو مې له ژونده زړه تور کړ، خوب مې ګډوډ شو، اشتها مې ورکه شوه او داسې شوم چې له خلکو سره د عادي خبرو حوصله لا راپاتې نه وه. په دې منځ کې يو مازديګر چې له کاره راتلم، کور ته د نئوتو په وخت يو پشنګوری هم کور ته رادننه شو. خدايزده څنګه په زړه کې راتېر شول چې هغه ته شيدې ورکړم. شيدې مې په لوښي کې ورته واچولې، هغه په مزه مزه وڅښلې او بيا زما پښو ته پرېوت او ما له مياشتو وروسته په لومړي ځل وموسل. دې پېښې يو فکر راپيدا کړ چې که د يوې پيشو د بچي خدمت ما ته موسکا راکولای شي نو که د خلکو خدمت وکړم شايد په رښتيا خوشاله شم.

څو ورځې وروسته چې زما ګاونډۍ ناروغه وه، يخني مې پخه کړه، ور مې وړه. دعاوې يې راته وکړې، خوشاله يې کړم. اوس تل هڅه کوم چې د خپل وس په اندازه يو د خير کار وکړم، يو څوک خوشاله کړم، له دې سره زه هم خوشاله شم، ذهن مې ارام وي. ما خوشالي او نېکمرغي د نورو په خوشالولو کې پيدا کړه.»

شتمنې مېرمن وژړل، ويې ويل: «پوه شوم، پوه شوم، خوشالي بايد په پيسو نه، بلکې په ښو بايد واخلم.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# پاچا او وزیر یې

ډېره زمانه پخوا په هندوستان کې یو سخي او د خلکو د خدمت شوقي پاچا اوسېده چې یو نیم ځل به په وړه خبره ډېر په قهر شو. د ده وزیر بیا خورا صبرناك سړی و او قهر یې نه پېژانده. په پاچا باندې خپل وزیر گران و. دوی سره ملگري ول.

پاچا به کله کله غشي او لیندۍ راواخیستل، ځنگل ته به لاړ چې داړونکي ځناور ښکار کړي او خپل رعیت یې له شره خوندي وساتي. په دغو سفرونو کې به وزیر ورسره خامخا و. یوه ورځ چې پاچا د ښکار په نیت په ځنگل کې په آس باندې سپور و او د بوټو له منځه تېرېده، ناڅاپه منگور مار راپیدا شو، آس وترهېده، پاچا له آسه راولوېد. منگور په گوته باندې ټك ورکړ او د وښو په منځ کې پټ شو.

پاچا پوهېده چې که گوته سمدستي غوڅه نه کړي، زهر یې په بدن کې خپرېږي، زړه ته یې رسېږي او وژني یې. نو توره یې راوایستله، چیچل شوې گوته یې غوڅه کړه. وزیر د پاچا لاس په ټوکر وتاړه، ویې ویل: «په هر حال شکر، په دې کې به هم د خدای حکمت و!» پاچا چې لاس یې درد کاوه او اعصاب یې کمزوري شوي وو، د وزیر خبرې غوسه کړ، په قهر یې ورته وویل: «چوپ شه!» وزیر خپله خبره په بله بڼه تکرار کړه: «د خیر له ځایه خدای خبر دی، ناشکري به نه کوو!» د پاچا غوسه نوره هم زیاته شوه، عسکرو ته یې وویل: «دغه احمق وزیر همدا اوس ونیسئ، زندان ته یې ولېږئ!»

د پاچا لاس که څه هم په پټۍ کې و، خو ښکار ته یې ادامه ورکړه، د ځنگل په منځ کې. بې وزیره او بې عسکرو، وړاندې لاړ. هلته له غلو سره مخ شو او هغو ونیو. د غلو مشر ورته وویل: «تا به د کالي الهې لپاره قرباني کړو، نېکمرغه یې چې د یو پاچا په توگه دې د هغې د رضا لپاره وینې تویېږي!»

د غلو مشر د دې خبرې له کولو وروسته خپلو ملگرو ته امر وکړ چې د پاچا جامې وباسي، غسل ورکړي او نوې جامې ور واغوندي.

د هغه د جامو ایستلو په وخت یوه غله چیغه کړه: «وګورئ، د ده خو ګوته نشته!»

د غلو د مشر تندی تریو شو، ویې ویل: «الهې ته خو د ناقص انسان قرباني نه شو وړاندې کولای، خوشې یې کړئ، یو سالم څوک وموموئ.»

پاچا له ازادېدو وروسته بې څنډه ښار ته روان شو او نېغ زندان ته لاړ، وزیر یې په غېږ کې ونیو، په ماته غاړه یې ورته وویل: «خدای راسره ښه وکړل چې ګوته مې غوڅه شوه او خپله ژوندی پاتې شوم.» پاچا چې وزیر ته ټوله کیسه وکړه، په اخر کې یې وویل: «خو په یوه شي پوه نه شوم چې که په هره پېښه کې د خدای حکمت وي نو ستا په بندي کېدو کې به څه حکمت و؟» وزیر وموسېده، ویې ویل: «که دې زه نه وای بندي کړی، زه خو به له تا سره وم او غلو به د قرباني لپاره انتخابولم.»

پاچا او وزیر دواړو په کټ کټ وخندل او له زندانه په خوشالۍ ووتل.

## تېروتنه

استاد چې څنګه ټولګي ته راغی، تباشیر یې راواخیست، په تخته باندې یې ولیکل:

7=1×9

18=2×9

27=3×9

36=4×9

45=5×9

54=6×9

63=7×9

72=8×9

81=9×9

90=10×9



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد چې شاګردانو ته وکتل، هغوی موسکي، موسکي کېدل. استاد وویل: زه پوهېږم چې تاسي ولې راپوري خاندئ، ځکه ما یوه اشتباه کړې ده. که تاسي نهه ځله سم وچلېږئ، خو یو ځل اشتباه وکړئ، خلک هغو نهو ځلونو ته نه ګوري، دې یوې اشتباه ته ګوري. دا چلند عادلانه نه دی، مګر د ژوند واقعیت دی، هڅه کوئ چې غلطي ونه کړئ.

## اختلاف

د عبدالرحمن خان په زمانه کې د کابل په مراد خاني کې یو سړی و چې خلکو به دعا ځنې اخیسته او شکرانې به یې ورکولې. د ده د بزرګۍ کیسې مشهورې وې. نابینا و خو کله کله به یې د راغلي کس یوه نخښه وویله چې یوازې بینا خلکو ته معلومېدای شوی. مثلا یو ځل یې بوډا کوچي ته چې امسا یې په لاس کې وه او سدری یې اغوستې وه، وویل: د امسا او سدرۍ څښتنه بابا سترې مه شې، دې خوا ته کېنه! د بزرګۍ دغسې نخښې ترې همېشه ظاهرېدلې.

یوه ورځ یو بېباکه زلمی چې په بزرګانو یې عقیده نه لرله، پسې ورغی، چیغې سورې یې جوړې کړې چې زما پلار د همدې سړي په ښېرا مړ شوی دی، اوس یې وژنم! حاضرو کسانو د زلمي د ایسارولو هڅه وکړه خو د زلمي په لاس کې د قصابۍ چاړه وه، تیول ورنه وتښېدل او دغه وخت ناڅاپه د بزرګ سترګې رونې شوې، منډې یې کړې، ځان یې بچ کړ.

له دې پېښې وروسته د هغه سترګې بیا پټې شوې او د ځان د ساتلو لپاره یې یو څوکیدار ونیو. بېباکه ځوان نور یوازې نه و، ګڼو کسانو وویل چې دا سړی نه نابینا دی، نه بزرګ دی، ټګ دی، خو د ګڼو نورو ورباندې عقیده لا پخه شوه. دوی ویل چې د خطر په وخت ورسره غیبي مدد وشو، ړندو سترګو یې دید پیدا کړ.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## سفر

اداري ته نوی رييس ټاکل شوی و. په دفترونو ګرځېده چې خپل مامورين وپېژني. اداري مدير د حاضرۍ د مامور د معرفي په وخت وويل: حسن خان قهر او خپګان نه پېژني، په اداره کې په دې مشهور دی چې اعصاب يې د پولادو دي.

څو مياشتې وروسته رييس، حسن خان ته وويل چې: ستا اعصاب خو په رښتيا د پولادو دي، ته څه چل کوې چې دومره ساړه اعصاب لرې؟

حسن خان ورته وويل: يو وخت په ملي بس کې سپور وم، زما مخې ته ناست سړي يو بل چا ته په نه خبره کنځلې وکړې، هغه هېڅ ورته ونه ويل. کنځل مار په بل تمځي کې کوز شو او غلې پاتې شوي سړي ته يې ځنګلوري وويل: افرين ستا په حوصلې! ده ورته وويل: «د يو څو تمځايونو لار ده، بيا هرڅوک په خپله مخه ځي، څه ته بې حوصلې شو؟»

په هغه وخت کې زه نوی زلمکی وم، دې خبرې راباندې اثر کړ، له هغه وروسته داسې ګڼم چې ژوند هم يو لنډ سفر دی، د څو تمځايونو سفر، او په غوسه نه ارزي.

## د عقيدې بيه

لندن ته له اسيا يو نوی مهاجر راغلی او په يوه جومات کې يې امامت پيل کړی و. امام به د کور او جومات تر منځ په بس کې تګ راتګ کاوه. يوه ورځ چې ماتې پيسې ورسره نه وې او ډرېور ته يې نوټ ورکړ، هغه د ماتولو په وخت شل پيني زيات ورکړل. امام له ځان سره فکر وکړ چې دې خلکو ته شل پيني هېڅ پيسې نه دي، څه ته يې ورکوې، خو کله چې له بسه کوزېده، نظر يې بدل شو، ډريور ته يې وويل: دا شل پيني دې زيات راکړي دي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ډریور وویل: ته خو د همدې محلې د جومات امام یې، کنه؟
ده ورته سر وخوځاوه.
ډریور ورته وویل: زه هم د دې محلې یم، قصدا مې شل پیني زیات درکړل چې امتحان دې کړم، اوس به نو خامخا لمانځه ته درځم.
امام چې له بسه کوز شو، اسمان ته یې وکتل، ویې ویل: توبه خدایه، قریب مې ستا دین په شل پیني پلورلی و.

## سمه لار

مرشد د رومیانو په کرونده کې قدم واهه چې مرید ورته راغی، پوښتنه یې وکړه: تر ټولو سمه لاره کومه ده؟
مرشد یې لاس ته وکتل، ورته ویې ویل: دا ګوتې دې له کومه کړې ده؟
مرید وویل: دا مې د پلار مرحوم ده، هغه چې وفات کېده، ما ته یې راکړه چې یادګار یې راسره وي.
مرشد وویل: را ویې باسه!
هغه راوایستله او مرشد ورنه واخیستله، په کرونده کې یې خطا کړه، بیا یې مرید ته وویل: اوس به څه کوې؟
مرید وویل: اوس به نو له ما بل هر کار پاتې وي ګوتې به پیدا کوم.
مرشد ورته وویل: د خپلې پوښتنې ځواب دې پیدا کړ. تر ټولو سمه لار هغه ده چې په هغه شېبه کې تر نورو ضروري وي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## کارغه او اسمان

کارغه يوه ټوټه غوښه په مښوکه کې نيولې وه، مخ په بره الوت. شل نور کارغان ورپسې وو، حملې يې ورباندې کولې چې غوښه ترې وتروړي.
کارغه بالاخره غوښه پرېښوده چې نور کارغان يې په کراره پرېږدي. هغوی پرېښود او په غوښه پسې روان شول.
کارغه له ځان سره وويل: يوه ټوټه غوښه مې له لاسه ورکړه او ارام اسمان مې لاس ته راوړ.

## خوب

ملا نصرالدين خوب ليد چې د شيطان ږيره يې په لاس کې ده، را کشوي يې او ورته وايي: «دغه درد چې احساسوې تر هغه درد ډېر کم دی چې ستا له لاسه ګمراه شوي بنيادمان يې تېروي.» وروسته يې بيا ږيره دومره په شدت سره راکش کړه چې په يوه چيغه له خوبه راويښ شو او بالاخره پوه شو چې په لاس کې نيولې ږيره يې خپله ږيره ده.

## ترياکي

يو چا د سړک د څراغ رڼا ته څه شی پلټل. د پوليس ورپام شول، پوښتنه يې ورته وکړه: څه دې ورک کړي دي؟
ده ځواب ورکړ: هو، کيلي رانه ورکه ده.
پوليس هم راغی، ورسره ويې پلټله خو پيدا نه شوه، ورته ويې ويل: ډاډه يې چې دلته دې ورکه کړې ده؟
هغه ځواب ورکړ: نه، په پارک کې رانه ورکه شوه.
پوليس ورته وويل: نو دلته يې ولې غواړې؟
هغه وويل: هلته رڼا نه وه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## دوه کوچني موږکان

دوه کوچني موږکان د پېروي په لوښي کې لوېدلي وو. هغه يو ژر تسليم شو، غرق شو او هغه بل تر هغو لاسو پښې ووهلې چې پېروی يې په کوچو بدل کړ او له کاسې راووت.

## په هانوی کې سارايي موږکان

د نولسمي پېړۍ په وروستيو کې چې د اوسني ويتنام مرکز، هانوی، د فرانسويانو تر واک لاندې و، په ښار کې د سارايي غټو موږکانو او مږو شمېر ښخي زيات شو. د استعماري حکومت حاکم چې د ښار د عصري کېدو فکرونه ورسره وو، د مږو د ختمېدو لپاره يو دقيق پروګرام جوړ کړ.
اعلان وشو چې حکومت د هرې مږې د وژلو په بدل کې ښاريانو ته يو څه پيسې ورکوي. څرنګه چې د مږو د ګڼو جسدونو راوړلو روغتيايي خطرونه پيدا کول نو حکومت دا هم وويل چې يوازې د هغوی د لکيو راوړل کافي دي.
لږ وروسته د مږو وژونکي متوجه شول چې که د مږو لکۍ غوڅې کړي او دوی ژوندی پرېږدي، دوی به نور بچي وزېږوي او د ګټې دا سرچينه به يې نه وچېږي.
د فرانسې د استعماري چارواکو پروګرام طبعا ناکام شو او د هانوی د سارايي موږکانو په شمېر کې کمی نه بلکې زياتی راغی.
د تاريخ استاد چې دا کيسه کوله، ويې ويل: حکومتونو ډېر ځله داسې طرحې جوړې کړې دي چې د زور يا پيسو له لګولو سره سره يې نتيجه سرچپه شوې او ستونزه يې زياته کړې ده.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د خوشالۍ ځای

یو شتمن چې د ملک، پټي، پیسو، غلودانو او کوټیو کمی یې نه و، یو لوی کمی احساساوه. له ده خوشالي ورکه وه. یوه دوست په ځنګل کې د دېره ملنګ پته ورکړه چې ګوندې د ورکې شوې خوشالي درک ور ولګوي. شتمن ملنګ ته ورغی، له خپلې ستونزې یې خبر کړ. ملنګ ورته وویل: سبا دا وخت راشه.

شتمن سبا هماغه وخت ورغی، که ګوري ملنګ د خپلې جونګړې مخې ته په وښو کې څه شی پسې غواړي. شتمن ورته وویل: څه شی غواړې؟ هغه ورته وویل: ګوتې مې.

شتمن هم ورسره تر ډېرو پورې ګوتې وپلټله خو پیدا یې نه کړه. په اخر کې یې له ملنګه وپوښتل: چېرته درنه ورکه شوه؟

ملنګ وویل: په جونګړه کې خو هلته تیاره ده، ځکه یې دلته په رڼا کې غواړم.

شتمن ورته وویل: ګوتې دننه ورکه ده او غواړې یې د باندې!

ملنګ وویل: ستا د پروني مشکل ځواب ستا په همدې خبره کې دی. خوشالي په ځان کې دننه غواړه، نه له ځانه د باندې په ثروت کې. ثروت کولای شي چې د خوشالي تر کوره دې په اسانه ورولي خو د کور منځ ته به په خپلو پښو ځې. که ته یو موټر ولرې، تر ما چې پلی یم، کور ته په اسانه رسېږې خو د کوټو منځ ته به خپله ننوځې، موټر دې نشي دننه کولای.

# کب نیونکی

کب نیونکي د ونې سیوري ته ډډه وهلې، د چایو پیاله ورته ایښې وه. دغه وخت یو شتمن تېرېده، ده ته یې پام شول چې لا دوه نیمې بجې دي او ده کار بس کړی دی، ورته ویې ویل: اوس خو لا نیمه ورځ پاتې ده، ولې کبان نه نیسې؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کب نیونکي ورته وویل: زما عادت دی چې څو ساعته کبان نیسم او بیا له سیل و استراحته خوند اخلم.

شتمن ورته وویل: که تر ماښامه کار وکړې، ډېر کبان به ونیسې، ډېرې پیسې به وګټې.

کب نیونکي وویل: زما په دغو لږو هم ګوزاره روانه ده، ډېر کبان او ډېرې پیسې به څه کوم؟

شتمن ځواب ورکړ: بیا به په ډېرو پیسو د کب نیونې نوي وسایل واخلې، جال به دې لوی کړې او لا زیات کبان به ونیسې.

کب نیونکي پوښتنه وکړه: له هغه وروسته به څه کوم؟

چې لا زیات کبان ونیسې، د کب نیونې کوچنۍ بېړۍ اخیستلی او په کبانو پسې د سمندر منځ ته تللی شې.

کب نیونکي پوښتنه وکړه: له هغه وروسته به څه وشي؟

شتمن وویل: نورې بېړۍ به پیدا کړې او اخر به لکه زما غوندې ډېره شتمني ولرې.

کب نیونکي پوښتنه وکړه: له هغه وروسته به څه کوم؟

شتمن وویل: بیا به دې وخت په خپل لاس کې وي، سیل، تفریح، استراحت هر څه ته به وخت لرې.

کب نیونکي وویل: زه اوس هم همداسې کوم، سیل، تفریح او استراحت نه هېروم.

## حوره

د پاچا لور ډېره ښایسته وه، دومره ښایسته چې خلکو یې اصلي نوم هېر کړی و، ټولو حوره بلله. له حورې سره د واده کولو ارزومن بیخي زیات وو مګر داسې څوک لا نه وو پیدا شوي چې دا ورته هو ووایي. حوره خورا نېکه او هوښیاره نجلۍ وه. د پلار ډېر امېدونه ورپورې تړلي وو خو واده نه کولو یې مور او پلار دواړه پرېشان کړي وو.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه ورځ دربار ته یو زلمی راغی چې د ځلېدونکو جواهرو بې حده ښایسته امېل ورسره و. دی د څنګلوري ملك د پاچا زوی و. زلمي ویل ما د حورې د زړه د ګټلو لپاره پوره اووه کاله د دنیا بل سر ته، کوه قاف ته سفر وکړ، په لاره کې مې پیریان ولیدل، دېوان ولیدل، ښاماران ووژل، د هغه غره له پاسه تېر شوم چې بدري جماله پکې لمبېدله او له هغه سینه واوښتم چې فرعون پکې غرق شوی و.
د زلمي د سفر حیرانوونکو کیسو ته ټول دربار غوږ، غوږ و. که له هغه سره دا رنګه بې حده ښکلی امېل، چې جوړېدل یې د انسان له وسه پورته ښکارېدل، نه وای، ډېرو کسانو ته به د هغه د سفر د کیسو منل سخته وو. بله دا چې دربار ته پوره درې کاله پخوا لا دا اوازه رارسېدلې وه چې د څنګلوري ملك د پاچا زوی د حورې د زړه د ګټلو لپاره د دنیا بل سر ته د بې مثاله پسولونو د موندلو سفر پیل کړی دی. د سفر خبر پخوا لا خلکو اورېدلی و او حیرانوونکی امېل ټولو په سترګو لیده، نو کیسې یې زړه ته لوېدلې.
د څنګلوري ملك شهزاده وویل: «د کوه قاف په یوه دره کې چې هلته له شنه اسمان او خاموشو غرونو پرته نور هېڅ نه ښکاري، یوه ونه ولاړه ده او د دې ونې په څانګو باندې د مېوو په ځای غمي او جواهر او پسولونه راځوړند دي. په دې دره کې په اویا زره کاله کې صرف یو ځل یو ژوندی ساری حق لري چې پل کېږدي او د جواهرو د ونې صرف یوې څانګې ته لاس وغځوي. زما چې بخت ملګری و، په تېرو اویا زره کلونو کې اول ژوندی ساری شوم چې د جواهرو ونې ته ورسېدم او دا امېل مې راوړ.»
د سفر د نکل په پای کې ټولو حورې ته وکتل او د ټولو یقین و چې اوس به د هغې له خولې هو واوري، مګر هغې «نه» وویل. په دربار کې موجوده چوپتیا یو په دوه شوه. پاچا درباریانو ته سترګې واړولې چې ګوندې د حورې د نظر د بدلولو لپاره به څوك څه خبره وکړي. وزیر چې د پاچا د زړه په غوښتنه پوه شو، ویې ویل: «د

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پاچا په اجازه، زموږ ګرانې شهزاده ګۍ ته دا ویل غواړم چې تر ټولو غوره دوستي له سیالانو سره دوستي ده. دغه زلمی ستا په څېر د یوه پاچا بچی دی او لکه ته چې په ښایست او هوښیارۍ او ښېګڼې کې مثال نلرې، د ده د سفر خاطرو هم ثابته کړه چې په مینه، وفا او مېړانه کې بې مثاله دی. موږ درې کاله پخوا لا ټول خبر وو چې دی ستا د زړه د خپلولو لپاره په سفر وتلی دی مګر دا باور مو نه و چې د دنیا بل سر ته د تلو جرات به وکړي او دغسې بې ساری سوغات به راوړي. اوس دا دی هر څه په سترګو وینو. ده دا ثابته کړه چې بې جوړې زلمی دی او که یې څوک د سیالۍ وړ وي، هغه ته یې. موږ ستا په هوښیارۍ باور لرو چې هو به ووایې او موږ به ټول خوشاله کړې.»

خو حورې بیا هم «نه» وویل.

پاچا چې ډېر خپه ښکارېده، وویل: «که څوک څه خبره نه لري، زه مجلس ختموم او درنه ځم.»

درباریانو ته د دې خبرې کول سخته شول چې «خبره نه لرو» ووایې. دوی یو بل ته سره وکتل او دغه وخت د دربار د قلا مشر څوکېدار راغی، پاچا ته یې له تعظیمه وروسته وویل چې: «یو سپین ږیری سړی راغلی دی، وایي، پاچا ته د څنګلورې ملك د شهزاده په اړه ډېره مهمه خبره لرم.»

پاچا په دې تمه چې بوډا ګوندې د شهزاده په اړه یوه داسې خبره ولري چې د حورې نظر بدل کړي، سمدستي د هغه د راتلو اجازه وکړه.

بوډا وویل: «اعلیحضرته، زه په یوه لرې پاچاهۍ کې اوسم، کلونه وشول چې ناروغ یم او علاج مې نه کېږي، یو چا راته وویل چې ستاسې په ښار کې یو ډېر تکړه طبیب واوربدل چې ستاسې د څنګلورې ملك شهزاده ستاسې لورغواړي او نن دربار ته د اوسي. دا یوه اونۍ وشوه چې په طبیب پسې دلته راغلی یم، د هغه دوا خورم. نن مې سرو زرو له هار سره تللی دی.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

زه په اصل کې زرګر يم خو د ناجوړۍ له کبله اووه، اته کاله وشول چې په کور پروت يم، کار نه شم کولی. زما درې زامن دي، درې سره زرګران دي، دغه امېل د دوی د لاس کار دی. دوی يوه ورځ، دوې ورځې، څو ورځې نه بلکې څو کاله ورباندې بوخت وو چې د شهزاده په غوښتنه بې مثاله امېل جوړ کړي. د خپلو زامنو او امېل تعريف به نه کوم چې د ځان تعريف ښه کار نه دی خو راغلی دې ته يم چې ستاسې د څنګلوري ملك د شهزاده تعريف وکړم. دی ډېره موده زموږ په ښار کې زما له زامنو سره و او که څه هم شهزاده و خو د زامنو له قوله درته وايم چې تر ده مهربان انسان نه پيدا کېږي، چې په لاره ځي، لاندې ګوري چې کومه حشره، کوم ميږی يې تر پښو لاندې نشي، حشرې څه کوې چې په بوټو او ګلونو لا پل نه ږدي، وايي، دوی هم سا لري. نو زه چې خبر شوم چې دی نن ستاسې په دربار کې دی او ستاسې لورغواړي، راغلم چې حق ووايم او د ده ستاينه وکړم. نور نو زه خپل طبيب ته ځم، ما ته به اجازه راکړئ.»

بوډا ووت. ټولو شهزاده ته وکتل چې په خولو کې لوند خيشت و او له شرمه يې لاندې په غالۍ کې سترګې ټومبلې وې.

پاچا وغوښتل پاڅي او دربار ختم کړي خو دغه وخت حورې لاس اوچت کړ، د څه ويلو اجازه يې وغوښته. پاچا اجازه ورکړه. دې وويل: «زه د څنګلوري ملك له شهزاده سره واده کولو ته تياره يم.»

پلار يې په خندا وويل: «موږ نه پوهېدو چې تا دروغجن سړی پکار دی.»

حورې وويل: «بې عيبه يو خدای دی، هيڅا ټول عمر رښتيا نه دي ويلي خو دا د انسان د انسانيت کمال نه دی چې د خپل جرات په برکت ښاماران ووژني، پړانګان خملوي يا تر کوه قافه لاړ شي، کمال دا دی چې مهربانه زړه ولري. د خوړلو، ماتولو او وژلو چل خو نهنګانو، فيلانو او پړانګانو ته لا ښه ورځي او د دنيا بل سر ته سفر زاڼې، بازان او ان دا عاجزې صحرايي کوترې هم کولای شي، خو ده چې په مېږي پل نه اېښوده او په ګل مهربانه و، دا له انسه راوتلی اصلي انسانيت دی.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د شر دايره

د شرکت رييس چې سهار درېشي واغوستله او کيلي يې را وايستله چې د موټر ور پرانيزي، تر ټاير لاندې پراته کوڅه ډب سپي يې په لينګي خوله ولګوله. رييس ډېر په قهر شو، سپي يې په تيره وويشت. سپی ونه لګېد، منډه يې واخيسته.

دوا او ډاکتر ته ضرورت پېښ نه شو خو د رييس طبيعت خراب و او چې دفتر ته ورسېد، په سهارني مجلس کې يې په ټولو مديرانو زړه سوړ کړ. له جلسې وروسته مديرانو په خپلو مامورينو زړونه ساړه کړل او مامورينو په هغه ورځ پر چپراسي پټکې وکړې.

چپراسي چې په دفتر کې تر لاس لاندې څوک نه لرل، پټه خوله پاتې شو خو چې څنګه کور ته راغی او مېرمن يې ورته وويل، نن ولې ناوخته شوې؟ ده يو دم اور واخيست، چيغه يې کړه: چوپ! زه څه ماشوم يم چې د ناوخته راتلو تحقيق رانه کوې؟ ادب زده کړه، سړيتوب زده کړه، ماشومه خو نه يې، زه پوه شه، کار مې پوه شه چې هر وخت راځم!

ښځه بلې کوټې ته لاړه. هلته يې زوی تلويزيون ته ناست و. په هغه يې زړه تش کړ: «ورشه سبق دې ووايه، درس دې ووايه، ټوله ورځ به تلويزيون ته پروت يې، د خان زويه!» او بيا يې تلويزون ګل کړ.

هلک له قهره کوڅې ته ووت. هلته يو سپی تېرېده. تيره يې راواخيسته، ويې ويشت. هغه په پښه ولګېد. له درده کوړنچېده او منډې يې وهلې. دا هماغه سپی و چې سهار يې رييس ته خوله اچولې وه.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# څلور غونډۍ

د پاچا زوی نه کېده. د خدای وسې یې وکړې خو زوی یې ونه شو. یو چا ورته وویل چې په لوی ځنګل کې یو سپین ږیری ملنګ اوسي، هغه ته ورشه، ګوندې بو څه وکړي.

پاچا ملنګ ته ورغی. ملنګ ورته وویل، ته به یوازې هغه وخت د زوی څښتن شې چې د یوه هلک پلار قانع کړې چې خپل زوی تا ته د قربانۍ لپاره وسپاري. د هغه هلک له قربانۍ کولو وروسته به خدای زوی درکړي.

پاچا جارچیانو ته دنده وسپارله چې کوڅه په کوڅه وګرځي او خلک خبر کړي چې که هر چا خپل زوی د قربانۍ لپاره پاچا ته ورکړ، پاچا د خپلو سرو زرو نیمه خزانه وربخښي.

جارچیانو په ورځو، ورځو چیغې وهلې او د پاچا پیغام یې خلکو ته رساوه. اخر یو پلار حاضر شو چې خپل کوڅه ډب زوی چې هېڅ وخت به کور ته نه راته، پاچا ته وسپاري او په بدل کې د خزانې نیم سره زر تر لاسه کړي.

ملنګ فال ولید چې د قربانۍ لپاره کومه ورځ بختوره ده. چې ورځ معلومه شوه، هلک قربانۍ ته راوستل شو او ملنګ ورته وویل چې د ژوند وروستۍ غوښتنه دې وکړه.

هلک وویل، ما ته یوه بوکه شګې راوړئ.

شګې ورته راوړل شوې. هلک څلور غونډۍ ورنه جوړې کړې، بیا یې دا درې په لغته ووهلې چې ړنګې شي، دا یوې ته مخامخ کېناست، ویې ویل: اوس نو چې هر څه راسره کوئ، زه تیار یم.

پاچا پوښتنه ورنه وکړه: دا درې غونډۍ دې ولې ړنګې کړې؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هلك وويل: دا لومړۍ غونډۍ زما د پلار وه چې زه يې ونه ساتلم. دا دويمه غونډۍ مې د خپلو خپلوانو وه چې زما پلار يې زما له سپارلو منع نه کړ، او دريمه ستا وه چې پاچا يې او د رعيت د امنيت ذمه وار يې خو تا ما ته امن رانه کړ.
پاچا په فکر کې لاړ، بله پوښتنه يې ورنه وکړه: دا څلورمه غونډۍ دې ولې رنګه نه کړه؟
هلك وويل: څلورمه غونډۍ د خدای ده او دا مې يقين دی چې هغه مې ساتي.
پاچا له ځان سره وويل: دغه هلك به هم ووژنم خو دا ضمانت څوك کوي چې خدای به زوی راکوي؟ بل که د زوی څښتن هم شم، خدای يې شايد ژر رانه واخلي، ځکه ناحقه خون خو ازار لري او زه دا بې ګناه هلك ناحقه وژنم. نو، غوره دا ده چې دی په زوی ولې ونيسم. دی هم په خدای پوره باور لري او هم بېعقل نه دی، ډېر امېد شته چې د ده په برکت مې پاچاهي لا لويه او لا پياوړې شي.
څو شېبې وروسته قرباني ته راوستل شوی هلك د پاچا زوی شو.

## سپوږمۍ نه غلا کېږي!

د ذن طريقې مرشد، يوکان، د غره په لمن کې په يوه کوچنۍ جونګړه کې خورا ساده او غريبانه ژوند کاوه. يو ماښام غل ورته راغی، جونګړه يې وپلټله خو څه يې پکې ونه موندل چې د وړلو وي.
يوکان تر مړوند ونيو، ورته ويې ويل: «ځوانه، تر دې ځايه به دې شايد اوږد مزل کړی وي، اوس دې نو تش لاس نه رخصتوم، واخله، دا زما کميس لطفا واخله!» او خپل کميس يې ورته له غاړې راوايست.
غل چې حيران شوی و، په کميس يې غوټه وکړه، په منډه له جونګړې ووت.
يوکان بې کميسه د سپوږمۍ ننداري ته کېناست، له ځان سره يې وويل: کمبخت، کاشکې مې دا ښکلې سپوږمۍ ور ډالۍ کولای شوی!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد د حکایت له اورولو وروسته وویل: واقعي ثروت په مادي شتمنيو کې نه بلکې په باطني سکون او شفقت کې غواړئ. يوکان د غاړې کميس غله ته ورکوي چې د ده له جونګړې بيخي تش لاس ولاړ نه شي. د غله له تلو وروسته يوکان ارمان کوي چې کاشکې يې د سپوږمۍ ښکلا هم هغه ته ورکولای شوی. د ده د خبرې بله معنا دا ده چې مادي شتمني غلا کېدای شي خو باطني ښکلا او سکون د غلا کېدو نه دي.

## وېره

ماشوم به د ماښام له تيارې وروسته هم په کوڅه کې و. مور چې يې د منع کولو بله لاره ونه ليده، ورته ويې ويل: له ماښامه وروسته په کوڅه کې پېريان وي.
هلک ووېرېده، نور تر لمر پرېوتو له مخه کور ته راستنېده. يو ځا يې مور ته وويل چې دا دې ښه کار نه دی کړی، د ماشومتوب خبرې په ذهن باندې ډېر ژور اثر کوي، دی که لوی هم شي، په تياره کې به وېرېږي.
د هلك مور وويل، د هغې وېرې چل يې ما ته راځي.
چې هلك لوی شو او په تياره کې لا وېرېده، مور يې يو تعويذ په غاړه کې ورواچاوه، ورته ويې ويل: دغه دې درسره وي، د پيريانو د پلار زور هم نه درباندې رسېږي. هلك بيا نه وېرېده.

## فطرت نه بدلېږي

د تاريخ استاد نن د انسان د فطرت يوه کيسه وکړه، يوه تاريخي کيسه. ده وويل چې د شپاړلسمې پېړۍ د نابغه نقاش ليواردو داوينچي مشهور انځور، موناليزا، چې د پاريس په لوور موزيم کې ساتل کېږي، د ۱۹۱۱ کال په اګست کې غلا شو. دا د هنر په تاريخ کې ډېره لويه غلا وه. د موناليزا انځور چې د موزيم يوه کارکوونکي پټ کړی و، له غلا کېدو دوه کاله وروسته وموندل شو. په دې دوه کلنه موده کې


https://m.facebook.com/groups/1822812871290698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې څومره خلک په لوور موزیم کې د انځور خالي ځای ته ودرېدل او په ځیر ځیر یې ورته وکتل، د هغو کسانو کابو دوه برابره وو چې د انځور لیدو ته به درېدل.
استاد وویل: یو شی که نه وي، خلک یې لا زیات مینه وال شي. دا د انسان فطرت دی او فطرت نه بدلیږي.

## د ګاونډي دېګ

د جُحا مېلمانه وو، لوی دیګ یې پکار و. ګاونډي یې امانت ورکړ. څو ورځې پس چې یې ګاونډي ته دېګ ورکاوه، د هغه په منځ کې یوه دیګچه وه. ګاونډي ورته وویل: دیګچه درواخله، دا زما نه ده. جُحا ورته وویل: ستاسې دیګ بچی وکړ، ستاسې کېږي.
ګاونډي یې فکر وکړ چې پوره ساده سړی په ګوتو راغلی دی، ولې مفته دیګچه به لغته وهم، دیګ یې سره له بچي خپل کور ته ننویست.
څو اونۍ وروسته د جُحا بیا لوی دیګ پکار شو. دا ځل ګاونډي د کور تر ټولو لوی دیګ په دې تمه ورکړ چې د دغه دېګ به که خدای کول بچی هم غټکی وي.
د جُحا کره د دېګ ډېر وخت تېر شو. ګاونډي له ځان سره وویل چې ګوندې بیا بچی وکړي، صبر ورته پکار دی.
لس، پنځلس ورځې تېرې شوې، میاشت واوښته، خو د دیګ درک ونه لګېد. اخر ګاونډي ورته وویل چې که زحمت نه وي هغه دېګ به راکړې.
جُحا ورته وویل: هغه دې خدای وبخښي، وفات شو.
ګاونډي په قهر وویل: دېګ څنګه مري؟
جُحا ورته وویل: هر شی چې اولاد ترې پیدا کېږي، یوه ورځ یې خامخا مرګ هم په مخ کې وي.

# د پاچاهي ارزومن

په تېرو زمانو کې يو سړی چې يوه سترګه يې نه وه، د سفر ډېر شوقي و. ده په سفر زړه بايللی و. په غرونو به خوت، په سيندونو به پورې وت، په صحراګانو کې به لالهاند و او د هر کلي او ښار ليدل يې ارمان و. يوه ورځ يې له لرې يو کلی وليد، ور تاو شو، چې ور نژدې شو، حيراني واخيست. دلته سړکونه، کورونه، خلک هر څه بل ډول و.

چې د کلي منځ ته ورغی، په کيسه پوه شو. دا د نابيناوو کلی و. دلته نارينه، ښځې، ماشومان ټول نابينا ول او هېڅ يې نه ليدل.

سرګردان سېلاني له ځان سره وويل چې: «راځه دا دې ځای دی، دلته پاتې شه. زما خو لږ تر لږه دا يوه سترګه شته، متل دی، وايي، په ړندو کې يو سترګی پاچا وي. زه به دلته پکې مشر شم.»

نابينا کسان که سترګې نه لري، پوزه، غوږونه اولاسونه يې ډېر حساس وي. دوی د ژوند چارې په خپله بڼه تنظيموي. د دوی د تګ او د دوی د خبرو انداز له نورو بېل وي. يوه ورځ يوه نابينا د بل نابينا امسا پټه کړه. داپېښه طبعا يوازې يو سترګي سړي ليدلای شوی. ده په لوړ اواز وويل: پلاني د پلاني امسا غلا کړه.

کليوالو وويل: ته څه پوه شوې؟ د امسا د وړلو اواز دې له لرې ځايه څنګه واورېد؟

ده ورته وويل: ما اواز نه دی اورېدلی خو سترګې لرم، وينم يې.

د کلي اوسېدونکي د سترګو او ليدلو په مطلب بيخي نه پوهېدل.

پوښتنه يې وکړه: ليدل يعنې څه؟

ده ورته وويل: ليدل، ليدلو ته وايي. تاسې شی نه وينئ، زه يې وينم.

دوی وويل: دا نو څنګه کېدی شي؟ له تا بايد امتحان واخلو چې رښتيا او دروغ دې معلوم شي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دوه ورځې په ټول پسې درې ورځې په ړنده بڼه تېروي. ... دومره لرې چې دوی
دوی یو سترګی تر لاس ونیو، چېرته لرې ځای یې کېناوه. او بیا یې ور ناره کړه: وواپه، مور اوس څه
پوهېدل له هغه ځایه اواز نه شي اورېدلی. او بیا یې ور ناره کړه: وواپه، مور اوس څه

کوو؟

ده ورته وویل: تاسې ناست یاست، خبرې کوئ. دا یو اوس پاڅېږه، دا بل لاس
خوځوي، هغه بل پښه ښوروي.

وروسته بیا نابینایان په یوه شپه کې ودرېدل، ده ته یې ناره کړه: اوس وواپه. ده
وویل: اوس نه راښکارېږئ، نه پوهېږم.

یوه نابینا ورناره کړه: زموږ او تا په فاصله کې خو خاص فرق نه دی راغلی، ولې
نه پوهېږې؟

یو سترګي وویل: ځکه چې تاسې په شپه کې یاست.

نابینا وویل: شپه خو تا ته نوره هم درنژدې ده، اوس مو ولې نه اورې؟

یو سترګي وویل: دلته د اورېدو خبره نه ده، د لیدلو ده.

دوی وویل: ته خامخا څه تکلیف لرې، په حواسو کې دې ګډوډي دی، ډاکتر ته
دې باید ورښکاره کړو.

دوی یو سترګی تر ګرېوان ونیو، د کلي ډاکتر ته یې کش کړ. ډاکتر هم د دوی
غوندې په سترګو معذور و.

ډاکتر خپل لاسونه ورباندې تېرول چې ستونزه یې تشخیص کړي. کله چې یې ګوتې
د هغه پر مخ تېرولې، ویې ویل: «د اختلال ځای مې پیدا کړ.»

د ډاکتر مطلب د هغه پرانیستې سترګه وه چې لیدل یې ورباندې. ډاکتر وویل:
«مشکل همدلته دی، ځکه یې حواس ګډوډ دي او ګډې وډې وایي، همدا اوس به
یې چاره وکړم.»

سرګردانه سپلاني چې د ړندو په کلي کې د پاچاهي ارزو ورسره وه، په ډېر زحمت د
هغوی له کلي وتښتېد او سترګه یې خوندي پاتې شوه.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# زېړ غوايي

په يوې لويې ورشو کې د غوايانو ګورم اوسېدله او څرېدله. دلته واښه پرېمانه وو او غوبي وړي نه پاتېدل مګر د ورشو د ځنګ له ونو به کابو هره ورځ زمري راوتل چې په دوی بريدونه وکړي.غوايي به د ځان د ساتلو لپاره شا په شا ودرېدل، داسې چې که به زمري له هرې خوا رامخکې شول، غوايانو به د ښکرونو په مټ په شا وتمبول. که څه هم يو نيم ځل به يو نيم غوايي له زمريانو سره په مقابله کې ټپي شو خو د سر صدمه ورته نه رسېده او لاس يې بر و.

مګر زمري خوشاله نه وو، دوی چې غوايي نه شواى خوړلی، د موږکانو او سويانو په څېر کوچنيو ژويو ښکارولو ته مجبور شوي وو او په هغو يې ګېډې نه مړېدلې. زمري ورځ په ورځ ډنګر شول.

يوه ورځ چې زمري د ونو سيوري ته سره راغونډ وو، دې نتيجې ته ورسېدل چې دا سيمه بيخي پرېږدي، بلې خوا ته ولېږدي خو په يوه پښه ګوډ زمری چې تر ټولو کمزوری او تر ټولو چلباز و، د سيمې پرېښودل ضرور ونه بلل. ده وويل، که ما ته فرصت راکړئ، زه به خپل کوښښ وکړم، ګوندې بلې سيمې ته د تلو اړتيا پيښه نه شي.

زمريو ورخوښه کړه او دی د دوو نورو زمريو په ملګرتيا غوايانو ته ورغی. پنځه پياوړي غوبي د برګ غوايي په مشرۍ چې د ټولې ګورم مشر هم و، زمريو ته مخامخ ودرېدل، ويې ويل: څه ته راغلي ياست؟

ګوډ زمري وويل: محترمو غوايانو، موږ جنګ او دښمنۍ ته نه يوو راغلي، بلکې سولې ته راغلي يوو. موږ سره ګاونډيان يوو او دا د شرم خبره ده چې د يو بل سر ته سره ناست يوو. زه او د ځنګل نور ټول زمري دا منو چې له موږ په ماضي کې خطاوې شوې دي، د ځينو غوايانو په بدن به اوس هم زموږ د غاښونو او منګولو د



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ټپونو نخښې پاتې وي، له دې حقیقته انکار نه شو کولای، مګر تر کله پورې دښمني؟ موږ زمري اصلا سوله پال مخلوق یوو او زموږ او تاسې تر منځ دا دومره مشکلات هم چې پیدا شوي دي، یوازینی وجه یې زیږ غوایی دی. ده له موږ سره ټول عمر بد کړي دي او زموږ له دښمنانو سره یې رابطه ساتلې ده. که دی په منځ کې نه وي، زموږ په منځ کې ان د یوې ستنې قدر اختلاف نشته. د ده خو رنګ هم له تاسې ټولو بېل دی، دا یاد لرئ چې ټول عمر به در خپل نشي. زموږ وړاندیز دا دی چې زموږ او تاسې تر منځ د دایمي سولې د ټینګښت لپاره زیږ غوایی له ګورمه وباسئ، موږ ته یې راوسپارئ. که مو دا کار وکړ ټول عمر به هم تاسې، هم موږ ارام یوو. باور وکړئ چې کله د زمریو سترګې په ده باندې ولګېږي، بیا په ځانونو نه پوهېږي، سوله، ګاونډیتوب هر څه یې هېر شي، حملې پیل کړي. نو عذر درته کوو، لمن درته غوړوو، داسې مه کوئ، دا زموږ دښمن راوسپارئ!

برګی خنډې ته شو چې د زمریو د وړاندیز په اړه د ګورم له نورو مشرانو سره مشوره وکړي. یوازې خالدارغوایي د دې وړاندیز مخالفت وکړ، نورو ټولو وویل چې که د یوه غوایي په قربانۍ باندې سوله راځي، دا خو بده خبره نه ده. د خالدار غوایي د (مه کوئ، مه کوئ) چیغې چا وانه ورېدلې، زیږ کمبخت یې زمریو ته وسپاره او هغوی پر زیږ غوایي سمدستي حمله وکړه. که څه هم دوه، درې زمري یې په ښکر ووهل، په شا یې وتمبول خو هغوی ډېر وو او دی یې ژر له پښو وغورځاوه.

د ګورم ټول غوایي د زیږ غوایي په وژل کېدلو خپه وو مګر سوله لا ضرور وه او لکه ترخه دوا چې څوک خوري، د هغه وژل کېدل یې زغمل.

له دې پېښې وروسته ډېرې ورځې په ګورم باندې حمله ونه شوه. غوییي په لوړې ځل بې وېرې په ورښو کې څرېدل. خو زمریو به، چې اوس د غوایي د غوښې خوند لیدلی و، څومره صبر لا کاوه؟ دوی ګوډ زمري ته وویل: موږ وږدي شوي یوو!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګوډ له څو نورو زمريو سره يو ځل بيا د برګ غوايي ملاقات ته ورغی او خبرې يې په سلام پيل کړې. ګوډ زمري ورته وويل: ګورئ، اوس خو به مو يقين پيدا شوی وي چې موږ ضرري مخلوق نه يوو. واقعا چې ډېر ښه کار مو وکړ چې دا بدې و بدګوماني مو ختمه کړه. هم تاسې اوس په سوله کې د اطمينان ژوند لرئ، هم موږ. د دوستي د دوام لپاره لازمه ده چې که يو نيم مشکل پيدا کيږي، هغه بايد د خبرو له لارې حل شي. موږ فعلاً يو مشکل لرو چې اميد دی په حل کولو کې يې مرسته وکړئ.

برګي پوښتنه وکړه: څه مشکل؟

ګوډ زمري وويل: ستاسې هغه د اوږدې لکۍ والا غوايي چې دی، هغه چې لکۍ ډېره خوځوي، د زمريو طبيعت ورته ډېر خرابيږي. موږ کوښښ کوو چې زمري حمله ونه کړي خو د هغه لکۍ کاشکې ستاسې په شان وای، کاشکې معمولي لکۍ وای. موږ واقعا د هغه له درکه په اندېښنه کې يوو، هسې نه چې سبا زمري بې حوصلې شي او تاوان وکړئ. نو د مشکل د حل کولو لپاره غواړو هغه موږ ته په ګوتو راکړئ چې سوله او دوستي همداسې پسې اوږده شي.

برګي يو ځل بيا د ګورم د مشرانو مشوره واخيسته. دا ځل يوازې پخپله د اوږدې لکۍ والا مخالفت وکړ، نورو ټولو وويل: «د سولې د ټينګښدو لپاره به يې ور وسپارو.» دا ځل مشورې ډېر وخت ونه غوښت. د اوږدې لکۍ والا يې ژر له ګورمه وايست او زمريو ته يې په ګوتو ورکړ. د اوږدې لکۍ والا له زمريو سره تر ډېرو پورې مقابله وکړه مګر چاره يې نه وه، اخر تسليم شو.

د پلمو دا لړۍ په ځلونو تکرار شوه. زمري ورځ په ورځ چاغېدل او غوايي خوارېدل. نور نو بحث او دليل او حتا پټکې ته ضرورت نه و. زمريو به صرف دومره وويل چې پلانی غوايي راکړئ او نورو به وروسپاره. په اخر کې د برګي په شمول صرف څو ګوته په شمار غوايي ژوندي پاتې وو. يوه ورځ يوه ژوندي پاتې



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شوي غويي له برګي پوښتنه وکړه: دا په موږ څه وشول؟ د زمريو په مقابل کې ولې مات شو؟ د چا له لاسه مات شو؟
برګي چې د اوښکو څاڅکي يې په سترګو کې بريښېدل، وويل: موږ هغه وخت هر څه بايلودل چې د زېړ غويي ورکولو ته تيار شو.

## مزل او منزل

استاد چې نن د مقدوني سکندر درس راکاوه، کتاب يې بند کړ، ويې ويل: د سکندر په اړه ډېرې افسانې هم ويل شوې دي چې په ځينو کې يې د واقعي تاريخ په شان ژوره معنا پيدا کولای شو.
هسې وايي چې مقدوني سکندر په ډېرش کلنۍ کې يو چا په ګوښه ځای کې په ژړا وليد. هغه ورته د ژړا د وجې پوښتنه وکړه. سکندر وويل: «په دنيا کې نور د نيولو لپاره ځای راته پاتې نه دی، ځکه ژاړم.»
د سکندر افسانه مو پوهوي چې د ژوند معنا و ښکلا په منزل کې نه بلکې په مزل کې ده.

## دا يو زه ولې؟

يو څوک چې له درده په تکليف و، هره ورځ به يې اسمان ته کتل، ويل به يې: خدايه ولې دې په درد مبتلا کړی يم؟ نور خلک خوشاله، اسوده ژوند کوي او زه کړېږم، ولې؟
يوه ورځ چې ډېر نهيلی و، ويې ويل: خدايه کاشکې زما درد د يو بل چا له درد سره بدل کړې، د بل هر چا درد مې منلی دی خو چې له دا خپل مصيبته وژغورل شم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په هغه شپه دغه سړي يوعجيب خوب وليد. خوب ويني چې خدای پاك ټولو بنيادمانو ته وايي چې خپل دردونه راوړئ، په معبد کې يې کېږدئ او په بدل کې يې د نورو دردونه يوسئ.

د دې خبرې له اورېدو وروسته دی سمدستي خپل درد په کڅوړه کې اچوي، معبد ته روانېږي. نور ټول بنيادمان له خپلو دردونو سره په منډه د معبد په لور درومي، څکه دوی هر يوه يو وخت ويلي وي چې درد يې د زغملو نه دی، کاشکې د بل چا له درد سره بدل شي.

د، د معبد په لاره کې ټول بنيادمان خوشال وليدل. د هر يوه تمه وه چې په معبد کې به يو اسانه درد انتخاب کړي.

دی چې کله معبد ته ورسېد او د نورو د درد کڅوړې يې وليدې، بېرته يې په خپله کڅوړه غوټه کړه، په منډه کور ته روان شو. نورو بنيادمانو هم بېرته خپلې کڅوړې ورسره واخيستې او خپلو کورونو ته خوشاله روان شول.

داسې څکه وشول چې تر اوسه دوی د نورو له دردونو خبر نه وو، ګومان يې کاوه چې د نورو دردونه به اسان وي. بل علت دا و چې له خپل درد سره انسان بلد او عادت شي او ورو ورو ورته د زغملو شي.

سهار چې له خوبه راوينس شو، توبه يې وايسته، ويې ويل: خدايه په خپل قسمت راضي يم، ناشکري نه کوم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د لوی حقیقت احساسول

راهب په سمڅه کې مراقبه کوله. دغه شېبه يو موږک راغی، د هغه د چپلکو ژوول يې پيل کړل. راهب سترګې پرانيستې، په قهر يې ورته وويل: ولې مې د دعا په وخت کې ذهن پرېشانوې؟

موږک وويل: وږی يم.

راهب وويل: ورک شه، احمقه! زه د لوی حقیقت د احساسولو په لټه کې يم، ته د لوږې غم اخيستی يې!

موږک ورته وويل: ته چې ما نه شې احساسولی، لوی حقیقت به څنګه احساس کړای شې؟

## د خپل ذهن منونکې

يوې ښځې په بازار کې يو سړی وليد، ويې دراوه، ورته ويې ويل: هينري، خوشاله شوم چې وروسته له ډېر وخته دې وينم! څومره بدل شوی يې! دنګ وې خو اوس ټيټ ښکارې، چاغ وې، ډنګر شوی يې، سپين وې، تور شوی يې، په پنځه کاله کې دومره تغيير؟ عجبه ده!

هغه سړی ورته وويل: زه هينري نه يم، جان يم!

ښځې وويل: دا يې لا بله، نوم دې هم تغيير شوی!

## د ګيدړې نصيحت

ګيدړې خپلو بچو ته نصيحت کاوه چې د هر چا باغ ته ورشئ، انګور يې وخورئ، خو د مفتي په باغ به کار نه لرئ. بچيو يې ورته وويل: ولې، انګور يې زهرجن دي که څه بل چل دی؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ګیدړې ورته وویل: نه، انګور یې د نورو باغونو غوندې دي خو که غلا ورنه وکړئ، نو بیا دا خطر شته چې فتوا ورکړي چې د ګیدړې غوښه حلاله ده او له دې فتوا سره به مو بېخي نسل ختم شي.

## تیرې او د تیرو کمان

مارکوپولو یو پُل تیره په تیره ورته توضیح کوي.

قوبلای خان پوښتنه کوي: هغه کومه تیره ده چې پُل یې تکیه کړی دی؟

مارکوپولو ورته وایي: پُل د دغې یا هغې تیرې په ذریعه نه بلکې د تیرو د کمان په ذریعه تکیه شوی دی.

قوبلای خان څه شیبه غلی پاتېږي او بیا وایي: نو ما ته د تېرو خبرې ولې کوې؟ یوازې کمان دی چې راته اهمیت لري.

مارکو پولو ورته وایي: خو چې تیرې نه وي، کمان هم نشته.

## هل من مزید

د امریکا لویې وچې ته د لویدیځوالو تر ورتلو له مخه هلته په پېړیو، پېړیو د مایا په نوم یو تمدن د هنر، معماري، اساطیرو او ریاضیانو یوه بالکل بېله دنیا جوړه کړې وه. د دغه تمدن په اړه ګڼ کتابونه تالیف او ډېر فلمونه جوړ شوي دي. اپوکالیپتو د مایا خلکو او تمدن په اړه یو خورا اثرناك فیلم دی چې په ۲۰۰۶ کال کې ننداړې ته وړاندې شو. په دې فلم کې یوځای یو سړی وینو چې له نورو بېل، په خپل غم کې ډوب ناست دی.

مختلف ژوي ده ته راځي، ورته وایي: «پر تا باندې مو غم پیرزو نه دی، ته که هر څه غواړې موږ تیار یوو چې تا ته یې درکړو.»

سړی وایي: «غواړم تېز نظر ولرم.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کجير وايي: «ته به زما غوندې تېز نظر ولرې.»
سړی وايي: «غواړم پياوړی واوسم.»
پړانګ وايي: «ته به زما غوندې پياوړی واوسې.»
سړی وايي: «د مخکې په رازونو د پوهېدو ارزومن يم.»
مار وايي: «دا به زه در وښيم.»
او په دې ډول ټول ژوي ډالۍ ورکوي. سړی د ډاليو له اخيستلو وروسته، په خپله مخه ځي.
وروسته بيا کونګ نورو ژويو ته وويل: «اوس نو انسان ډېر څه کولای شي. په ډېر څه پوهېږي.»
غرڅه وويل: «هغه څه چې يې پکار و، هغه يې تر لاسه کړل، نور به غمجن نه وي.»
خو کونګ د غرڅه خبره ونه منله، ويې ويل: «زه د انسان په روح کې يوه تشه وينم، د لوږې غوندې بې پايه تشه چې ډکېدل يې نشته. دا هماغه شی دی چې دی به غمجن وساتي اوغوښتنې به يې پای ونه لري. دی به تر هغو پورې (دا هم راکړه) او (دا هم راکړه) وايي چې تر څو دا خاورينه نړۍ ورته ووايي: «زه نوره ختمه يم، د ورکولو راسره څه نه دي پاتې.»

## ناشکره انسان

يوه لوی شتمن ته ناڅاپه روحي ګړاويتوب پيدا شو، زړه به يې تنګ و. ډېرو طبيبانو او حکيمانو ته ورغی خو ذهني سکون يې ورستون نه کړ. بالاخره يوه ورځ يوه سړي چې خلکو کم عقل باله او چا د هېڅ شي مشوره نه ورسره کوله، په لويه لاره کې ودراوه، ورته ويې ويل: «زما يو يار دی، هغه ته ورشه، که خدای کول، ستا د مرض علاج به وکړي.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

شتمن غوښتل ورته ووایي چې په لارو کې یو څوک درول او په خپل سر مشورې ورکول، د هوښیارو کار نه دی خو خپله خبره یې بدله کړه، ورته ویې ویل: ستا یار څوک دی؟ ده ورته وویل: ملا نصرالدین.

شتمن یې پته ځنې واخیسته او په سبا باندې د خپلو ټولو جواهرو له ډکې کڅوړې سره د آس په سورلۍ د هغه په خوا روان شو. شتمن به خپله خزانه همېشه له ځان سره ګرځوله.

شتمن د آس له درې ساعته مزله وروسته د ملا نصرالدین کلي ته ورسېد او ملا یې د یوې ونې لاندې ولید. شتمن له آسه کوز شو، د خپل مشکل له بیانولو وروسته یې د جواهرو کڅوړه وروښوده، ورته ویې ویل: «که دې زما علاج وکړ، د همدې کڅوړې یو قیمتي غمی درکوم.» ملا په کڅوړه غوټه وکړه، منډه یې واخیسته. شتمن چې چاغ و او په کلونو یې منډې نه وې کړې، په ملا پسې ډېر ستړی شو خو ملا د کلي په تنګو کوڅو کې ورنه ورک شو.

اخرمجبور بېرته د هغه ونې خوا ته لاړ چې هلته یې آس درولی او ملا نصرالدین په اول ځل لیدلی و.

هلته یې ملا ولید چې د ده په آس یې پښه اړولې او کڅوړه یې ټینګه نیولې ده. شتمن که څه هم بې حده ستړی و خو ورمنډه یې کړه. ملا اواز ورباندې وکړ: «ورو راځه، نه تښتم.» شتمن چې ور ورسېد، ملا له آسه راکوز شو او د جواهرو ډکه کڅوړه یې بېرته ورکړه. شتمن کڅوړه په ټېټر پورې وموښله، ویې ویل: «لعنت دې په ما وي چې د یوه کم عقل خبره مې منله او د هغه په خوله تا ته راتلم. زه درته د علاج په تمه راغلم خو تا راسره مسخرې شروع کړې.»

ملا نصرالدین وویل: «زه مسخرې نه کوم، زه علاج کوم، دا اوس راته رښتیا ووایه چې ذهن دې یو څه ارام نه شو.»

شتمن وویل: «یو څه خو څکه ارام شوم چې کڅوړه مې ګوتو ته راغله.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ملا نصرالدين وويل: «هېڅوک هم د شکر له کولو پرته نه خوشالېږي او شکر کولو ته د هغه چا پام کېږي چې د خدای ورکړيو نعمتونو شتوالي او نشتوالي سره پرتله کړي.»

## د عبدالله خبره

يوه عارف د ژوند په وروستيو ساعتونو کې هم خندا هېره نکړه او تندی يې ترينګلی نه شو. يوه مريد يې ورته وويل:هېڅ وخت مو غمجن او خوابدی ونه ليدې، د دومره خوشالي علت څه دی؟

عارف وويل: کابو شپېته کاله پخوا مې، چې اوولس کلن زلمی وم، يوه ورځ مازديګرعبدالله وليد چې د ونې لاندې يوازې ناست دی، له ځان سره خاندي. عبدالله به هغه وخت د اويا، دوه اويا کلونو د عمر سپين ږيری و. ما تعجب وکړ. ورغلم، ورته ومې ويل: کومه ټوکه درياديږي چې ورته خاندې؟
ده وويل: زه هم چې ستا همځولی وم، د خپګان شېبې مې ډېرې او د خندا کمې وې. يو سهار چې له خوبه راويښ شوم، ناڅاپه الهامي فکر را پيدا شو چې ژوند يې رابدل کړ. په هغه شېبه کې په زړه کې راتېره شوه: «عبدالله، دا ورځ ستا د ژوند ورځ ده، انتخاب پکې ستا دی، په غم يې تېروې که په خندا؟» عبدالله زياته کړه چې له هغې ورځې وروسته مې هر سهار له ځانه همدا پوښتنه کړې او پخپله مې ځان ته ځواب ورکړی دی چې: «زما ژونده، که دې نور ځورووي هم، زه دې نه ځوروم، په خندا دې تېروم.»

## د مفتو مشورو شوقیان

یو چا چې نوی دوکان پرانیستی و، لوحه یې ورته جوړه کړه. په لوحه لیکلي وو: دلته تازه کبان خرڅېږي.

یو دوست یې راغی، ورته ویې ویل: د (دلته) کلمې ته څه اړتیا ده؟ طبعا کبان دلته ستا په دوکان کې خرڅېږي.

کب پلورونکي په لوحه کې د (دلته) کلمه کمه کړه.

څه موده پس یې یو بل دوست ورته وویل چې د (تازه) کلمې ته هېڅ اړتیا نشته، ځکه وراسته کبان خو هېڅوک نه خرڅوي.

کب پلورونکي د (تازه) کلمه هم لرې کړه.

یو بل دوست یې وړاندیز وکړ چې د(خرڅېږي) کلمې ته ځکه ضرورت نشته چې په دوکان کې خو هېڅوک مفته شی چا ته نه ورکوي، طبعا خرڅوي به یې.

کب پلورونکي په لوحه کې یوازې د (کبان) کلمه پرېښوده. خو په هغې باندې یو بل دوست نیوکه وکړه، ویې ویل: سل متره لرې لا د کبانو بوی ځي، هر څوک سترګې او پوزه لري، د (کبان) کلمه لرې کړه.

کب پلورونکي د دغه دوست نصیحت هم ومانه.

وروسته بیا یو بل دوست د دوکان په سر باندې د تشې لوحې شتون بې ځایه وباله، په کب پلورونکي یې لوحه ښکته کړه.

او بالاخره شپږم نصیحت کوونکی هم راپیدا شو چې ویې ویل: دوکان ته یوه لوحه ضرور ده چېورباندې لیکل شوي وي: د تازه کبانو د خرڅولو دوکان


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## يوازينۍ بايللې دعوه

د فوټبال يو مشهور لوبغاړی د خپلې مېرمن په قتل تورن شو. د مقتولې مړی ورک و. لوبغاړي يو خورا لوی وکيل چې هېڅوخت يې دعوه نه وه بايللې، په ډېرو پيسو استخدام کړ. د محاکمې په ورځ وکيل چې د تورن د دفاع لپاره يې ټوله هڅه کوله، وويل: محترمو، زه پوره باور لرم چې زما موکل بې ګناه دی. تاسې به زما په خبره ډېر ژر باور وکړئ. ولې؟ د تورن مېرمن به چې په ظاهره وژل شوې ده، همدا اوس چې زه تر لسو پورې حساب کوم، د همدې کوټې په دروازه راننوزي! وګورئ! يو، دوه، درې، څلور، پنځه، شپږ، اووه، اته، نهه، لس د جيوري هيات د ټولو غړيو سترګې په دروازه کې وې خو څوك رانغلل. وکيل چې په خپل کار کې بې سارې مهارت درلود، وويل: تاسې ټولو دروازې ته کتل، مانا دا چې د هغې په وژل کېدو مو پوره باور نشته، نو په خپلو فيصلو کې لطفا بېړه مه کوئ.

خو جيوري پلاوي فيصله وکړه چې تورن ګناهګار دی.

د جلسې په پای کې چې ټول راوتل، وکيل د جيوري پلاوي مشرې ته وويل: ما چې تر لسو پورې حساب کاوه، تا هم د نورو غوندې دروازې ته کتل مګر فيصله دې بيا بل ډول وه.

هغې ورته وويل: سمه ده چې ما وره ته کتل، خو ستا موکل وره ته نه کتل.

## د سرکار کچرې

يو ماخوستن ملا نصرالدين او مېرمن يې سره ناست وو، له يوې خوا بلې خوا غږېدل او په دې منځ کې يې مېرمن ورته وويل: دغه اندېښنه تل راسره وي چې په بله دنيا کې به څه راپېښېږي؟ ته څه معلومات لرې؟

ملا وويل، دا خو اسانه ده، دا اوس، اوس به لاړ شم، حال به درته راوړم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مېرمن يې خوشاله شوه.

ملا هدېرې ته ځان ورساوه او د سړک د غاړې په يوه زاړه، ناست قبر کې وغځېد چې د بلې دنيا معلومات وکړي. دوه، درې ساعته تېر شو، هېڅ يې نه وليدل او نه واورېدل. اخر پسې خوب يووړ. يو وخت د سحر په خړه وږه کې د جرس په اواز راويښ شو چې وار په وار ورنژدې کېده. ملا وارخطا شو، ګومان يې وکړ چې له بلې دنيا پسې څوک راغلل، ځان يې سره راټول کړ، چپنه يې په سر کش کړه خو وېره يې کمه نه شوه. اواز بېخي رانژدې شو. ملا له وارخطايي ناڅاپه منډه واخيسته او په کچرو چې په کاروان کې رواني وې، ورغی. کچرې وتورېدې، بارونه يې ولوېدل. دغه کاروان سرکاري وو او کاروانيانو ملا ونيو، ډېر بد يې وواهه.

ملا ځان کور ته ورساوه، مېرمن يې ورنه، چې تازه راويښه شوې وه، پوښتنه وکړه: د بلې دنيا معلومات دې وکړل؟ خيريت و؟ ملا ورته وويل: خير خيريت و، بس يو د سرکار کچرې به نه توروې، نور هېڅ مشکل نشته.

## خام کار

يوه بوډا کب نيونکی چې په خپل کار بوخت و، يوه ځوان کب نيونکي ته پام شول چې په خپله وړه بېړۍ کې وارخطا ښکاري او د ساحل په لور ډېر چټک پارو وهي. بوډا ورته وويل: «ولې دې دومره بيړه ده؟» هغه ورته په پوړېدلي غږ وويل: «بېړۍ مې سورۍ ده، اوبه ورننوځي.» بوډا پوښتنه ورنه وکړه: «سمندر ته تر تلو له مخه دې چيک کړې وه؟» ځوان ځواب ورکړ: «وخت راسره کم و، غوښتل مې بيړه وکړم، ډېر کبان ونيسم.» بوډا ورته وويل: «که بېړۍ غرقه شي، د کبانو ډېروالی پکې بې فايدې دی.»

# ازادي

سوداګر طوطي ساتلی و. ډېر ورباندې ګران و او بهترینې مېوې یې ورکولې چې سندرې ووایي خو طوطي بالکل چوپ پاتې و. یو حکیم چې د هغه د دوکان مخې ته تېرېده او د قفس طوطي ولید، سوداګر ته وویل: که په رښتیا درباندې ګران وي، ازاد یې کړه! سوداګر همداسې وکړل. طوطي د سړک د غاړې د ونې په څانګه کېناست او بهترینه سندره یې وویله. حکیم وویل: خوشالي له ازادي زېږي.

# تفاوت

استاد به ویل چې تاسې که هر څومره ووایاست چې حقیقت ته په روڼو سترګو ګورئ خو بیا هم ستاسې دلچسپي ستاسې په سترګو پرده غوړوي او حقیقت سم نه درښکاره کوي. د استاد دا خبره هغه وخت د شاګردانو زړه ته پرېوته چې د یوې مور مثال یې راوړ.

مور د لور په باره کې ویل چې: شکر خوشاله ژوند لري. مېړه یې په سرو زرو ارزي، دا ښه خوشاله ساتي. چې د لور مې هر څه زړه وغواړي هغه ورته اخلي، ښه یې نازوي، د یوې په ځای یې دوې خدمتګارې ورته نیولې دي. د کور له کاره بېغمه ده، د سهار په ځای غرمه له خوبه راپاڅي.

او مور د زوی په باره کې وویل: بدمرغه دی، یوه بلا غاړې ته ورلوېدلې ده چې خدای دې د هیچا کور ته نه ورولي. هغه متل دې وایي، نه دې رنګ شته، نه دې جوړ جامې دوه څله نه اغوندي. کار خو یې ښځې زده نه دی، که نوکره نه وي، له کوره به یې ډوډۍ پورته شي. له لتې غرمه راویښېږي خو کلاتکاري یې دومره ده چې بو


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# دوه کنجوسان

یوه کنجوس شتمن به په ورځو، ورځو غوړه ډوډۍ نه خوړه. یوه ورځ یې چې ځان ته غوړه ډوډۍ برابره کړې وه، خپل مریي ته وویل: ډوډۍ راوړه او ور پورې کړه!

مریي چې تر خپل څښتن هم کنجوس او بخیل و، ورته وویل: باداره، بې احتیاطي دې وکړه، باید ویلي دې وای چې ورپورې کړه، ډوډۍ راوړه!

کنجوس ته دې خبرې سخت خوند ورکړ، مریي یې ازاد کړ.

خلك چې د مریي له ازادېدو خبر شول، په خپلو منځو کې یې سره وویل: موږ ته هسې کنجوس ښکارېده، نه دومره کنجوس دی او نه بد سړی دی!

ازاد شوي مریي وویل: ښه سړی به وي، خو ما ته ډېر هوښیار ښکارېده، دومره هوښیارهم نه دی!

## د شیخ ابوسعید یوه کیسه

هسې وایي چې لوی عارف شیخ ابوسعید ابوالخیر د بیت الله د زیارت ډېر ارمانجن و خو پیسې ورسره کمې وې نو د حاجیانو له کاروان سره پلی روان شو او د کاروانیانو خدمت یې په غاړه واخیست چې خپل خرڅ پوره کړي.

له څه مزله وروسته کاروان یو ځای واړول. ابوسعید د پخلي لپاره په بوټو پسې ووت. که ګوري د یوې ونې لاندې یو بوډا ډېر خپه ناست دی. ده یې د حال پوښتنه وکړه. هغه ورته وویل چې کورنۍ یې وږې ده او دی له خجالته کور ته نه شي تلای. ابوسعید حج ته ساتلې پیسې بوډا ته ونیولې. هغه وویل: دا نه اخلم، دا خو ستا د حج پیسې دي. ابوسعید ورته وویل: لوی حج همدا دی چې د خدای د محتاجو بنده ګانو خدمت وکړم.

ابوسعید پیسې بوډا ته ورکړې او چې بوټي یې کاروانیانو ته ورسول، له هغوی سره یې خدای پاماني وکړه، مخ په کور وخوځېد.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## کمی

شاګرد له استاده پوښتنه وکړه: د څه شي کمی دی چې خلک دنیا نه شي بهتره کولی؟
استاد ورته وویل: کمی د هغو شیانو دی چې خلک یې غوښتنه نه کوي.
شاګرد په حیرانۍ وروکتل او استاد توضیح ورکړه:
خلک د ځان لپاره له خدایه څه غواړي؟ ثروت، شهرت، قدرت، نیکمرغي، خوشالي، کامیابي... خو کله دې هم اورېدلي دي چې چا د ځان لپاره د لا هوښیارېدو او لا مهربانه کېدو غوښتنه کړې وي؟
شاګرد سر وخوځاوه، یعنې نه.
استاد وویل: مورږ هر یوه ته ځان په کافي اندازه عاقل او مهربان ښکاري او همدا وجه ده چې په ځانونو کې د عقل او مهرباني کمی نه وینو او ژوند نه شو بهتره کولی.

## روحي زخمونه

یوه پیاوړي روحي زخم د خپل کوربه د ختمولو اراده وکړه. دی په خوب کې کوربه ته ورغی، ورته وېې ویل: نور خلک که یو مشکل لري، یو اسانی یې هم په برخه وي خو ستا په ژوند کې لور په لور تیارې دي، هېڅ رڼا نشته.
کوربه ورته وویل: خو مېرمن مې ښه ښځه ده. راباندې ګرانه ده، زه همورباندې ګران یم.
روحي زخم ورته وویل: ولې به ورباندې ګران یې؟ ته څه لرې چېورباندې ګران شې؟ له ماتېدونکو سره هېڅوک وفا نه کوي، اخر به دې په میدان پرېږدي!



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کوربه وویل: د هغې په وفا او صداقت مې باور دی.
روحي زخم ورته وویل: نو که هغه دومره ښه ده. ایا ته، چې ټول ژوند دې د ناکامیو او بدمرغیو ټولګه ده، د هغې ور یې؟
دغه وخت سړی راویښ شو او مېرمن ته یې وویل: زه نه غواړم، نور کسان هم له ځان سره بدمرغه کړم، ته خپل ژوند کوه، زه به خپل ژوند کوم.
د طلاق او بېلېدو پرېشانۍ د غمونو دایره بشپړه کړه او سړی نور ژوندی پاتې نه شو.
په اسمان کې چې کومه فرښته ورسره مخ شوه، هغې نېغ د دوزخ په خوا روان کړ.
ده ورته وویل: ما خو له چا سره بد نه دي کړي، ان مېرمن مې طلاقه کړه چې له ما سره یې ژوند په ضرر نه وي، زما ځای ولې دوزخ شي؟
هغې ورته وویل: روحي زخمونه یوازې د شیطان خدمت کوي، ته به د هغه چا په کور کې اوسې چې خدمتګار یې وې.

## نصیب

یو سړي خوب لیده چې خدای ته د خپل نصیب شکایت کوي، ورته وایي، کاشکې مې د خپل نصیب د انتخاب اختیار لرلای. خدای ورته وایي چې ستا د کور په خوا کې د نصیبونو مغازه ده، یو پکې پخپله خوښه غوره کړه.
دی مغازې ته ورشي. ډول، ډول نصیبونه پکې وي، لوی، واړه، ارزانه، ګران، ښکلي، بدرنګه... دی پکې یو غوره کړي او خدای ته ووایي، دا نصیب لرلای شم؟
خدای ورته وایي: ولې نه، دا خو دې خپل نصیب دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# پنځه حکیمان

پنځه حکیمان په ځنګل کې ورک شول.
لومړي وویل: زه چپ لاس ته ځم، ځکه یو باطني احساس راته وایي چې دا خوا باید انتخاب کړم.
دویم حکیم وویل: زه ښي لاس ته ځم، ځکه ښی، ښه، ښېګڼه دا ټول ما ته د یوې کورنۍ کلمې ښکاري.
دریم حکیم وویل: زه بېرته هغه ځای ته ستنېږم چې ترې راغلو، یعنې له ځنګله وځم.
ځلورم حکیم وویل: زه مخ په وړاندې ځم، ځنګل به اخر ختم شي او یو بل ځای به راشي.
پنځم حکیم وویل: تاسې ټول سهوه کوئ. لا غوره لاره شته. لږ صبر وکړئ چې زه څه کوم.

ده تر ټولو لوړه ونه ومونده او ور وخوت. دی چې ونې ته خوت، نور حکیمان هر یو په خپله مخه روان وو. ده ته د ونې له سره شاوخوا معلومه شوه او پوه شو چې له ځنګله د وتلو لنډه لاره کومه ده. دی اوس په دې پوهېده چې کوم حکیم به له ځنګله ژر ووځي او په څه ډول به ووځي. دی په ونه کې لږ نور هم پاس وخوت، لارې یې لا ښه وسنجولې او تر ټولو ښې حل لارې یې وپېژندلې. دی داسې پوه شو چې هر څه یې سم ترسره کړي او نور تېروتلي دي، ځکه سرزوري وو، ده ته یې غوږ ونه نیو او دی واقعي حکیم و. خو د نورو په اړه د ده قضاوت سم نه و. دوی پنځو واړو سم ویل.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

هغه چې چیې خوا ته لاړ، له ځنګله ونه وت. مجبورشو چې لوږه تېره کړي او له وحشي حیواناتو سره ډغرې ووهي خو دا یې زده کړل چې په ځنګل کې څنګه ژوندی پاتې شي. دی د ځنګل برخه شو او وتوانېد چې نورو ته هم دا ورزده کړي چې څنګه په سختو حالاتو کې وپایي.

هغه حکیم چې ښي لاس ته لاړ، له غلو سره مخامخ شو. هغوی هر څه ترې یووړل او مجبور یې کړ چې له دوی سره غلا ته ملا وتړي. خو څه موده پس یې په غلو کې یو څه رابېدار کړل. هغوی د خواخوږي او انسانیت احساس، چې هېر کړی یې و، یو څه بیا حس کړ. د هغوی د ځینو پښېماني دومره زیاته شوه چې د حکیم له مرګه وروسته، دوی پخپله حکیمان شول.

هغه حکیم چې بېرته په شا لاړ، په ځنګل کې یو داسې لوری وموند چې په لنډ وخت کې په یوې لارې بدل شو، لاره د هغو لپاره چې غوښتل یې ځنګل ته لاړ شي او د ورک کېدو له وېرې پرته پکې وګرځي.

هغه چې مخ په وړاندې تګ یې ښه وباله، مخکښ شو. دی داسې ځایونو ته لاړ چې بل هېڅوک نه وو ورغلي او خلکو ته یې د شفابخښوونکو بوټو او حیرانوونکو حیواناتو یوه نوې دریڅه پرانیستله.

هغه حکیم چې وني ته ختلی و، د لنډو لارو د موندلو کارپوه شو. خلکو چې به د خپلو مشکلاتو د حل کولو لپاره تر ټولو چټکې حل لارې غوښتې، ده ته به یې مراجعه کوله، که ان دغه حللارې د پرمختګ سبب نه کېدلې.

د پنځو حکیمانو برخلیک داسې و.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# ناوخته نه دی!

خدای چې خلک خلقول، د لټون او نوښت او فکر کولو وړتیا یې هم ورکړه. دوی یې په یوه ښېرازه دره کې د غره په لمن کې استوګن کړل او بیا یې وڅارل چې پرمختګ کوي، که څنګه؟

زماني واوښتې خو خلکو پرمختګ ونکړ. دوی له خپل کلي را ونه وتل، غرونو ته ونه ختل، اسمان ته څېر نه شول او ځان ته یې په دقت ونه کتل.

خدای اراده وکړه چې د انسان په جامه کې یوه فرشته ورواستوي. مازدیګر ناوخته و چې فرشته د یوې سیلانۍ په بڼه د دوی سیمې ته ورغله، خلک له هغې سره د خبرو لپاره د کلي په میدان کې راټول شول. دې ورته له خپل کلي د ورها خوا سیمو کیسې وکړې او ورته ویې ویل چې که غواړئ، زه به مو هلته بوځم چې د نورو خلکو د ژوند له طریقو خبر شئ.

کلیوالو ورته وویل: په موږ اوس وخت تېر دی، داسې سفر راته ګټه نه کوي.

فرشتې ورته وغوښتل: نو راځئ غرونو ته وخېژو او دنیا ته له پاسه وګورو.

دوی وویل: په پښو کې مو دومره قوت چېرته دی چې غرونو ته وخېژو.

فرشتې وویل: اسمان ته څېر شئ چې د اسمانونو کیسې درته وکړم.

دوی وویل: اسمان ته زموږ فکر نه رسېږي، په دې کیسو نشو پوهېدای.

د فرشتې د دې خلکو مایوسي ته خوا بده شوه. د دوی د خوشالولو اراده یې وکړه، ویې ویل: راځئ یوه سندره ووایو.

خو سندره لا نه وه پیل شوې چې خلکو د لمر لوېدو ته پام شول، ویې ویل: «اوس خو ناوخته شو، د خوب وخت دی» او خپلو جونګړو ته ستانه شول. فرشتې


https://m.facebook.com/groups/182281287297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ورباندې اواز وکړ: «اې خلکو، په ژوند کې هېڅ وخت د هېڅ کار لپاره ناوخته نه دی. ژوند لکه د سین څپې، بې پایه او پرله پسې دی.» خو هغوی راستانه نه شول. خدای چې د دوی حال ته کتل، ویې ویل: زه ټولې محدود کوونکې کلمې لکه «نه»، «نه کېږي»، «سخته ده»، «اوس ناوخته دی»، «فکر مو نه ورسېږي»، «نه مو زده کېږي»، «په وس کې مو نه دي» د دوی له ذهنه باسم او د هغو په بدل کې د دوی زړونو ته امېد او خوشالي وربخښم.

## په پرون کې ایسار

و نه و یو وخت یو مارغه و. ده به د اکثرو نورو الوتونکو غوندې د اوړي په باران کې لامبل او په لمرینو ورځو کې به یې په هوا کې حشرې ښکارولې. د ده یو عادت و: هر ځل چې به ښه یا بده واقعه ورپېښه شوه، یو کوچنی ګاټی به یې له مځکې را اوچت کړ او بیا که به هر چېرته ناست و، یا به الوت، هغه ګاټی به ورسره و چې پېښه یې په یاد پاتې شي.

د تېرو خوږو خاطرو وریادولو مرغه خوشاله او د تېروغمجنو خاطرو وریادولوغمجن ساته. ګاټي وار په وار ډېرېدل او ده ته الوت سخته کېده. کلونه واوښتل. د مرغه ګاټي ډېرېدل او تېر وختونه لکه لومې ترې چاپېرېدل. بالاخره یوه ورځ داسې راورسېده چې نور نو الوتلی نه شوای، ځکه ګاټي ډېر وو او بار یې درونډ شوی و. مرغه د حشرو له ښکاره محروم شو. وږی شو، خو ده لوږه تېروله او تېرې خاطرې یې ساتلې. څه موده وروسته له لوږې ومړ. له ده ګڼ بې فایدې ګاټي کوټه پاتې شول چې لږ وروسته بادونو تیت و پرک کړل.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# سخته لار

یو ځوان چې په ژوند کې یې سخته ماته کړې وه، خپل تره ته راغی. تره یې ډېر کتابونه لوستي وو او مشهوره وه چې څوک د ده مجلس ته پرېشان راشي، ارام لاتېږي. وراره یې هم په دې نیت ورته راغی چې ذهن یې سکون ومومي. ده تره ته خپله کیسه وکړه. تره یې وویل: «راځه غونډۍ ته وخېږو.» د دوی د کور څنګ ته یوه ډېره لوړه غونډۍ وه.

غونډۍ ته ختل خو ځوان ته سخته نه وو خو تره یې پوره په زحمت شو او که وراره لاس نه وای ورکړی، په ټېر عمر د غونډۍ سر ته ختل ورته ممکن نه وو.

چې د غونډۍ سر ته ورسېدل، تره ورته وویل: په ماشومتوب کې دې یادېږي چې د غونډۍ لمنو ته هم په زحمت ختلې او اوس سر ته داسې په اسانه خېژې، ولې؟ دا څه چل وشو؟

ځوان وویل: اوس خو لوی شوی او پیاوړی شوی یم.

تره یې وویل: او هغه وېرونکې غونډۍ درته په بې جنجاله، بې خطره ځای بدله شوه، ځکه چې ته لوی او پیاوړی شوې. زړه لوی او روحیه پیاوړې ساته، غر که لوړ هم دی په سر یې لار شته.

# کاشکې! کاشکې!

یو مامور چې له خپل دفتره راووت، د پاچا ماڼۍ او د هغې طلایي ګومبزو ته یې وکتل، ویې ویل: که د پاچا په کور کې پیدا وای، ژوند به مې خومره اسانه او خومره خوږ و!

مامور د ښار مرکز ته لاړ، هلته کارګرو یوه څوپوړیزه ودانۍ جوړوله. یوه کارګر مامور ته چې د کاغذونو دوسیه یې په تخرګ کې وه، وکتل، په زړه کې ورتېره شوه: کاشکې مې د پلار منلي او سبق مې ویلی وای! که مې درس ویلی وای، اوس به د دغه سړي غوندې د مېز شاته ناست وم، د قلم کار به مې و، ژوند به اسانه تېرېده.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

په همدې وخت کې پاچا د خپلې ستړې ماڼۍ له یوې کړکۍ د ښار منځ ته وکتل. کارګران، مامورین، پلورونکي، اخیستونکي، ښځې، ماشومان، مختلف خلک یې ولیدل، له ځان سره یې وویل: څومره بختور دي چې ازاد ګرځي، بېغمه د خپلو مېږو ډوډۍ خوري، سیاسي جنجالونه نه لري چې شپې ورته ویښې تېرې کړي او ماغزه ورته اوبه کړي.

## د اوبو

شمس تبریزي وایي چې له ماشومتوبه لا ګډوډ وم، پلار مې راته وویل: «ته نه دومره لېونی یې چې دارالمجانین ته دې واستوم او نه دومره عاجز یې چې له تارکِ دنیا ملنګانو سره دې ملګری کړم. زه نپوهېږم چې څه درسره وکړم.»
ما ورته وویل: «د هیلۍ هګۍ یې تر چرګې لاندې ایښې وه. چې هګۍ ماته شوه، داسې هیلۍ ترې راووته چې چرګانو د خپل ذات بلله. یوه ورځ چې له چرګو، چرګانو سره د ډنډ په خوا کې ګرځېده، اوبو ته یې ټوپ کړل، مور ته یې وویل: ته په وچه کې ګرځه خو زه نوره د اوبو یم.»

## کمر او څپه

وه نه وه یوه څپه وه. هغې له باد سره لوبې خوښېدلې. هغې د ساحل د پرښو نازول خوښېدل. هغه مسته وه. څپه یوه ورځ یوه ناآشنا خلیج ته ورسېده. د خلیج د اوبو په منځ کې یو نېغ، ډبرین کمر ولاړ و. د څپې له کمر سره انډیوالي شوه. دوی به په ساعتونو سره غږېدل. دوی ټول وخت له یو بل سره تېراوه. په دې منځ کې د څپې ناڅاپه ځان ته پام شول چې په کمر یې زړه بایللی دی. د کمر هم مسته، بې پروا څپه خوښېدله خو هغې ته یې وویل: نه، ته له ما سره مینه نشې کولای. زه ډبرین یم، زه کمر یم. موږ به څنګه سره مینه کوو؟ زه ستا ماتوونکی یم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خو څپه لاس اخیستلو ته تیاره نه وه. دې ورمنډه کړه چې ټول کمر په غېږ کې ونیسي مګر د زرګونو زرینو ذرو په بڼه خوره وره شوه. دې بیا بیا منډه وروا‌خیسته. دې بس د کمر غېږه غوښته. دې د هغه په لمن باندې ننښتې سپېږې په کراره وځنډلې، مګر کمر وویل: زه پیاوړی یم. زه ډبرین یم. زه اړتیا نلرم چې ومې پالې... څپې یو ځل بیا غېږه ورکړه او ذرې یې په باد کې وبرېښېدې.

وختونه واوښتل. څپه لا په کمر مینه وه. کمر ځان ناګاره اړولی و. دې به ځان ورنژدې کړ، ځان به یې ورپورې وسولاوه او ورسره به ټوک، ټوک، ذره، ذره شوه.

یو سهار داسې راغی چې څپه ورکه شوه. کمر چې له خوبه راویښ شو، هغه یې په خوا کې ونه لیده. خو وروسته یې بهتره وګڼله چې د هغې په اړه فکر ونکړي. ورځې تېرې شوې او هغه رانغله. کلونه تېر شول او څپه راپیدا شوه. هغه ډېره بدله شوې وه. هغې اوس د ژوند په باره کې ډېر څه زده کړي وو. نوره نو هغومره بې فکره او بې پروا نه وه. خو لا یې هم په کمر زړه بایللی و. او ده داسې ښودله چې ګواکې د هغې راتګ ورته مهم نه دی، ځکه دی ډبرین دی. دی به نو ولې څپې ته ځان کمزوری ښیي؟

زمانې واوښتې. څپې لا له کمر سره خبرې کولې، خو نور هغه د اوږدو شپو، هغه د شوق مجلسونه نه وو. کمر لا زیات بوډا شوی و. اوبو لا ډېر سولولی او ځبلی و.

او څپه نویو ښارونو او ملکونو ته په خپلو سفرونو کې، له نویو خلکو سره بلده شوه. یوه ورځ چې کور ته راستنه شوه، پام یې شول چې نور یې کمر په زړه نه اوري. کمر هم په دې راز پوه شو او په دې هم پوه شو چې بې هغې ورته ژوند سخته دی. له ځان سره یې وویل: د بهرنیو ښارونو او ساحلونو په اړه د هغې له کیسو پرته ژوند او د هر څه په باره کې د هغې د مرغانو غوندې له چرچره پرته ژوند سخته دی، سخته دی.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

یوه ورځ کمر ورته وویل: دا سمه ده چې زه ډېرین کمر یم خو بې تا ژوند نشم کولای او دغه وخت په ځپو کې راپرېوت... دې ښکل کړ، په خدای یې وسپاره.

# له وطنه وتل

یو چا غوښتل له وطنه لاړ شي، مسافر شي خو چلند یې داسې و لکه د تل په مخه چې ځي. پوښتنه ورنه وشوه: ولې دا رنګه خدای پاماني کوې؟ که ډېر وي، کال دوه به نه یې، خو هېوادونه به ګورې، بېرته به خپل وطن ته راستون شې.

ده ځواب ورکړ:زه په خپله خوښه وطن نه پرېږدم نو هره ورځ چې په پردي ملک کې تېروم، ډېره به راته سخته وي، ډېره به راباندې اوږده وي.

او دی څو کاله پردېس و، څو هېوادونو ته لاړ او په هر هېواد کې پردی و. کله چې خپل وطن ته راستون شو، معلومه شوه چې هېواد یې دومره بدل شوی و چې نور ده ته پردی ښکارېده.

یو بل ځوک له وطنه د تل په مخه ووت خو بې زحمته ووت او بې خدای پاماني ولاړ. له هغه پوښتنه وشوه: ولې داسې په اسانه روان یې، ته خو د تل په مخه ځې؟

هغه ځواب ورکړ: نور په دې وطن کې اوسېدل راته سخته دي، په خارج کې به خوشاله یم، ورځې به مې ښې تېرېږي.

هغه څو کاله په بهر کې و، څو هېوادونه یې ولیدل او په هرهېواد کې بلد شو. خو یوه ورځ چې خپل هېواد ته راستون شو، خپل هېواد یې دومره بدل ولید چې د پېژندلو ورته نه و. ده وویل: بالاخره مې د خپلې خوښې هغه ځای وموند چې تل یې په لټه کې وم.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د پروس د پاچا حکايت

دويم فردريک د اتلسمې پېړۍ خورا ستر اروپايي واکمن و. ده په اقتصادي او کلتوري لحاظ خپل هېواد (پروس) د اروپا په مهم مرکز بدل کړ. د هنر، فلسفې او موسيقي ودې ته يې پام واړاوه او په ملک کې يې د نورو عقيدو له خاوندانو يعنې کاتوليکو او يهودو سره د شدت کولو مخه ونيوله. دی په لوی فردريک مشهور دی. حکايت دی، وايي چې لوی فردريک د خپلې پاچاهي په لومړي کال د بنديانو د حال احوال اخيستلو لپاره زندان ته ورغی. بنديانو له يو مخې د ورسره شويو بې انصافيو کيسې کولې او چې هرې کوټې ته به يې سر ورښکاره کړ، د خدای پارې چېغې يې اورېدلې. بالاخره يې په يوې کوټنۍ کې يو غلی زنداني وليد. فريدريک ورته وويل: «ته به هم ناحقه راوستل شوی يې، همداسې ده، کنه؟» بندي ورته وويل: «نه صاحب، زه مجرم يم، بې لارې يم او د خپلو جرمونو سزا وينم.» پاچا د بنديخانې مشر ته مخ واړاوه، ويې ويل «دغه سړی سمدستي خوشي کړئ چې دا نور له لارې ونه باسي.»

## د ځان غوندې اوسېدل

زوشا د اتلسمې پېړۍ يهودي عارف و. د هغې زمانې د اوکراين د اکثرو روحانيانو برخلاف، چې تظاهر يې کاوه او په خلکو يې سختي راوسته، زوشا صادق انسان و، ريا يې نه وه خوښه، د انسان د ظاهر او باطن يو شانوالی يې لويه مرتبه بلله او د نورو د څورولو عادت خو يې، هغه د چا خبره، بېخي په خټه کې نه و. حکايت دی چې د مرګ په شېبو کې ډېر ناکرار و. شاګردانو يې ورته وويل: زموږ باور دی چې خدای به درسره سخت حساب نه کوي، ارام اوسه!


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

ده ورته وویل: «زه پوهېږم چې خدای به راته ونه وایي چې ولې د موسی (ع) غوندې یا د داوود (ع) غوندې نه وې؟ خو دا به راته خامخا وایي چې ولې د زاشا غوندې نه وې؟»

## قازې او کیشپ

یوه کیشپ او دوو قازو کلونه په یوه ډنډ کې ژوند کاوه او ټینګه ملګرتیا یې جوړه وه. خو یو وخت وچکالي راغله، ډنډ مخ په وچېدو شو. یوې قازې بلې ته وویل: ژر باید د بل ځای غم وکړو، ځکه بې اوبو ژوند نه شو کولای. راځئ چې له کیشپ سره خدای پاماني وکړو، نور صبر بکار نه دی.

کیشپ چې د دوی د تلو واورېدل، له وېرې وپوړېد او له هغوی یې وغوښتل چې دی یوازې پرې نه بږدي. خو قازو ورته وویل: که دلته نور اوسو، یو هم ژوندی نه پاتېږو او موږ له بده مرغه تا نه شو راسره وړلای ځکه ته الوتلی نشې.

کیشپ بیا هم زارۍ وکړې چې یوازې مې مه پرېږدئ.

له څه شیبې فکر کولو وروسته یوې قازې وویل: ګرانه ملګریه، که ژمنه کوې چې د سفر په وخت به پټه خوله پاتېږې، تا به له ځان سره یوسو. خو که دې خوله چوله کړه، ان د یوې کلمې د ویلو لپاره هم، نو بیا دې سر په خطر کې دی.

کیشپ ورته وویل: اندېښنه مه کوئ، زه به تر هغو هېڅ ونه وایم چې تاسې د خبرو اجازه نه وي راکړې. تر دې چې په وچ ډنډ کې له لوږې او تندې مرم، ټول عمر چوپ پاتېدل هم سخته نه دي.

نو قازو د امسا غوندې یو کلک لرګی راوړ او له کیشپه یې وغوښتل چې په خوله کې یې ټینګ ونیسي. هاله بیا هرې قازې د لرګي یو سر او بل سر ته اوږه ورکړه، والوتلې. هغوی څو کیلومتره بې ستونزې الوت وکړ خو کله چې په لاره کې د یوه کلي له پاسه تېرېدلې، او کلیوالو دا عجیبه منظره ولیدله چې قازو کیشپ په هوا



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

کړی دی نو له خندا ورته شنه شول. کلیوالو چیغې ووهلې: دا څه ریشخند دی! دا
څه ریشخند دی!
د کیشپ زړه ورته تنګ شو، سپکاوی یې احساس کړ، او مجبور شو چې توضیح
ورکړي خو ده لا خوله پوره نه وه پرانیستې چې لاندې ولوېد، ټوک، ټوک شو.

## موږک

د ځنګل موږک ته یوه ورځ عجب نوی فکر پیدا شو. ده له ځان سره وویل چې که
هر څېرته سوړه جوړوم په خطر کې یم، راځه، د زمري په سمڅه کې سوړه جوړه
کړه، هلته هېڅ ژوی درتلای نشي.
موږک همداسې وکړل. چې ماخوستن شو او زمری خوب یووړ، دی یې د سمڅې
په یوه کونج کې د سوړې په کینستلو بوخت شو. موږک په دوو شپو کې سوړه
جوړه کړه او نور یې ځان په امن کې ولید. زمری به چې سهار له خوبه راویښ شو،
تر ماښامه به په ځنګل کې ګرځېده او ماښام چې به سمڅې ته راغی، دومره به
ستړی و چې سمدستي به خوب یووړ. نو سمڅه کابو ټول وخت ده ته ورخوشې
وه.
چې څه موده تېره شوه او موږک له امنیت سره مغرور شو، د زمري د ځورولو هوس
یې وکړ. ده له ځان سره وویل چې زمری ظالم ځناور دی، داسې ژوی نشته چې ده
نه وي ځورولی، له ده بدل اخیستل پکار دي.
نو چې ځنګه شپه شوه او زمری په درانه خوب ویده شو، موږک له سوړې راووت،
په خپلو تېرو غاښونو یې د زمري د غاړې د ویښتو په غوڅولو شروع وکړه. ده د
زمري د راویښېدو تر وخته پورې د هغه د غاړې ډېر ویښته غوڅ کړي وو.
زمری چې سهار راویښ شو او خپل ویښته یې ولیدل، تعجب یې وکړ خو مهمه یې
ونه ګڼله، ښکار ته ووت. په بل سهار چې زمری راویښ شو، خپل ګڼ ویښته یې بیا


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

غوږ شوي وليدل. فکر يې خراب شو مګر د ښکار په شوق ووت او ويښته يې هېر شول. ده ته به په ځنګل کې شايد ويښته ورياد شوي نه واى، که په يوه ونه کې ناست باز اواز ورباندې نه واى کړى او ورته ويلي يې نه واى چې ويښته دې لکه د پمن توى شوي دي، بېخي بدرنګه شوى يې!

باز ده ته خپل سيال ښکاربده. د هغه خبرې ډېر وځوراوه. چې ماښام سمڅې ته راغى، ځان يې په خوب واړاوه خو ويښ پاتې شو چې د ويښتو د غوځېدو علت معلوم کړي.

کابو نيم ساعت وروسته يې ټک ټک واورېد. زمرى د سترګو په رپ کې ودرېد او موږک تر ده هم ژر په سوړه ننوت.

په هغه شپه زمري خوب ونکړ خو ويښته يې غوځ نه شول. په سهار يې په ګيدړې اواز وکړ: «ګېدړې جانې، وه ګيدړې جانې، په تا باندې به وروسته له دې حمله نه کوم خو په دې شرط چې ما ته يوه مشوره راکړې.» ګيدړې ورسره په خوشالى ومنله او ده خپل مشکل ورته بيان کړ. هغې ورته وويل: «دا کار بايد د موږک وي او موږک لرې ځاى سفر نه کوي، د سوړې په منځ يا شاوخوا کې به چېرته اوسي. که په رڼا کې سمڅې ته لاړ شې او شاوخوا وګورې، شايد سوړه يې ومومې.»

زمرى په هغه ورځ ماسپښين له ښکاره ستون شو او چې څنګه يې سمڅې ته سر ور دننه کړ، موږک يې وليد چې د خپلې سوړې په خوله کې ناست دى. موږک د زمري په ليدو سمدستي په سوړه کې غايب شو.

زمرى په پيشو پسې لاړ او اواز يې ورباندې وکړ: «پيشو ګلې، وه پيشو ګلې، نور به په تا يرغل نه کوم خو شرط دا دى چې زما په سمڅه کې به د موږک چاره کوې.» پيشو وويل: «زه وېرېږم چې تا ته نژدې درشم.» زمري وويل: «زه د ورځې په مخه په سمڅه کې نه يم.» پيشو ورته وويل: «سمه ده، زه به چې ته نه يې، پسې ورشم.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

موږک چې پیشو ولیده چې هلته لره بره کېږي، پوه شو چې نور نو امن نه لري.
ماخوستن زمری په درانه خوب ویده و. موږک ورو راووت او په ځنګل کې یې د
ناامنۍ او سرګردانۍ ژوند یو ځل بیا پیل کړ.

# اوښان

خبر راغی چې د اوښانو له یوې قافلې سره چې نن ښار ته رارسېږي، یو بزرګ هم
سفر کوي. په ښار کې یو سړی چې له ژونده ډېر ناراضه و، د بزرګ د لیدو په تمه د
ښار له دروازې سره یو میداني ته لاړ چې هلته به قافلې پړاو کاوه. قافله که څه هم
غرمه راورسېده مګر د بزرګ د لیدو لپاره دومره خلک راغلي وو چې دغه سړي ته
په ایله کې ماخوستن نوبت ورسېد. ده بزرګ ته وویل: چې چېرته کار کوم، تل
راسره تشویش وي چې ومې نه باسي، په کور کې له ښځې سره ګوزاره سخته ده،
ژمی راروان دی خو د لرګیو پیسې نه لرم، د سر د درد ستونزه مې لا بله ده. مهرباني
وکړه یوه لاره راوښیه چې د ژوند مشکلات مې ختم شي او ارام ژوند وکړم.
بزرګ ورته وویل: اوس خو شپه ده، ناوخته دی، سهار به درته ووایم چې څه کول
پکار دي، فعلاً زما یو کوچنی کار دی، دا راته کولای شې؟
ده وویل: کوم کار دی؟
بزرګ وویل: زموږ په کاروان کې سل اوښان دي. د شپې باید هغه وڅارې. چې کله
ټول اوښان کېناستل، بیا بې غمه ویده شه.
ده وویل: په سترګو، او بزرګ خېمې ته لاړ چې ویده شي.
په سبا سهار بزرګ ورنه پوښتنه وکړه چې: بچیه، خوب دې وکړ؟
دی چې ستړی او بې خوبه و، ویې ویل: ان یوه شببه هم نه یم ویده شوی. ډېره
هڅه مې وکړه خو ونه توانېدم چې ټول اوښان کېښېنوم. چې یو اوښ به مې کېښناوه،
بل به پاڅېد.

بزرګ وویل: اوس پوه شوې چې ټول اوښان یو ځایي نشې کېښنولی. که یو کېښنوې، بل راپاڅي. په همدې ډول که یو مشکل حل کړې، کېداى شي یو بل مشکل پیدا شي. چې څو پورې سا راکې غړېږي، مشکلات به هم وي، کله کم او کله زیات.

ده وویل: اوس څه وکړو؟

بزرګ وموسل، ویې ویل: تېره شپه داسې وشول چې ګڼ اوښان پخپله څملاستل، ځینې ستا په هڅه کېناستل او ځینې ستا له هڅو سره سره ولاړ پاتې شول خو وروسته بیا پخپله څملاستل. د ژوند ستونزې هم دغه رنګ دي. ځینې پخپله اوارېږي، ځینې ستا په هڅه اوارېږي او ځینې ستا له هڅو سره سره نه اوارېږي او چې مناسب وخت یې راشي، بیا اوارې شي. نو، دا زده کړه چې له ستونزو سره سره وارخطا نشې او له ژونده خوند واخلې!

## بې زړه سوي، بې خواخوږي

په تېرو زمانو کې په چین کې یوه بوډۍ وه چې پوره شل کاله یې یو راهب وساته، هغه ته یې د مراقبې لپاره جونګړه جوړه کړه او د هغه درې وخته ډوډۍ یې په غاړه واخیسته.

چې د راهب په مراقبو شل کاله تېر شول، بوډۍ ته تلوسه پیدا شوه چې د هغه د معنوي پرمختګ اندازه ولګوي.

په دې موضوع د پوهېدو لپاره یې له یوې بې باکې نجلۍ، چې تمایلات یې زیات وو، مرسته وغوښته. بوډۍ هغې ته وویل: ورشه، په غېږ کې یې ونیسه او بیا ناڅاپه ورنه وپوښته چې اوس څه کوې؟

نجلۍ راهب ته ورغله او له ورتلو سره سم یې په غېږ کې ونیو، ورته ویې ویل: اوس څه کول غواړې؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

راهب په يو څه شاعرانه ژبه ځواب ورکړ: «يو زَرَه ونه په يوې سړې پربښې باندې په ژمي کې ولاړه ده. هيچرته هيڅ تودوخه نشته.»

نجلۍ راستنه شوه او څه چې يې اورېدلي وو، بوډۍ ته وويل.

بوډۍ په قهر وويل: «ته فکر وکړه، ما شل کاله ده ته ډوډۍ ورکړه او ده ستا اړتيا ته هيڅ پام ونه ړاوه. ستا د وضعيت له پوهېدلو سره يې هيڅ دلچسپي نه وه. لازمه نه وه چې ستا احساساتو ته ځواب درکړي خو لږ تر لږه خواخوږي و دلسوزي يې بايد ښودلې وای.»

بوډۍ سمدستي د جونګړې په لور لاړه او اور يې ورواچاوه.

حکيم چې د ذن طريقې دا کيسه وکړه، ويې ويل: مطلب دا چې تر تشو کلمو او لفاظي او تشې مراقبې ورها خوا واقعي عقل او خواخوږي پکار ده. راهب که څه هم شل کاله په مراقبو تېر کړي وو، خو د بل انسان د احساسولو کمال ته نه و رسېدلی او په يو ښه معنويت کې ايسار پاتې و.

## د سفر ملګري

له مرشد سره په يوه سفر کې ترکاڼ ملګری شو. دوی وغوښتل يو بل سره وپېژني.

مرشد وويل: زه يو فقير يم يا بهتره ده ووايم غواړم يو فقير واوسم.

ترکاڼ ورته وويل: وبخښه چې يو ترکاڼ يم، د دنيا په چارو کې لاهو بنيادم.

دوی په بېړۍ کې سفر کاوه. مرشد بېړۍ ته لاس ونيو، ويې ويل: دا تا جوړه کړې ده، که ته نه وای، د اوبو بلې غاړې ته به څنګه پورې وتلو؟

ترکاڼ وويل: زه بېړۍ نه جوړوم، د دروازو او کړکيو کار کوم.

مرشد وويل: که مو کوټو کړکۍ او دروازې نه لرلای، د ژمي دا سړې شپې به مو څه ډول تېرولې؟ د غلو مخه به مو څنګه نيوله؟ له مچانو، حشرو به څومره خوندي وو؟



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خپل کار ته په کمه سترګه مه ګوره. لمر چې تودوخه راکوي، د ونې او ګل او وښو فرق نه کوي، ټول تودوي. باران چې څاڅکي وروي، د ګلاب و نرګس او زېړګلي فرق نه کوي، څاڅکي په هر چا لوروي. باد چې لګېږي، په ټولو لګېږي. دا دنیا شریکه دنیا ده. موږ یو تر بل زیات نه یوو خو له یو بله فرق لرو او دا فرق باید محترم وګڼو، که یې ونه ګڼو بیا به داسې وي لکه د غنمو له کروندې چې وریجې غواړو او بېړۍ ته وایو چې د کوټنې کړکۍ شه.

## د بوډا راهب وروستی پیغام

بوډا راهب وویل چې را روانه شپه له دنیا رخصت اخلي. له یوه پخواني شاګرده پرته نور شاګردان د هغه کور ته چټک ورغلل او تر کټ یې چاپېر کېناستل چې وروستی دیدن یې وکړي. پخوانی شاګرد په منډه بازار ته روان شو. چا ورته وویل: د استاد دې زنکدن دی او ته بازار ته روان یې! ده ورته وویل: خبر یم. بازار ته ځکه ځم چې د استاد مې یو ډول کېک ډېر خوښ وو، غواړم هغه ورته پیدا کړم.
د استاد د خوښې کېک د هغه د ځوانۍ په زمانه کې عام وو، اوس په اسانه نه پیدا کېدل. شاګرد په ایله کې مازدیګر ناوخته د یوه سپین ږیري کیک پخوونکي په دوکان کې وموندل.
د لمر وروستۍ شغلې وې. تیاره خپرېدله. د استاد تر کټ راچاپېر کسان پریشان وو. استاد به سترګې پرانیستې، وبه یې غړولې او بیا به یې پټې کړې. لکه چا ته چې انتظار کوي. دغه وخت پخوانی شاګرد چې کیک ورسره وو، راورسېد. استاد ورته وویل: «راورسېدې، کیک دې څه کړل؟ » شاګرد کیک ورکړل او د هغه په خبره یې سرلوړي احساس کړه. استاد که هرڅو مرګېحاله و خو چې کېک یې نیولی و، لاس یې نه پوړېده. یو چا ورته وویل: ښه دی لاس دې نه پوړېږي! ده ورته وویل: «زه نه پوړېږم، ځکه نه وېرېږم. بدن مې بوډا دی خو اروا مې ځوانه ده او که ان له بدنه هم


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وایستل شي، څوانه به پاتې وي.» هاله یې بیا یوه توته کبک خولې ته یوړل، ویې ژوول. یوه شاګرد ورنه وغوښتل: د ژوند د اوږده مزل یو پیغام، خاطره یا تجربه راسره شریکه کړئ! ده وموسل، ویې ویل: «اها، خوندور کبک دی.» او د دې خبرې له کولو وروسته یې په دې دنیا کې صرف د یوې بلې جملې د ویلو فرصت ومونډ: «په شپېه کې اوسئ!»

## د محبت څواب

لوی عارف جُنید مکې معظمې ته لاړ. هلته یوه سلمان ته ورغی چې ویښته ور کم کړي. د سلمان دغه وخت نیت و چې د یوه شتمن سړي ویښته اصلاح کړي خو چې جنید ته یې وکتل، هغه یې پرېښود، ده ته راغی او د وېښتو له ورکمولو وروسته یې پیسې وانه خیستې. جنید له ځان سره پرېکړه وکړه چې نن که هر څومره پیسې ومومي، هغه به ټولې همدې سلمان ته ورکوي. مازیګر یوه شتمن جنید ته سل طلاوې ورکړې او جنید سمدستي سلمان ته راوړې. سلمان د سرو زرو په لیدلو په قهر شو، ویې ویل: ته څنګه بزرګ یې چې د محبت څواب په پیسو ورکوې!

## نجومي

یو څوان د ستورپېژندنې له زده کړو وروسته کور ته ستون شو. پلار یې چې پخوانی نجومي و، زوی ته وویل: «هېڅوخت بېړه مه کوه چې هر څه څرګند کړې. عالم سړی که له خلکو سره په هنر ونه چلېږي، کار خرابوي. ډېر څله د حقیقت تر ویلو پټه خوله پاتېدل غوره دي او که د حقیقت ویلو ته مجبور شې نو په صریح انداز خبره مه کوه، خبره یو څه ګونګه کوه. په دې کسب کې به کله کله ان دروغ وایې. دا ډېر باریک هنر دی. د کتابونو علم پکې کافي نه دی، صبر کوه، تجربه هم ډېره غواړي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خو زوی يې وويل: «زه له کاشي، يعنې د دې علم له تر ټولو ستر مرکزه فارغ شوی يم او د ستورپېژندنې په اړه په هر څه پوهېږم. صبر ولې وکړم؟ پاچا ته ورځم. د خپل علم په مټ پاچا پوهولی شم چې څه پېښېدونکي دي.»

پلار بې ورته وويل: «خوښه دې خپله ده خو پاچا ته زه هم درسره ځم. اول به يې زه فال وګورم، بيا به ستا نوبت وي، ته خپلې خبرې ورته وکړه، زه خپلې ورته کوم.»

په سبا دوی دواړه د پاچا دربار ته لاړل.

پلار يې چې د پاچا لاس وکوت، ورته ويې ويل: «ملک به دې نور هم پراخ شي! په نژدې وختونو کې به يو ډېر ښه زېری واورې!»

زوی د پلار خبرو حيران کړ، ځکه د پاچا د لاس د کرښو معنا بل څه وه. کرښو ښودله چې پاچا به په لنډ وخت کې ومري.

په هر حال، بوډا نجومي ته ډېرې پيسې او ډالۍ ورکړی شوې.

ور پسې د زوی نوبت شو. هغه پاچا ته وويل: «ته به تر يوې اونۍ ډېر ژوند ونه کړې. دا حقيقت څرګند دی.»

پاچا امر وکړ چې ځوان نجومي راونيسئ او ښه يې ووهئ.

وروسته بيا چې پلار او زوی کور ته راغلل، پلار ورته وويل: «ودې ليدل؟ هغه څه چې په کتابونو کې ليکل شوي دي، هغه يوازې د قانع کسانو لپاره دي او په دنيا کې قانع کسان له کومه شي؟ زه هم پوهېدم چې پاچا تر اونۍ زيات عمر نه شي کولای، مګر د دې خبرې کول خطرناک وو. نجومي ته يوازې دا کفايت نه کوي چې د مشتريانو د نصيب کرښې ولولي بلکې په دې هم بايد پوه وي چې د مشتريانوغوښتنې او ارزوګانې څه دي؟ نجومي ته د لاس د کرښو ترلوستلو د ارزوګانو په کرښو پوهېدل ډېر ضرور دي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## د بوډۍ چرګان

یوه بوډۍ چې ذهن یې وهمونو لاندې کړی و، په دې عقیده وه چې که د دې چرګان نه وي، شپه نه سبا کېږي. دې د همدې وهم په وجه ډېر چرګان ساتلي وو چې که ځینې ناجوړ وي یا غفلت وکړي نو ځینې نور چرګان خو به د شپې په پای کې خامخا بانګونه وکړي او لمر به رابېداره شي.

کلیوال چې د دې په وهم خبر شول، ټوکې، مسخرې یې پسې شروع کړې. دا وقهرېده او له خپلو چرګانو سره بل کلي ته لاړه. د دې باور و چې د لمر نه راختل به کلیوال مجبور کړي چې دې ته په عذر ورشي او بېرته به یې کلي ته وغواړي خو هغوی رانغلل او دې له ځان سره وویل: له شرمه نه راځي!

یوه حکیم چې دا کیسه کوله، ناستو کسانو ته یې وویل: بې تا، بې ما، بې احمده او بې محموده هم د دنیا چارې روانې دي، خو زموږ زه ولي او انانیت دومره زورور وي چې د دنیا پېښې د ځان په وجه ګڼو او ځان په خیال کې غټوو.

## ژوند او مرګ

یو پاچا چې بوډا و، د مرګ په اړه د مشورې لپاره د ذن طریقې مرشد ته راغی. له مرګه خو هر څوک، که شاه وي که ګدا، وېرېږي، البته د شاه وېره ورنه لا زیاته وي، ځکه ډېر څه ورنه وړي. پاچا له مرشده پوښتنه وکړه: د مرګ په اړه راته څه وواییه؟

مرشد وویل: زه به پکې څه وایم؟

پاچا وویل: ته د طریقت د لارې سړی یې، خامخا یو څه راته ویلای شې.

مرشد وویل: د طریقت د لارې سړی یم، خو مړ نه یم، ژوندی یم. همدا اوس چې ژوندی یې، ژوند وکړه، ژوند وپېژنه. کنه له مرګه وروسته به پوښتې چې: ژوند څه دی؟ هر ژوندی چې د مرګ پوښتنې کوي، پوه دې شي چې د ژوند فرصت یې له لاسه ورکړی دی.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# امير او ملا نصرالدين

امير يوه ورځ ملا نصرالدين ته وويل چې زما د دربار د ټولو احمقانو ليست برابر کړه.

ملا له ځان سره وويل: «په دغه ليست کې خو له وزيره رانيولې تر وړکيو درباريانو پورې ټول راځي او دوی چې د امير مخې ته خپل نومونه وويني، په ظاهره به په کټ کټ وخاندي مګر زړونه به يې اور واخلي او راسره سمه دښمني به يې شي، يه، راځه بل چل کړه، په ليست کې يوازې د يوه کس نوم وليکه.»

په سبا چې ملا دربار ته ورغی، سرپوښلی پاکټ يې امير ته ورکړ. په پاکټ ليکلي وو: د دربار د احمقانو ليست. امير پاکټ په خوشالی پرانيست خو هلته يې يوازې يو نوم وليد او هغه د امير خپل نوم و.

امير ملا ته په قهر وويل: دا څه دي؟

ملا ځواب ورکړ: صاحب د دربار د احماقو ليست دی!

امير وويل: نو احمق زه يم!

ملا وويل: هو صاحب تاسې ياست. تاسې چې د دربار د احمقانو ليست غواړئ نو دا خو هغه کسان دي چې تاسې مخه ورکړې ده، تاسې يې نازوئ، تاسې ډوډۍ ورکوئ او غټې غټې تنخواه ګانې مو ورته ټاکلي دي، ايا تر دې لوی حماقت شته چې يو څوک احمقان په ځان راټول کړي؟

امير وويل: او که زه دا ثابته کړم چې ټول درباريان ښه خلک دي، ښه پوه کسان دي، بيا؟

ملا وويل: صاحب بيا به هم په ليست کې ستاسې نوم وي، ځکه ولې مو له ما وغوښتل چې دومره ښه او پوه کسان د احمقانو په ليست کې شامل کړم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

امير چي غږ يي له قهره پوړېده، وويل: او که دا ثابته کړم چې زما په دربار کې صرف يو احمق دی او هغه ته يې، بيا؟

ملا وويل: صاحب بيا به هم ستا نوم په ليست کې پاتې شي، ځکه احمق سړي ته د احمقانو د معلومولو کار سپارل هوښياري نه ده.

امير لکه چيغې چې وهي، په لوړ اواز وويل: که اوس جلاد راوغواړم چې ستا بې حيا ژبه له بېخه غوڅه کړي، بيا به څه کوې؟

ملا وويل: بيا به ستاسې نوم پاک کړم او په ځای به يې خپل نوم وليکم چې بل څوک درته د حقيقت ويلو جرأت ونکړي.

## تشه بېړۍ

راهب وغوښتل چې له صومعې بهر چېرته يوازې مراقبه وکړي. يوه وړه بېړۍ يې پيدا کړه، په هغې کې د جهيل ګوټې منځ ته لاړ، لېمې يې پټې کړې او په مراقبه بوخت شو.

له څو ساعتونو مراقبې وروسته يې احساس کړه لکه بل څوک چې هم د ده لور ته بېړۍ راولي. سترګې يې لا پټې نيولې وې چې قهر يې پر ذهن يرغل راوړ. سترګې يې پرانيستلې چې بېړۍ والا ته ووايي چې ولې مې مراقبې ته په کراره نه پرېږدې! خو بل څه يې وليدل. د ساحل د غاړې يوه ناتړل شوې بېړۍ د نري باد څپو دې لور ته راخوځولې وه. دغه وخت د راهب ذهن ته يوه ناڅاپي رڼا راغله، پوه شو چې قهر له بهره نه راځي، بلکې په ده کې دی چې د سر هسکولو لپاره مازې يوه بهرنۍ پلمه غواړي.

له دې پېښې وروسته که به هر وخت په څه خبره وقهريده، ده ته به ورياد شول چې قهر د ده د ذهن پيداوار دی او د بل چا برخه پکې يوازې د هغې تشې بېړۍ ده.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# دوې ډلې

کلونه پخوا په ویسکانسین پوهنتون کې د تکړه نارینه وو یوه ډله وه چې ادبي استعداد یې کمساری و او له ادبي مهارتونو یې د حیرانوونکې استفادې وړتیا لرله. دغو مستعدو ځوانانو به د یو بل د ادبي آثارو د لوستلو او نقدولو منظمې غونډې جوړولې.

دوی په نقد کې د یو بل لحاظ نه کاوه، ان ډېر کوچني جزییات یې شنل او پر یو بل یې بې رحمانه نیوکې کولې. د هغوی غونډې د ادبي کره کتنې په مهمې منځی بدلې شوې. دوی په خپله ډله د (زندی کوونکو) نوم ایښی و.

په ویسکانسین پوهنتون کې له ادبیاتو سره علاقمندو نجونو هم د خپلو ادبي مهارتونو د زیاتولو امکان وموند. دوی د زندی کوونکو په څېر د کره کتنې یو بهیر پیل کړ چې د (روزونکو) نوم یې ورته خوښ کړ. دوی به هم خپلې لیکنې په خپل منځ کې نقد ته وړاندې کولې، خو د دوی نقدونه به یو څه مثبت، نرم او هڅوونکي وو. د غړیو په کمزورو لیکنو کې مثبت اړخونه یې بې ستاینې نه پرېښودل.

شل کاله وروسته د پوهنتون یو فارغ التحصیل چې په عملي ژوند او کار کې یې د خپلو همدوره کسانو پرمختګونه څېړل، د زندی کوونکو او روزونکو په ادبي بریاوو کې لوی توپیر ته متوجه شو. د زندی کوونکو د غونډو یو کس هم لویه ادبي بریا نلرله خو د روزونکو ډلې شپږ کسه تکړه لیکوالې او په ملي کچه مشهورې ادبي څېرې روزلې وې.

د دوی په استعداد او پوهنتوني زده کړو کې توپیر نه و خو زندی کوونکو یو بل زندی کول، حال دا چې روزنکو یو بل هڅول. د زندی کوونکو چلند داسې و چې یو بل ته یې د رقیب په سترګه کتل او هغو نورو ځانونه د یو بل ملاتړي احساسول.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# شاعر او خلیفه

هارون الرشید د خوشالۍ لوی محفل جوړ کړی و. محفل د سلطنتي ماڼۍ په یوه خورا پرتمین سالون کې و. مشالونه بل وو او د هغو رڼا چې د چت او دېوالونو پر جواهرو پرېوته، سترګې بربښولې. د سالون د منځ مېز په رنګارنګ، نادرو بوټو او ګلونو ښکللی و.

محفل ته د بغداد او مفتوحه ملکونو په مقاماتو سربېره حکیمان، شاعران او موسیقي پوهان هم رابلل شوي وو.

د جشن په منځ کې خلیفه هارون الرشید شاعر ابوالعتاهیه ته وویل چې: «اې د شاعرانو امیره، خپل هنر مه سپموه، دا د برم او خوشالۍ محفل د شعر په ژبه وستایه.»

شاعر پاڅېد، ویې ویل: «اې خلیفه، ژوندی اوسې او د خپلې ماڼۍ له لوړو ونو خوند واخلې.»

خلیفه وویل: «احسن، ښه پیل، نور.»

شاعر سر د درناوي لپاره ټیټ کړ او ادامه یې ورکړه: «هر سهار دې نوې خوشالي درته راوړي او هر ماښام دې ټولې هیلې سر ته رسېدلې وي.»

خلیفه بیا هم «احسن» او «شاباس» او «نور وایه» وویل.

او شاعر بیا هم د منني او درناوي لپاره سر ټیټ کړ، ادامه یې ورکړه:

«خو کله چې د مرګ ساعت رارسېږي، ای خلیفه، هاله به، افسوس چې پوه شې چې ستا ټول خوندونه او لذتونه بس یو سیوری و، سیوری»

د خلیفه لېمې له اوښکو ډکې شوې. احساسات یې کنټرول نه کړای شول. مخ یې پټ کړ، ویې ژړل.

دغه وخت یو مقام چې د شاعر څنګ ته ناست و، شاعر ته وویل: «

بس کړه، خلیفه غوښتل چې په خوشالوونکو خبرو یې خوشالي ورزیاته کړې خو تا غمجن کړ.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خلیفه وویل: «شاعر له خپلو خبرو مه منع کوه. دی مې وینې چې سترګې مې پټې دي، دی یې راپرانېزي.»
هارون الرشید د بغداد تر ټولو لوی خلیفه و. د (یو زر او یوه شپه) کتاب د هغه په باره کې ګڼې کیسې خوندي کړې دي.
ابولعتاهیه ملنګ خویه او انتقادي شاعر و. دی که څه هم یو څل د خپلو نیوکو په وجه بندي شو ،مګر هارون الرشید نازاوه او مالي مرسته یې ورسره کوله.

## خوندیتوب

یو څوک په امریکا کې د خپلوانو کره لاړ. د هغوی ماشوم زوی له خپل سپي سره ډېر محبت کاوه. مېلمه ورته په ټوکه وویل: دی لکه چې تر ورور هم دربانډې ګران دی؟ ماشوم وویل: هو، تر ورور او مور و پلار راباندې ګران دی، څکه دوی مې سپکوي او سپی څه نه راته وایي.
ماشوم ته، چې تازه په مکتب کې شامل شوی و، مېلمه دا هم وویل: تر ټولګیوالو هم دربانډې ګران دی؟ ده وویل:هو، هغوی راته چاغ وایې، چاغومبی مې بولي، خو دی زما په چاغښت کار نلري.

## مرغی

پلار به هر سهار له کړکۍ بهر کتل.
یوه ورځ یې لور ورته وویل: بابا، ولې هر سهار دومره ډېر د باندې ګورې؟
پلار یې وویل: زما مرغۍ خوښېږي چې د تلفون په تارونو ناستې وي، سندرې وایي او بیا یو ځای سره الوځي.
لور یې بله پوښتنه وکړه: د مرغانو دې نور څه خوښېږي؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

پلار ځواب ورکړ: زما په نظر په دنيا کې تر بل هر مخلوق خوشاله موجودات مرغی دي. مرغی د تلفون په تارونو ناستې وي او تر پښو لاندې يې په تارونو کې د انسانانو ډېرې ترخې او خوږې خبرې تېرېږي، راتېرېږي، خو د انسانانو د رخو، کينو او اندېښنو خيرې د مرغيو په زړونو باندې نه نښلي. ما ته داسې ښکاري چې که د دوی زړونه سپک نه وای، دا الوتل به ورته دومره اسانه نه وو.

## پياوړی

يو بوډا به هر سهار يوه دوکان ته ورته، ورځپاڼه به يې رانيوله. دوکاندار له مشتريانو سره ښه چلند نه کاوه. د بوډا ملګري ورته وويل: د دې سړي رويه خو مناسبه نه ده، ولې له بل ځا اخبار نه رانيسې؟ بوډا وويل: زه چې هر سهار د ده له دوکانه ارام راوځم او د ده د بد چلند اغېز راباندې نه وينم، په دې مې يقين شي چې لا تر اوسه پياوړی يم او زړېودن نه يم ژوبل کړی.

## توپير

ماشومه او پلار يې له پله تېرېدل. د پلار يې لور ته سودا وه چې سيند ته خطا نشي.
هغې ته يې وويل: زما لاس ونيسه چې ونه لوېږې.
ماشومې وويل: نه بابا، ته زما لاس ونيسه.
پلار يې ورته وويل: دواړه يوه خبره ده.
نجلۍ وويل: فرق پکې شته. زه چې ستا لاس ونيسم، که څه راپېښ شي، مثلا پښه مې وښوييږي، نو ممکن ستا لاس رانه خطا شي خو چې تا زما لاس نيولی وي، که هره پېښه کيږي، ته مې نه پرېږدې چې اوبو ته ولوېږم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# سویان

سویان په طبیعي ډول ډارن دي او زړونه یې په مازې پلمه رېږدي. یوه ورځ ګڼ سویان سره راټول شول چې په خپله بده ورځ وژاړي او د خپلې ذاتي وېرې او کمزورې درد له یو بل سره شریک کړي.

سویانو چې څومره د ژوند ناخوالې یادولې او څومره یې د خطرونو او بدمرغیو کیسې کولې، هغومره یې خپګان زیاتېده. دوی سره وویل چې نه مو د هوسۍ غوندې چټکې پښې په نصیب شوي، نه د پیشوغوندې تېرې منګولې او نه د مرغانو غوندې وزرونه. سویانو دا هم وویل چې غټوغوږونو مو یوازې وېره ډېره کړې ده، که یو څوک یو کروه لرې روان وي، موږ یې دلته ښکالو اورو او خوب نه شو کولای. ټول وخت مو په دې تېر شي چې کله یوې خوا ته مخ واړوو، کله بلې خوا ته چې حمله راباندې ونشي. سترګې مو داسې دي چې که په وښو کې هم پټ یوو، له لرې یې هر چا ته ځلا ورښکاري.

دوی بالاخره دې نتیجې ته ورسېدل چې ژوند بې معنا دی او خودکشي یې په خیر ده. نو په شریکه یې د کمر خوا ته منډه کړه چې لاندې ډنډ ته ځان واچوي، خودکشي وکړي. دغه شېبه یو شمېر چونګښان چې د اوبو په غاړه ناست وو او د دوی د پښو اواز یې واورېده، ووېرېدل، د ډنډ منځ ته یې ټوپ کړل، وتښتېدل.

دغسې پېښه سویان د ډنډ په غاړه همېشه ویني خو نن ناڅاپه په لومړي ځل د یوه سوی ورپام شول او په لوړ اواز یې وویل: «دومره نهیلي پکار نه ده، تر موږ ډارن ژوي هم شته.» او دې شي د سویانو روحیه په حیرانوونکې ډول پیاوړې کړه، انتحار یې هېر کړ، خوشاله شول او په مستۍ د خپلو کورونو خوا ته روان شول.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# یوه ډکه کراچۍ بادام

یو خرلمی (سنجاب) د ځنګل د پاچا (زمري) خدمتګار شو. ده به هر کار چټک او په ښه ډول تر سره کاوه. د زمري ورسره دلچسپي پیدا شوه او ژبه یې ورسره وکړه چې د تقاعد په بدل کې به ډکه کراچۍ بادام ورکوي.

د خرلمي به رخه راغله چې نور خرلمي په ځنګل کې ازاد ګرځي، منډې وهي، له یوې ونې بلې ته په خپله خوښه ټوپونه وهي او په خپلو اوردو، ببرو، پستو لکیو فخر کوي. ارمان به یې وکړ چې کاشکې دی هم نوکر نه وای، ازاد وای!

خو د پاچا له څنګه جداکېدل سخته وو، سخته څه چې ممکن نه وو او که ممکن هم وای، په ځنګل کې مست و بې پروا ګرځېدل به ورته مشکل وو، دی به مجبور و چې د دربار د یوه پخواني مقام په توګه، ورو ګامونه واخلي.

خرلمي ته به ډېرې اندېښنې پیدا شوې خو په اخر کې به یې د زړه تسلي په دې وشوه چې د تقاعد په وخت کې به پاچا ډکه کراچۍ بادام ورکړي او بادام داسې خواږه دي چې اکثره خرلمیو ته ان یوه دانه په ټول عمر کې نه رسېږي. ده به له ځان سره وویل: دوی به هغه وخت بیا زما د ژوند ارمان کوي.

کلونه تېر شول. خرلمی بوډا شو او د تقاعد وخت یې راورسېد. پاچا په دې ویاړ شانداره محفل جوړ کړ او لکه څنګه چې یې ژمنه کړې وه د اوږدو کلونو خدمت په بدل کې یې ډکه کراچۍ بادام ورکړل.

خرلمی که څه هم په مودو، مودو د دې ورځې په انتظار و خو اوس چې یې بادام ولیدل، غم او خپګان یې احساس کړ. د ده پام شول چې په دې عمر د ده بادام نه پکارېږي. د ده په خوله کې غاښونه پاتې نه وو.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## پلار، زوی او نیکه

وېلان ترکانړ له خپل بوډا پلار سره ښه رویه نه کوله. لکه پلار چې یې نه وي او یو سوالګر وي. ده به څان ته په چیني کاسه کې ښورا خوړله خو پلار ته یې خاورین لوښی اخیستی و. یوه ورځ چې د پلار له لاسه خاورین لوښی ولوېده، مات شو او ښوروا په کوټه کې تویه شوه، ویلان په قهر ورته وویل: «سړی پام کوي، کوچنی خو نه یې.»

د وېلان ترکانړ زوی، موتو، به د خپل نیکه درناوی کاوه او له نیکه سره یې د پلار چلند نه خوښاوه خو له وېرې یې څه نه ویل. د خاورین لوښي د ماتېدو په ورځ د وېلان د چلند په وجه موتو ته ډېر درد ورغی، پاڅېد او د یوې لرګینې کاسې په جوړولو بوخت شو.

وېلان ترکانړ ورته وویل: څه کوې زویه؟

موتو ورته وویل: یوه کاسه جوړوم. چې بوډا شې او لاس دې رېږدي نو لرګینه کاسه که دې له لاسه وهم لوېږي، نه به ماتېږي او زه به نه غوسه کېږم. وېلان ترکانړ د زوی د دې خبرې له اورېدو وروسته له خپل پلار سره سلوک بدل کړ.

## د مرګ د مخنیوي علم

په ښار کې اوازه شوه چې یو سړی راغلی، وایي، د مرګ د مخنیوي علم راسره شته. سړی مسافر و، ډېر وخت یې نه تېراوه. پاچا یو ځوان درباري ورواستاوه چې مسافر که هر څومره تنخواه غواړي، ور به یې کړو، خو دا علم ورنه ژر تر ژره زده کړه. مسافر قانع شو. البته ویې ویل چې دا اسانه علم نه دی.

علم که اسانه و که ګرانه، د دربار سړي ته یې د زده کړې امر شوی و، ګونډه یې ورته ووهله. څه موده پس مسافر مړ شو او پاچا هغه د دربار وراستولی سړی له ډېره قهره اعدام کړ، څکه علم یې لا نه و زده کړی.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

**ځنګل** (څلور سوه حکایتونه)
د ښار خلکو به پټ په خپلو کورونو کې ویل چې پاچا کم عقل دی، دې ته یې هم ونه کتل چې له دغه مسافر سره که د مرګ د مخنیوي علم وای نو د خپل مرګ مخه یې ولې نه نیوله.

## پتنګان

په تېرو زمانو کې چې هلکان به ښوونځیو ته تلل او نجونې به د کور د کارونو لپاره په کورونو کې ناستې وې، یوې چینۍ نجلۍ، ژو، د ښوونځي د تلو ارزو لرله.
د دوی کورنۍ شتمنه او ژو نازولې وه خو پلار یې نه شوای کولی چې د جاهلانه دودونو مخالفت وکړي. ژو چې پلار ته ډېره ټینګه شوه، هغه ورته وویل: که په ښوونځي کې شامله شې، زه دې مخه نه نیسم، مګر ډاډه یم چې هېڅ ښوونځی نجونې نه شاملوي.
ژو یوه لرې ښار ته د ترور کره لاړه، ویښته یې لنډ کړل، جامې یې د هلکانو کړې او د هلک په نوم په ښوونځي کې شامله شوه.
دې به هر سهار د نارینه وو جامې اغوستلې او ښوونځي ته تله.
له ژو سره په ټولګي کې د لیانګ په نوم یو هلک و. دوی سره وپېژندل او ورو ورو ملګري شول. د میاشتو او کلونو په تېرېدو سره ژو او لیانګ متوجه شول چې په یو بل یې زړه بایللی دی.
دې غوښتل د عمر تر پایه له لیانګ سره واوسي. یوه ورځ یې لیانګ ته وویل: د ښوونځي له ختمېدو وروسته چې کار ومومې، زموږ کور ته راشه، له پلاره زما خور وغواړه.
لیانګ یې وړاندیز په خوشالۍ ومانه، ځکه نه یې غوښتل چې له ژو سره یې لیده کاته بس شي. نو که د ژو له خور سره واده وکړي، د ژو د لیدلو په مخ کې به خنډ ورته نه جوړېږي.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

د ښوونځي له ختمېدو وروسته لیانګ په لنډ وخت کې کار وموند او چې د واده پیسې یې ټولې کړې، د ژو کور ته ورغی او هغه یې د نجونو په جامو کې ولیدله. ژو یې په راتلو خوشاله شوه. د دوی د وروستي ځل لیدو کال پوره کېده او دا ورپېښې ډېره خپه شوې وه. ژو چې ځان نه شوای کنټرولولی، چیغه کړه: راباندې ګران یې، زه نجلۍ یم، دا دې ویني مې. بې له تا ژوند نه شم کولای!

ژو دې خپل پلار ته بوت. هغه د لیانګ خبرې واورېدې خو چې د ژو د غوښتلو یې ورته وویل، توضیح یې ورکړه: ما یوه شتمن سوداګر ته د هغې د ورکړې ژمنه کړې ده. که لیانګ هر څه زاری کولې ګټه یې نه وه.

لیانګ په مات زړه ستون شو. ده بورېنوونکې تنهایي احساسوله. دغه فکر چې نور به ژو هېڅوخت نه ویني، اور ورباندې بلاوه. خپل کور ته لا نه و رسېدلی چې په لاره کې بېهوشه شو او ومړ.

ژو چې د لیانګ له مړینې خبره شوه، له ژوند سره یې دلچسپي ختمه شوه. دې په ظاهره ومنله چې له هغه چا سره واده ته تیاره ده چې پلار یې ورته په نظر کې نیولی دی خو شرط یې کېښود چې ورا به د لیانګ د قبر په خوا کې تېرېږي.

کله چې د واده کاروان هدیرې ته نژدې شو، یو سخت باد راوالوت او رڼا ورځ توره شپه شوه. ژو له ګاډۍ لاندې ټوپ کړل، د لیانګ د قبر خوا ته لاړه، ژړل یې او د هغه په قبر پرېوته. دغه وخت په اسمان کې ناڅاپه تالنده او برېښنا شوه او د لیانګ په قبر باندې ټکه پرېوته، قبر سورې شو، ژو یې منځ ته ورټوپ کړل. سیلۍ ودرېده.

کله چې د ژو خپلوان قبر ته راغلل، هلته یې یوازې یو تش تابوت ولید چې وروسته بیا دوه پتنګان ورنه راووتل. پتنګان له یوه بله تاوېدل او الوتل. راغلیو کسانو لاندې قبر ته حیران، حیران کتل او دوه پتنګان په هوا کې نڅېدل او ورو ورو له سترګو نهامېدل.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## ته له ملګرو پېژندل کېږې

قاضي د بزګر په کرونده روږدې شوې وې. غلې، دانې يې خوړلې. بزګر ورته لومه کېښوده. د دوی په منځ کې يو ډينګ هم و. کله چې ايسار شول، ډينګ وويل: زه بې ازاره مرغه يم، هېڅکله غلط کار نه کوم، دلته زه هسې نيول شوی يم، ما خوشې کړه!

بزګر ورته وويل: ته به رښتيا وايې خو ما له غلو سره يو ځای ونيولې نو له دوی سره بايد پاتې شې.

## دوه زړې

په يوه لوکس کور کې يو لټ ځوان اوسېده. هغه به غرمه له خوبه راويښېده، ډوډۍ به يې خوړله او له ډوډۍ وروسته به يې بيا ځان د خوب کټ ته رساوه. ده د پالي په نوم يو طوطي درلود. پالي به لټ ځوان ته حيران حيران کتل. يوه ورځ يې چې خپلې وزرې پاکولې، لټ ځوان ته وويل: «له ډېر استراحته ستومانه نه يې؟ نيمه ورځ تېره ده او خلکو نيم کارونه ختم کړي دي خو ته لا پروت يې. دومره لټي ولې؟»

لټ ځوان چې اررمي ايستل، وويل: «هر سهار چې راويښ شم، دوه دوستان مې په غوږونو کې بونېږي. يو دوست مې زيار دی او بل لټي. زيار وايي: راپاڅه، نن دې ډېر کارونه په مخ کې دي، وخت تېرېږي، په څملاستلو يې مه ضايع کوه. خو لټي وايي: ولې بيړه کوې؟ يو څه نور خوب هم وکړه. نور که ډېر زحمت باسي، خپل کار يې دی، ستا يې ورباندې څه؟»

لټ ځوان زياته کړه: «زه د دواړو خبرې تکي په تکي اورم او په دې ډول وخت راباندې واوړي، غرمه شي، مازديګر شي، ماښام شي.»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## اغېز

د يوه نواب آس چې په ده ډېر ګران و او د مناهې په سياليو کې يې سارى نه و، ناڅاپه په يوه پښه ګوډ غوندې شو، نګوښېده به.

د حيواناتو طبيبانو چې وکوت، هېڅ عيب يې پکې ونه ليد، نه يې هډوکي مات و، نه يې پښه بې ځايه شوې وه، نه يې غوښه ځېږې وه، هېڅ مشکل يې نه و.

نواب د آس د نګوښېدو ستونزه له يوه حکيم سره شريکه کړه او ورته ويې ويل چې طبيبانو پکې هېڅ عيب نه دى پيدا کړى.

حکيم پوښتنه وکړه: په تېرو څو مياشتو کې د آس په ژوند کې څه تغيير راغلى دى؟

نواب وويل: څو اونۍ مخکې مې د هغه خدمتګار بدل کړ، نور هېڅ تغيير نه دى راغلى.

حکيم وپوښتل: آس له نوي خدمتګار سره خوشاله دى؟

نواب وويل: بېخي زيات. د خدمتګار په ليدو له خوشالۍ شنېږي، ټوپکې وهي، لکۍ خوځوي.

حکيم پوښتنه وکړه: خدمتګار خو به نه نګوښي؟

نواب وويل: لږ، لږ نګوښي.

حکيم وويل: علت معلوم شو. خدمتګار يې بدل کړه. هر څوک له بله اثر اخلي او له هغه چا خو زيات اثر اخلو چې خوښ مو وي.

## د حاصل د ټولولو وخت

مانيايا بزګر به له سهاره ترماښامه په خپله کرونده کې بوخت و. د ده په کرونده کې يوې مرغۍ ځاله کړې وه. هغې دوه بچي لرل. مور او بچيو خوشاله ژوند درلود.

مياشتې تېرې شوې او د حاصل وخت نژدې شو.

بچيو يې وويل: مورې، نور به نو دا ځاى پرېږدو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

مور یې ورته وویل: نه بچیو، اوس لا وخت شته، بزګر تیار نه دی.
دوی یوه ورځ واورېدل چې بزګر ویل: ګاونډي به رابولم چې د حاصلاتو په ټولولو کې مرسته راسره وکړي.
د مرغۍ بچیو وویل: نن شپه به الوځو، ځان به باسو.
مور یې وویل: وخت لا شته. دا کار نه کېږي.
د مور خبره ربښتیا شوه، ګاونډي یې را نه غلل.
دوه درې ورځې وروسته دوی بیا د بزګر خبرې واورېدې چې ویل یې، خپلوان به رابولم چې حاصل ټول شي.
بچیو بیا د تللو خبره وکړه خو مور یې وویل: اندېښنه مه لرئ، اوس لا وخت شته.
د مور خبره دا ځل هم ربښتیا شوه.
او بالاخره یوه ورځ بزګر وویل: سبا به راځم، حاصل به ټولوم.
مور چې دا خبره واورېده، بچیو ته یې وویل: له کرونډې د تللو وخت رارسېدلی دی.

## لومړی اصل

د جاپان د کیوتو ښار د اوباکو معبد په دروازه باندې لیکلي دي: (لومړی اصل). د دغه عبارت توري په غیرعادي ډول غټ دي او چا چې د خط هنر خوښېږي، د خوشنویسي یو شهکار یې ګڼي. دغه توري څه باندې دوه پېړۍ پخوا کاسن کښلي وو.
استاد کاسن دغه توري اول په کاغذ وایستل، د کاغذ د لیک په اساس لویه طرحه جوړه شوه او بیا دا لویه طرحه په لرګي کې وکینستل شوه.
د دغو توریو د خطاطي په وخت د استاد څنګ ته یو زړه ور شاګرد ناست و چې رنګ یې تیار کړی و او تل به یې د استاد په کار باندې نیوکه کوله: «دا ښه نه دی، دا هم ښه نه ښکاري، یو څه بل ډول معلومېږي...»



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد له ډېرې خوارۍ وروسته شاګرد ته وويل: «دا درته څنګه ښکاري؟»

شاګرد وويل: «مزه يې نشته، تر هغو مخکينو بېلګو هم بې مزې دی.»

کاسن په صبر او حوصله پانې تورولې او څلور اتيا ځله يې (لومړی اصل) وليکه، خو د شاګرد رضايت يې تر لاسه نه کړ.

وروسته بيا شاګرد د څو شېبو په مخه بهر ووت او کاسن ته په زړه کې ورتېره شوه: «اوس د ده له تيزبينو سترګو د پټېدلو فرصت لرم.» ده په ارام او ازاد ذهن چټک وليکل:(لومړی اصل) اوشاګرد وويل: «شهکار دی.»

## اختيار

چې په هوښ راغی، سمندر ارام و. ده ورباندې چيغه کړه: ډېر چلباز يې، خلک په خپل سکون او قرار حالت تېرباسې، در ويې بولې خو چې منځ ته درشي، غضب ورباندې راولې.

سمندر د يوې ښځې په بڼه ظاهر شو، خپله ننګه يې وکړه: ما مه ملامتوه، دا باد دی چې څپې جوړوي او ما په هيولا بدلوي.

يوه حکيم چې دا کيسه کوله، وويل: له هغه چا ځان ساتئ چې اختيار يې په خپل لاس کې نه دی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# د سعادت راز

ملا نصرالدین ته چا وویل چې د نېکمرغي راز په څه کې دی؟

ملا ورته وویل: په ښه قضاوت کې.

هغه وویل: ښه قضاوت به څنګه کوو؟

ملا وویل: د تجربې له لارې.

هغه وویل: تجربه به څنګه پیدا کوو؟

ملا ورته وویل: د بدو قضاوتونو له لارې.

# منې

په یوه بیابان کې منې ډېرې کمې وې. طبیبانو به ویل چې روغتیا ته ډېره ګټه لري. شتمنو زیاتې خوړلې او بېوزلو ته په ټول عمر کې نه رسېدلې. یو بزرګ راغی، ویې ویل: هېڅوک دې د ورځې تر یوې منې ډېره نه خوري.

وروسته بیا ځینو تکړه ځوانانو بیابان ته اوبه راوستې او د منو باغونه یې کېښودل. منې زیاتې شوې خو د ټولنې مشرانو او منلیو کسانو به د بزرګ د خولې خبره کوله، ویل به یې که څوک د ورځې تر یوې زیاته منه خوري، ګناه او تېری کوي. ځینو ځوانانو ته د مشرانو او منلیو کسانو خبره سمه نه ښکارېده، منې یې تر یوې ډېرې خوړې او ګناه یې نه احساسوله خو ځینو نورو به د ډېرو منو د خوړلو په وجه ځانونه ملامت او ګناه ګار احساسول.

د ټولنې مشرانو د هغو ځوانانو د نیولو لپاره ځانګړي کسان وګمارل چې منې یې ډېرې خوړلې. هغوی ته چې د ګناه احساس یې هم نه کاوه، تر هغو نورو درنه سزا ورکول کېدله. د باغونو اکثره منې ورستېدلې او ځینو ښوالو خپل باغونه پرېښودل، د ګنیو ځوانانو غوندې نورو وطنونو ته وتښېدل.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## لولو

د روحي ناروغیو د مرکز لیدلو ته ورغلي سړي یو ناروغ ولید چې په چوکۍ وروسته وړاندې کېږي او په مزه، مزه وایي: لولو، لولو!
لیدونکي له ډاکتره پوښتنه وکړه: د دغه ځوان مشکل څه دی چې لولو، لولو وایي؟
ډاکتر ورته وویل: لولو هغه ښځه وه چې دی یې پرېښود.
لږ وړاندې په یوه بله کوټه کې بل ناروغ سر په دېوال واهه او په ژړاند غږ یې ویل: لولو، لولو....
لیدونکي وویل: لولو د ده ستونزه هم ده؟
ډاکتر وویل: هو، دی هماغه ځوک دی چې وروسته بیا لولو ورسره واده وکړ.

## معنویت

دومره معنویت به څنګه پیدا کوم چې د خپل ګاونډي په اړه قضاوت ونکړم، په هغه تبصرې ونکړم او په هغه کار ونلرم؟
مرشد ورته وویل: د معنویت د لرلو لپاره دعا وکړه.
ده وویل: دعاوې مې ډېرې کړې دي خو دا راته ووایه چې زما دعاوې به څه وخت منل کېږي؟
مرشد ورته وویل: چې کله په دې پوه شې چې که څوک ګناه کوي، هغه نیوهېږي او هغه د عفوې مستحق دی، نه د کرکې.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

# پوهېدل او عملي کول

له یوه لوی عارفه پوښتنه وشوه:عاقل څوک دی؟
ده ځواب ورکړ: څوک چې همېشه له نورو یو څه د زده کړې لپاره پیدا کوي.
پوښتنه ورنه وشوه: پیاوړی څوک دی؟
ده ځواب ورکړ: چې د ځان د فتح کولو قوت ورسره وي.
پوښتنه وشوه: شتمن څوک دی؟
ده ځواب ورکړ: څوک چې ورسره موجود ثروت پېژني، یعنې د ژوند ورځې شپې. ځکه دی که په خپل چاپېریال کې څه تغییر راولي، د ورځو شپو په مټ یې راوستلی شي.
پوښتنه ورنه وشوه: څوک د درناوي مستحق دي؟
ده ځواب ورکړ: څوک چې ځان او د شاوخوا خلکو ته درناوي کوي.
یوه سړي ورته وویل:
په دې خبرو خو هر څوک پوهېږي.
ده وویل: په حقیقت پوهېدل اسانه وي خو عمل ورباندې سخته شي.

## لومړنی سبق

یوه لوی سوداګر وویل چې د شنبې په ورځ په پلاني سالون کې په تجارت او کاروبار کې د بري د رازونو په اړه خپلې تجربې شریکوي.
د شنبې په ورځ سالون له خلکو ډک شو، ځکه دی په زلمیتوب کې بېوزلی و او وروورو یې په کاروبار کې لویه شتمني پیدا کړې وه، نو هر چا غوښتل چې خبرې یې واوري.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

خلک کابو دوه ساعتونه په سالون کې منتظر ناست وو خو د سوداګر درک ونه لګېد. د ده د شرکت یوه کارکوونکي وویل چې هغه به وروسته راشي، نور انتظار هم وکړئ.

چې شل، پنځه ویشت دقیقې نورې تېرې شوې او سوداګر رانغی، له سالونه د خلکو وتل پیل شول. په راتلونکو دوو ساعتونو کې یوازې لس کسه پاتې وو چې سوداګر راغی او ویې ویل: «زما دومره په ځنډ راتګ د هغې تجربې یوه مهمه برخه وګڼئ چې غواړم نن یې درسره شریکه کړم.» وروسته بیا ده په تجارت او کاروبار کې د برې د رازونو په اړه خپله اصلي وینا پیل کړه. د ده لومړی جمله دا وه: «هر څوک چې د اوږدې لارې مزل ته زړه ښه کوي، دا باید زده کړي چې په لومړنیو نهیلیو لاسبری د ده لپاره ډېر لوی او اساسي کار دی.»

## سین او سپوږمی

ماخوستن و. یو ځوان چې نشه کړې وه او رېږدېده، په سین باندې له پله د تېرېدو په وخت له ملګري سره مخامخ شو. دوی څو شېبې هلته ودرېدل. ځوان چې لاندې وکتل، ملګري ته یې وویل: دا څه دي؟
ملګري یې ورته وویل: سپوږمی ده.
ځوان وویل: عجبه ده، ډېر پاس نه یوو راغلي؟


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## هوښيار نوکر

نوکر خپل بادار ته وويل: صاحب که مړ شم، څه به راسره کوې!
بادار يې ورته وويل: نور به څه کوم خو کفن به درته اخلم!
نوکر وويل: د هغه کفن په ځای اوس جامې راته جوړې کړه، بيا مې بې کفنه خښ کړه!
بادار ته يې خبره ښه ښکاره شوه. نوکر يې په جامو پټ او خوشاله کړ.

## شاعر او عاشق

شاعر لاندې پيالې ته کتل.
عاشق چې هلته تېرېده، ورته ويې ويل: څه کوې؟
شاعر وويل: پياله مې له اوبو ډکه کړې ده، د سپوږمۍ ننداره پکې کوم.
عاشق ورته وويل: غاړه خو دې نه ده ماته، پاس وګوره!

## زندان

د کاماکورا بودا په يوه ستر معبد کې ساتل کېده. يوه شپه سخت توپان راغی او د معبد چت يې والوزاوه. له هغه وروسته په مودو، مودو د کاماکورا ستره مجسمه باد، باران او د لمر شغلو ته پرته وه.
کله چې يو روحاني د معبد د بياجوړولو لپاره د چندو ټولولو تابيا وکړه، لويه مجسمه د هغه خوب ته ورغله، ويې ويل: هغه معبد راته زندان و، نه کور. ما همداسې يوازې پرېږدئ، خوشاله يم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## مړ بودا

يې کوره مسافر د ژمي په يوه سړه شپه کې د معبد ور وټکاوه، له باد، باران او يخنۍ يې پناه وغوښته. روحاني په نه زړه ورته وويل: «خير، دا يوه شپه راسره تېره کړه خو دا معبد دی، هوټل نه دی، سهار وختي به ځې.»

چې شپه نيمه شوه، روحاني څه خش، خش واورېد. له خپل ځايه چې د معبد په خوا کې و، معبد ته ورغی. ځای تود و. روحاني چې شاوخوا وکتل، يوه شو چې يو لرګين بودا نشته. مسافر ته يې وويل: «بوت چېرته دی؟» مسافر اور ته اشاره وکړه، بيا يې وويل: «يخ يخ و، ما ويل د ده يخني هسې نه ما ووژني.» روحاني چې وېرې يې اواز رېږدولی و، ورته وويل: «کفر وايې! لېونی شوی يې! هغه خو د بودا بوت و! تا بودا سوځولی دی!»

وروسته بيا روحاني د دې پېښې رپوټ مرشد ته ورکړ. مرشد ورته وويل: «تا يو مړ بودا تر ژوندي انسان غوره بللی دی، دا تېروتنه ده.»

## د جراح ازموينه

په ويانا کې د جراحي مشهور پروفيسر خپلو محصلانو ته وويل: يو جراح بايد دوې ځانګړنې ولري: يو د ورټ او کرکې نه کول او بل د مشاهدې دقت.

جراح له دې وروسته په مرداري کې ګوته ننويستله، ويې څټله او له محصلانو يې وغوښتل چې همداسې وکړي. محصلانو، چې په ذهني لحاظ چمتو وو، همداسې وکړل.

جراح په موسکا ورته وويل: تبريک درته وايم چې په اول امتحان کې کامياب شوئ خو له بده مرغه په دويم امتحان کې ټول ناکام ياست، ځکه ستاسې يوه هم پام نه شول چې په مرداري کې ننويستلې ګوته مې ونه څټله، هغه بله يوه وه.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## کلیسا او کشیش

دا د شلمې پېړۍ په لومړیو کلونو کې د اروپا د یوه بوډا کلیوال کیسه ده. دی به سهار وختي ویښېده او له پاڅېدو سره سم به یې ځان د کلي کلیسا ته رساوه چې هم یو څه عبادت وکړي، هم وړیا ورځپاڼه ولولي او بل یې کلیسا ته مخامخ د دوکان پرانیستلو ته پام وي چې تر نورو له مخه ورشي او د خپلې خوښې شیان پکې واخلي.

په کشیش باندې دا ښه نه لګېده چې دی هلته هر ګهیځ ورځپاڼه لولي. اخر یې زړه صبر نه شو، یوه ورځ یې په غوسه بوډا ته وویل: دا د ورځپاڼې د لوستلو ځای نه دی!

بوډا چې دغه وخت فوتي اعلانونه لوستل، کشیش ته وویل: دا دی وګوره، فوتي اعلانونه لولم.

دې خبرې کشیش سمدستي غلی کړ، لکه په غوسې چې یې سرې اوبه تویې شوې وي، په شا شا ولاړ او بخښنه یې وغوښته.

په کلیسا کې د مرګ د لوستلو اجازه شته خو د ژوند نه.

## له وسوسو سره په جګړه کې

شیطان چې ولیدل د حقیقت یو پلټونکی د مرشد کور ته ننوځي، د هغه د راستنولو لپاره یې هڅه پیل کړه. ده هغه ته د ثروت، قدرت، شهرت او شهوت په څېر ډول، ډول وسوسې ورپیدا کړې خو د حقیقت پلټونکی چې په معنوي چارو کې یې ډېر معلومات وو، هېڅ وسوسې ته تسلیم نه شو او د مرشد مجلس ته ورغی.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دی په کوټه کې دې شي يو څه حيران کړ چې مرشد په پسته چوکۍ او شاګردان لاندې په کلکه مځکه باندې ناست وو. په زړه کې ورتېره شوه: «تواضع د خدای د دوستانو لوی فضيلت دی خو دی يې لکه چې نه لري.»

وروسته يې بيا ځينې نورې خبرې په استاد کې وليدې چې خوښې يې نه شوې: يوه دا چې ده ته يې خاصه توجه ونکړه. «شايد په دې وجه چې زه د نورو غوندې ورته کوز و پاس نه شوم.»، د مرشد د لباس ډول هم خوند ورنکړ او بل يې د هغه د خبرو په انداز کې يو څه غرور وليد. دی بالاخره دې نتيجې ته ورسېد چې غلط ځای راغلی دی، حقيقت بايد بل چېرته ولټي.

کله چې له مجلسه ووت، مرشد شيطان ته، چې د کوټې په يوه کونج کې يې ليدلی و، ووېل: وسوسه اچونکيه، ته هسې اندېښمن وې، هغه له اوله لا ستا سړی و.

## زنداني

د نازيانو يو پخوانی بندي د خپل دوست ليدلو ته ورځي چې هغه هم يو وخت د نازيانو بندي و. دوست يې ورته وايي: «نازيان دې هېر کړي دي؟ دی ځواب ورکوي: «هو، هېر کړي مې دي.» دوست يې ورته وايي: «زما خو نه هېرېږي، اوس هم چې راياد شي د انتقام لمبې راباندې بلې وي.» دی ورته وايي: «ته نو اوس هم د هغوی په زندان کې يې.»

## پردي بوټونه

د فلسفې استاد چې يوازې يوه جوړه بوټان لرل، چمیار ته ورغی چې ورجوړ يې کړي. چمیار ووېل: اوس خو مې دوکان بند کړ، سبا راشه.

د فلسفې استاد ووېل: نور بوټان نه لرم، د دغو غم وکړه چې لوڅې پښې پاتې نشم.

چمیار ووېل: زه به اوس يو جوړ بوټان امانت درکړم.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

استاد وربانديې چيغه کړه: دا ته څه وايې؟ پردي بوټان په پښو کړم؟ ته ما پېژنې، زه څوک یم؟ زه د فلسفې یو استاد یم!

چمیار ورته وویل: ټول عمر دې پردي فکرونه په سر کې ګرځولي او اوس یوه ورځ پردي بوټونه په پښو کې نه ګرځوې، عجبه ده!

## لویه بلا

له چیني حکیم کنفوسیوس نه پوښتنه وشوه چې د یوه ښه حکومت اصلي عوامل کوم دي؟ ده وویل: خواړه، سلاح او اعتماد.

ورته وویل شول: که په دغو دریو کې یو نه وي، له کوم یوه تېرېږئ؟

ده ځواب ورکړ: سلاح.

خلکو بیا پوښتنه وکړه: په پاتې دوو کې له کوم یوه تېرېدلو ته تیار یاست؟

ده ورته وویل: له خوړو.

خلکو ورته وویل: بې ډوډۍ خو به ډېر خلک ومري. کنفوسیوس وویل: مرګ د انسانانو د ژوند یوه برخه ده، مګر د دولت په رهبر باندې بې باوري لویه بلا ده، ډېره لویه.

## پېژندنه

توماس له ساحله راستون شو. مور یې ورته وویل: بچیه، ماشومان هلته وو؟ ده وویل: هو.

مور یې بله پوښتنه وکړه: هلکان وو، که جینکۍ؟ ده ورته وویل: جامې یې نه وې، نه رامعلومېدل چې هلکان دي که جینکۍ.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## اندېښنه

ښوونکي ته کوچنی شاګرد اندېښمن ښکاره شو. ورته ويې ويل: بچيه ولې داسې چورتي يې؟
ده ورته وويل: د مور و پلاره اندېښنه راسره ده. پلار مې تږوله ورځ کار کوي چې ما ته جامې واخلي، ما په ګېډه موړ کړي، ما خصوصي ښوونځي ته واستوي او زما په خاطر په رخصتيو کې هم کار وکړي. مور مې هم کرۍ ورځ په پخلي، په پاکولو، په اتو او په سودا اخيستلو بوخته ده چې زه ارام واوسم.
ښوونکي ورته وويل: نو اندېښنه دې څه ده؟
زده کوونکي وويل: وېرېږم چې ونه تښتي.

## وظيفه

په کار پسې راغلي لومړي سړي ته وويل شول: «ګوره دا يو ساده امتحان دی چې تر مقرري له مخه يې بايد واخلو. ته دا راته ووايه چې دوه او دوه څو کېږي؟
ځواب يې ورکړ: څلور.
هغه ووت او له دويم سړي پوښتنه وشوه: دوه او دوه څو کېږي؟ هغه وويل: څه چې د رييس صاحب خوښه وي.
دويم سړی مقرر شو.



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## کورنی

د کورنۍ غړي د ماښام په دسترخوان ناست وو. مشر زوی وویل: «د کوڅې د اخر سر هغه نجلۍ راته وکړئ، خوښه مې ده.» پلار یې وویل: «هغې ته هېڅ میراث نه دی رسېدلی.» مور یې زیاته کړه: «یو غیران یې نه دی ټول کړی.» کشري ورور وویل: «په فوټبال هېڅ نه پوهېږي.» خور ورغبرګه کړه: «ویښته یې بېخي بل رقم دي.» ماما وویل: «بس بل کار یې نشته، همېشه ناولونه لولي.» انا وویل: «ډېر بې ځایه سینګار کوي.» مشر زوی وویل: «خو یو لوی امتیاز لري؟» ټولو مخ ورواړاوه چې کوم امتیاز؟ ده وویل: «کورنۍ نلري.»

## غشی

یوه راهب له بودا پوښتنه وکړه: ایا د ښو خلکو اروا له مړینې وروسته ژوندۍ پاتېږي؟

بودا د نورکله غوندې دې پوښتنې ته ځواب ورنکړ.

خو راهب له پوښتنې لاس وانه خیست. هره ورځ به یې همدا پوښتنه کوله او هر ځل به د بودا ځواب چوپتیا وه. بالاخره راهب بې حوصلې شو، ویې ویل: که دومره اساسي پوښتنې ته ځواب نه راکول کېږي نو په معبد کې څه کوم؟ چې د ښو خلکو روحونه هم د هغو له بدنونو سره خاورې کېږي، بیا خو دا شیرین ژوند د زهد په سختیو تریخول بې فایدې کار دی.

د ده له ګواښه وروسته بودا ورته وویل: «ته د هغه چا غوندې یې چې د زهرلړلي غشي په وجه مرګیحاله پروت دی. عزیزانو یې یو طبیب ورته راوستی چې ژر تر ژره یې غشی وباسي او له مرګه یې بچ کړي خو دی ورته وایي: تر هغو غشی مه باسئ


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

چې څو پورې مو دغو درې پوښتنو ته ځواب نه وي موندلی: یو، غشي ویشتونکی له رنګه سپین و که تور؟ دوه، په ونه لوړ و که ټیټ؟ درې، برهمن و که نجس؟»
راهب په معبد کې پاتې شو.

## د چا لپاره وعظ؟

ښار ته یو بزرګ راغی چې خلکو ته حقه لاره وښیي. خلکو یې په اوله کې خبرې اورېدې خو ورو ورو یې غوږونه ورباندې کاڼه کړل او بیا داسې وخت شو چې هېڅوک یې اورېدلو ته تیار نه وو.
یوه ورځ یوه مسافر ورته وویل: ته پوهېږې چې دوی دې نه اوري نو ولې لا وعظونه کوې؟
بزرګ وویل: په اوله کې مې وعظونه کول چې دا خلک به بدل کړم خو اوس یې له دې وېرې کوم چې دوی هسې نه ما بدل کړي.

## ارزښت

استاد د پیسو نوټ راواخیست، شاګردانو ته یې ووېل: دا د چا پکار دی؟ ټولو لاس اوچت کړ. بیا یې په لاس کې وچرموړه، ایسته یې واچاوه، ویې ویل، د چا پکار دی؟ بیا هم ټولو لاس اوچت کړ. بیا یې تر پښو لاندې کړ، او ویې ویل: د چا پکار دی؟ بیا هم ټولو لاس اوچت کړ.
استاد په اخر کې وویل: موږ هر یو خپل ارزښت لرو. دا مهمه نه ده چې حالات مو تر پښو لاندې کوي او که مو د ردي کاغذ غوندې ایسته غورځوي، خو خپل ارزښت رانه څوک نه شي اخیستلای.

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

## درناوی

د نرسنګ د وروستي کال د امتحان وروستی پوښتنه دا وه چې ستاسې د انستیوت ملازم څه نومیږي؟

ما فکر وکړ چې استاد ټوکه کړې ده. مطلب به یې دا وي چې په شاګردانو باندې د ازموینې فشار کم شي.

له ازموینې وروسته مې وغوښتل زه هم ټوکه وکړم، ومې ویل: استاده دا وروستی سوال خو به نومرې لري؟

استاد وویل: ولې نه! د هر بلې پوښتنې د ځواب غوندې. تاسې به په روغتون کې ګڼ همکاران لرئ او په کار کې به صرف هغه وخت بریالي یاست چې له همکارانو سره چلند مو د درناوي په اساس وي. د هغوی د نوم زده کول د درناوي یو اصلي شرط دی.

## د قناعت دعا

رب النوع ویشنو د خپل یوه عبادت کوونکي له پرله پسې دعاګانو په تنګ شو، یوه ورځ یې ورته وویل: درې غوښتنې رانه وکړه، که هغه هر ډول وي، زه درې واړه منم، خو نور به نو د دعاګانو او زاریو سلسله ختموې، بله غوښتنه دې بیا نه منم.

سړی خوشاله شو. لومړۍ غوښتنه یې سمدستي وکړه. ده د خپلې مېرمن مړینه وغوښته چې له یوې بلې مناسبې ښځې سره واده وکړي. دا غوښتنه یې بې ځنډه منظور شوه.

خو کله چې یې دوستان او خپلوان د مېرمنې په جنازه کې راټول شول او د هغې مرحومې د ښو خویونو کیسې یې وکړې، سړی پوه شو چې بیړه یې کړې ده او د هغې ښېګړې یې له پامه غورځولې دي.

له ویشنو یې غوښتنه وکړه چې مېرمن دې یې بېرته ژوندۍ شي.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

نور نو دی پاتې شو او صرف یوه بله غوښتنه. دا ځل یې ټینګ عزم وکړ چې تېروتنه به نه کوي ځکه دا یې وروستی چانس و. ده له نورو سره مشورې پیل کړې.

ځینو دوستانو ورته وویل چې تل ژوندي پاتېدل وغواړي خو نورو دوستانو ورته وویل چې که روغتیا نه وي، همېشنی ژوند به یو عذاب شي. دغه راز که روغ ژوند غواړي او پیسې ونلري نو څه؟ او چې پیسې ولري خو له نورو نعمتونو محروم وي نو څه؟

کلونه تېر شول خو فیصله یې ونه کړه چې څه غواړي: ژوند که ثروت، که قدرت، که صحت، که څه شی؟ بالاخره یې ویشنو ته وویل: لطفا ته راته ووایه چې څه درنه وغواړم!

ویشنو چې ولیدل چې له سړي لاره ورکه ده، ویې خندل، ویې ویل: له ما دا وغواړه چې په هر هغه څه چې درکول کېږي، راضي واوسې.

## د حقیقت ناپوبي

دا حکایت په شلمه پېړۍ کې د صوفیانه ادبیاتو مشهور لیکوال او مفکر ادریس شاه لیکلی دی. ادریس شاه صوفیانه حکایتونو ته د نوې اروپاپوهنې په رڼا کې وکتل او نوی رنګ یې ورکړ. (ژباړن)

---

د یو چا یقین و چې د عادي بېداري ژوند، چې خلک یې پېژني، بشپړ کېدلی نشي. دی د زمانې په حقیقي ښوونکي پسې وګرځېده. ډېر کتابونه یې ولوستل، له مختلفو فرقو سره ملګری شو، د ګڼو استادانو خبرې یې واورېدې او د هغوی عملونو ته یې په ځیر، ځیر وکتل. ده هغه معنوي لارښوونې چې ښې او په زړه پورې ورښکارېدې، عملي کولې.


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

دی به خپلو معنوي تجربو په ځینو شپېو کې له مستۍ او خوشالۍ مالامال کړ او کله به بیا لاره ورنه ورکه وه، هېڅ به نه پوهېده چې په کوم پړاو کې دی او لټون به یې څه وخت او چېرته پای مومي؟
یوه ورځ یې چې په خپلو کړنو نظر تېراوه، ناڅاپه ځان د یوه حکیم د کور په خوا کې ولید. د دغه کور په باغ کې د حقیقت د لارې له پټ لارښود یعنې خضر سره مخ شو. خضر دی داسې ځای بوت چې هورې خلک له غم او ځوره کړېدل. ده وپوښتل: تاسې ځوک یاست؟
ځواب یې واورېد: «موږ هغه کسان یوو چې په حقیقي ښوونو پسې نه ولاړو، خپلو ژمنو ته وفادار پاتې نشو او د دروغي مرشدانو درناوی مو وکړ.»
وروپسې بیا خضر دی هلته بوت چې هورې ټول خلک خوشال وو. ده وپوښتل: څوک یاست؟ ځواب یې واورېد: «موږ هغه کسان یوو چې د حقیقت د لارې په نخښو باندې مو ځان ناګاره کړ.»
مسافر ورته وویل: که تاسې د حقیقت په نخښو سترګې پټې کړې او ځان ناګاره کړی وي نو خوشالۍ ته ولې ورسېدئ؟
هغوی وویل: «ځکه موږ د حقیقت په ځای خوشالي ښه وبلله، هماغسې لکه ځینو نورو چې دروغي مرشدان انتخاب کړل او ورسره یې غم و ځور هم انتخاب کړ.»
ده ورته وویل: ایا خوشالي د انسان وروستۍ موخه نه ده؟
هغوی وویل: «د انسان وروستۍ هدف حقیقت دی. حقیقت له خوشالي ورهاخوا دی. څوک چې حقیقت ورسره وي، کولای شي هر احساس چې وغواړي، ولري، یا هېڅ احساس ونلري. موږ داسې وښودله چې حقیقت یعنې خوشالي او خوشالي یعنې حقیقت، او خلکو راباندې باور کړ. نو تا هم تر اوسه تصور کړی دی چې خوشالي یعنې حقیقت. خو خوشالي، لکه ځنګه چې ستا غم او دوک په خپل بند کې ساتي، تا هم په بند کې ساتي.»


https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

وروسته بیا ده بېرته ځان په باغ کې له خضر سره ولید.

خضر ورته وویل: یوه هیله در پوره کولای شم.

ده وویل: غواړم پوه شم چې ولې د ځان په لټون کې مات شوم او ځنګه بریالی کېدی شم.

خضر ځواب ورکړ: تا تقریبا خپل ټول ژوند ضایع کړی دی، ځکه دروغجن وې. ستا دروغ دا و چې په شخصي لذت پسې ګرځېدې، حال دا چې د حقیقت لټون دې په وس کې و.

سړي وویل: له دې سره سره، زه داسې ځای ته ورسېدم چې ته مې وموندلې او دا هغه څه دي چې تقریبا هېڅوک یې نشي موندلی.

خضر وویل: تا زه ځکه ولیدم چې د یوې شېبې په مخه په کافي اندازه صادق شوې چې حقیقت د حقیقت لپاره وغواړې. همدا یوه شېبه رښتینولي وه چې ما دې بلنې ته لبیک ووایه.

دغه وخت سړي په خپل وجود کې، د حقیقت د لرلو لپاره، ان د ځان د ختمېدلو په بیه، ډېره ژوره لېوالتیا احساس کړه.

خو خضر د لرې کېدو په حال کې و. سړي وغوښتل چې پسې ورشي. خضر وویل: «ته په ما پسې نه شې راتلای، زه عادي دنیا ته، د دروغو دنیا ته، ستنېږم، ځکه که غواړم خپلې چارې تر سره کړم نو باید هورې واوسم.» او چې سړي یو ځل بیا شاوخوا سترګې وغړولې، پوه شو چې نور د حکیم په باغ کې نه دی، بلکې د حقیقت په ټاټوبي کې ولاړ دی.

## پای



https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary

https://m.facebook.com/groups/1822812871297698 https://t.me/Afghansalarlibrary